خان شهید

د خپل ژوند لیک په هینداره کې



محمد نعیم ازاد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

«بسم الله الرحمن الرحیم»

خان شهید (عبدالصمد خان)
د خپل ژوند لیک په هینداره کې

لیکوال
محمد نعیم آزاد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

«کتاب پېژندنه»

د کتاب نوم	«خان شهید (عبدالصمد خان) د خپل ژوند لیک په هینداره کې»
لیکوال	محمد نعیم آزاد
کمپوزوونکی	م، ن، آزاد
د مخپاني انځور	له وېب پاڼې څخه
د مخپاني لیک	راز محمد راز کاتب
خپروونکی	آزاد څېړنیز ادبي بهیر پښتین
تیراژ/ شمېر	۵۵۰
چاپ کال	۲۰۲۱ز کال
د خپرونو لړ	۳
بیه	۵۰۰ کلداري
چاپځای	لاهور
بر ېښنا لیک	naeemazad555@gmail.com
ملفون شمېرې	۰۰۹۲/۳۳۳۷۷۹۶۰۷۷
	۰۰۹۲/۳۰۰۳۸۷۶۲۳۰

«د کتاب موندلو درک»

کتابونه پلورنځی شېرانې مارکېټ عبدالستار روډ کوټه

تکتو کتاب کور کوالمنډۍ ته نژدې کاسي روډ کوټه

بخاري کتاب کور زهري ماجت ته نژدې کوټه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

«ډالۍ»

«د نومورې درانه مخکښ باچاخان «عبدالغفار خان»
و سپښلې اروا ته»
د خان شهید (عبدالصمد خان) د نومورې زوی، سیاسي ځانیاستي
او ټولمنلي مشر «محمود خان اچکزي» و کردار ته»
د پښتون وطن د ټولو شهیدانو او شهید عثمان کاکړ (لالا) په نوم
«د خان شهید د نومورې ورور عبدالسلام خان اچکزي په نوم چې د
قامي / سیاسي کار لپاره یې د خان شهید پرېکړه و منله»
«مننه»

د خان شهید پر ژوند او کردار باندې د لومړي کار کوونکي
لیکوال ښاغلي پوهاند عبدالغني خان غنو څخه مننه
د خپلواکۍ په ټرون نومي کتابي لړۍ کې له قلم چلوونکي
نومورې لیکوال محمد ګلاب ننګرهاري څخه مننه
د خان شهید پر ژوند او کردار باندې په پیلې (منظمه) توګه
له کار کوونکي شوکت ترین څخه مننه چې د خان شهید په اړه
یې خپل چاپ کتابونه په ډېره مینه را پېرزو کړل
د زدکړو او سیاست په ډګر کې له هڅاند ځوان ښاغلي نصیر ننګیال
څخه مننه کوم.
چې د خان شهید کتابونه یې په ډېره مینه را پېرزو کړل
محمد نعیم آزاد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

«د چاپ واک یې له لیکوال سره دی»

«لړلیک»

سریزه ۵

«لومړی څپرکی»

۱: د خان شهید (عبدالصمد خان) کورنۍ ۲۳

۲: د خان شهید وړوکوالی (کوشنیوالی) ۵۸

۳: د خان شهید زدکړې ۸۴

«دویم څپرکی» ۱۰۹

۱: د خان شهید د مقاومت / مزاحمت پیلامې (اسباب) ۱۱۰

۲: د خان شهید د سیاسي شخصیت چاپېریال ۱۱۷

۳: د خان شهید سیاسي / قامي مبارزه ۱۲۹

۱: د خان شهید د قامي مبارزې په شالید کې توده مبارزه ۱۳۱

ب: د خان شهید د قامي مبارزې په شالید کې مطبوعاتي مبارزه ۱۵۲

ج: د خان شهید قامي مبارزه د انګرېز زورواکۍ په دوره کې ۱۶۱

د: د خان شهید قامي مبارزه تر انګرېزانو په وروسته دوره کې ۲۴۲

۴: خان شهید د عدمِ تشدد پلوي وو ۳۰۷

«دریم څپرکی» ۳۲۲

۱: د خان شهید ادبي کردار (شخصیت) او هڅې ۳۲۳

۲: د پښتو او پښتنو لپاره د خان شهید د ژباړو ارزښت ۳۴۷

۳: د خان شهید د پښتو لیکدود په اړه ۳۵۸

۴: د خان شهید په اړه د پوهانو او لیکوالو نظرونه ۳۸۷

۵: د خان شهید په ژوند لیک کې د ځینو ځانګړو پښتو تورو ۴۲۲

۶: د خان شهید د لاهور عدالت بیان ۴۵۴

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

«سریزه»

د خان شهید (عبدالصمد خان)
د ژوند او کردار په اړه څېړنیزه هڅه

په پښتو ادبي نړۍ کې د درانه خوشال بابا (۱۶۱۳ـ ۱۶۸۹ز) په اړه د اروانباد استاد دوست محمد خان کامل له خوا د تر سره شوي کره او هر اړخیزه څېړنې په اړه به چالیکلي وي، چا به ویلي وي، خو ما اوریدلي دي، چې د خوشال بابا په اړه د اروانباد استاد د ژوري او په تول پوره څېړنې په اړه یو وخت چا داسې نظر ورکړی وو، چې څېړنه یې کړه او د پوره ستاینې وړ ده، خو په خوشال بابا یې هیڅ هم نه دي کړي، خوشال یې نه لوی کړی دی او نه یې تیټ کړی دی، خو په تر سره شوې څېړنه استاد کامل خپله پوهه او ځیرکتیا جوته/ ثابته کړې ده..

د نظر ورکوونکي مرام دا څرګندوي، چې په پښتو ادبي نړۍ کې د خوشال بابا ارزښت او مقام جوت او هم هغه دی، لکه مخکې چې وو، مانا خوشال بابا په پښتو ادبي نړۍ کې پر خپل ځای لکه غرولاړ دی، چې نه یې څوک لوړولای شي او نه یې تیټولای شي... خو په اړه یې په څېړنه تر سره کولو څېړونکي خپله پوهه او ځیرکتیا جوتولای شي.

له دې پیلیزو خبرو څخه مې مراد د ستر مبارز قامي/ سیاسي کردار **خان شهید** (عبدالصمد خان) په اړه خپله څېړنیزه هڅه ده، چې ستا سو مخ ته یې د وړاندې کولو زړه/ جرآت کوم، خو تر ټولو مخکې په لوی زړه د دې خبرې د منلو ذهن او زړه لرم، چې د پښتون قامي سیاست په نړۍ کې د دومره ستر/ ویړ او غوړېدلي کردار په اړه زما څېړنیزه هڅه نه خو د هغه په ارزښت/ شخصیت او کردار کې څه زیاتوالی راوستلای شي او نه یې هم تیټولای شي، ولې چې په پښتون قامي سیاست کې د دومره ستر او لوړ شخصیت/ کردار په اړه به زما

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

څېړنیزه هڅه په وړو ـ کي د مالګي هومره هم نه وي، دا ځکه چې د پښتون قامي سیاست د دې ستر کردار په اړه تر اوسه پورې د سلګونو په شمېر څېړنیزې لیکنې یا مقالې لیکل شوي دي/ یو شمېر څېړنغونډې/ سېمینارونه هم تر سره شوي دي، د نومورې په اړه په تر سره شوو څېړنغونډو کې د کابل د (۹۰- ۱۹۸۹ز) ۱۳۶۸ل کال د حوت د میاشتې په وروستیو کې لمانځل شوې څېړنغونډه "**خان شهید** انټرنېشنل سېمینار" وو، چې په دا څېړنغونډه کې د هېوادنیو پوهانو په ملتیا له هندوستان، روس، منځنۍ آسیا، یورپ، امریکا او بېلا بېلو ځایونو څخه پوهانو ګډون درلود او د وینا وو/ لیکنو (مقالو) ټولګه یې "د **خان شهید** یاد" په نوم د استاد زلمي هېواد مل په وډون په ۱۳۷۰ل ۱۹۹۱ز کال د قومونو او قبایلو وزارت له خوا د دولتي مطبعې څخه چاپ شوې ده او ورپسې بله څېړنغونډه یا سېمینار هم په کابل کې د **خان شهید** (۱۹۰۷ز) د زوکړې د سل کلنۍ په ویاړ د ۲۰۰۷ز کال "چې په جولایي میاشت کې جوړېدونکی وو" خو په لږ ځنډ د همدې کال د اګست د میاشتې په وروستیو ورځو کې تر سره شو، چې د وینا ګانو/ لیکنو ټولګه یې "د ننګ او فرهنګ اتل" په نوم په ۱۳۸۷ل ۲۰۰۸ز کال د افغانستان د سیمه ایزو مطالعاتو د مرکز له خوا په "اسد دانش چاپخی" کې د چاپ په ګانه وپسوللل شوه، همداسې د نورو څېړنغونډو په څنګ کې د کوټې پوهنتون د پښتو څانګې له خوا تر سره شوې څېړنغونډه وه، چې د ۲۰۱۱ز کال د سپتامبر د میاشتې پر ۲۸مه نېټه باندې تر سره شوه او د وینا ګانو/ لیکنو ټولګه یې د پوهاند ډاکټر نصیب الله سیماب په مشري د یو شمېر وډونکو په زیار "د **خان شهید** عبدالصمد خان اخګزي علمي او ادبي خدمات" په نوم د همدې څانګې له خوا د بناغلي قامپال مخور اصغر خان اخګزي په مالي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مرسته او لګښت د کوټې له یونایټډ چاپځی څخه د چاپ په ګډه و پسولل شوه او تر پښتنو څېړونکو، لیکوالو، لوستونکو مینه والو او قامپالو پورې و رسېدله..

د نوموړي ستر سیاسي، ادبي او فرهنګي شخصیت **خان شهید** په اړه یوه بله یاد غونډه هم په ۱۳۹۰ل/ ۲۰۱۱ز کال کې د افغان دولت په ګومارلو د سیمه ایزو مطالعاتو د مرکز له خوا د نوموړي شخصیت د څلوېښتم تلین د لمانځنې په ویاړ تر سره شوه، د دې یاد غونډې په اړه د مرکز په یادښت کې داسې یادونه شوې ده، چې:

"د خان عبدالصمد خان اچکزي (**خان شهید**) د شهادت د څلوېښتم تلین سېمینار د ۱۳۹۰ل کال د جدي پر لسمه نېټه د شنبې په ورځ د ملي رادیو تلویزیون په لوی تالار کې پرانستل شو، چې بهیر یې په ژوندۍ توګه خپرېده، په پرانستنه کې اولسمشر حامد کرزي، د **خان شهید** مدبر زوی محمود خان اچکزي او ورسره ملګریو، فرهنګیانو، پوهانو، د افغانستان د کابینې غړیو، په ملي شورا کې د خلکو استازیو او د خان شهید ګڼو مینه والو ګډون کړی وو، تر پرانستنې وروسته د سېمینار علمي ناستې د دوو ورځو لپاره د کابل په انټرکانټیننتال هوټل کې وغځېدې." (۱)

همداسې د دې یاد غونډې تولګه "د پوهې او خپلواکۍ د لارويّ" په نوم په ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز کال کې د همدې سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز له خوا د څېړنیار رفیع الله نیازي په تدوین، سمون او اهتمام او هم د پکتیکا د فرهنګپال والي ښاغلي محب الله صمیم په مرسته او لګښت د چاپ په ګانه پسولل شوې او تر مینه والو پورې رسېدلې ده، د همدې تولګې په اړه "چې د ببلابېلو سیاست پوهانو او فرهنګپالو څېړونکو لیکنې لري" د تولګې په پیل کې داسې لیکل شوي دي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز ویاړي، چې د سیمې د خپلواکۍ، ویښتیا او پرمختګ د ارمانونو د یوه نه ستړې دونکي لاروي او مشر اروانښاد عبدالصمد خان (**خان شهید**) د ځلو ښښتم تلین په لمانځلو سره ننني افغان نسل ته د خپل تاریخ د یوه ریښتیني اتل د ژوند او اند په اړه د لیکنو یوه بله ټولګه وړاندې کوي." (۲)

او همداسې په ۲۰۱۱ز کال کې د **خان شهید** پر ژوند او سیاست په جرمني کې سېمینار او همداسې نور / نور...

د نوموړي ستر مبارز شخصیت د قامي / سیاسي ویړ او غوړېدلي کردار په اړه د تر سره شوو لیکنو او کتابونو پوره لیکلار پوره کتاب او څېړنه غواړي، خو دلته به د لوستونکو لپاره یوازې د یو شمېر کتابونو یادولو هڅه ځکه وکړو، چې د خپلې څېړنیزې هڅې په اړه د پورتنۍ خبرې (چې دا څېړنیزه هڅه په وړو. کې د مالګې هومره هم نه ده) پخلی ور باندې وکړای شي او بل دا چې لوستونکي به د دې څېړنې په څنګ کې د **خان شهید** په اړه د نورو سرچینو یا ماخذونو په لړ کې هم خبرتیا او د کتنې / مطالعې ذهن او زړه و لري.

د **خان شهید** د ژوند او غوړېدلي ستر کردار په اړه د پښتو / انګرېزي / پارسي / روسي / اردو او نورو ژبو د سلګونو څېړنیزو لیکنو (مقالو) په څنګ کې په لوی شمېر ځانګړي کتابونه هم لیکل شوي دي، خو په ټولو کې د لومړیتوب حق لرونکی د پښتو / اردو لیکوال پوهاند (پروفېسور) عبدالغني خان غنو دی، چې د **خان شهید** په اړه یې د قلم په درناوي ساتلو سره ډېر او په زړه پوري کار تر سره کړی دی، د نوموړي لیکوال په وینا تر اوسه پورې یې د "بابائے پشتون اور پشتو نخوا" تر سرلیک لاندې د مبارز شخصیت **خان شهید** د ژوند او قامي / سیاسي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کردار په اړه دودهرش توکه کتابونه لیکلي دي، چې په هغوی کې
شپارس توکه د چاپ په ګانه پسولل شوي او نور یې د چاپ لاره څاري.
د همدې نومورې او حقداره لیکوال په زیار د **خان شهید** د لیکونو
(خطونو) لړۍ هم (چې **خان شهید** وَ نومورو مخورو/ سیاست پوهانو
و نورو اړه لرونکو ته لیږلي دي) په درې توکه کې را ټوله شوې ده، چې
ومړی توک یې په چاپي بڼه ۳۲۰ مخونه/ دویم توک ۳۷۲ مخونه او
ریم توک یې ۲۸۸ مخونه لري او د همدې لیکوال په چاپ زیار سره د
ښتونخوا خوروني دوست پبلشر له خوا د یونایټډ چاپځی کوټي له
لاري په ۱۳۸۳ل ۲۰۰۴ ز کال تر چاپه رسول شوي دي، څرګنده دي
ري، چې د لیکونو د دې درې توکیزه لړۍ اردو ژباړه هم بناغلي لیکوال
وهاند عبدالغني خان غنو تر سره کړې او تر چاپه پورې رسېدلې ده.
ممداسي د نومورې لیکوال په چاپ زیار سره د ستر سیاسي/ قامي
شخصیت او کردار "**خان شهید**" خپل ننبیرونه یا آثار هم د چاپ په
بڼه (زېور) پسولل شوي دي، لکه "زما ژوند او ژوندون" درې توکه
د **خان شهید** ژوند لیک" (خود نوشت) دی، چې پر لویه کچه باندې
ه چاپي بڼه لومړی توک ۳۹۲ مخونه لري/ دویم توک ۵۴۸ مخونه او
ریم توک ۴۳۲ مخونه لري، چې په لومړي ځل په ۱۳۸۳ل ۲۰۰۴ز
ال د دوست/ پښتونخوا خوروني له خوا خپور شوي او تر اولسه پورې
سېدلي دي، د **خان شهید** بل ننبیر یا اثر پښتو ژبه او لیکدود دی، چې
نومورې پوهاند په چاپ زیار سره په ۱۳۸۵ل کال د دوست پبلشر
ټي له خوا د یونایټډ چاپځی له لاري تر چاپه رسېدلی دی. هېره دې
ه وي، چې د ژبنې لیکدود په اړه همدغه لیکنه د "زما ژوند او
ندون" د لومړي توک په پیل کې هم چاپ شوې ده.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهید یو بل نښیر یا اثر د حضرت شیخ سعدي شیرازي ؒ ګلستان له پارسي ژبې څخه پښتو ته را ژباړلی دی. ځرګنده دي وي، چې دغه کتاب د ۶۵۶هـ ق تالیف او په ډېرو پراخو او ویړو سیمو کې لوستونکو ته د ښوونکو له خوا لوستل کېږي، دغه کتاب هم د نومورې لیکوال پوهاند عبدالغني خان غنو په زیار په ۲۰۲۰ز کال کې د کتاب تر ژباړلو پوره اویا کاله وروسته او د **خان شهید** تر شهادت اته څلوېښت کاله وروسته پر ۳۶۸ مخونو په کتابي بڼه د چاپ په ګڼه پسولل شوی دی او تر اولسه پورې رسېدلی دی.

د دې کتاب په اړه نومورې استاد څېړونکي زلمی هېواد مل لیکي:

"زما لپاره د ډېر ویاړ ځای دی، چې زمور د معاصر تاریخ د نومیالي، سیاسي، اجتماعي او ورسره فرهنګي شخصیت **خان شهید** پر دې اثر د لیکلو پېرزوینه پر ما شوې ده. دا حاضره ترجمه د افغانانو د آزادۍ، آبادۍ او ترقۍ د لارې خواخوږي او ربستیني خدمتګار خان عبدالصمد خان په ۱۹۵۰ز کال بشپړه کړې ده او کومه مقدمه یې چې پر کښلې ده، د همدې کال د مېي د میاشتې ۱۲م تاریخ لري." (۳)

د ګلستان نومي کتاب ارزښت د **خان شهید** د خبرو په باور داسي دی:

"ما خپل د دې لومړي کوښښ د پاره د شیخ سعدي ګلستان خوښ کړی، چې دا پاړکی د سوو کلو را هیسې په پښتونخوا کې ډېر زیات لوستل کېږي، هم د شاګردانو د لوستلو کتاب دی، هم د پوهانو د کتلو پاړکی دی، دا ښکاره ده، چې یو داسي پاړکی چې یوازې په خپل وخت کې نه بلکې تر اوسه پورې بې جوړې بلل کېږي او د پارسي رنګه ختلي (لوړې/ پخې) ژبې بې کچې ښېګڼې پکې را غونډې سوي دي." (۴)

پر دې سربېره د ښاغلي لیکوال پوهاند عبدالغني غنو په وینا چې د **خان شهید** ژوند لیک "زما ژوند او ژوندون" یې ردو ژبې ته هم د "میرې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زندگی اور زندگانی" په نوم ژباړلی او ورسره یې د حضرت امام غزالي ر غوره کتاب "کیمیائے سعادت" (چې **خان شهید** پښتو ته ژباړلی دی) او هم د **خان شهید** لیکل شوی بل ننبیر پښتو ژبتونی (پښتو قاموس) چاپ ته چمتو کړي دي، خو تر اوسه پوري لا چاپ شوي نه دي.

هېره دي نه وي، چې **خان شهید** په زندان کې د چارلټ او ډایسن کارټر (THE FUTURE OF FREEDOM) نومي کتاب هم د "آزادی کا افق" په نوم ژباړلی دی، چې لومړی ځل په کتابي بڼه د عبدالرووف ملک په زیار د پیپلز پبلشنګ هاوس له خوا د نیازي پرنټنګ پریس له لارې په ۱۹۶۲ز کال کې چاپ شوی او تر اولسونو پورې رسول شوی دی. د همدې کتاب د دویم ځل چاپ چارې په ۲۰۱۳ز کال تر سره شوي دي. د کتاب ارزښت دېر لوړ او له لوست سره اړه لري، چې پر خپلواکي مین "**خان شهید**" له خپل ولاته لېرې د قامپالنې په تور د پنجاب په جېلونو کې له کوم کتابتون څخه تر لاسه کړی او له انسانیت او قام سره د مینې په وس او تومنه یې د هغوی د فکري روزنې لپاره د ژباړلو هوډ کړی او ژباړلی یې دی، هغه د چا شاعر خبره، چې:

نو مینه نوره څنګه وي وطنه زوروره

دا هم په کار دی؛ وایو، چې دغه کتاب پښتو ژبې ته هم "د آزادۍ پای" په نوم د **خان شهید** له خوا ژباړل شوی دی.

همداسې ګڼ شمېر نور د پښتو، انګرېزي، روسي، پارسي، اردو او نورو ژبو کتابونه، رسالې، مجلې او ورځپاڼې دي، چې د **خان شهید** پر مبارز شخصیت او کردار باندې د لوی شمېر لیکوالو له خوا تر سېره شوي څېړنیزې پېرزوینې لري او پر دې سربېره د نوموړي شخصیت، وقامي، سیاسي کردار ته د یو شمېر پښتو او نورو ژبو د رسالو او مجلو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ګڼې هم ځانګړي شوي دي، چې څېړونکو/ لیکوالو د **خان شهید** د ستر مبارز شخصیت او کردار د علمي، ادبي او سیاسي خدماتو په لړ کې ژوري څېړنیزي لیکنې یا مقالې وړاندي کړي دي.

هېره دي نه وي، چې د پښتو او نورو ژبو په سلګونو شاعرانو هم د **خان شهید** درانه او ستر کردار ته په درناوي ګڼ شمېر شاعرانه پېرزوینې او نظمونه وړاندي کړي دي.

د **خان شهید** د ستر مبارز شخصیت قامي/ سیاسي کردار په اړه د یوه پېیلي او منظم کار ویاړ د پښتو، اردو، انګرېزي د نوموړي لیکوال بناغلي شوکت ترین په برخه دی، چې د ستر مبارز **خان شهید** پر ژوند، شخصیت او قامي کردار باندي یې په پېیلي (منظم) ډول کار کړی دی او د **خان شهید** د پیلیز ژوند او سیاست له پیلامې څخه یې په پرله پسې ډول د نوموړي مبارز د ژوندانه تر پایه پوري د لیک دغه لړۍ رسولې او د ستر قامي/ سیاسي کردار هڅې یې وړاندي کړي دي.

څرګنده دي وي، چې نوموړي لیکوال د تر سره شوو او وړاندي شوو سیاسي، مطبوعاتي او ادبي هڅو په لړ کې په سلګونو ببلا ببلې سرچینې (ماخذات) پلټلي/ شنلي او سپړلي دي، چې تر دومره خواري وروسته یې د **خان شهید** د ژوند او کردار په اړه مواد را ټول کړي/ وډلي او د اولس په مخکې یې وړاندي کړي دي، چې دلته به یې د کتابونو لړ لیک د چاپ و کلونو ته په کتلو سره په پرله پسې ډول وړاندي کړل شي. د نوموړي لیکوال په پېرزوینو کې په ۲۰۱۶ز کال د سباوون ریسرچ سنټر کوټې له خوا د نیو کالج پبلیکېشنز څخه د چاپ په ګډه پسوللل شوی "تحریک آزادی میں انجمن وطن کا کردار" په نوم کتاب دی، چې پر منځوی کچه باندي چاپ او ۳۷۸ مخونه لري.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ورپسې هڅه یې د "ورور پشتون" سیاست اور جمهوریت کا ایک اہم سنگ میل" په نوم کتاب په ۲۰۱۷ ز کال د سباوون ریسرچ سنټر کوټي له خوا د نیو کالج پبلیکېشنز له لاري پر ۱۹۴ مخونو چاپ شوي او تر اولسه پوري یې رسولی دی.

همداسي یې په کال ۲۰۱۸ ز کي د "نیشنل عوامی پارٹی کی تشکیل میں خان عبدالصمد خان اچکزئی کا کردار" په نوم کتاب د سباوون ریسرچ سنټر کوټي له خوا د نیو کالج پبلیکېشنز له لاري پر ۱۹۶ مخونو باندي د چاپ په ګېڼه پسولل شوی دی.

په دې لړ کي د نوموړي لیکوال بله هڅه د "خان عبدالصمد خان اچکزئی کے عدالتی بیانات" په نوم کتاب په ۲۰۱۸ ز کال د سباوون ریسرچ سنټر کوټي له خوا د نیو کالج پبلیکېشنز له لاري د نوموړي په زیار تر چاپه پوري رسېدلی دی.

پر دې سربېره یې په ۲۰۱۹ ز کال د "خان عبدالصمد خان اچکزئی ابتدائی زندگی اور آغاز سیاست" په نوم چاپ شوي کتاب کي د یاد مبارز **خان شهید** له زوکړي ۲۰۰۷ ز کال څخه تر ۱۹۳۸ ز کال پوري د نوموړي ژوند پېښي او سیاسي هڅي د بېلا بېلو سرچینو په لټون پلټلي/ را ټولي کړي او وړاندي کړي دي او دغه کتاب یې هم د سباوون ریسرچ سنټر کوټي له خوا د نیو کالج پبلیکېشنز له لاري چاپ کړی او تر اولسه پوري رسولی دی.

د **خان شهید** په اړه د کار او زیار په لړ کي د نوموړي لیکوال شوکت ترین بله هڅه د "خان عبدالصمد خان اچکزئی ایوبی دور کا واحد سیاسی قیدی" په نوم کتاب په ۲۰۲۰ ز کال کي د **خان شهید** عبدالصمد خان اچکزي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ریسرچ سنټر کوټې له خوا د قلات پبلشرز کوټې له لارې چاپ شوی او اولس ته وړاندې کړل شوی دی.

څرګنده دي وي، چې په وړاندې شوو کتابونو کې نومورې لیکوال شوکت ترین هڅه کړې ده، چې د پښتون قامي / سیاسي ستر کردار " **خان شهید** " نژدې اووه شپېته کلن ژوند او کردار و لوستونکو ته په بشپړه توګه را ټول او وړاندې کړي، خو په دې لړ کې د نومورې په وینا د وروستیو درې کلونو په اړه را ټولونه پاته ده. د دې پورتنیو یادو شوو کتابونو په څنګ کې یو بل کتاب هم د "انجمن وطن اور ورور پشتون کے مطبوعات" په نوم په ۲۰۱۸ز کال کې د سباوون خان ترین او آریک خان ترین په زیار او هڅه را ټول شوی او د سباوون ریسرچ سنټر له خوا د قلات پبلشرز له لارې چاپ شوی دی، چې کتاب اسم با مسمی او د انجمن وطن او ورور پښتون له خوا تر چاپه پورې رسېدلي مطبوعاتي هڅې پکښې را ټولې کړل شوي او وړاندې شوي دي.

د بناغلي لیکوال شوکت ترین وینا ده، چې د ستر مبارز شخصیت " **خان شهید** " د قامي / سیاسي ژوند په اړه یې د هڅو په تر سره کړې لړۍ کې یوازې د وروستیو درې کلونو زیار او کار پاته دی، چې هغه هم اوس بشپړ تابه ته رسېدونکی دی.

د **خان شهید** د ستر مبارز شخصیت او کردار په اړه یو بل اردو کتاب د بناغلي لیکوال انجنیئر ملک اسد خان ترین دی، چې نومورې په اووه څپرکیو / یوه پایله د (بابائے پشتونستان خان عبدالصمد خان اچکزئی) تر سر لیک لاندې د ګڼ شمېر سرچینو یا ماخذونو په مرسته پر ۲۸۲ مخونو باندې خپله لیکنیزه هڅه تر سره کړې ده او پر دې سربېره یې د قامي مبارزې او پښتون وطن د نومورو کردارونو / ستونزو او تاریخي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بهیر په څارنه د څلورو نورو کتابونو "نامور پشتون تاریخ کے آئینے میں ۲۰۱۱ء" جنوبی پشتونخوا ایک تاریخی سماجی سیاسی جایزه ۲۰۱۴ء "پشتونوں کا مسئلہ پشتون مقدمے کا جایزه ۲۰۱۴ء" بلوچستان پشتون بلوچ صوبے کا ایک جایزه ۲۰۱۴ء" لړی هم د دې قامي / وطني / سیاسي مبارزې د برخې ارزښت او ویاړ لري، چې د ښلا ښلو کتابونو په ژورلید یې خپله هڅه تر سره کړې ده. په همدې لړ کې د اروانباد عبدالعلي غورغشتي کار او زیار په ځانګړې ډول د یادوني وړ دی او همداسې د یو شمېر لیکوالانو نوري هڅې...

د **خان شهید** د قامي / سیاسي مبارز شخصیت او کردار په اړه د وړاندې شوو علمي او څېړنیزو هڅو یا کاوشونو په څنګ کې له لوړو علمي / پوهنیزو ادارو څخه هم د پي ایچ ډي او ایم فل ډګریانې اخستل شوي دي، چې په هغوی کې د یادوني وړ له کوټې پوهنتون څخه د ښاغلي ډاکټر عثمان توبه وال په ۲۰۱۲ ز کال د پي ایچ ډي ډیزرټېشن دی، چې سکالو / موضوع یې "خان شہید کے علمی وادبی خدمات پر ایک طائرانہ نظر" ده، مانادا چې یاده شوې پي ایچ ډي "د **خان شهید** پر علمي او ادبي خدماتو باندې د یوه ځغلنده نظر" په رونا کې څېړنه تر سره شوې ده، خو تر اوسه پورې چاپ شوې نه ده.

بله هڅه د نومورې لیکوال پوهاند ډاکټر فیض الله خان پانیزي د ایم فل تېسز دي، چې د "خان شہید عبدالصمد خان اچکزئی کی شخصیت اور علمی وادبی خدمات" په نوم یې تېسز په ۲۰۰۹ ز کال په کتابي بڼه د چاپ په ګډنه پسولل شوي دي. دا خبره پامونړ ده، چې د پي ایچ ډي او ایم فل دغه تېسز په اردو ژبه لیکل شوي دي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د ایم فل بل سکالر ملک هارون اېډووکېټ دی، چي د باچاخان پوهنتون چارسدې له پښتو څانګي پښتونخوا مطالعاتي مرکز څخه یې "د عبدالصمد خان اڅګزي سیاسي او ادبي خدمات" پر سکالو (موضوع) خپله څېړنه په ۲۰۱۲-۲۰۱۴ز کلونو کي تر سره کړې ده او وروسته دغه تېسز په کتابي بڼه په ۲۰۲۰ز کال د " **خان شهید** عبدالصمد خان اڅکزي سیاسي ژوند" په نوم د چاپ په ګېڼه پسولل شوی او تر لوستونکو پوري رسېدلی دی.

څرګنده دي وي، چي په دې لړ کي داسي لوی شمېر کتابونه/ لیکني او یا هم مضامین چي په پښتو، اردو، روسي، انګرېزي، پارسي، بلوڅي، براهوي او نورو ژبو کي په بېلا بېلو ورځپاڼو/ مجلو او یا هم رسالو، پاړکیانو/ پمپلټونو او د سوشل رسنیو له لاري چاپ شوي او تر خلکو پوري رسېدلي دي.

پر نوموړي مبارز شخصیت " **خان شهید** " او د هغه پر قامي/ سیاسي کردار باندي که څه هم د څېړنیز کار دغه وړاندي شوی بهیر یا تفصیل د نوموړي د کردار ستروالی او لوړتیا ښیي، خو د ویړ او غوړېدلي مبارز د کردار را ټولولو/ سپړلو/ څېړلو او په پوره توګه د وړاندي کولو لپاره اوس هم ډېر څېړنیز مزل پاته دی، دا ځکه چي اوس یې هم د کردار د سترو سیاسي او ادبي اړخونو/ بعدونو داسي ډېري ګوښې تږي/ تشنه پاته دي، چي د څېړنیز او سپړنیز کار وړتیا او اړتیا لري.

زه چي کله مخکښ او نابغه شخصیات لولم، نو د ځینو شخصیاتو د تر سره کړي کردار ویړتیا/ پراختیا (وسعت) ته بېخي هېښ پاته شم او په ځانګړي ډول د پښتني ټولني په ژوندني چاپېریال کي د ځینو مخکښو شخصیاتو د کردار په لوست لکه خوشال بابا چي د ژوند په غېږ کي یې څومره ستړي/ ستومانۍ ګاللي/ له څومره لوړو ځوړو سره مخامخ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شوی دی، ولې بیا یې هم خپل ژبنې ادب ته دومره فکري تومنه ور پېرزو کړې ده، چې لوستونکي هېښ او له پوښتنې سره مخامخ پاته شي، په همداسې شخصیاتو کې د **خان شهید** عبدالصمد خان کردار هم ځای لري، چې پر ژوندنیو سترو، لوړو ځوړو، زندانونو او نورو اړتیاوو سربېره نه دی ستومانه شوی او دومره دروند سیاسي او ادبي کردار یې تر سره کړی دی، چې لوستونکی ذهن او زړه ورته هېښ او ګوته په غاښ پاته شي. د **خان شهید** د کردار د ویړ تیا او پراختیا په اړه د پورتنۍ وړاندې شوې خبرې باور به د بناغلي اکرم شاه لالا په خبره سره وکړو، نوموړی لیکي:

"زه یو سیاسي کارکن یم، د **خان شهید** د لاري یو عسکر یم. د **خان شهید** ژوند او د هغه کار دومره پراخ دی، چې پر هغه باندې مقاله لیکل یقیناً زما تر وس پورته خبره ده؛ بلکې پر **خان شهید** باندې ډېر غبدل هم ډېر ګران کار دی، لېکن کوشش کوم، چې په لنډو ټکو کې وویم او د هغه و ځینو اړخونو ته د وطن د عالمانو/ لیکوالانو پام را واړوم، چې بیا یقیناً په دې باندې دوی او راتلونکي نسلونه تحقیق کوي." (۵)

د پورتنۍ لیکوال د وړاندیز په رڼا کې زه (آزاد) د وطن د هغو عالمانو او لیکوالانو په لاړ کې هم د ځان را وستلو یا شمېرلو ذهن او زړه نه لرم، بلکې دا وایم، چې د **خان شهید** پر ژوند باندې کار د هغه د کردار هومره ویړ تیا او پراختیا لري، چې را ټولول یې ډېر ګران کار او په ځانګړي ډول په یوه کوشنۍ کتابګوتې کې خو بېخي ناشونې چاره ده، خو څه داسې لاملونه وو، چې زه یې بیا هم دې څېړنیزې هڅې ته و هڅولم، یو خو به دا څېړنیزه هڅه و ماته د دې کار د لاري پرانستلو او پراختیا لامل شي او بل دا چې پر **خان شهید** باندې ډېر کار په اردو او نورو ژبو کې شوی دی. خو په "پښتو" کې که څه هم د ببلا ببلو څېړنغونډو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

(سېمینارونو) ټولګي چاپ شوي او په هغوی کې د عالمانو استادانو لیکوالو او **خان شهید** ته د ډېرو نژدو ملګرو په زړه پورې کړه او مغتنمې پښتو/ پارسي لیکنې هم چاپ شوي دي او پر دې سربېره له باچاخان پوهنتون څخه نوموړي ایم فل سکالر خپل تېسز هم په پښتو ورباندې لیکلي او په کتابي بڼه چاپ شوی دی، نوري هم داسې لوی شمېر لیکنې په بېلا بېلو کتابونو کې شته، خو د لوستونکي لپاره په یوه کتاب کې د نوموړي مبارز شخصیت د ژوند او کردار په اړه د کومې پېیلې او پرله پسې څېړنې او سپړنې (تحلیل) تنده بیا هم ماځرک کړې او احساس کړې ده، چې زه یې د پیلامې په ذهن او زړه لرلو لاره پرانیزم. د دې څېړنیزې هڅې یو بل لامل دا وو، چې په پښتو کې د **خان شهید** ژوند د نوموړي په ژوند لیک کې تر ډېره ځایه پورې خوندي شوی دی، چې د څېړونکي/ سپړونکي او شنونکي بڼه پوره تنده ماتولای شي، خو دا چې ژوند لیک یې د "زما ژوند او ژوندون" تر سرلیک لاندې په درې ټوکه کې د **خان شهید** په خپل لیکدود د چاپ په ګډه پسوللې شوی دی، نو د لیکوالو او له پښتو سره د بڼه آشنا او تړاو لرونکو لپاره خو کومه ستونزه نه لري، ولې د پښتو عام لوستونکي او یا هم اولس او ورسره د نورو ګړدودونو (لهجو) پښتانه "چې زدکړه یې په اردو، انګرېزي او نورو ژبو تر سره کېږي" په دې لړ کې د څه ناڅه ستونزو ګیله لري، نو ما فکر وکړ، چې په داسې څېړنیزه هڅه تر سره کولو به د پښتو د عامو لوستونکو او له نورو ګړدودونو سره د اړه لرونکو پښتنو مانا پښتون اولس لپاره به هم څه ناڅه هڅه تر سره کړل شي. بل لامل یې په ځانګړي ډول له پښتو ژبې سره د **خان شهید** مینه وه، چې ما یې د ژوند لیک په لوستلو کې په وار/ وار څرک کړې او احساس کړې ده، **خان شهید** چې په کوشنیوالي کې د ماجت د زدکړو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پر مهال خپل استاذ و دې ته اړ باسي، چې پښتو کتابونه ورته ولولي، نو استاذ يې د پښتو څه مذهبي کتابونه ورته ټاکي، چې په مخَنيو کتابونو کې يې نوموړی په مراد رسېدلی وو، خو کله چې خوشحال وايي، نو په مراد يې نه رسېږي، ولي د مرزا د ديوان کوم چوپ يا انتخاب چې لولي، نو ځان ته يې راکاږي/ جلبوي او بيا يې له مورنۍ ژبې پښتو سره د مينې داسې لړۍ پيلېږي، چې پخپله يې څرګندونه داسې کوي:

"خو له دې پسې مې د پښتو سره دومړي مينه پيدا سوله، چې بيا مې هيڅ پښتو ليکلی شی نه دی ليدلی، چې په ډېره مينه مې نه وي لوستی او نه مې د پښتو څه نوی توری/ متل يا پوهيته (شعر) اروېدلې ده، چې نه مې دي وي زده کړې، تر دې چې اوس خو د ژوند مراد هم پښتو ده او باور لرم، چې که پښتانه نور هيڅ هم و نه کړي، خالي پښتو خپله کړي او خپل ټول سرکاري او ځاني کارونه په پښتو کوي، پښتو لولي/ ليکي او پښتو وايي، نو به د دوی په سل کې "که نور نه وي" اتيا برخې کار و سي، هم به يې خپله وروړي خوږه سي او هم به د نورو خلکو د هيلې او جنجاله و خېژي." (۶)

د **خان شهید** له پښتون قام/ وطن سره د ژوړي مينې پر لړلو سربېره له خپلې مورنۍ ژبې پښتو سره و مينې ته په کتلو مې هم زړه و شو، چې د خپلې مورنۍ ژبې د چوپړ په نيامت دا څېړنيزه هڅه تر سره شي.

پر دې وړاندې شوو لاملونو سربېره د خپل وجدان بڼ هم دې ته و هڅولم او ځان مې د دې سترو پښتنو کردارونو پوروړی و ګڼه، چې تر خپلو هوساينو/ اسانتياوو او نورو زړه غوښتنو په تېرېدلو سره يې پر ډېرو کړاوونو/ ځوروونو او ستونزو ستومانيو ګاللو سربېره پخپله پوهنيزه وړتيا او هوډ سره د پښتنې ټولنې د ژوندانه د ودانۍ، سيالۍ او پرمختګ لاري د خپل قام پر مخ پرانستلې دي او په خپل سپېڅلي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کردار او پښتني هوډ سره يې په ځور او کړاوونو ځغملو سره د زورورو/ ستمګرو/ ځپېښناکګرو او بنکېلاکګرو زور اوبه کړای شو.

د خپلې مورنۍ ژبې پښتو سره د **خان شهید** د مينې په اړه بناغلی اکرم شاه لالا د نوموړي د عدالتي بيانونو او نورو موادو په لوست باوري کوي، چې هر وخت به يې د پښتنو لپاره د خپل ولايت (صوبې) او په واک تر لاسه کولو سره د زدکړو لپاره د خپلې مورنۍ ژبې په کار اچول د پښتني ټولنې د پرمختګ او ستونزو هوارولو لاره بلله، په دې لړ کې د **خان شهید** د تګلارې لاروی داسې ليکي:

" **خان شهید** دا خبره په وار وار کړې ده، که څه محمود حسين کميشن وي، که بل مجلس وي، چې تر څه وخته د پښتنو صوبه پښتونستان نه سي جوړه او هلته د پښتنو تعليمي ژبه پښتو نه سي، نو پښتون نه ترقي کولای سي او نه مطمئن کېدلای سي، پر دې موقف دی په وار وار ولاړ او په وار وار يې دا خبره کړې ده" (۷)

د همداسې نفسياتو/ څرکونو يا احساساتو توان وو، چې زما ذهن او زړه يې پر **خان شهید** باندې د پښتو کار کولو ته ست کړ.

هېره دې نه وي، چې د دې څېړنيزې هڅې لپاره مې سرليک هم ځکه " **خان شهید** (عبدالصمد خان) د خپل ژوند ليک په هينداره کې" و ټاکه، چې د څېړنې لپاره لومړۍ او کره سرچينه همدغه د **خان شهید** ژوند ليک "زما ژوند او ژوندون" وو، که څه هم په دې لړ کې له يو شمېر نورو باوري سرچينو يا ماخذونو څخه پوره پوره ګټه اخستل شوې ده، هغه ځکه چې ژوند ليک په پرله پسې توګه د **خان شهید** ژوند تر ۱۹۴۰ز کال پورې را نغاړي، خو بيا هم د څېړنيزې هڅې ټولې ليکنې د همدې سرچينې مانا **خان شهید** د ژوند ليک "زما ژوند او ژوندون" په رڼا کې تر سره شوې او هم يې د هرې خبرې پخلی ورباندې شوی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دی، ولې دا خبره هم په کار ده؛ څرګنده شي، چې زما خپرنیزه هڅه بېخي ساده/ سرسري یا اجمالي بڼه لري، خو د **خان شهید** د ستر مبارز شخصیت او کردار د څېړنې او سپړنې په لړ کې زه خپله د دې پلوي یم او غواړم، چې د نوموړي د ژوند لیک او کردار په اړه د یوې لوړې علمي یا پوهنیزې اداري سکالرز د اروا پوه (نفسیاتي نقادانو) استادانو په لارښوونه د اروا پوهنیزي یا نفسیاتي څېړنې له لارې د خپل ایم فل تېسز او یا د پي ایچ ډي د ډیزرټېشن لیکل او بشپړ تیا تر سره کړای شي، ځکه اوسنیو نوو ساینسي یا علمي څېړنو جوته کړې ده، چې لیکوال څه چې هم لیکي؛ ځان لیکي، نو کولای شو، چې په پوهنیز ژورلید او یا هم علمي بصیرت سره موږ ته د ژوند نوري لارې رونې او یا هم پرانستل شي، بله د یادونې وړ خبره دا ده، چې پر شخصیت لیک کول د شخصیت د کردار په ماناده، نه چې د شخصیت د کړۀ وړۀ په مانا، بل دا هم جوته ده، چې کردارونه نه مري؛ یوازې وجود له منځه ځي، نو په کار ده، چې په کردارونو پسې هدیرو ته ولاړ نه شو؛ بلکې د ژوند په غېږ کې یې و لټوو، متل دی، چې "ونې ولاړې وي؛ ورګ ریې رژي" مانا دا چې فکرونه او کردارونه ژوندي پاتې وي، یوازې وجود خاورو ته ځي. د پیلیزو خبرو په پای کې به د کتاب له لوستونکو څخه په لوی زړه او درناوي غوښتنه وکړم، چې لوستونکي دې د دومره ستر مبارز شخصیت د کردار په اړه د تر سره شوو او وړاندې شوو لیکنو په لوست سره زما پوهنیز وس، ناتواني او نارسایي هم په پام کې و ساتي.

محمد نعیم آزاد پښین
۰۱_۱۱_۲۰۲۱

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سرچینې:

۱: لېوال، څېړنـدوی عبـدالغفور، د پـوهې او خپلـواکۍ لاروی، خپرووونکـی؛ د افغانستان اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمي د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز د مرکز یادښت دویم مخ
۲: همدغه پورتنۍ اثر، د مرکز یادښت لومړی مخ
۳: شیرازي، سعدي، گلستان، پښتو ژباړه، عبدالصمد خان اچکزی، خپرووونکی، پښتونخوا هڅوبي څانگه کوټه، چاپکال، ۱۳۹۹ل، ۲۰۲۰ز، مشموله، سریزه د زلمي هېوادمل، ۸، ۱۱ مخونه
۴: همدغه پورتنۍ اثر مخ ۱۱
۵: لالا، اکرم شاه، د خان شهید عبدالصمد خان اچکزي علمي او ادبي خدمات، خپرووونکی؛ پښتو څانگه بلوچستان پوهنتون کوټه، مشموله، څو خبري د خان شهید په اړه، چاپکال ۲۰۱۲ز ۶۹. ۷۰ مخونه
۶: اچکزی؛ عبدالصمد خان، زما ژوند او ژوندون، لومړی ټوک، خپرووونکی؛ پښتونخوا خوروني، چاپکال ۱۳۸۳ل ۲۰۰۴ز مخ ۱۲۷
۷: لالا، اکرم شاه، د خان شهید علمي او ادبي خدمات، خپرندوی، پښتو څانگه بلوچستان پوهنتون کوټه، مشموله، څو خبري د خان شهید په اړه، چاپکال ۲۰۱۲ز مخ ۷۶

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

«د خان شهید (عبدالصمد خان) کورنۍ»

خان شهید (عبدالصمد خان ۱۹۷۳ـ۱۹۰۷ز) د خپل منګ (عمر) په دوپنځوس کلنۍ (۱۹۵۹ز) کې (چې په ملتان جیل کې وو) دې ته ذهن او زړه ښه کړی دی، چې د خپل ژوند (آپ بیتي) په اړه د خپلو یادښتونو، لیدنو او سرچینو (ماخذونو) په رونا کې خپل ژوند لیک ولیکي. هېره دي نه وي، چې نومورې هم د پښتو د کلاسک شاعر خوشحال خان بابا غوندې په زندان کې یو شمېر کتابونه لیکلي او هم یې ژباړې کړي دي، **خان شهید** د خپل ژوند لیک پیل "لکه څنګه چې په کار ده" له خپلې زوکړې څخه را پیلوي او په دې لړ کې په ډېر پام او څرګتیا سره د خپلو مشرانو له خولې د اوږدلي خبرې په باور د خپلې زوکړې نېټه ۱۹۰۷ز کال ښیي او همدا رنګه د خپلې زېږېدا ټاټوبی په اوسني ګلستان (تحصیل) ښار پوري عنایت الله کاږۍ نومي ځای یادوي. ورپسې د خپلې درنې کورنۍ په اړه لیکل پیلوي.

څرګنده دي وي، چې د **خان شهید** په اړه لوی شمېر څېړونکو همدغه د ژوند لیک سرچینه باوري بللې او د نولس سوه اووم زېږدیز کال نېټه (۷/۷/۱۹۰۷) یې د نومورې د زوکړې نېټه بللې ده، خو یوازې روسي لیکوال ګ. ف. ګیرس یې د کومې سرچینې له یادونې پرته د زوکړې کال ۱۹۰۵ز یاد کړی دی او داسې ښکاري، چې نومورې له کوم چا څخه پر اوږدلې خبره باندې باور کړی دی، خو د څېړنیز مېتود په رونا کې باوري سرچینې نه لرونکي یادونې د ډاډ وړ نه وي او داسې یادونې یوازې تر هغو پورې پاموړ ګرځي، تر څو چې باوري ماخذ تر لاسه کېږي او د باوري سرچینې په موندنه یې ارزښت له منځه ځي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ورپسې **خان شهید** د خپلي مور نوم (دلبره) او د پلار نوم (نور محمد خان) یادوي. پلرنی نیکه یې سلطان محمد خان/ ورنیکه یې عنایت الله خان (د **خان شهید** د زوکړي دغه یاد شوی کلی یې پر نامه دی) تَر نیکه یې بوستان خان او لَر نیکه یې برخوردار خان (چي د دوی کهول "د برخوردار کهول" یا ټبر بې په نوم دی) وو.

د برخوردار خان په اړه پر یو شمېر سرچینو سربېره تر ټولو په زړه پوري او باوري څېړنه لوړ ویاړ اروابناد علامه اکادمیسین عبدالشکور رشاد تر سره کړې ده، چي د احمد شاهي عصر نومیالي نومي کتاب پر ۴۰۹، ۴۱۰، ۴۱۱، ۴۱۲، ۴۱۵ مخونو باندي په ښه تفصیل سره راغلې ده او د نوموړي د کور، کهول او وړ تیاوو او له احمد شاه بابا سره په ملګرتیا کي د کردار په اړه ږغېږي، خو زه یې څه نا څه برخه د احمدشاهي شاهنامې څخه را اخلم، چي دلته هم اروابناد استاد تر ۴۳ نومره لاندي د برخوردار خان اڅګزي په اړه داسي لیکي:

"د "زیب تاریخها" په دوهم فصل کي په هغو پښتنو سردارانو کي چي د پاني پت په جنګ کي یې ګډون درلود، یو هم د برخوردار اڅګزي نوم راغلی دی او د ده رتبه او خطاب یې (قولق بېګي) کښلی دی، مګر د "احوال نجیب الدوله" په ۲۲ مخ کي یې د هغو پښتنو سردارانو په لړ کي "چي په پاني پت کي د غازي ستر ټولواک لوی فاتح اعلیحضرت احمد شاه بابا رح په حضور کي حاضر وو" د برخوردار خان نوم راوړی دی، خو د ده رتبه یې "داروغه یي کهي" کښلې ده.

د تاریخ احمد شاهي د ۲ ټوک په ۳۸۵ مخ کې کښلي دي.

په ۱۱۷۳ هـ ق چي د لوی احمد شاه بابا رح پوځونه له نصیر خان بلوڅه سره په قلات کي جنګېدل، برخوردار خان پر ورانه ټپي سو، تر څو ورځو معالجې وروسته ښه سو.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د لوی احمد شاه بابا رح تر مرګ وروسته چې شهزاده سلیمان باچا سو، برخوردار خان د کندهار د احمد شاهي ښار قلعه دار و تاکل سو.
د تیمور شاه درانې له خوا برخوردار د بلخ حاکم سو او په زیب تاریخها کي کښلي دي:
برخوردار خان څه موده د بلخ حکومت وکړ؛ هلته مړ سو. د ده جنازه د تیمور شاه په امر کابل ته راوړل سوه.
د لوی احمد شاه بابا رح د وختو شاعر حبیب الله د برخوردار خان په ستاینه کي ویلي دي:

برخوردار څه عجب ځوان دی، چې د شاه ته ټهر تر ځان دی
هر غلیم له ده پریشان دی، آه ارمان دی کندهاره
د غلیم د ته تیار دی، بې تعطیله یې ګوزار دی
همېشه د شاه په کار دی، آه ارمان دی کندهاره
چې پادشاه وایي هغه کا، ټهر و بهر کارونه نه کا
هر زمان د شاه ته تله کا، آه ارمان دی کندهاره
مېلمه ښه لمانځي په مینه، لکه ښه مین چې وینه
په مجلس یې خوښوینه، آه ارمان دی کندهاره
خدای دې لوی تر دا لا ډېر کا، هر دښمن دې تر ده زېر کا
چېرې نه وي چې ما هېر کا، آه ارمان دی کندهاره"(۱)

د برخوردار خان د کورنۍ په اړه "چې په نسبي توګه يې **خان شهید** هم کهول ته منسوب دی" څه نوره شننه هم کوو. چې تاریخ لیکوال یې د بلخ او پاني پت په جګړو کي د مېرانې یادونه کړې. خو ګڼ شمېر دي وای، چې په پښتنو کي د توکم یا قبیلو ته تر رسېدو مخکې د کور (کایې) کورنۍ او کهول پراوونه وي، چې وروسته په ټوکم یا قبیله اوړي او بیا له توکمونو/ قبیلو څخه قامي بڼه مومي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د برخوردار خان د مړانې په اړه د مجمل التواریخ په حواله کله چې د تیمور شاه درانې د باچهی په لومړیو کلونو کې د بلخ حاکم قباد خان پورته سو او د تیمور شاه درانې له خوا د سردار جان خان په مشرۍ کې و ګمارل شوې لښکر ته یې ماته ورکړه، نو د تیمور شاه درانې له خوا د ازبکانو د ځپلو لړه برخوردار خان اڅکزی و ګمارل شو، د بلخ د دې جګړې په اړه نوموړی استاد اروابناد علامه رشاد باباداسې لیکي:

"تیمور شاه سدوزی چې خبر سو، برخوردار خان اڅکزی د بلخ لور ته د ازبکانو ځپلو لړه و ګماره سو، چې بلخ ته نژدې و رسېد، ازبکانو ټې مخه و نیوله او په لومړي جنګ کې خداینظر خان ازبک "چې قباد خان ټې وژلی وو او د هغه پر ځای مستقل حاکم وو؛ بندي سو" ازبکانو ماتې وکړه، برخوردار خان اڅکزي بلخ و نیو، سردار جان خان او نور منصبداران ټې له بندي توبه خلاص کړل او د بلخ اداره د برخوردار خان اڅکزي پر غاړه سوه." (۲)

د نوموړي برخوردار خان اڅکزي د مړانې یادونه د پاني پت په جګړه کې هم یاده شوې ده، چې د لوی احمد شاه بابا او مرهټو د لښکرونو تر منځ په ۱۷۶۱ز کال تر سره شوې وه.

د پاني پت پر ډګر د مخامخ شوو لښکرو د تر سره شوې جګړې په اړه چې د مرهټو د مخکښې سدا شپو د لښکر په وړاندې د لوی احمد شاه بابا د لښکرې پلان ودون نوموړی لیکوال ګنډا سنګھ داسې یادوي:

"کیڼ اړخ: شاه پسند خان ۵۰۰۰ تول سواره. نجیب الدوله له ۱۵۰۰۰ تول پیاده او له آسونو کښته شوي سواره. شجاع الدوله ۳۰۰۰ یو پر درې پیاده پلته ییز توپک لرونکي.

منځ: شاه ولي خان ۱۹۰۰۰ افراد او زر تنه چورلکیان.

ښي اړخ: احمد خان بنګښ ۱۰۰۰ پیاده.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

حافظ رحمت خان او دوندي خان ۱۴۰۰۰ یو پر څلور او یا له دې څخه لږ سواره.

امیر بېګ او برخوردار خان ۳۰۰۰ کابلي پیاده پارسي سوارکاران (داسي سربازان چي سواره سفر کوي او پلي جنګېږي)

تول ۶۰۰۰۰." (۳)

څرګنده دي وي، چي دغه یادونه د نومورې ګنډا سنګهـ په کتاب (انګرېزي) کي په نولسم څپرکي کي پر ۲۵۷م مخ باندي شوې ده.

د **خان شهید** مورنی نیکه محمد حسن خان، وَر نیکه فتح محمد خان او ماما (د مور ورور) یې محمد علي خان نومېدی، چي د ماما زوی محمد اعظم خان یې د قامي سیاسي چارو تر سره کولو په لړ کي له همدې ټاټوبي (ځای) څخه کوچېدلی او په کندهار کي یې خپل سیاسي او قامي کار تر سره کاوه.

د نومورې (**خان شهید**) د کورنۍ په اړه لیکل شوي او ویل شوي دي، چي د لر نیکه برخوردار خان له وخته یې د پښتانه قام د ودانۍ او پرمختګ په لړ کي خپل وس او توان په کار اچولی دی او په همدې لړ کي یې خپل ځاني او فکري وس نه دی سپمولی..."ځاني وس په دې مانا چي دغه کورنۍ/ ټبر او توکم پیاوړي ځلمي لرل او فکري وړتیا یې ځکه درلوده، چي دا خلک لوستي او د دنیا په چارو خبر خلک وو" چي په ښو او وړتیا لرونکو چارو کي یې د مهالنیو واکمنو ملاتړ او کومک تر سره کړی دی او د ناوړو چارو په وړاندي یې د "ولي ویلو" توان هم لرلی دی، همدغه لامل دی، چي د کورنۍ تاریخ یې له ډېرو لوړو ځوړو سره مخامخ شوی او کورنۍ یا ټبر یې کله له یوه ځایه بل ځای ته لېږدېدلي او د لوی کندهار په ډېلا ډېلو سیمو کي ېښت پاته شوي دي. د برخوردار خان په اړه څرګنده او باوري ده، چي د درانه اتل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

احمد شاه بابا په ملاتړ یې مبړانه کړې او په هغه وخت کې د احمد شاهي کندهار د زړې کلا د جوړېدلو پر مهال څارونکی (منتظم) پاته شوی دی.

د پښتنو د واکمنې کورنۍ د باور تر لاسه کولو وروسته د دې کورنۍ د ملتیا دغه لړۍ له کندهاره څخه تر کابل پلازمېنې پورې هم غځېدلې ښکاري، چې د درانه اتل احمد شاه بابا زوی تېمور شاه پلازمېنه کابل ته وړې وه. د دې کورنۍ (لکه مخکې چې یادونه وشوه) د نومورو په لړلیک کې یو وګړی د کشمیر د ګورنر په توګه هم یاد شوی دی او بل دا چې د بوستان خان اچکزي (د برخوردار خان زوی) پر شنخته یا څلې باندې (چې د کندهار تر بنار د باندې په زړه ادیره کې دی) د فاتحِ ترکستان (د ترکستان ګټونکی) ویاړ لیکل شوی دی.

پښتانه و خپلو مخکښانو او مخورو ته په درنه سترګه د کتلو خوی لري، ځکه خو د لوی کندهار "چې وروستۍ پوله یې په جنوب کې د دکۍ کلا وه" خلک د اچکزو په توکم یا قبیله کې و دې کورنۍ ته د خپل درانه کردار له کبله په ډېره درنه سترګه ګوري. په اچکزو کې د همیدزو څانګې د جلبزو په پښه کې د برخوردار او ارزبېګي (زما په خیال د عرض بېګي منصب په لغوي مانا داسې برېښي، چې د "صایب الرای" لپاره به وو، چې د کومې تپې او اولسي برخې په استازیتوب به یې خبره د وخت د باچا لپاره د اوربدلو وړ او باوري وه) کهولونه دي، چې د خپلې ځیرکتیا، لوست او قامي/ سیاسي کردار له کبله نومورې تیا (شهرت) لري، د دې کهولونو (برخوردار او ارزبېګي) په اړه او په ځانګړي ډول د **خان شهید** د پلار نور محمد خان په اړه د پښین کوټې ګزیټیر داسې لیکي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"جلبزي چي د حمیدزو یوه بله پښه ده، یوه مشره ځانګه یې برخوردار کهول او یوه کشره ځانګه عرض بېګي کهول لري، چي دواړو ځانګو د وروستنیو سدوزیو په دور کښي ډېر طاقت تر لاسه کړ، د برخوردار کهول اثر د افغانستان په خوا کښي ډېر دی او د عرض بېګي کهول اثر د پښین په خوا کښي ډېر دی، د برخوردار استازیتوب اوس (۱۹۰۵ز) د عنایت الله کارېز اخګزي کوي او د عرض بېګي کهول نمایندګي په قلعه عبدالله او ګلستان کښي ده. د برخوردار کهول مشر استازي (۱۹۰۵ز) په عنایت الله کارېز کښي یو محمد حسن خان دی، چي ذاتي وظیفه او بې مالیې وظیفیي مرسته اخلي، نور دوه مشران جلیل خان او نورمحمد خان دي، خو دوی ټولو اوس ډېرې اثر بایللی دی." (۴)

د ګزیټیر له پورتنیو خبرو وړاندي کولو څخه مي مرام دا دی، چي یو خو په پښتنو کي د دې کورنۍ د مشرتابه باور او اغېز د دښمن (انګرېز) په خوله تر سره شوی وینو او بل دا چي د دې پورتنیو خبرو وَ شاته که موږ چېري ارواېي یا نفسیاتي اغېزې را وسپړو او د پښتنو په اړه د دوی لیکنې په ژور لید سره ولولو، نو را څرګنده به شي، چي د انګرېزانو له خوا د هغوی سره د مزاحمت او مقاومت کوونکو کورنیو/ وګړو په اړه هڅه شوې ده، چي تر خپل ارزښت یې څه ناڅه تېټ و ښیي، دلته یې هم د یوې مقاومت کوونکي کورنۍ د مشرانو د بې اغېزې او بې اثره کېدلو خبره کړې ده او په ځانګړي ډول د جلیل خان او نور محمد خان چې له انګرېزانو سره یې یوازي دا نه چي ملتیا او ملاتړ نه کاوه؛ بلکې له هغوی څخه په لېري پاتېدلو یې د خپلې کورنۍ د مزاحمت او مقاومت مخنی خوی/ روایت او هوډ هم په ښه ډول پاللي دي.

دا خبره هم جوته ده، چي د دې تېر یا توکم نوموړو وګړو د نورو پښتنو تېرونو او توکمونو په څېر د پښتون قام په قامي او سیاسي پرمختګ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کې ښه په زړه پوري کردار لرلی دی، خو د وخت په اوږدو کې به داسې څه وګړي هم پکښې تېر شوي وي، چې د دربار شومو هیلو به د ځان کړي وي، خو هغه هم د نشت په شمار دي. لکه **خان شهید** چې د ځینو خپلوانو او نورو کردارونو یادونه کوي او داسې یو شمیر نوري یادوني "چې د **خان شهید** قلم بې له توپیره ځان/ خپلوان او نور هم په یوه نظر سره څارلي او یاد کړي دي او د هغوی ښه او بد اړخونه یې را سربېره کړي دي، ښه یې تل ستایلي او بد یې په وازکومي غندلي دي" چې و لوستونکو ته د **خان شهید** سپېڅلتوب/ امانتداري او رښتیاورځ نوره هم باوري کوي، د داسې بې پرې لیک په باور سره وایو، چې نومورې رښتینې، ناپېیلی، له تاریخ سره پت پالونکی مخور/ سیاست پوه او لیکوال پاته شوی دی.

په ارزېښې کهول کې غازي عبدالله خان هغه نومورې کردار دی، چې تاریخ یې تر لومړی افغان-انګرېز جګړه وروسته د پښتنو د پاڅون او جګړې پیل کوونکی مشر یادوي. نومورې د خپلو باوري ملګرو امین الله خان لوګري او نورو سره پر قرآن باندې د کړي ژمنې په رونا کې په تر سره شوې جګړه کې د ځان/ ورور او دوو زامنو په قربانولو پښتون یار جوت کړی دی، چې پښتانه ژمنه (وعده) پالونکي دي. په دغه جګړه (۲ نومبر ۱۸۴۱ز) کې نومورې انګرېزان لارډ برنز او مکناټن و وژل شول. د لومړی افغان انګرېز جګړې په اړه څېړونکی لیکي:

"په ۱۸۳۸ز کال د جون په میاشت کې د انګرېز/ رنجیت سنګھ او شاه شجاع تر منځ درې اړخیز تړون په لاهور کې لاس لیک او تر چمتووالي وروسته د همدې کال په اکتوبر کې د جنګ اعلامیه په شمله کې خپره او د ۱۸۳۹ز کال د مېي په میاشت کې انګرېز اردو کندهار ته دننه او ګودا ګي شاه شجاع یې پر تخت کښېناوه" (۵)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د انګرېز ښکېلاکګر په وړاندې د راپورته شوي جګړه ایزي مبارزې یا قیام (۲ نومبر ۱۸۴۱ز) په اړه نوموړی لیکوال محمد ولي ځلمی لیکي "د ۱۸۴۱ز ـ ۱۲۵۷هـ ق ـ ۱۲۱۹هـ ش کال د نوامبر په یوه شپه چې روژې د اوولسمي سره متصادفه وه، د عبدالله اچکزي په کور کې د نوموړي قیام نقشه طرح شوه." (۶)

د نوموړي غازي عبدالله خان اچکزی "چې په مشري کې یې د ۱۸۴۱ز د نوامبر پر لومړۍ نېټه پیل شوې مبارزه پای د راغلي ښکېلاکګر انګرېز په درنه او تلپاتې ماته تمامه شوه" په اړه نوموړی لیکوال اروانباد محمد ولي ځلمی په خپل کتاب زموږ غازیان کې داسي لیکي:

"عبدالله خان اچکزی (جلېزی/ حمیدزی/ ګوجینزی) د حاجي سربلند خان زوی دی، چې د کوټې او چمن په منځ کې د کوړک د لمنې په یوآباد کلي کې "چې قلعه عبدالله نومېږي" زېږېدلی او وروسته دغه کلی هم د ده په نامه یاد شوی دی، دی د خپلې سیمې لوی خان او کارېزونه یې د ښورې، ژړ، نروان په نامه تر اوسه مشهور دي، پاته کسان یې همدا اوس په دښوره نومي کارېز کې اوسي." (۷)

د انګرېز په ضد د ملي پاڅون په لړ کې د غازي عبدالله خان اچکزي د کردار په اړه نوموړی افغان تاریخ پوه اروانباد استاد احمد علي کوهزاد په خپل اثر "معاصر افغانستان در زوایای تاریخ" کې داسي لیکي:

"عبدالله خان اچکزی چې ملي پاڅون یې د مشرانو په یو ځای کېدو سره په خپل کور کې د ۱۸۴۱ز کال د نوامبر پر لومړۍ نېټه پیل کړی او د نومبر له دویمې یې د هغه عملي کار پیل او په مېرانه یې د پرنګیانو په وړاندې مقابله وکړه او د بي بي مهرو په جګړه کې د شېرپور په سیمه کې د انګرېزي چاونۍ د برید پر مهال یې د ملي قواوو رهبري کوله، د نوامبر پر دیارلسمه، د روژې ۲۷ مه کال ۱۲۵۷هـ ق شهید شو" (۸)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پامور ده، چې د **خان شهید** د ژوند لیک "زما ژوند او ژوندون" لومړي توک پر مخ ۷۰ دغه یادونه شوې ده او د اروانباد عبدالرحیم مندوخېل اولس یار کتاب "انګریزي استعمار او افغانستان" پر مخ ۱۲۱ باندې د راوړل شوي یادوني په ملتیا نوري سرچینې هم دغه پېښه باوري کوي، چې وروسته بیا د همدې یادي جګړې د مشرتابه چارې غازي محمد اکبر خان ترسره کړې دي. د پورتنۍ مبارزې یادونه لوی شمېر سرچینو باوري کړې او یاده کړې ده، خو اروانباد محمد ولي ځلمی د غازي عبدالله خان اچکزي د دې مهرانې یادونه د حمید کشمیری د منظوم اثر (اکبرنامې) له ۱۶۵ مخ څخه داسې حواله کوي:

"ز جمع اچکزائیان دلیر
همان خان عبدالله نره شیر
روان بود از جمله لشکر به پیش
پیش پهلوانان همقوم خویش
(۷)
نخستین در آمد به فوج فرنگ
چو پیلان سرمست پیوست بجنگ
چو اندر به صف رزم دشمن رسید
ز ابر میان برق روشن کشید
چنان دشمنان را سر انداز شد
که رشته ز گره باز شد
اچکزئی جوانان پولاد پوش
به دنبال آن سرور تیز هوش
به تندئ شیر زیان آمدند
(۸)
به فوج عدو درمیان آمدند (۹)"

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د **خان شهید** د کورنۍ د یوه غړي "گلستان" او تاتوبي په اړه کېرو پرنګي په "دي پټان" نومي انګرېزي کتاب (مخ ۲۷۱) کې لیکلي دي، چې د اخګزیو درانیو ملک گلستان خان (چې په نوم یې د خواجمران په لمن کې د گلستان کلی یادېږي) د شاه زمان او شاه شجاع لپاره جنګېده، د پوهې بهادرۍ او پت (وفادارۍ) لپاره ډېر اوښار (مشهور) وو. دغه گلستان د شاه شجاع په وخت کې د پښتور ګورنر او خلک یې تر اوسه یادوي. د شاه شجاع تر باچاهي یا واکمني ۱۸۰۸ز کال پورې یې ژوند باوري دی. (۱۰)

په پورته یاد شوي کهول کې پر نورو وړتیالرونکو کردارونو سربېره د **خان شهید** د لومړي ملګرۍ اروانښاد محمد ایوب خان اخګزي کردار هم د پښتانه د سرلوړۍ لپاره تر سره شوی او ویاړ وړ دی، چې د خپل قام دودانۍ او پرمختګ لپاره یې په ۱۹۵۰ز کال د تودې مبارزې لپاره خپل کور / تېر او تاتوبی پرېښوو او له قامه سره یې د پردیو له خوا د تر سره کېدونکو ناوړتیاوو د مخنیوي لپاره توپک وړه ته کړی او د وطن د خپلواکۍ (ازادۍ) لپاره یې د کارِنده او فکري مبارزې سنګرونه تاوده وساتل. (اروا یې بښنه او جنتونه یې برخه)

څرګنده دي وي، چې د اروانښاد محمد ایوب خان یو کتاب د خورجین په نوم چاپ او یوه ډایري یاد خپلو خاطرو کتابچه یې په مرګ له منځه تللې ده، خو د "ایوبیات" په نوم زرمخیزه مسوده یې ناچاپه پرته ده، چې په لوست یې پوهان د نومورې په اړه د لوړې پوهې باور موندلای شي. مور که چېرې خپل تولنیز چاپېریال په ژور لید سره وڅارو او دومره ژور لید یا پوهنیزه رسایي هم ولرو، چې د نړیوال چاپېریال په شالید یا تناظر کې خپل چاپېریال وڅارلای شو، نو را ته څرګنده به شي، چې هر کړه (فعل) او چاره په خپل شالید او مخ لید (پس منظر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او پېش منظر) کې لاملونه/ اړتیاوې او وړتیاوې لري، د پورتنۍ یاد شوې دغه یاغیتوب او بېلوالې و شاته هم د امریکا او فرانسې تر انقلاب وروسته د سرمایه داری او کالونیل ازم په نیامت کوچنۍ وچې ته د ځېښناک او ښکېلاک لپاره د انګرېز راتګ او د هند تر نیولو وروسته د خپلو شومو هدفونو لپاره له افغانانو سره بېلا بېلې جګړې تر سره کول، کله د هغوی په منځ کې د "بېل یې کړه؛ اېل یې کړه" کړنلارې په خپلولو د بېلتانه کرښې را کښل، د خپلو شومو هدفونو لپاره د شومو هیلو له لارې ورور د ورور په مخکې درول، یو له بل سره په جګړه اخته کول او داسې نورې لارې چارې وې، چې انګرېزانو یا په بله مانا ښکېلاکګرو او ځېښناکګرو پلې کړلې او پښتانه یې له مهالنیو غوښتنو او علم څخه لېرې تېل وهل، د ودانۍ او پرمختګ څخه یې شاته پاتې کړل او په یوه ناپایه غم یې اخته کړل، دا په کار دی و وایم، چې انګرېزانو د دې وطن د نیولو په نیت پښتانه ډېر ژور لوستي وو، د هغوی په خوی او بوی یې ځان خبر کړی وو، ولې چې دا د هغوی کړنلاره وه "چې د یوه قام او ټولنې تر نیولو وړاندې به یې د هغوی فکري لوست تر سره کړ او داسې به یې د هغوی په خوی او بوی ځان پوه کړی" وروسته به یې خپله کړنلاره پلې کړله. د خپل قام تر منځ د دغه بېلتانه او بېلوالې څرک و درانه بابا خوشحال خان ته د مغلو په وړاندې تر دې پخوا لا هم شوی وو، نوموړي د پښتانه وطن له ګرېوانه څخه د پردې دښمن د لاس کښلو لپاره یوازینۍ لاره د پښتانه یووالی باله او داسې ارمان یې درلود:

پښتانه په توره کلک دي تر مغلو
اتفاق ورځنې نشته ډېر ارمان (۱۱)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د دغه بېلتانه او جګړه ایزو څپو په لړ کې د انګرېز افغان تر منځ د امیر یعقوب خان په وخت کې د ګندمک د جبري (زورکي / ترپلي) معاهدې یا لوزنامې په رونا کې پښتانه یو له بله بېل او د سیوې، پښین او تل چوټیالۍ په ملتیا نوري سیمې د هغه وخت په نیول شوي هند پوري و تړل شوې او د انګرېز تر ولکه لاندې راغلې، چې وروسته و همدغه معاهدې یا لوزنامې ته امیر عبدالرحمان هم د منلو سر وَ نښوراوه او دا سر نښورول یې هم خلک د اجبار تر سیوري لاندې بولي.

خبره د **خان شهید** د کورنۍ کېدله، چې په افغانستان کې د یاد شوي ګډ وډ چاپېریال او تاو تریخوالي له کبله یې کورنۍ اوسنۍ مېنې "د توبې پډا و ګلستان" ته ځکه را لېږدېدلې ده، چې هلته یې ځینې غړي د واکمن بهیر برخه وو او په کندهار کې یې مورنۍ نیکه فتح محمد خان د امیر شېرعلي خان، محمد یعقوب خان او امیر محمد ایوب خان په وختونو کې ګورنر "نایب الحکومه" پاته شوی دی، چې په همدې دوره کې انګرېز افغان دویمه جګړه تر سره شوې او کندهار بنسټ انګرېزانو نیولی وو، د کندهار تر نیولو پورې هم فتح محمد خان پر خپل منصب یا ځای پاته وو، خو وروسته بیا نیول شوی هم دی او تولې شتمنۍ یې ولجه شوې وه، چې بیا د امیر عبدالرحمان په وختونو کې بېرته ورکول شوه، د دې خبرې د باور او پخلي لپاره یې د امیر د سپارښتنې لیک سوت یا نقل له کورنۍ سره شته. (سرچینه / **خان شهید** ژوند لیک)

خود **خان شهید** د پلرنۍ نیکه کورنۍ له دربار څخه لېرې او پخپلو مځکنیو / کورنیو او ژوندنیو چارو باندې بوخته پاته شوې ده، چې له همدې کبله په اولسي نرخونو او نورمونو / جرګو مرکو / ناستو ولاړو او اولسي کلتور خبر څوک پاته شوي دي او ورسره یې د خپلو بچیانو د لوست او زدکړو لاره هم هواره ساتلې ده، وروسته همدغه خبرتیا او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پوهه د دې لامل شوه، چې د کورنۍ څه برخه یې (کوم چې د دربار په خوند لهېدلي یا اموخته شوي وو) د دربار سره پاته شول او د رنه برخه وګړي یې په میوند جګړه کې د ویاړمن کردار تر سره کولو لپاره د غازي محمد ایوب خان په څنګ او ملاتړ و درېدل، آن چې د فتح محمد خان اچکزي خپل زامن هم دومره څرک او لوی زړه لرونکي وو، چې د اکاګانو لاره یې خپله کړه، د قاموليۍ او خپل دین په پټ پاللو سره یې د جنګ جګړې میدان ته ذهن او زړه ښه کړ، آن چې د **خان شهید** مورنۍ نیکه محمد حسن خان هم له ایوب خان سره تر ماته خوړلو وروسته ملګرۍ او د هرات له لارې ایران ته ولاړ او تر شپږ کلنه موده وروسته هند ته راوستل شول، چې غازي محمد ایوب خان په لاهور کې بندي پاته شو او نور ملګري یې خپلو کورونو ته ستانه او یا هم واستول شول، وروسته یې هم د اړیکو ساتلو باور او پخلی شوی دی.

یاده دي وي، چې د محمد ایوب خان تر ماتې خوړلو وروسته د دوی په ملاتړ ولاړې کورنۍ تیت او پرک سره او شو پتو شوې او د **خان شهید** د کورنۍ هغه غړي "چې د نوموړي په ملاتړ تورن وو" له خپلو کورنیانو غړو سره د کندهار څنګلېري یاغي ډوله سیمې رېګ ته راکډه شول، چې له اوسني چمن بنار څخه پر ښه واټن د جنوب لوېدیځ لوري ته پرته سیمه ده او د اچکزو کوچیاني ژوند لرونکي یو شمېر مالدار خلک پکښې اوسي، همدلته یې د اچکزو د بل توکم/ قبیلې شمشوزو د یوې تپې "یاسین کهول" له خلکو سره د هغوی د مشر ملا باران په خوښه واړول او د شا او خوا سیمې اچکزیو د مېلمنو په درنه ستر ګه ور کتل..

وروسته امیر عبدالرحمان د کندهار نایب الحکومه فتح محمد خان له منصب څخه لېرې کړ او په دې توریې و نیو، کابل ته یې بندي بوتلی، "چې د کورنۍ خلکو یې د محمد ایوب خان په ملاتړ د امیر په ضد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جګړه کې برخه اخستې وه" له فتح محمد خان څخه غوښتنه شوې وه، چې له خپل کور او کلي څخه کډه شوي کورنیان دې بیرته راوله، خو هغه دا نه شوای کولای، نو بې له منډه یې په کابل کې د بندیوان غوندې وساته او توله شتمني/ جایداد یې ترې ولجه کړی وو او پای په همدغه زنداني چاپېریال کې و مړ. د مرګ په اړه یې څوړه خوره شوه، چې په زهرو وژل شوی وو، لکه امیر چې داسې لوی شمېر افغانان تر تېغ تېر کړل او هم یې له مخه وایستل.

د امیر عبدالرحمان خان و واکمنې ته له رسېدلو سره سم د ګندمک لوزنامې ته "چې د امیر یعقوب خان په وخت کې شوې وه، خو کار ورباندې پیل شوی نه وو" د منلو سر و بنسورول شو او د **خان شهید** د نیکونو د تاتوبي ګلستان/ پښین په ملتیا شا او خوا سیمې له افغانستانه ببلې او له نیول شوي هند سره و ترل شوې، چې له کبله یې انګرېز له هغو کورنیو څخه (چې د امیر عبدالرحمان خان پر ځای یې د غازي محمد ایوب ملاتړ کړی وو او دا وخت له خپل تاتوبي څخه یو ډول شړل شوي وو) د پوښتنو/ ګروېزنو لاره خپله نه کړه او په لاندې شویو سیمو کې یې د هغو وَ اوسېدلو ته ذهن او زړه ښه کړ، نو د **خان شهید** کورنۍ هم د خپلو نیکونو تاتوبي توبې د غرونو په لمن کې د پښین و ابادو ناوو ته راکډه شول.

داسې کورنۍ انګرېزانو څخه غوښتې او خپلولې یې، چې یوې خوا ته د امیر تر خښم لاندې وې او بلې خوا ته په ځینو کورنیو کې داسې ډېر پوهان او لوستي کسان وو، چې انګریز ذهنیت له هغوی څخه د کار اخستلو او په کار اچولو هیلې درلودې... د **خان شهید** په کورنۍ کې هم ډېر لوستي غړي وو، چې د هغوی هیله ترې کېدلای شوه، خو د میوند د جګړې ذهن او زړه لرونکي کورنۍ د انګرېز سرکار د غلامۍ جغ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

(نوکري) ته ذهن او زړه نه درلود، پر خپل موټ او خواري يې تکيه وکړه، خپلې مځکې او کروندې يې ودانې کړې او په داسې ډول يې د اولس په ملاتړ د دربار او سرکار ضد ذهنيت په خپل تبر او کورنۍ کې هغسې سالم او جوړ و ساته، لکه بنسټ چې يې اينبوول شوی وو.

کله چې دغه کهولونو (برخوردار / ارزښتګي) انګرېز ته تن وَر نه کړ، نو انګرېزانو يې په مخکې د نورو مخورو / مشرانو د را پورته کولو او ملاتړ کولو هڅې پيل کړې، هغه دا چې کله له همدې کورنيو سره واړه لرونکي حميد خان ته سرداري يا په بله مانا مشري ورکول شوه او وروسته بيرته د کوټې د انګرېز پولېټيکل ايجنټ له کېمپ څخه د توپکو د وړلو او سپاهيانو د وژلو په تور و نيول شو او سرکاري توپک يې هم له کوره و وتل، خو انګرېز سرکار بيا هم نهيلی نه شو او د غازي عبدالله خان په کورنۍ کې يې يو کس تاج محمد خان (د غازي نيکه لمسی دی) په څه هيله دې ته ست کړی، چې د دوی په منلو خپله مشري تر سره کړي، خو نوموړي په لويه ناسته / مجلس کې انګرېز لاټ ته په ډاګه ويلي وو، چې زموږ تر منځ خپلوي او ملګرتيا ځکه باوري او ډاډمنه نه شي کېدلای، چې تاسو بَرنز او مېکناټن نه شی هېرولای او زه غازي عبدالله خان...

وروسته پر دې ربښتيا او زړوره خبره تاج محمد خان د انګريزانو له خوا د شپږو مياشتو لپاره بندي او کراچي جېل ته واستول شو، چې تر خوشې کېدا وروسته يې انګرېز په همدې توکم کې يو بل نومورکی څوک په ګلستان کې په دغه چاره و ګومارە، خو د اولاد نه لرلو له کبله يې سرداري پاته نه شوه، څه نومونه داسې هم وو، چې بيا يې د دې چاري تر لاسه کولو هڅې وکړې، خو بريالي ځکه نه شول، چې اولس ويښ شوی او پوه شوی وو او دغه چاره ته په ښه سترګه نه کتل کېدل.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په پښتني ټولنه کې له انګرېز څخه ډکر کې نفسیاتو او ذهنیت ځکه وده کړې وه، چې شاته یې ډېر څه لرل، انګرېزان بلوسګر (زیاتوب او تېری کوونکي) وو او د پښتون وطن د ځپښناک او بنکیلاک په نیامت راغلي وو، نو یو خو له خپلې خپلواکۍ یا آزادۍ څخه د لاس اخستلو چار د پښتنو لپاره د منلو وړ نه وه، بل یې مذهبي بېلتون هم تر میان وو، ځکه یې و ملتیا کوونکو ته پښتون اولس په سپکه سترګه کتل.

د وخت له واکمنو سره پر دې وړاندې شوي تاوتریخوالي سربېره هم د **خان شهید** د کورنۍ او تبر څه شمېر غړي د کندهار پر مېنه پاته شوي وو او د سرکار له پامه ځکه وتلي وو، چې له هغوی څخه یې ډار نه درلود او څه شمېر غړو ته یې د وخت په تېرېدا بیر ته لاره هواره شوه، چې تګ او راتګ سره وکړي او یا هم هلته په ورتګ سره و اوسېږي او څه غړي داسي هم وو، چې د امیر حبیب الله کلکاني (بچه سقه) په ضد د راپورته شوي غورځنګ د ملګرو او مرستیالو غړو په توګه د ګډون لپاره ولاړل او د دې غورځنګ د کندهار برخې مشر هم د ارزېګي کهول مخور او د نومورې مبارز محمد ایوب خان اخګزي اکا محمد انور خان وو، چې وروسته یې هم هلته و اوسېدلو ته زړه ښه کړ او د نایب سالار په توګه و ګومارل شو.

نومورې مخور محمد انور خان ته که څه هم پر خپل وخت د وَړ کردار تر سره کولو په بدل مځکه ور پېرزو شوې وه، خو د ژوند یو او ویښو خلکو خبر تیا او څکښاري د دې لامل وي، چې ښه ته ښه او بد ته بد و وایي، نو محمد انور خان او د کورنۍ ځینې غړي یې داسي وو، چې د اولسواکۍ لپاره به یې خپلې هڅې او وس نه سپماوه او د خلکو په فکري روزنه کې به لاس په کار وو، چې وروسته بیا هم د مهالنیو واکمنانو له خوا د ویښ ځلمي غورځنګ د مشر تابه په تور له خپل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زوی نوموړي لیکوال محمد علم خان بڅرکي سره زنداني شو او تر څو کلونو وروسته د ناروغۍ له کبله بیرته خوشي کړل شو.

د **خان شهید** د کورنۍ/ ټبر او توکم د مشرتابه لامل هم ښکاره وو، چي په شا او خوا خلکو "پښتنو" کي د یوه نیم کور په چپه د عصري علومو د لوست لاره نه وه پرانستل شوې، مذهبي زدکړي څه نا څه وې، خو په هغه کي هم د روایتي لاري پالل پر ځای پاته وو، پښتنو به و داسي خبرو ته زړه ښه کاوه، چي "پخواني وختونه لا ښه وو" "څه دي کول، چي پلار او نیکه دي کول" او یا هم "چي نه کار په هغه څه کار" پښتون اولس د دې تېروتنو او یا مغالطو منونکی ذهن او زړه درلودی.

په داسي ذهن او زړه لرونکې ټولنه کي د ځان ځانۍ چاپېریال خور او په خلکو کي پر خپله ټکۍ د اور اړولو (مانا خپل چاروکې ورځ) او یا "هشه هشه لره؛ نظر پر خپل غوایه" غوندي ذهنیت وده مومي، یو له بله بېزاري، بېلتون، یو د بل ښه مه غواړه، د بل په پرمختګ او ښه والي خوا بدېږه، له یو بل سره د بدو کولو ذهن لره او د ژوند په اړه د سکالو یا موضوع نه لرلو له کبله ناستي پاستي ځکه بې مانا وي، چي په وراشو کي د کار او پېیلې خبره نه وي، یوازي بېځایه غیبت او د بل په کمه کي د ځان لوړاوی غوښتل پاته وي او په هر چا پسې پوچ او رد ویل او داسي نوري ناوړي چاري په داسي ټولنیز چاپیریال کي وده کوي، نو په داسي چاپېریال کي د اولسي ستونزو هوارولو لپاره ذهن او زړه لرل یوازي د لوستو پوهانو او خبرتیا لرونکو خلکو برخه وي، نو ځکه به د اولسي ستونزو او نورو نالښتونو/ مقدماتو د هوارولو لپاره سترګي همدغه یادي او داسي نورو کورنیو ته ور اووښتې، چي پر لوست سربېره به یې ژورلید/ هوښیاري او څه نا څه وس، مېلمه پالنه او زړورتیا هم درلوده او هر چاته به یې د رښتیا او سپیني خبري کولو توان درلودی.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په همداسي وړ تياوو لرلو سره داسي لوستو کورنيو توان درلودی، چې د ټولنيزو ستونزو د هوارولو لپاره دومره ويړ / غوړېدلی / پراخ ذهنيت او زړه و لري، چې ټولو ته په يوه سترګه د کتلو وس يې برخه وي او د حق وينا پر ځای په اصطلاح د خپلوانو ځنګلوری او خواله کوونکی پاته نه شي او يا هم د ځاني ګټو او شومو هيلو لپاره و پرې ته په پَرِ وَنه وايي. د **خان شهيد** کورنۍ هم په پښتنو کې له داسي کورنيو څخه يوه کورنۍ وه، چې د عصري علومو لوست يې ذهن او زړه ته پراختيا ور په برخه کړې وه او د قامي / سياسي او ټولنيزو چارو د تر سره کولو په لاره کې يې دومره لوړي ځوړي ليدلي وې او همداسي يې د زمان په اوږدو کې فکري روزنه تر سره شوې وه، چې په بشپړه پښتني ټولنه کې يې کردار د يادونې وړ / منل شوی او را سربېره شوی دی.

په داسي ټولنيز چاپېريال کې د وګړو تر منځ داسي لوی شمېر ستونزي او پېښې رامنځته کېږي، چې يوه کورنۍ يې په هوارولو پوري هېڅ پاته وي، ځکه غرض لرونکي خلک او غرضي واکمنان غواړي، چې د اولس په منځ کې د کرکې او نفرتونو په خورولو سره بېلتون را منځ ته کړي او "د بېل يې کړه؛ اېل يې کړه" کړنلاري (پاليسي) په پلي کولو سره داسي څه چاري په شعوري توګه هم تر سره کوي.

د قامي او سياسي چارو په لړ کې د پورته يادو شوو تاريخي پېښو او يو لړ ټولنيزو ستونزو سره د مخامخېدلو او لوست په څنګ کې د کورنيو ځينو اړ تياوو له کبله ښار ته تګ راتګ په کوشنيوالي کې لا د **خان شهيد** په ذهني روزنه کې په زړه پوري لاس درلودلی دی او په کوشنيوالي يې لا د څه کردار تر سره کولو ذهن او زړه لرلی دی، لکه نوموړی **خان شهيد** چې يې پخپله په کوټه کې د يوې ناروغۍ په لړ کې و مِشن درمانتون (روغتون) ته تر تګ راتګ او هلته د اوسېدلو پر مهال د يوې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

درمانګري يا ډاکټري تر کردار ليدلو او تجربه وروسته پخپله هم د زړه خبره کوي او دا ارمان يې پر زړه را ټوکېږي، چې:

"څنګه چې زه لويېدم او د دې (درمانګري) خواږيو، زيار او د پردو خلکو پښتنو، بلوڅو او هيندکيانو ناجوړان د دې خسمانې او پر هغو باندې د دې خرڅ ټول راته ښکاريده؛ هومره مي مينه ورسره زياتېدله او چې بيا په دې پوه سوم، چې دا هر څه دوی د خپل دين د خورونې او پرې پېژاندې (پروپيګنډې) لپاره کوي، نو مي يوې خوا ته د دوی سره مينه زياتېدله او بلې خوا ته مي پر ځان او خپل قام او په زياته پر ملايانو باندې نيت بد ېده، چې دوی ولې دا کار نه کوي او دا مي تر زړه ايستې وه، چې زه را لوی سم، نو دغه شان به خپل ځان او مال د دين او کام په کار کې لګوم..." (۱۲)

د ګلستان مېنه:

د **خان شهید** د کورنۍ په اړه مخکې هم يادونه وشوه، چې دغه کورنۍ د عصري علومو له لوست سره آشنا کورنۍ وه او له دين/ مذهب سره خو د ټولو پښتنو مينه ببساري ده. نورو خپلوانو کورنيو يې که څه نا څه هيله له سرکاره څخه درلوده، خو د دوی په کورنيو کې دا هيله له منځه ځکه تللې وه، چې د کندهار پر مېنه باندې د اوسېدلو په وخت کې را منځته شوې چاپېريال د هغوی قامي او سياسي شعور پياوړی کړی وو او فکري روزنې يې و هغو ته پر ناوړ تيا وو باندې د نيوکو او مخنيوي ذهن او زړه ور کړی وو، ماناډا چې هغوی له واکمنانو څخه د لېرې اوسېدلو او له اولس سره د ملتيا کولو ذهن او زړه درلود... بل دا چې د سرکار له خوا په کندهار کې له ټول جايداد څخه د کورنۍ د بې برخې کېدلو زور زياتوب نور هم له سرکار څخه په فکري توګه لېرې کړي وو او د ګلستان پر مېنه که يې په لومړي سر کې څه ګزاره تنګه هم وه، خو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د سرکار او دربار د ملتیا او نوکریو پر ځای یې د خپلو مځکو وَ ابادولو او د کروندو و کرهنې ته زړه ښه کړی، چې ورو ورو یې کورنۍ بیرته څه ناڅه توانا او پر پښو ودرولای شوه.

په کورنۍ کې یې پلار (نور محمد خان) د خپلې کورنۍ د ژوند هوساینې او رانه سباوون لپاره خپله مځکه/ باغونه او کروندې تر خپله ژوره څارنه لاندې و پاللې او په دې کې بریالی هم شو، چې د خپل کور مخنی ارزښت یې په ژوره څرکتیا او پاملرنه سره پر ځای پاته شو او له بې ځایه خرڅونو (پیسو ګارولو) څخه یې په لاس نیولو (کفایت شعاري) د خپلې کورنۍ هغه پښتنې ورتیا لکه مېلمه پالنه، له بېوزلو، کونډانو، یتیمانو او خوارو سره د څه ناڅه مرستې لاره و پاللای شوه او په زیاته د ماجت ملا او طالب پالنه یې په ښه توګه تر سره کړای شوه.

د **خان شهید** د پلار نور محمد خان د خانۍ او سخاوت په اړه مبارز شاعر ملا عبدالسلام اشېزی (چې څه موده هلته په ګلستان کې ورسره پاته شوی وو) داسې وایي:

د حاجي نور محمد خان کریم را ایسته
داسي بل ذي رحمه نه وو نېکمحضره (۱۳)

پورته یادي شوي چاري لکه مېلمه پالنه/ له بېوزلو/ کونډانو/ یتیمانو او خوارو کسانو سره څه ناڅه مرسته او په زیاته د ماجت، ملا او طالب پالنه په پښتنې ټولنه کې تر خپله وسه پورې د هر پښتون او پښتونواله پالونکي وګړي لپاره اړین پاموړ کېږي او په زیاته د خان او د خان د کورنۍ لپاره خو ښېخې اړینه وي، لکه زموږ کلاسک شاعر د خوشال بابا زوی چې یې درې پېړۍ مخکې هم دا خوی او ویاړ یادوي او وایي:

د هر خان چې نه ډوډۍ وي نه یې توره
ښه جواب یې دربان وکا چې خان نشته (۱۴)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مانا دا چې پښتون خان او مخور به هرو مرو مېلمه پال وي او د مېلمنو لپاره به ورین تندي لري، نو د خان (نور محمد خان اکا) په کورنۍ کې هم د نیکونو له وخته دغه دود وو، چې په نژدې سیمه کې د میراتو (هغه کورنۍ چې کارِنده نرګاړی پکښې پاته نه شي) کورنیو د یتیمانو او بېوزلو پالنه به د دوی په کور کې کېدله او د کورنۍ له کوشنیانو سره به په سم تاله روزل کېدل، آن چې په کور کې د روزل شوو ځینو نجونو او هلکوانو د ودونو بار به یې هم پر وړو اخیست.

د یوې داسې ستري پښتنې کورنۍ دوديزه پالنه او روزنه مانا هر اړخیزه پاملرنه تر سره کول لویه کشاله ده، چې څرک څارونکی او ژور لید لرونکی ذهن او زړه غواړي. د کورنۍ د اقتصادي چارو په څنګ کې پر مېلمه پالنه او نورو چارو سربېره د رانه سباوون لپاره د کورنیو کوشنیانو د روزنې او زدکړو غم خوړل او بیاد سیمې د خلکو منځنۍ شخړې/ ستونزې په ښه توګه هوارول ښه ویړ او غوړېدلی ذهن غواړي. دغه چارې که څه هم د نیکه او کورنۍ د نورو غړو تر پاملرنه لاندې په پوره او بشپړه توګه تر سره کېدلې، خو مرکزي نقطه یې د **خان شهید** پلار (نور محمد خان) وو، چې ځان یې ورته ټاکلی او د نورې کورنۍ باور یې پر ځای ساتلی وو، کورنۍ هم د مشرۍ دغه چاره په نومورې پوره بلله او د ټولو زړه د داډ او اطمینان اوبه ورباندې ځنبلې وې. د کورنۍ د ځوانانو په روزنه کې خو دومره حساس او تکړه وو، چې څه موده یې د کشر ورور (سنډېمن سکول کوټه) د زدکړو تر سره کولو لپاره د سرکار نوکرۍ ته هم زړه ښه کړی او دغه ځور یې پر ځان وړی وو، په کوټه ښار کې له خپل کشري ورور سره اوسېدی، چې په ۱۹۰۵ز کال کې د همدغه کشر ورور (چې په لسم ټولګي کې ځوانیمرګ شو) تر مړینه وروسته یې د سرکار نوکرۍ ایله کړله او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بیرته خپل کور ته راستون شو، خو بیا یې هم له سرکاره ځان نه شوای ژغورلای، ولې چې له نوکرۍ پرته هم داسې ډېرې چارې، اړتیاوې او زیندۍ وې، چې د وخت سرکار یې د خلکو راګیرولو او د ځان کولو لپاره په کار اچوي، په همدې لړ کې به د ځینو خپلوانو له خوا د مځکنیو شخړو او نالښتونو (مقدمو/دعوو) د هوارولو لپاره خلک اړ او مجبور وو، چې د سرکار ور و ټکوي او هغوی به له همداسې چارو څخه په کار اخستلو د پښتنو تر منځ د بېلتانه او لېریوالي زنې کرل او داسې ربړې او ستونزې به یې نورې هم پېچلې ساتلې، دا زیندۍ یا کړۍ هم د رابرې سنډېمن د لېویزو د نوکرۍ غوندې وې، چې څوک به هم په کښېووت؛ بیا یې د وتلو لاره نه درلوده او په څه نا څه هیله او بهانه به یې په نن او سبا د ژوند شپې درباندې سباکولې او په داسې توګه به د کورنیو او تربرونو تر منځ شخړو او بېلتون وده کوله. د داسې چارو په څنګ کې یې له سرکاره سره د کار کولو نورې لارې هم پرانستې وې او غوښتل یې، چې په څه نا څه ډول اولسي مشران ځان ته اېل او خپل کړي او په دې لړ کې به یې اولسي مشران په اولسي چارو کې د سلا او مشورې په پلمه د انګریز لاټ دربار ته را و غوښتل او د دربار یا جرګې غړیتوب به یې هم ور پېرزو کړ، چې دا به یې یو ډول ویاړ او درناوی باله او په اولس کې هم ارزښت ورووه، نو په داسې توګه یې هغه کسان د ځان کړي وو، چې د خپلې ناپوهۍ او نالوستي ورځې له کبله به یې د تولنیز فکر پر ځای د ځان ځانې ذهن او زړه درلود، خو ځینې کسان داسې هم وو، چې له ناچارۍ به یې دې کار او غړیتوب ته زړه نښه کړی او داسې لږ شمېر پوه وګړي وو، چې دغه ډګر یې یوازې انګرېز پلوه کسانو ته پرېښوول نه غوښت، خو هر څه چې وو؛ نورمحمد خان د جرګې غړی پاته شوی او ویل کېږي، چې تل به د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

انګریز پلوو په مقابل (حزب اختلاف) لوري کې ولاړ او له هغوی څخه بېل پاته وو او د رایو (د کومې شخړې په اړه) پر وخت به یې ځینې مشران د ځان هم کړل او د واکمنو په لاره کې به د خنډ لامل شو، لکه د جرګې په توان چې و **خان شهید** ته د سزا ورکولو پر مهال د جرګې غړو له خوا د جرګې څخه د بېزارۍ او ناوسۍ یادونه کېږي، هغه داسې چې د جرګې تولو غړو (له یوه غړي پرته) مخکښ پښتانه مشر **خان شهید** ته له سزا ورکولو سره مخالفت کړی وو، خو انګرېز غوښتل.

نومورې نور محمد خان هم سیند او هیند لیدلی وو، مانادا چې ګښته او ګرځندوی سړی وو، پای یې په ۱۹۱۷ز کال کې پر داسې مهال چې کشر زوی **خان شهید** یې د لسو کالو وو او مشر زوی عبدالسلام خان یې د دیارلس کالو وو" له ژوندە سره مخه بنه وکړه، چې په مرګ یې د بچانو/ کورنیو خپلوانو په ملتیا پښتون اولس هم پوره غمجن شو.

د نومورې د سخا په اړه خو مې د نومورې سرلاري مبارز او ربنتیاګوی شاعر ملا عبدالسلام اشېزي شعر د باور لپاره راوړی وو، خو د پوهې او څېړنې په اړه یې پخپله **خان شهید** هم داسې لیکلي دي:

"که څه هم زما د پلار سره څه د پوهې شپې تېرې نه سولې، خو خلک یې تر اوسه د ډېر پوه او بنه سړی یادوي، زه یې خپله دوه کارونه تر اوسه ناپېښه د پوهې ګڼم، چې د هغه وخت د پښتنو څخه مخ له بېل او د ډېر زیات اوچت بنکاري، یو دا چې کله امیر عبدالرحمان خان هزارګان و وهل او د هغه وخت ملایانو د هغو مریان کول روا کړل او د هزارګانو نر او ښځې به د چوپړ او سوریتي کولو لپاره په ډېره لږ بیه خرڅېدل او په تول کندهار او پښین کې کم داسې وس وال سړی او کور پاته وو، چې دا د خدای بندګان به یې نه وي را نیولي او نه به یې وي مریان کړي،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خو زما پلار لکه چې یوازې سړی وو، چې دا کار یې نه دی کړی او نه یې روا یا ښه باله." (۱۵)

"دویم دا چې سره د دې چې ورونه یې دواړه مړه وو او نژدې دوولس کاله یې نارینه بچی نه درلود، یو سر پاته وو، د ولکې ډېرو خلکو/ خپلوانو/ د کورنۍ مشرانو ډېر ورته وویل، چې دویم واده وکړه، خدای به زامن څنې درکړي، خو ده دا کار و نه کړی، دویم واده یې ښه نه باله او ویل به یې، چې که ناروا نه وي او نور تاوان و نه لري هم، ځکه چې د دوو مېندو بچي سره خواږه نه وي، نو ښه کار نه دی." (۱۶)

خان شهید د هغه مهال په ټولنیز چاپېریال کې د پلارنۍ پوهې او روزنې ډېر ښه منې او په هغه وخت کې د خپل پلار پوهې او زړه ته هېښ (حیران) پاته دی، ځکه د هغه وخت چاپېریال ته په خپل لیک کې ښه پوره ځای ورکوي او په دومره ښه او کره ډول یې انځوروي، چې د لوستونکي ذهن له ځانه سره وړي، نوموړی لیکي:

"د پښتونخوا په هر کلي کې د پیر په نامه یو تګ یا ملا ناست وو، چې خلک به یې په دام کې ګیر او مریدان وو، د رنځ دارو درمل د دغو باباګانو د ګور خاوري وې او یا د کوم زیارت او ملا تاویز. پښتانه یا مسلمانان هسې هم خدای ډېر کم یادوي، کله کله یې ننګوي، یاد درواغو او رښتیا لووړي (سوګندونه/ قسمونه) د خدای په نامه کوي. زموږ په خپل کلي کې یو پیر وو، چې بابک به یې باله، بس خلکو به هغه ننګاوه، د هغه په ږیره/ په نغري یا کمبله به یې لووړي کولې. یوه د توت ونه وه، د فقیر توت یې باله، واړه لرګي به یې خلکو په مزي کې ټړل او په غاړه کول یې او دا یې د ژړې تبي (ملېریا) درمان وو، چې پیاز به یې په ژړ مزي و پېودی او هغه به یې و رنځور ته په غاړه کاوه، د هر شي ببله مزدوري وه، چې شکرانه یې بلله، په هره هدیره کې به جنډې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او شنختي (خازې) ولاړي وې، د هر رنځ د پاره ببل ببل څلي او باباګان وو، چې خلک په زیاته زنانه به ورتلې، د کلي او هولکې هر کار به په چا بابا او ملنګ/ پیر یا څلي پوري تړل کېده، یا به د پېرانانو کار باله کېده، تر دې چې د انګریز دې هېواد له راتګ او باچهي نیول ... د پښتنود سپیتاني، ناخبرې او... د انګرېز د لښکرو، وسلو او بډو پر ځای د لال شباز قلندر کار باله کېده، چې دا باچهي انګرېز ته قلندر ورکړې ده. له خلکو څخه خدای خو پرېږده؛ ځان هم ورک وو، دوی هیڅ نه وو، هر څه چې وو؛ دغه باباګان وو او هر څه چې کیده؛ دوی کول، یا ځینو مړو او د هغو څَلو.. انګریزانو چې د افغانستان پولې له اوسني چمن ته رېل بوته، زمونږ له کلي څخه پر نیم میل باندې او د کلي د هدیرې په خوا کې لار وه، چې د سپیني تیږې او غوَږي پر لار به په دَرو دَرو کې تر غره وتله او بیا به چمن له تله، هغوی تر دغه ځایه را رسولی وو، چې انجنیرانو دغه لار اوږده و ګڼله او تر دې یې د کوږ ک تنډېل چې درې میله اوږدې؛ اسانه و باله، ځکه یې دا لار پرېښوولې. دا د نولسمي پېړۍ د پای خبره وه، خو چې زما یادېږي، تر ۱۹۱۴ز کال پورې زمونږ د کلي او شا او خوا خلکو دا باور وو، چې دا لار انګرېزانو ځکه بدله کړه، چې زمونږ په هدیره کې د پلانکي ملنګ تر څلي ګاډۍ نه سوه تېرېدلای. چا به ویل، چې د هغه بل کلي پیر لهوني صاحبزاده نه پرېښووه او چا به بیا ویل، چې بابک صاحب بنده کړ له... او داسي نوري ناپرېتې..." (۱۷)

په داسي چاپېریال کې له دې خویونو څخه د ټولنیز ذهنیت ژغورل/ ساتل او بل دا چې په لوی ذهن او زړه د داسي خویونو په وړاندې درېدل او د مخنیوي لپاره یې مبارزه کول په خپل وخت کې د تاوان په منلو تر سره کېږي. بله ناوړه دا چې په هغه وخت کې د دې سیمې په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تولو پښتنو کې ولور په داسې بڼه دود وو، چې خلکو به خپلې لونې د خپلې خوښې په داسې ولور ورکولې یا ودولې، چې د کورنیو تر منځ به د تاوتریخوالي لامل شو او دغه را منځته شوی کړکیچ به د واده شوي نجلۍ د ټول ژوند د تریخوالي لامل ګرځېد، چې د لور هوکړې به یې د زوم د کورنۍ تر وس پورته په مهالنۍ دوه، درې، څلور زره سکه سره وکړی او په خلکو کې به دغه لوړ یا زیات ولور د ناپوهۍ پر ځای د پېغلې او کورنۍ ارزښت او لوړاوی بلل کېدی، مانا دغه چاره به یو ډول درنښت هم ګنډل کېدله، د هوکړې پر مهال به د نجلۍ د ولور په ټاکلو پیسو کې هم د مرکبانو یا د زومګارې د کورنۍ او نجلۍ د پلار په خوښه دوې برخې و ټاکل شولې، یوه برخه به یې د خوراک او بله برخه به یې د خرڅ په نوم وه، چې د خوراک پیسې به یې پلار او کورنۍ خوړلې او د خرڅ برخه به یې په نجلۍ ګارولې، چې وروسته به یې د ګارولو او په بڼه توګه د نه ګارولو پر سر شخړه را منځته شوه او د کورنیو تر منځ به یې کرکې او لېریوالی راغلی، آن چې ځینو کسانو به د لور د ولور په پیسو مذهبي چارې هم تر سره کولې، لکه نومورې شاعر ملا عبدالسلام اشېزي چې و پښتون اولس ته پېغور ورکړی دی:

زام د لـور پـه مهـر ورلـې مکـې لـه
هـم حـج ولاړی هـم ولـور سـلا بـلا (۱۸)

خو **خان شهید** بیا هم تر جهیز او ډاج د کورنۍ تر وس لاندې ولور خوښ کړی دی، ولې چې نارینه یې ګټې او زمور په ټولنه کې نارینه د ګټې وټې وي، خو جهیز / ډاج د ښځې له خوا ورکول کېږي، **خان شهید** ولور د اسلام دین ته نژدې چاره پاموي او په پښتنو کې د ښځو تېښته / متیزه او د تک کولو / پېکې / څټوکې پرېکولو او داسې نورو ناوړو چارو په وړاندې د پښتنو د مخنیوي دودیزه کلتوري چارې خوښوي او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پاموي، چې په همداسي توګه يې لام ترڼ کېږي، ولي چې داسي چاري د پښتنو تر منځ د بديو لامل ګرځي..

په داسي وخت او چاپېريال کې د داسي مهالنيو يا موقتي ګټو رسوونکو ناوړو خويونو په مخکې درېدل مبارز ذهن او زړه غواړي، چې د اولس ذهنيت به پر همدې لاره باندې د ټينګار لپاره جوړ شوی وو او په شفاهي ادب کې به هم داسي لاري چاري ورته تراشل شوي وې، چې د وخت متلونو به نوري هم باوري کولې، لکه "څه دي کول، چې پلار او نيکه دي کول" "زاړه وختونه لا نښه وو" همدا هغه تېروتنې او بېځايه خبرې وې، چې د خلکو ذهنيت يې زوړ پالی ساتلی وو او د وخت ملايانو به هم ورسره مانه، خو د ځينو يادو مبارزينو ذهنونو خپلې کورنۍ او وروسته اولسي بهيرونه دې ته چمتو کړل، چې د خلکو په مخ کې د "ولي ويلو" په مزاحم توان لرلو سره د هغوی ناوړې چارې و غندي او نښو چارو ته يې نښه ووايي. د **خان شهيد** کورنۍ هم د پښتون وطن په داسي مبارزو کورنيو کې ارزښتوړ ځای لري او په ځانګړې ډول په سوهېلي پښتونخوا کې يې د سرلارې او مخکښې کورنۍ ويار ځکه په برخه دی، چې د ټول اولس په وړاندې يې پر پښتنې ټولنيز ژوند باندې د کره کتنې ذهن او زړه لرلی دی، ناوړه خويونه يې غندلې دي او د ټول اولس لپاره يې د زوړ پالو په وړاندې د مزاحمت او مقاومت په پاللو سره د ټولنيز ژوند لاره روښانه کړې ده. **خان شهيد** د خپلې کورنۍ د لوست او د دې ناوړه خويونو په وړاندې د درېدلو په اړه داسي ليکي:

"مور مې لکه د مخه چې مې ويلي دي؛ پښتو لوستې وه، په کندهار کې زوکړې وه او پلار يې چې زموږ د پلار مشر تربور وو، بې ولوړه زما پلار ته واده کړې وه، چې ګومان مې دی په پښتنو کې که نه وي؛ زموږ په کورنۍ کې لومړی بې ولوړه واده وو. هغه وخت د دې ترې په پښتنو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کې هغه سړی دروند او ارزمن باله کېده، چې لور به یې په ډېر ولور و دېدله او نن هم نالوستي او ناپوه پښتانه دا کار ډېر ښه ګڼي او ډېر په ویاړي، نن هم ناپامه خلک د پنځو زرو څخه تر پنځه ویشت زره کلدارو پورې د لور/ خور ولور اخلي، خو پوهه خلک په زیاته زمود د کورنۍ خلک دا کار بد ګڼي او تر وسه ځان ځنې ګوري." (۱۹)

خان شهید وایي، "چې زما پلار یوازینۍ مخور وو، چې د پښتنو دغه پورته یادي شوي چاري او خویونه یې یوازي دا نه چې نه خوښولې؛ بلکې په اولس کې یې د مخنیوي لپاره پیاوړي هڅې هم تر سره کولې او په هره ناسته/ مجلس کې به یې د ټولنې د ودانۍ لپاره د کار کولو مانا څه ناڅه کردار لرلو په اړه ټینګار کاوه او پخپل لاس به یې د ژوندانه د غم خوړلو خبرې په باوري توګه کولې...

ویلای شو، چې د ناپوهۍ په دې رنځ او دام کې له ډېرې مودې څخه د راګیر او پاته شوي پښتون ټولنیز ذهنیت اړول که څه هم دومره اسانه چاره نه وه، خو اروانباد نور محمد خان (د **خان شهید** پلار) بیا هم تر خپله وسه پورې د مزاحمت او مقاومت دغه لاره پاللې وه او خپل دم، درم، قدم او فکري توان یې د ټولنې په فکري روزنه کې نه وو سپمولی.

خان شهید لیکي، "چې بابا مي ښه لوستی وو، په تازي (عربي) او پارسي ښه پوهېدی او همدا لامل وو، چې له پوهې او عقله لېرې خبرې ورته د منلو وړ نه وې، په پاتیشوني یا میراث کې یې پر ښه کردار (نوم) جایداد (ټول) او کور سربېره د پارسي او تازي (عربي) څه شمېر کتابونه را پاته شول، هغه زیاتوي، چې بابا مي د کتابونو ښه په زړه پورې درنه پنګه (ذخیره) درلوده، د کتابتون یا لایبریري بڼه یې درلوده، د کتلو یا مطالعې لپاره به خلکو کتابونه وړل، زیاتره کتابونه یې په ژوند ملایانو سره یووړل او یا یې وروسته بیا نه راوړل او د ځینو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لپاره خو یې د هغوی په غوښتنه په بیه هم را نیول او ور پېرزو به یې کړل، چې د زدکړو لاره ورته ګرانه نه شي، ځینې کتابونه یې تر مرګ وروسته هم چا او چا یووړل، چې لږ برخه یې را پاته شوه.

د **خان شهید** پلار د سیمې مخور مشر (نورمحمد خان) په داسې وخت کې له ژوندە سره مخه ښه وکړه، چې **خان شهید** (عبدالصمد خان) لس کلن او مشر ورور (عبدالسلام خان) یې دیارلس کلن وو. څرګنده ده، چې په داسې ټولنیز چاپېریال کې د دومره منګ (عمر) کشرانو نه شوای کولای، چې د کورنۍ او بیا داسې درنې کورنۍ "چې خلکو به تړې د ښېګړې هیلې هم لرلې" هغه هیلې پوره کړي او روانې چارې هم هغسې وساتي، لکه مخکې چې د بابا په ژوند کې تر سره کېدلې. د یادو شوو اندېښنو په اړه **خان شهید** د بابا د مرګ په یادونه سره د مور او ماما کردار داسې یادوي:

"پلار مې د مرګ په وخت خپل پس مرګی کالخوای (وصي) زما ماما محمد علي خان و ټاکه، خو د کور او د باندې ټوله سرېښته مې مور ژر په لاس کې واخسته او د مېړه مخې پښتنې په شان یې یوازې دا نه چې زمونږ روزنه د پخوا په شان وکړله، ټول کور او تول (جایداد) یې هم خوندي کړ او څه پیسې یې هم بچت کړې وې او په هغو یې څه نورې اوبه اخستې وې، زمونږ په خوا بهاد مځکې پر ځای د اوبو وي، مشره خور مو واده کړله او مشر ورور له مې واده وکړی..." (۲۰)

دلته دا خبره هر چا ته ور په زړه کېږي، چې د کورنۍ له مشریزې څارنې څخه د بې برخې کېدا له کبله د یوې کورنۍ ژوند څومره اغېزمنېږي، مانادا چې د کورنۍ د کشرانو د زدکړو او روزنې په لړ کې د بې پامۍ اندېښنې پیاوړې کېږي او د راتلونکې ژوند یا رانه سباوون د هیلو شنډېدلو اندېښنې هم سر را پورته کوي، ذهن او زړه یې هم له

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نهیلۍ سره مخامخېدلای شي، خو په دې لړ کي د لوستي مور په اړه په کوم چا پوري تړ او لرونکې خبره "چي لوستې مور راکړه؛ زه به لوستی قام درکړم" څومره ژوره او زړه ته لوېدونکې ده...

په ځانګړي ډول په داسي وخت کي چي ریاست خپلي ټاکلي چاري (ذمه داریاني) نه تر سره کوي، مانا دا چي د خپل اولس د زدکړو غم نه خوري، د روغتیا خیال یې نه ساتي او نه د اولس نور حقوق پر ځای کوي، نو په داسي چاپېریال کي د نوي زېږد (نسل) د ورانېدو اندېښنې رښتیا او پر ځای وي، یوازي دا نه چي ژوند یې بې باوره وي، بلکې ورانیو ته یې لاري پرانستي او غوړېدلي پاته وي، د مخنیوي څوک یې نه وي، نو په داسي وخت کي د مور، پلار او کورنۍ پر وږو باندي د کوشنیانو د روزني ډېر دروند بار پرېوځي، ډېري درنې ذمه داریاني ور باندي راځي، چي خپلي ټولني ته یو روزلی او روغ ذهن ورکړي.

خان شهید په ټولنه کي و دې اړخ ته د ښې پوره پاملرني خبره کړې او د مورنۍ روزني په څنګ کي یې پلارنۍ روزنه هم ډېره اغېزمنه بللې ده. که څه هم د **خان شهید** پلار د نوموړي په لس/ یوولس کلن منګ کي مړ دی، خو د پلارني کردار او روزني په لړ کي د **خان شهید** هغه غبرګون لوستونکی په ډېر څه باوري کوي، چي د خپل لومړني ژباړل شوي کتاب (ګلستان) انتساب د خپل پلار په نوم کوي او لیکي، چي:

"زه خپل د مورنۍ ژبي دا ړومبی پاړکی خپل د پلار نور محمد خان اڅګزي "تښتن دې وبخښي" په نامه کوم او د هغوی په یاد کې خوروم، ولي زه هر څه چي یم؛ د هغه ښاغلي پښتانه د پوهي او زیار یوه نښانه یم، چي د نن څې نژدې څلوېښت کاله پخوا چي زیاتره پښتانه لا د خپلي ناپوهۍ او د انګرېز د مرییتوب په توره دربه کي د ځان د چتې وتلي پراته وو، دوی خپل د پوهي او مینې په سوب په ډېر خرڅ او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خواري زما د روزني او ښووني ښه سربښته وکړله، زه هر څه چي یم؛ د هغو د روزني یوه نمونه یم. ۱۲مئي ۱۹۵۰ز کال هري پور جېل (۲۱) پایله دا چي د پښتنې ټولني په داسي ټولنیز ژوند او ذهنیت لرونکي چاپېریال کي عبدالصمد (چي وروسته د خپل کردار او شهادت له رویه په اولسي مینه د **خان شهید** نوم ور په برخه شو) په ۱۹۰۷ز کال د سوهېلي پښتونخوا د ګلستان په عنایت الله کارېز نومي ځای کي د نوموړي نور محمد خان اڅګزي/ حمیدزي/ جلېزي (چي د برخوردار خان د کهول وګړی وو) په کور کي دې نړۍ ته سترګي روڼي کړې او په ژوندانه کي یې د پورته یادي شوي کورنۍ په فکري روزنه او خپل ذهني استعداد سره د قامي ودانۍ/ سیالۍ او پرمختګ په لاره کي په یو شمېر زندانونو کي د ژوند په درنه برخه تېرولو/ ستړیاوو ګاللو/ ربړو او کړاوونو سهلو/ ځوروونو او ستومانیو په وړلو ډېر تریخ خو له تلپاتي ویاړه ډک ژوند تېرولو واک او وس په برخه شو.

دا چي لیکنه د **خان شهید** د کورنۍ په اړه ده، نو په کار دی، چي په پای کي د نوموړي د ودونو او اولادونو (لور او زامنو) په اړه هم یادونه وشي.

خان شهید لومړی واده په ۱۹۲۹ز کال کړی او په ۱۹۳۰ز کال یې لومړی زوی زېږېدلی دی، چي **خان شهید** یې نوم سیف الدین ایښی دی او دا څرګندونه یې هم کړې ده، چي د مشر زوی نوم مي له ډاکټر سیف الدین کېچلو څخه د اغېزمنتیا او میني پر بنسټ ایښی دی، " چا چي په ۱۹۲۹ز کال په لاهور کي د کانګریس په غونډ . کي د بشپړي خپلواکۍ وړاندیز کړی وو، هېره دي نه وي، چي [illegible] غونډه کي **خان شهید** د یوه کتونکي په توګه ګډون کړی وو." د **خان شهید** د [illegible] زوی یوازي څو ورځي ژوندی پاته شوی دی، خو له همدې وا[illegible] څخه یې دوه زامن نور هم شوي دي. اروابناد احمد خان (د [illegible]م زوی، چي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ډاکټر وو) په ۲۰۱۶ز کې و. ر او بناغلی محمد خان اچکزی (دریم زوی چې د پوهنتون استاد او بیاد بلوچستان ایالت گورنر هم پاته شو) او له همدې بنځې څخه یې یوه لور وه، چې ولي عهد بهگم نومېدله او کابل ته یې له **خان شهید** سره د سیاسي سفر پر مهال پر لوی شمېر سیاسي مخورو سربېره له اروابناد محمد ایوب خان اچکزي سره هم لیدلي وو، چې د نومورې په غوښتنه یې یو لیک هم ورکړی وو.

څرگنده دي وي، چې د **خان شهید** لومړۍ بنځه د شېرجان خان لور بي بي صابره وه، چې له **خان شهید** سره یې څوارلس کاله ژوند کړی او د ۱۹۴۲ز کال په پسرلي کې د نري رنځ په ناروغي مړه شوه، **خان شهید** یې د قامي کار ملتیا ستایلې ده، اروا یې بنباده/ جنتونه یې برخه.

د **خان شهید** له دویم واده (واحده بي بي) څخه مشر زوی نومورې مشر محمود خان اچکزی دی، چې د **خان شهید** تر شهادت وروسته یې د نومورې پلار پر سیاسي لاره باندې د پښتونخوا ملي عوامي ګوند د مشر په توګه تر اوسه پورې په ډېر درانه او سپېڅلي ډول خپل کردار په داسي بڼه ډول تر سره کړی دی، چې تولمنلی ارزښت یې په برخه او په سیاست کې د باوري سند په توګه یادېږي، آن چې مخالفین یې هم په لوی زړه د کردار منلو او یادولو ذهن او زړه لري.

د **خان شهید** کشر او پنځم زوی بناغلی ډاکټر حامد خان اچکزی دی، چې د خپل بابا **خان شهید** د سیاسي لاري په پاللو کې یې هر وخت د خپل مشر ورور ملاتړ په مېړانه او لوی زړه تر سره کړی دی او په دې لړ کې یې د پښتانه وطن، پښتنو او پښتو دودانۍ او پرمختګ په لاره کې خپل وس هېڅ کله هم نه دی سپمولی.

څرګنده دي وي، چې له بناغلي ډاکټر حامد خان سره یوه غبرګولی خور هم وه، چې څو ورځې ژوندۍ او بیا په حق رسېدلې ده.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دا وه؛ د **خان شهید** د درنې او سیاسي کورنۍ په اړه هغه سرسري او اجمالي څېړنیزه هڅه چې د **خان شهید** د ژوند لیک او ځینو نورو سرچینو په باور ستاسو په مخ کې د دې لپاره وړاندې کړل شوه، چې ځینې څرک او ژورلید لرونکي څېړونکي به یې نور اړخونه هم را وسپړي، په یادونه او لیکنه کې یې ځکه د لومړیتوب ارزښت په برخه دی، چې تولنه ته یې په روزلو سره د رانه سباوون لپاره مشال کردار **خان شهید** ورپېرزو کړی دی، چې موږ یې په درانه کردار سره د تولنیز فکر د روزنې په لړ کې د لورپېنو او پېرزوینو پوروړي یو.

سرچینې:

۱: مرغزي، حافظ، احمد شاهي شاهنامه، خپرندوی، علامه رشاد اکاډیمي، د متن سمونه، سریزه او لمنلیکونه د محمد معصوم هوتک، مشموله، پېژندنه او تعلیقات، د علامه اکادمیسین عبدالشکور رشاد، چاپکال ۱۳۸۷ل ۲۰۰۸ز مخونه ۶۶۸، ۶۶۹، ۶۷۰

۲: رشاد، علامه اکادمسین پوهاند عبدالشکور، د احمد شاهي عصر نومیالي، خپرندوی، علامه رشاد اکاډیمي، چاپکال ۱۳۹۴ل ۱۴۳۶س ۲۰۱۵ز مخ ۴۱۱

۳: ډاکټر؛ ګنډا سنګهـ، درانی احمد شاه، ژباړن، سرمحقق نصرالله سوبمن، خپرووونکې، د افغانستان د علومو اکاډیمي، چاپکال ۱۳۶۶ل ۱۹۸۷ز مخونه ۳۴۱، ۳۴۲

۴: رای؛ دیوان جمیعت، ګزیټیر، پښتو ژباړونکی؛ کامران اڅکزی، خپرووونکې؛ پښتو اکېډمی کوټه، چاپکال ۲۰۲۱ز مخ ۱۶۸

۵: پکتیار؛ علي خان، د افغان انګلیس لومړی جګړه، خپرووونکی؛ د افغانستان د علومو اکادمي، چاپکال ۱۳۶۸ل ۱۹۹۰ز سریزه مخ د

۶: ځلمی، محمد ولي، زموږ غازیان، خپرووونکې، د افغانستان د علومو اکادمي، چاپکال ۱۳۶۸ل ۱۹۸۹ز مخ ۱۱

۷: ځلمی، محمد ولي، زموږ غازیان، خپرووونکې، د افغانستان د علومو اکادمي، چاپکال ۱۳۶۸ل ۱۹۸۹ز ۳۵ مخ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۸: کوهزاد؛ احمد علي، مهالنی افغانستان د تاریخ په ګوښو کې، پښتو ژبا ړونکی، نعیم ازاد، خپرووونکی؛ پښتو ادبي غورځنګ، چاپکال ۲۰۱۳ز ۷۰، ۷۱ مخونه

۹: ځلمی، محمد ولي، زمور غازیان، خپرووونکې، د افغانستان د علومو اکادمي، چاپکال ۱۳۶۸ل ۱۹۸۹ز ۳۵ مخ ۴۰

۱۰: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون، لومړی ټوک، خپرووونکې؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز ۷۱ مخ

۱۱: د خوشحال خان ختک دیوان؛ سریزه او سمون؛ حبیب الله رفیع، خپرووونکې؛ د امان کتاب خپرولو موسسه، چاپکال، ۱۳۹۷ل کال ۳۷۹مخ

۱۲: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړی ټوک، خپرووونکې؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز مخ ۹۱

۱۳: اشپزی؛ ملا عبدالسلام، خپرووونکی؛ لیکوال، چاپکال ۱۳۵۴هـ ق کال مخ ۱۸۱

۱۴: ختک؛ عبدالقادر خان. دیوان، خپرووونکې، د افغانستان د علومو اکادمي، چاپکال ۱۳۶۸ل، مخ ۱۶۵

۱۵: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړی ټوک، خپرووونکې؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز مخ ۱۰۱

۱۶: پورتنی اثر مخ ۱۰۲

۱۷: پورتنی اثر ۱۰۲/ ۱۰۳ مخونه

۱۸: اشپزی؛ ملا عبدالسلام، خپرووونکی؛ لیکوال، چاپکال ۱۳۵۴هـ ق کال مخ ۱۴

۱۹: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړی ټوک، خپرووونکې؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز مخ ۱۰۵

۲۰: پورتنی اثر ۱۰۵ مخ

۲۱: سیال ساکر؛ پوهاند ولي محمد خان، د کسې د لمنې پښتانه لیکوال، خپرووونکی؛ بولان بک کارپوریشن کوټه، چاپکال ۱۹۸۳ز مخ ۳۴۷

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خان شهید (عبدالصمد خان)
وړوکوالی (کوشنیوالی)

د کوم شخصیت او کردار په اړه د یوې لیکنې پای د بلې لیکنې ور پرانیزي، دلته هم په کار دئ؛ و وایو، چې په وړاندي شوې لیکنه کې د **خان شهید** پر کورنۍ او د پښتني ټولنې پر ژوندني چاپېریال څه ناڅه خبره وشوه، چې **خان شهید** په یوه شاته پاته ټولنیز چاپېریال کې (چې د ژوند له ډېرو اسانتیاوو څخه بې برخې او لېرې پاته وو) زېرېدلی او په پورتنۍ لیکنه کې و لوستونکو ته د وړاندي شوو خبرو پخلی او باور هم د نوموړي د ژوند لیک "زما ژوند او ژوندون" په رونا کې تر سره کړای شو. په دې لیکنه کې به تر خپله وسه پورې د **خان شهید** د وړوکوالي د چاپېریال په اړه څه ناڅه وړاندي کړل شي.

دا خبره کړه ده، چې په هر زمان او مکان کې پر ټولنیز ذهنیت باندې د چاپېریال اغېزې خورې وي او تر خپله وسه پورې یې ټولنیز ذهنیت په خپل سیوري کې خوښ، خوبولی اویو ډول جامدساتلی وي، نو په هغه چاپېریال کې اوسېدونکي نه غواړي، چې ځان د خپل زمان او مکان له اغېزو څخه و باسي، خو په داسي خوبولو زمانو کې ځینې ویښ او پرمختګ خوښوونکي ذهنونه د بدلون یا تحول لپاره مزاحمت او مقاومت ته ذهن او زړه ښه کړي او په زمان او مکان کې خوبولی او جامد ټولنیز ذهنیت له ځانه سره د پرمختګ لوري ته و هڅوي. په داسي چاپېریال کې د خوښ، خوبولي او جامد ذهنیت لرونکو په اړه اروابنباد استاد روهي د جبر و اختیار ډیالیکټیک داسي بیانوي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"خو! څه موده وروسته ځینې مفکرین د خپلې توجه واګې د واقعي دنیا خوا ته راکاږي، د دوی په زړونو کې د امید ډیوې بلېږي. د دې پر ځای چې د خپل سوز نغمې د تخیل پر وزرونو اسمان ته و لېږي، د مځکې پر مخ یې سویو زړونو او ځیرې ګرېوانونو ته د تحفې په ډول وړاندې کوي، شاعر او لیکوال د خپل وخت فجایعو او مظالمو ته ګوته نیسي او زیار باسي، چې د پردې تر شا کارونه خلکو ته په ربښتینې بڼه و ښیي." (۱)

ماناډا چې د جبر و اختیار ډیالیکټیک وایي، چې د جمود په دوران کې تولنیز ذهنیت یوازې د خیالونو په نړۍ کې اوسي او ادبي استازي یې هم له نهیلۍ څخه د مهالنیو ناوړو او زیاتوب (فجایعو او مظالمو) په وړاندې د ځان په ناوسه منلو په خیالي دنیا کې اوسېدلو ته ذهن او زړه ښه کړي، خو ځینې د تولنیز ژوند د ودانۍ او پرمختګ غم خوړونکي مفکرین د دې جمود ماتولو لپاره د وخت له پېښو سره د مخامخ کېدا ذهن او زړه و لري او په خپل ژور لید، څرک او ځیرک ذهن په سیاسي پوهه سره د ارمانونو په را ویښولو د تولنیزې ودانۍ او پرمختګ په باور سره د اولسي ملاتړ په موندلو د پرمختګ لپاره لېڅې راونغاړي.

خان شهید هم په داسې زمانه کې د اوسېدونکي پښتني تولنې د سر په قطار کې ولاړ هغه مخکښ، ویښ او مقاومت کوونکی کردار دی، چې د زمان او مکان تول اولسونه یې د خپل هڅاند او څرک فکر په توان له ځانه سره ملګرل او د قامي ودانۍ، سیالۍ او پرمختګ لپاره یې په خپل سپېڅلي کردار له جمود څخه د وتلو لاره رونه کړای شوه.

په کار ده؛ څوک وَنه پاموي، چې د زمان پر مخ بیوونکي یا اووښتون راوړونکي مخور مخکښان بس همداسې را منځته کېږي، ولي چې داسې مخور مخکښان په پېړیو پېړیو د زمان او مکان په مېچن کې د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

انل شوي ذهنیت په را ټولولو او د هغوی و غوښتنو ته د ژبي په ورکولو سره اولس را ټولوي، ملتیا یې تر لاسه کوي او د جمود وهلي/ ستومانه چاپېریال له سترو څخه د ژغورلو لپاره په ژوره سیاسي پوهه او وړتیاد اولسي غوښتنو په روښاکي د ژغورنې او پرمختګ لاره پرانیزي.

د **خان شهید** شخصیت هم د داسي کردار تر سره کولو اډانه او بنسټ لرونکی دی، د نوموړي د ژوند مهالنی ټولنیز چاپېریال که په ارواپي/ روحیاتي یا نفسیاتي ژورلید سره و سپړل شي، نو څرګندېږي، چې نوموړي د ټولنیز ذهنیت په لاشعور او تحت الشعور کې له پېړیو پېړیو څخه و پاته شوو نهیلیو، خوبولو او ناپوره شوو ارمانونو ته په راویښولو سره ژبه ورکړه او د پوره کولو لپاره یې په ژورلید او پوره ځیرکتیا سره له مهالنیو ټولنیزو غوښتنو سره ملګرتیا وکړل، ځکه یې د اولس له خوا منلو او ملتیا دغه ویاړ او درناوی په برخه شوی دی.

په دې لړ کې **خان شهید** په خپل ژوند لیک کې د خپل ذهن او ټولنیز ذهنیت په اړه ښه پوره او کره خبره کړې ده او دا یې څرګنده کړې ده، چې د زمان او وختونو په مېچن کې د انل شوو یادګل شوو ذهنونو او تجرباتو یو ډول انځور (تصویر) یا خاکه د وخت د پوهانو په ذهنونو کې پاته وي، چې وخت ورته داسي ځیرک او څرک ذهنونه و پنځوي، کوم چې د دې ټولنیزو ارمانونو په را ټولولو او را سربېره کولو او بیا یې د اولس د ملاتړ تر لاسه کولو لپاره د اولس په مخ کې د وړاندې کولو په توان بریالي شي، د ځوانۍ د وخت په پر او بیانولو **خان شهید** لیکي:

"هغه وخت په بلوچستان کې موږ ټول ملګري ځوانان او بې آزمودې وو، د نړۍ د پېښو اټکل (قیاس) مو سم نه وکړ او نه مو کولای شو زموږ د هر یوه دا ګومان وو، چې دا کوم ژوند چې په ما کې پیدا شوی دی، دا کنې زما ځانې نښګړه یا ناپېښه او نادر به کار (معجزه) ده او یا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

څه د خدای پاک بې پلمې (بې سبب) ورکړه... نو اوس دا زمونږ کار دی، چې نور خلک را وینې کړو او ژوند پکښې پیدا کړو. دې ته مو پام نه وو، چې د نړۍ پېښو او د سړي ذات د ژوند کومو څرګندو او پټو برېښناوو (Corrents and under Currents) چې په مونږ کې کوم ژوند پیدا کړی دی" هم هغو په هر چاکې دا شی لږ یاډېر پیدا کړی دی.." (۲)

مونږ وینو، چې دغه کورنۍ په پېړیو پېړیو د خپل ذهن پر دښته باندې د ټولنیزې ودانۍ او پرمختګ د فکر نیالګي پاللي دي او روزنه یې په هره توګه تر سره کړې ده، آن چې په دې لاره کې یې د مزاحمت یا مقاومت له ستونزو او ستومانیو څخه هم مخ نه دی اړولی او نه یې له نورو کړاوونو او ځوروونو څخه ځان سپمولی دی، آن چې تاکلي مخور مخکښ **خان شهید** خو دغه نیالګی په خپلو وینو هم خړوب کړ، چې په غبرګون کې یې د "**خان شهید**" ویاړمن او تلپاتی نوم په برخه شو.

په داسې ټولنیز فکر روزل شوې کورنۍ کې **خان شهید** زېرېدلی/ روزل شوی او را لوی شوی دی، خو د ورځو کوالي په اړه یې مونږ مخکې هم ټولنیز چاپېریال او د دې کورنۍ کردار ته ځغلنده پاملرنه د نومورې د ژوند لیک په رونا کې وکړه، چې د ټولنیزې ودانۍ او ښه سباوون لپاره یې په پېړیو پېړیو پرله پوري او د یادونې وړ پرون لرلی دی.

دا ټولمنلې خبره او په ځانګړي ډول د پښتنې ټولنې په چاپېریال کې خوښې کړه ده، چې د مور غېږ د ماشوم په فکري روزنه کې د لومړي ښوونځي ارزښت لري او په دې لړ کې هم د **خان شهید** برخه درنه او په زړه پورې ده، چې د یوې لوستې مور روزنه یې په برخه شوې ده، لکه مخکې چې یې یادونه وشوه او بیا داسې زړه لرونکې مور چې په ټولنه کې یې کردار آفاقي بڼه لرله، **خان شهید** یې یادوي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"د پلار په شان مي مور هم ډېره دین دوسته وه، د پلار په ژوند او بیاد هغوی د مرګه پس به یې کورته واړه یتیمان ساتل، کله به یې د خلکو پر تي (د مور پې خورونکي ماشومان) بې مورہ واړه ورلره روزل، د پور او دود نمنځو سهوا به یې کله کله ځیني ناپېښه زیاتوب (نفل) نمنځونه کول، چې ځیني پکښې په اوکره (توله) شپه ایله پوره کېده او په دغه نمنځو کې به یې زیاتره زه ملګری وم، ولي هغه وخت مي دین هم دغه باله، خو که نور نه وي؛ دا ګټه خو را رسېدلې ده، چې په خوی کې مي سختي پیدا سوله، ډېره سختي زغملای سم او د سختۍ ببر ببرم نه..." (۳)

په مورنۍ ژبه (پښتو) د لوستي مور او د ټولنیز فکر پرون لرونکي کورنۍ د روزنې ګټه دا وشوه، چې د یوه شخصیت په فکر رغونه کې د خندونو او مخنیوي پر ځای د هغه لاره غوره کړه او ستایونکې پاته شوه، آن چې د کړاوونو سهلو/ زندانونو ګاللو او نورو ربړو پر وخت یې هم د کورنۍ او په ځانګړي ډول د مور ملاتړ د ډاډ وړ وو، چې د ځان ځانۍ په مقابل کې یې د ټولنیزې ودانۍ او پرمختګ لپاره و تر سره کېدونکې هره چاره ته په درنه سترګه کتل کېدل...

ایله دا چې د داسې ټولنیز چاپېریال د ناوړ تیاوو د سمون او اووښتون لپاره د شلمې پېړۍ په پیلیزه کلونو کې د زمانې وړ او ټاکل شوی کردار عبدالصمد خان (**خان شهید**) له پېړیو پېړیو څخه په پښتني ټولنیز فکر روزل شوې کورنۍ کې د نور محمد خان په کور ګلستان کې و زېرېدی. بنه روغتیا لرونکی وجود د بنه ذهنیت څښتن وي، نومورې هم د بنې روغتیا لرونکي وجود، ځیرکتیا، څرکتیا یا ذهني صلاحیت او استعداد لرونکی وو، مور یې په هلکینه کې هم یادښت ته هېښ پاته وه، چې د ورځو کوالي پېښې به یې ورته کله کله یادولې. د زمان او ټولنیز

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چاپېریال له دود سره سم د دیني لوست لاره ورته هغه وخت پرانستل شوه، چې مشر ورور عبدالسلام یې د کلي په ماجت کې له ملا څخه په زدکړو پیل وکړ او نومورې به هم ورسره تګ راتګ کاوه، مور او پلار یې له ورورە سره تګ راتګ ته ځکه هم زړه ښه کړ، چې وخت به یې هم ښه تېرېږي او خوی به یې هم شي، خو د دې څرک او ځیرک ماشوم " **خان شهید** " ذهن د مور او پلار د دغه رویې په غبرګون کې ماجت له تګ راتګ پرېښوو، چې وروسته یې بیا په پنځه کلنۍ کې د زدکړو لپاره ماجت ته په پرله پسې توګه تګ راتګ پیل کړ او په درې کلنۍ کې له محمد اعظم ملا څخه په مینه د لوست را پیل شوې او بیرته پاته شوې لرې په پنځه کلنۍ کې بیا پیل شوه، خو دا وخت د ماجت استاد ملا محمد یعقوب وو، چې ګلستان ته نژدې د ادرامانزو د کلي د اوڅار (نومورې / مشهور) پیر ورور وو، خو د ورور د پیرۍ مریدۍ لاره یې نه پالله، و کلیوالو هلکوانو ته په زدکړو ورکولو کې یې ورور ایوب شاه ورسره مرسته کوله، چې همدلته ورسره اوسېدی او له ورور څخه یې دیني زدکړې کولې. همدغه ملا محمد یعقوب وو، چې وروسته یې په توله شا او خوا سیمه کې د قامي سیاسي بهیر په ملاتړ د لومړیتوب ویاړ و درلود او د قامي بهیر ملاتړ یې په لوی زړه سره تر سره کاوه.

خان شهید وایي، چې د پلار مو په لوست زړه نه مړېدی، د ښې زدکړې لپاره یې پر کور یو بل ملا راته و نیو، چې هم دلته اوسېدی، مور دوو ورونو او یوه همزولي ماما محمد عیسی خان ته به یې سبق وایه، د لوست زیاته برخه به مو پلار راته ویله، خو ملا به راسره ناست وو، چې سبق به مو وایه، نو به ملا ولاړ.

د مور مینه خو په ختیځه (شرقي) ټولنه کې هسې هم جوته ده او د ختیځ اولسونه وربانديي ویاړ کوي، د **خان شهید** د مورنۍ مینې په اړه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یادونه مخکې هم شوې ده، خو د پلرنۍ مینې په اړه هم نوموړی پخپله داسې لیکي:

" موږ پر پلار ډېر ګران وو، په زیاته زه... زما ګومان وو، چې تر نورو ورونو او خویندو زیات باندې ګران وم، موږ پلار د کورنۍ تر نورو هلکوانو ښه اوسولو، جامې به مو هم تر نورو هلکوانو ښې وې، د لوبو شیان پنډوس، بېتې (مردکې) او بډۍ (بجلې) به یې ډېرې راته راوړلې او هره جمعه به یې څه پیسې د خرڅ لپاره هم راکولې، خو بازار ته به یې نه پرېښوولو، ویل به یې: هر څه چې غواړئ؛ نوکر به لېږئ. که به څه دارو درمل له درمانتون ته تلو، یا څه بل کار له؛ عبدالقادر لالا یو سپین ږیری نوکر به راسره تلو، سهار او ماپښین دوه لوسته وو، نورو ځایونو ته مشرانو نه پرېښوولو."(۴)

دا خو کره او ټولمنلې خبره ده، چې کلتور یوه ژوندۍ پدیده ده او هر ژوندی څه د زمان په اوږدو کې څه له لاسه ورکوي او څه اخلي یا یې خپلوي. د پښتنې ټولنې په ټولنیز ژوند کې اوس هم د شلمې پېړۍ د پیلیزه دورې (چې **خان شهید** یې یادوي) څه نخښې ننباني په ژورلید سره تر سترګو کېږي، خو ژوندنۍ بڼې یې ډېر بدلون موندلی دی..

یوه داسې ټولنه چې د ژوندانه په اوږدو کې یې ډېرې لوړې ځوړې لیدلې وي او د جغرافیایي موقعیت یا اوسېدا د ټاټوبي په ارزښت یې د نورو ببلا ببلو ټولنو او بهیرونو له خوا تهاجمونه او زیاتوبونه هم لیدلې وي، د دنیاد تجارتونو لپاره یې د تګ راتګ لاري هم لرلې وي او پر دې سربېره یې د ژبې د لرغونتیا په اړه د نړیوالې څېړنې پر بنسټ دا خبره هم د ټولو لپاره کره او باوري وي، چې ژبه یې زرګونه کلونه تاریخي شتون (وجود) په برخه لري، پر یو شمېر ډبرلیکونو یې د ژبې د لرغونتیا نخښې ننباني پاته وي او ادبي باور یې هم په لیکلې بڼه تر زر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کلونو پوري رسېږي، خو بیا هم ځومره هېښوونکې او ځوروونکې ده، چې یوازې دا نه چې د تهذیب او مدنیت نخښې نښانې یې د خپلو تېرو زمانو استازیتوب په پوره توګه نه ترسره کوي؛ بلکې په پېړیو پېړیو د ادبي زمانې پټه خوله پاتېدل یې هم دا خبره باوري او زړه ته لوېدونکې کړي، چې ګڼ شمېر آثار به یې د زمانې ناخوالو او د دوی د خپلو بې غوریو له کبله له خاورو سره خاوري شوي او د هېر کندو ته لوېدلي وي، نو ځکه چې موږ یې د شلمي پېړۍ په پیل کې تولنیز ژوندنی انځور او په ځانګړي ډول د سوهلي پښتونخوا د یادي سیمې ژوند په سربېرنه توګه وڅارو، نو ښکاري، چې په دغه وخت ماناد شلمي پېړۍ په پیل کې به یې ایله د ژوند لوري ته ګامونه اخستي وي.

د پښتني ټولنې له عصري علومو څخه د شاته پاتېدا په لړ کې د پورته یادو شوو لاملونو په څنګ کې نور هم داسې سیاسي لاملونه وو، چې هغوی یې له سیالۍ واچول او د جهان له ګړندیو بهیرونو څخه شاته پاته شول او په ببلا ببلو ذهني ناروغیو لکه ځان ځاني (انډویژوالیزم) ځانخوښونه (زهتوب/ نرګسیت) او نورو ناوړه تیاووکې راګېر شول. له تېرو دوو پېړیو څخه د برتانویانو یا انګرېزانو له خوا د کالونیل ازم په شومه هیله کوچنۍ وچې (برصغیر) ته په راتګ سره هم داسې چاري ترسره شوې او په ځانګړي ډول د مذهب په سیاسي او تجارتي توګه کارول "چې د عصري علومو لاره یې خلکو ته ناروا او ناوړه و پامولې" او تراوسه پورې یې هم داسې غوړېدلی ذهن او زړه نه دی په برخه شوی، چې په ښه ډول دي لوست او د پرمختګ چارو ته زړه ښه کړي او داسې نور نور... له عصري زدکړو څخه لېرې کېدل د شاته پاته کېدلو په مانا وو او بده لا دا وه، چې خلکو یې هم په داسې جمود خوښ ذهن او زړه درلودی او نه یې خوښول، چې زامن ماناد اولسونو د رانه سباوون

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

استازي دي د عصري علومو په زدکړو سره د ایجاد او اختراع ذهن و لري، عصري علوم یې ځکه د کفر چاره ګڼله، چې د دوی د رناوی او ارزښت یې له منځه وړی او ایجاد/ اختراع یې ځکه د شیطانت چاره بلله، چې د دوی تر وس وتلې او لاره یې په عصري علومو یا زدکړو تر سره کېدله، د ډاکټری چاره یې ځکه نه خوښوله، چې یوې خوا ته یې تر وس وتلې وه او بلې خوا ته یې د پیسو او ټکماری مخه ډب کوله، هغوی به د ډاکټر/ انجنیئر/ ساینسپوه او ټکنالوژی له ایجاداتو څخه په پټه خوله ګټې تر لاسه کولې او د خلکو په وړاندې به یې هغوی ته بد رد هم ویل... ډاکټر ته به ور تلل، خو خوښاوه یې نه... ښځه ډاکټره یې خوښوله، خو په ښځو باندې یې د عصري علومو خبرې ته خوله هم نه ور وړله او دا چاره یې ناوړه او ناروا بلله. د خپلې خبرې د پخلي لپاره د نوموړي روسي لیکوال له کتاب "د مېرنې اولس ادبیات" څخه د پښتنو د دوو ملي سترو مبارزینو مشرانو خبرې را اخلو، چې د عصري علومو په اړه یې د خپل وخت د پښتني ټولنې ذهنیت او چاپېریال پکښې انځور کړی دی. روسی لیکوال ګ، ف ګېرس د ستر مبارز مشر **باچا خان** له ویناوو څخه د هغه وخت چاپېریال داسې څرګندوي:

"په دې باره کې د سلم قرن د پښتنو د ملي آزادۍ د حرکت ستر مشر خان عبدالغفار خان داسې یادونه کړې ده:

(داسې یو سخت وخت وو، چې زما اولس په تیاره کې شپې سبا کولې، زموږ په سیمه کې کوم مکتب نه وو او که چېرې په کوم ځای کې به مکتب جوړ شو، د ملایانو له خوا به ورسره قاطع برخورد کېده، دوی به خلکو ته ویل، چې په دغو مکتبونو کې سبق ویل د کفر سره برابر دی.)"(۵)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د عصري علومو په لړ کې د نوموړي ستر مبارز مشر عبدالصمد خان (**خان شهید**) له ویناوو څخه د هغه وخت چاپېریال را څرګندوي او داسي لیکي:

"د خان عبدالغفار خان همکار د بلوچستان د پښتنو د ملي مبارزو مشر خان عبدالصمد خان اچګزي یو وخت داسي ویلي وو: (په هغو کلونو کې معارف یو هدف لاره، چې هغه د حکومت لپاره د پرسونل تیارول وو.)"(۶)

د داسي ذهنیت روزنه او پالنه د داسي بې مانا خلکو لاسونو ته لوېدلې وه، چې د ژوند په مانا هیڅ نه پوهېدل او نه یې ژوند ته څه ارزښت ورکاوه، په دې نه پوهېدل، چې د ژوند په چارو یوازي دا نه چې ژوند وداني؛ بلکې آخرت هم په جوړېږي، خو دوی به یوازي د مرګ په اړه خبرې کولې او له هر نوي شي سره به یې تر خپله وسه پورې ناندرۍ روانې کړې وې او نه به یې خوښول، مانا له بایسکل څخه یې واخله؛ تر ریډیو/ کېمرې/ ټېلي فون/ لاوډسپیکر او نور... چې له هر نوي شي سره تر څه مودې پورې د دوی له خوا ناندرۍ تر سره شوي دي او بیا یې په دې ایله خپل کړي دي، چې بې دا شیانو هم نه کېږي. داسي نو له ژوندہ سره د مینې پر بنسټ د انساني وجود د کسرت/ روغتیا او پیاوړتیا لپاره لوبي در واخله، چې د لهو لعب په تېره توره به بې د خلکو زړه ځنې توراوه او هیڅ به یې نه خوښولې، زما (آزاد) خپله د توپ یافټ بال لوبه یاده ده، چې چا به هم توپ یاګِن په پښو واهه، نو دا به یې له مذهب سره و تاړه او ویل به یې، چې په پښو د توپ وهل د کوم صحابي په سر د لوبو کولو مانا لري، چې کفارو به یې سر په پښو یوه او بل لوري ته واهه، خو څه موده وروسته به بیا د هري مدرسې په څنګ کې د توپ وهنې ډګر وو او دوی به پخپله هم دا لوبه کوله او داسي نور..

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې تر ناندریو وروسته به یې پخپله هم و خپلولو ته زړه ښه کړ، خو له اولس څخه یې د پوښتنې توان دومره تروړلی وو، چې بیا به هم د دوی په مخکې چاد پوښتنې ذهن او زړه ځکه نه درلودی، چې هسې نه د دوی سپکاوی و شي او په داسې کولو موآخرت خراب نه شي.

د ټولنیز ذهنیت په داسې چاپېریال کې له مذهبي استازو څخه پوښتنه کول، د مزاحمت او مقاومت زړه لرل ځان د مزرې خولې ته اچول وو، خو هغه د چا خبره "چې خدای له چا کار اخلي، نو دومره وس او زړه هم ورکړي" خوشحال بابا هم د ناوړو او ژوندنیو ستومانیو په وړاندې هر وخت د مزاحمت او مقاومت ستاینه کړې وه او ویلي یې دي، چې د ژوندانه سره مینه په کار ده، ښایي؛ په هر وخت کې تر سره شي، ځکه خو وایي:

که اسمان دي د مزرې په خوله کې ورکا
د مزرې په خوله کې مه پرېږده همت (۷)

د **خان شهید** کورنۍ هم د نورو پښتنو غوندې له مذهب او مذهبي لوست سره خپله مینه لرله او له ماشومتوب مانا څلور / پنځه کلنۍ څخه یې د کور او په کور کې په اوسپدونکو کوشنیانو زدکړې تر سره کولې، خو د عصري علومو ذهن او زړه یې هم درلود، لکه پورته چې یې یادونه شوې ده، کورنۍ یې دوی هم د زدکړو لپاره په ماجت کې د ملا په مخ کې کښېنستلو ته و ګومارل، خو په زدکړو کې یې له نورو هلکوانو سره د توپیر خبره **خان شهید** پخپله هم لیکلې ده، چې:

"په لوستو کې مونوی کار دا وو، چې نورو هلکوانو به د سپارې (سپاره په اولس کې بغدادي قاعده ته ویل کېږي، چې په جومات کې د لوست په پیل کې ویل کېږي او بیا نو قرآن پاک ورته ویل کېږي) پس د خدای کتاب په تورو لوست، خو موږ ته یې هغه نه لولاوه، پلار مې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ویل، چې څه په جوړه نه ده، چې نور لوست وکړي؛ سپین کلام به یې خپله زده سي. پارسي کتابونه (پنج کتاب) دوی مو په تورو ویل، ورو/ ورو مو لوست زیاتېدل، بیا یې خط (لیکل) هم را ښوو، ګلستان/ بوستان مي وویل، زلېخا مي په تورو وویله." (۸)

دلته به زموږ د اوسنی چاپېریال په اړه د یوې خبرې یادونه اړینه وي، چې اوس مو هم هر لس/ یووالس کلن زده کوونکی د ماجت او ښوونځي څخه زړه شینی او بېزاره وي، لاملونه به یې ډېر وي، خو زما په خیال څه لاملونه یې دا دي، چې زموږ هر کوشنی د مور په غېږ او کور کې له پښتو ژبې سره مخامخ وي او په ماجت کې له مذهبي ژبو عربي او پارسي سره/ وروسته په ښوونځي کې له اردو او انګریزي سره مخ شي، نو موږ پامولای شو، چې کله د لس/ یووالس کلن زده کوونکي ذهن له پنځو ژبو سره مخامخ شي؛ هغه نه شي کولای، چې د پنځو ژبو زده کول دي و زغمي، ځکه یې له زدکړو زړه شین او بېزاره شي او غواړي، چې د زدکړو پر ځای د ژوندانه نورو خواریو او کړاوونو ته ځان ورسوي، مانادا چې تر ذهني سترېا وَ اندامي سترېا ته زړه ښه کړي. د اقتصاد نه لرل، غربت، کورنی ملاتړ نه لرل، د اولس نه خوښول او داسي نورو لاملونو په څنګ کې د یاد وړ لوی لامل زما په خیال د ښوونکي/ استاد رویه او زیاتوب هم دی، چې هر زده کوونکی مو له زدکړو څخه زړه شینی وي، د **خان شهید** د ژوند لیک په باور به دلته یوازي د دینې ښوونکي یو انځور وړاندي کړو، نوموړی لیکي:

"له بده مرغه مي پلار یو سړی پیدا کړی، ملا عبدالرحمن نومېده، چې ډېر ښه خط یې وو او انځورګر (نقاش یا آرټسټ) هم وو، هغه وخت ښه خط ډېر ښه بلل کېده او ګوندي په دې ګمان چې موږ به ښه خط ترې زده کړو، دا سړی مي پلار په لس روپۍ د میاشتي، ځای.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ډوډۍ او جامو را لره استاد کړی. سړی ډېر خښمجن، بې زړه سویه او بدخویه انسان وو، موږ واړه وو، پلار مو ناوزګاره وو او ملا مو ډېر ناترسه وو، خوشي او بې ښې به یې ډېر زیات وهلو/ ټکولو، سوک (مکا) څپېړه خو پرېږده؛ غټي لښتي یې راوړې او د ځناورو شانته به یې ټکولو، خښم یې په واک نه وو، چي یو وار به یې وهل پیل کړل، نو د ځناورو په شان به یې ټکولو، خښم به یې وار په وار زیاتېده، تر دې چي یوه ورځ یې زه په وهلو بې هوښه کړم، چي چیرته یې زده کړي وو؟ د وهلو/ تنګولو او ازارولو ناروا او ناپېښه چلونه یې زده وو او پر موږ به یې کاته (تجربه کول).." (۹)

د پردیو په لمسون او ګوډاګیتوب په شعوري او غیر شعوري توګه د زدکړو د مخنیوي په لړ کي د پورته یادو شوو خبرو د باور او پخلي لپاره به د **خان شهید** ځیني نوري خبري هم را واخلو، چي:

"تر لوست وروسته به یې کتاب ته کښېنولو، سرونه به مو ټیټ کړل او دغه ځناور به په مغزي کي د خاوري چونډي (سوغ/ لږ خاوري) را واچوله، ویل به یې: زه ځم او چي بیرته راځم؛ تاسي به هم دا شان ناست یاست، که ښورېدلي واست او دا خاوره توی سوې او یا هم خوځېدلې وه، نو بیا زه پوهېږم.

یو بل چل وو، چي پَلکه به یې ورته ویله، د یوه پړ کی یا پونډۍ یا دواړي پښې به یې د دوو لرګو تر میان و تړلې او هغه لرګی به یې په پړي د خوني په چت پوري ځوړند کړی او د هلک دواړي پښې به جوختي بره سوې او دې ځناور به پر تَلو په غَنو واهه." (۱۰)

د دې او داسي نورو خبرو له راوړلو او پخلي څخه مرام دا دی چي په دومره ناوړه ټولنیز چاپېریال کي د ژوند لاري روڼولو هڅې ډېري ګراني وي او د کوم نابغه او نه ستړي کېدونکي ذهن کار وي، چي په خپل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پیاوړي ذهن د وجود په اندامونو کې د ګړندي مخابه (کوشش) لپاره تومنه را منځته کړای شي، کنې نو د داسې چارو په وړاندې د هر ډول عام ذهن غړی ووځي، چې مقاومت او مزاحمت دې وکړي.

د داسې کوم کورنۍ غړي / ملګرو او اړه لرونکي "چې بیا استاد هم وي" داسې چارې سړی په ذهني توګه ډېر ستړی کړي او له ډېرو اندېښنو سره یې مخامخ کړي، لکه یو وجود چې کله د توندې ناروغۍ کړاو پر ځان باندې نه شي وړلای او پای په ناوسې باندې مرګ ته غاړه کښېږدي، همداسې یو ذهن د دومره ځور په وړاندې د ناوسه کېدو له امله د مقاومت پر ځای د ژغور او خلاصون لاره خوښوي، د **خان شهید** ذهن هم داسې ځور بدلو (اذیت) له اندېښنو سره مخامخ کړی دی، آن چې دغه اندېښنو څه وخت د ځان کړی هم دی او له زدکړو څخه یې پام ورا ړولی دی، چې په دې اړه داسې لیکي:

"زما تنکي زړه دا ژوند نه سوزغملای، دا شان وم، چې د هر څه نه بېزاره ټوله روځ به ځانله ناست وم او دا چورت به مي واهه، چې دا لوست او زدکړه دي څه بلا؟ دا توري کرښې او د هغو لوستل که د سړي زده سي او که نه؛ نو څه په جوړه ده؟ کتاب به مي مخ ته پروت وو او زه به په دې چورت کې ورک وم، پای یې دا چې هیڅ به مي زده نه وو او بیا به ملا وو او بیا تکول... تر دې ملا وړاندې به مي د زلېخا دوه مخه پروخت لوستل، خو اوس به یوه مسرې یا نیم بیت پلار په ایزکې (پېزو) را سره وایه او نه به مي زده کېده." (۱۱)

په داسې چاپېریال کې چې له ملا / ښوونکي / استاد څخه لوستونکي د زدکړو او روزنې تر لاسه کولو پر ځای وویرېږي، نو دا هغه د فلسفې خبره جوتوي، چې د هېښتیا ځای دا نه دی چې کوشنیان په تیاره کې وویرېږي؛ بلکې د هېښتیا او اندېښنې وړ خبره داده، چې ویان له

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

روناګانو څخه وویږي. موږ ته خو استادان د روناګانو په نوم را پېژندل شوي دي، چې له روناګانو څخه څوک وویږي، نو رښتیا هم د اند ښښې وړ خبره ده، خو لویان هم له روناګانو ویږي، ځکه نن هم په ښوونځیو او پوهنځیو کې داسې ښوونکي شته، چې لوستونکي ته د پوښتنې ځوابولو پر ځای د خپلې ناپوهۍ پټولو لپاره هغوی په بې تهذیبه او بې شرمه تورن کړي، خو ځینې بیا چاد خپلو شومو غرضونو لپاره په دې ګومارلي وي، لکه مخکې چې مو یادونه وکړه، چې زموږ قام/ ټولنه له ډېره وخته د تالې څټو له خوا په ګوډاګیتوب او دسیسه اي توګه له عصري علومو څخه لېرې پاته کړل شوې ده، د پورته وړاندې شوي اند ښښې باوري کولو لپاره به دا خبره بسنه یا کفایت کوي، چې د همدې ملا (چا چې د دې درنې مبارزې کورنۍ و کوشنیانو ته زدکړې ورکولې) په اړه څه وخت وروسته **خان شهید** په لیدلو سره داسې لیکي:

"ملا عبدالرحمن تر اوسه لا ژوندی دی، زموږ د کوره د تلو پس لکه چې د انګرېزانو په مخبري اخته وو، په کال ۱۹۳۷ز کې زه په کوټه (ښار) کې د قامي کار لپاره اوسېدم، دی سپین ږیری سوی وو، ځای له راغی، مېلمه مي سو، ډېرې ورځې را سره اوسېده، خلکو به راته ویل، چې مخبرۍ له راغلی دی، خو مارَی (سوچ) نه پکښې واهه. کله کله یې اوس هم وینم، په مخبري لا لکه چې اخته دی." (۱۲)

تر دې وړاندې شوي نظر وروسته بیرته خپلې سکالو (موضوع) ته را ګرځو، د **خان شهید** د وړوکوالي په اړه فکر کوم، چې د وړوکوالي یا کوشنیوالي پر یادو شوو ستونزو سربېره به د روزنې او لوست په لاره کې **خان شهید** او د نومورې د کورنۍ غړو د نورو شا او خوا خلکو د کورنیو د کوشنیانو په پرتله نورې ستونزې او ربړې ځکه نه وې لیدلې،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چي ژوند یې د نورو په پرتله سوکاله او اقتصاد یې هم تر نورو ښه وو او بله خبره دا چي کورنۍ یې هم له ډېره وخته د خپلو کوشنیانو په روزنه او زدکړو کي د نورو شا او خوا خلکو په پرتله ښه ذهن او زړه درلودی، ولي د سیمي نورو خلکو ملا/ ښوونکي/ استاد ته د خپلو کوشنیانو د زدکړو لپاره د وهلو ترټلو پخپله هم ویل او په دې لړ کي به یې پوره زړورتیا او واک ورکړی وو، دوی به هم د شیخ سعدي خبره په وار وار تر غوږو ور تېروله، چي: جورِ استاد بہ ز مہرِ پدر

خو د **خان شهید** کورنۍ داسي نه وه. هغه ځکه چي په کورنۍ او ماجت کي د ملا عبدالرحمن تر زور ظلم ښکاره کېدلو وروسته دغه باب د تل لپاره بند کړل شو او د زدکړو لاره ورته پرانستل شوه.

هغه داسي چي تر ملا عبدالرحمن وروسته د **خان شهید** پلار په ډېر پام او ژورلید سره ښه لوستی ملا و موند، چي ملا شېر محمد نومېدی او د وَړو یا کوشنیانو په روزنه ښه پوهېدی، د وهلو پر ځای به یې په ناز، ستایلو او باټو (خامخوا ستاینه) کوشنیانو ته زدکړي ورکولې، چي **خان شهید** او د کورنیو نورو کوشنیانو پر دې ملا باندي تر ډېره وخته پوري سبق و وایه او پخپله **خان شهید** په اووه کلنه موده کي د فقهي، احادیثو او تفاسیرو په څنګ کي د پارسي او عربي دودیزه کتابونه ټول و ویل، **خان شهید** د خپل دغه استاد په اړه داسي لیکي:

"ملا شېرمحمد ساګزی ښه لوستی هم وو او د وَړو په روزنه ډېر ښه پوهېده، د وهلو پر ځای یې په ناز/ ستایلو او باټو راته لوست کول او بل یې دا خوی وو، چي په لوستو بې پوهولو، هغه دا شان چي تر لوستو د مخه به یې لکه د نن زمانې د پوهنځو (کالج) استادان یو لس منټه په پښتو د هغې روځي د لوست (سبق) مراد او ګراني خبري راته بیان کړلې، په پوه به یې کړلو." (۱۳)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پیاوړي ذهنونه / هوښیار وګړي / او ویښې ټولنې کولای شي، چې هره ستړې د ځان په ګټه واړوي، نو ویلای شو، چې د **خان شهید** په ذهن او اندامونو کې له مور او خوښدو سره په ورځنیو کارونو کې ګډون او په ځینو شپو کې له مور سره د لمانځنې لپاره پر ویښ پاتېدلو سربېره د ملا عبدالرحمن ځور او زیاتوب هم د ژوند د ستړیاوو زغملو تومنه پیاوړې کړه، چې بیا یې د قامي کار په لاره کې له هر ډول ستونزو او ستړیاوو څخه په ډک ژوند کې د نوموړې زړه ستومانه کېدا ته نه پرېښوو او زغم یې ور په برخه کړ.

د دې په څنګ کې یې پلار نې ناز "که څه هم د ژوندانه په بېخې پیلیزو کلونو کې په برخه وو" او کورنۍ بنه اقتصاد / بدنې او ذهنې استراحت داسې څه وو، چې د نوموړي زدکړو او پرمختګ ته یې لار هواره ساتلې وه، نور یې نو له کوره د وتلو او له کلیوالو هلکوانو سره د راشه درشه او ساتېرې لار ځکه نه درلوده، چې یو خو په زدکړو بوخت وو او بل د کورنۍ مېلمانه ډېر وو، چې مېلمستون ته به یې د مېلمنو لپاره څه ناڅه راوړل او مېلمه پالنه یو ډول د ویاړ وړ دود باله کېده، چې د پښتنو په ختې اخښلی او تر اوسه پورې هم داسې بلل کېږي، بل دا چې د پلار د ناز په بدل کې له هغه سره یو ډول ګومک او د پلار مشرتوب یې کورنۍ ځانګړتیا (امتیاز) هم ګڼل کېدله، خو بیا به یې هم په وخت موندلو د کور په څنګ کې خپل بڼ (باغ) ته تګ راتګ کاوه، چې د دوی د ساتېرې او ذهن غوړېدلو لامل به هم شو، پر دې ټولو چارو سربېره یې "نه کوره نه وتل" د کورنۍ هڅه او د روزنیزې تګلارې برخه هم وه.

پوهنیزه وړتیا لرونکي او په ځانګړي ډول اقتصاد پوهان پوهېږي، چې خوار ځواکی اقتصاد په ټولنیز ژوند کې یو شمېر ستړې ستومانۍ را

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

منځته کوي، خو مذهبي ټولنو هر کله په دې لړ کي یو سرسري نظر لرلی او د ژورلید خوی نه لري، دا ځکه چي هغوی په ژوند کي د هر ډول ستونزو او ستومانیو لامل هغه ناوړه خویونه پاموي، چي خلک یې له مذهبي تګلاري څخه په بېلاریتوب تر سره کوي او د همدې ستونزو له منځه تلل او هوارول هم د مذهبي تګلاري په ښه توګه تر سره کولو کي پټ/ پوښلی او پنهان بولي.

په خوار ځواکي اقتصاد او داسي مذهبي چاپېریال لرونکې ټولنه کي که څه هم هر څوک تر خپله وسه د درملني هڅي تر سره کوي، خو ذهن او زړه یې روغتیا د خپل رب پېرزوینه او ناروغي یې سرکوبي پاموي.

د **خان شهید** د هلکوالي په زمانه کي ټولو پښتنو و انګرېزي دوایانو او درملني ته لاسرسی نه درلود او نه یې هم خوښاوه، چي لامل یې ناوسي او لاسرسی نه لرل وو، خو چا چي به څه نا څه وس درلود؛ هغوی به یوناني درملنه خوښوله، چي په اړه یې په پښتني ټولنه کي دا خبره باوري وه، چي له غرنیو بوټو څخه جوړېږي او کوم زیان نه لري، خو د انګریزي درملني په اړه ځیني خبري د شومو مرامونو او هدفونو لپاره خورې وې، چي په دې شراب او داسي نور مواد ګډ وي، کوم چي په مذهب کي ناروا او وړ نه دي.

خو ناوسه او بې وزله خلکو "چي د درملني وَ انګرېزي او یوناني لارو ته به یې لاسرسی نه درلود" هغوی به د درملني لپاره د ملا او پیر د دم او تاویز لاره ښه بلله، خو اوس دغه بدلون بېخي څرګند شوی دی او لویه برخه خلک د انګرېزي دوایانو درملنه ځکه خوښوي، چي لاسرسی ورته لري، خو لږ برخه خلک اوس هم شته، چي زوړ پالی (رجعت پسند) ذهن او لاسرسی نه لري او د یوناني درملني په څنګ کي یې د ملا او پیر د دم او تاویز لاره هم پاللې ده.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د **خان شهید** کورنۍ که څه هم اقتصاد درلود او د انګرېزي درملنې لاره یې هم په پام کې وه، خو د یوناني درملنې لاره یې خوښه کړې وه او د کندهار له وخته څخه یې کورنۍ درمانۍ (طبیب) تولارام وو، چې وروسته یې د هغه زوی ګوپالداس هم له کوټې څخه د دوی د کورنۍ درمانۍ په توګه درملنه تر سره کوله او د کورنیو غړو د روغتیا پالنې په لړ کې به یې په ټول کال کې دوې درې درملنې د جوشاندې/ جولاب او نورو داروګانو په ورکولو تر سره کولې، خو پر دې سربېره په ټوله سیمه کې د وینو کنبلو چاره هم دوده وه، چې بنځو به په کورونو کې د وینو کنبلو چارې تر سره کولې او دغه چاره ته به یې د بنکر لګول وایه. **خان شهید** د خپل درمانې په اړه وایي:

"پلار او ټولې کورنۍ مو د یوناني درمانیانو "اطبا" درمان مانه، د کوټې حکیم ګوپالداس وو او د هغه پلار تولارام د کندهار د شپو څخه زمور د کورنۍ درمانیان وو. تولارام زما نه دی په یاد، خو ګوپالداس مې لیدلی وو، سپینه غټه ږیره یې وه، ښه لوستی د پارسي او تازي ملا وو، د پلار سره به مې یې د خدای پر کتاب او د امام غزالي پر لا ښه پوهه (فلاسفي) څېړنې کولې." (۱۴)

د **خان شهید** روغتیا یا روغواله له کوشنیوالي څخه ښه وه، لکه مخ کې چې یادونه وشوه، تر مشر ورور هم پاری (ګټنور/ بریالی) او هم پیاوړی وو. د ژوند تر پیلیزه لسیزه وروسته یې پلار له عبدالقادر لالا سره د ځینو مېلو او کورنیو ناستو ته د تګ لاره پرانسته، چې په دې وخت کې یې کلیوالي لوبې لکه بډې (بِجَلي) بېتي (مړدکي) خلیځی (کچَه) هېنډه/ خوسی او ځیني نوري لوبې و لیدلې، بل دا چې د خپل کورنۍ مېلمستون په مانښامنیو ناستو کې "چې کله کله به د نکل یا بودې (کیسې) اورولو لپاره کوم ځانګړی څوک را و غوښتل شو او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خپلوان به یې پر راتول شول، نکلچي به د وخت دود نکلونه او کیسې کولې، چې په هغوی کې به کله د ټولنیز ژوند پوره انځور (تصویر) نغښتی وو او کله به بیا د خیالي دنیا کیسې وې او د ناستو یا کیسو/ نکلونو د اورېدلو دغه لړۍ به د خپلوانو تر کورونو پورې هم غځېدله، چې په خپلوانو کې به کوم بل چا نکلچي را غوښتی وو او د ساتېرې په دې ناسته یا غونډه کې به یې په پېرزوینه سره نژدې خپلوان را او غوښتل او پر دې سربېره د کیسو بودو دغه دود د کورنیو ښځو تر منځ هم کله کله تر سره کېدی، چې په کیسو/ بودو یا نکلونو کې به یې د ښځینه زړه ږغ هم را سربېره کېدی او په همدې توګه **خان شهید** ورو/ ورو د خپلې ټولنې د ژوند کړۍ وړۍ هم په ښه توګه و لیدل او اورېدل... د دغه کیسو د اغېز په اړه **خان شهید** لیکي:

"دا شان غونډې به زیاتره په ژمي د چا خان یا بل ژوندي سړي پر ځای کېدلې، ډېر خلک به ورته راتله او د کور خاوند به چای او چیلم ور رساوه. دا بودې به زیاتره د پښتنو هغه قامي بودې وې، چې د کابل پښتو ټولنې په "ملي هینداره" کې چاپ کړي دي، خو چې زما یاد دي، د دغو نکلچیانو (قصه ګو) ژبه د کتاب تر دې ډېره خوږه او سوچه پښتو وه. دا شان غونډې به د ښځو هم کېدلې، دومره برید به یې درلود، چې زیاتره به نرو او ښځو ژړل او چا به بې واکه د نکل کارینده (کردار) له د ځایه سره سمې درهاوې او ښراوې کولې." (۱۵)

په ژوند کې کله کله داسې پېښې هم راشي، چې ژوند ببخي پر بل مخ واړوي او داسې پېښې زیاتره د هغو کورنیو پر ژوند او غړو باندې ناوړه اغېزې کوي، چې د ژوند لپاره کوم ذهن او زړه نه لري، مانا دا چې هغه د پښتنو په کړنه یا اصطلاح "د پیل په غوږ کې بیده وي" یا داسې کورنۍ چې اقتصادي خوار او په وطن کې ریښې لکه خپله مځکه/

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خپلوان او داسي نور څه وَنه لري، خو د ژوندانه پر ذهن او زړه لرونکو کورنیو باندي دومره ژور اغېز نه لري، چې په ګړنیزه توګه "واش او واني يې خطا شي" ماناغړی يې ووځي او د ژوندانه لوری ځنې ورک شي، کله کله خو د ځینو شخصیتونو/ کردارونو وجودي مرګ کورنۍ/ توکم/ قبیله آن چې قام له خواری سره مخامخ کړي.

د **خان شهید** په کورنۍ کې هم د نومورې دارزمن (ارزښت او درناوی لرونکی) پلار (نور محمد خان) مرګ داسي پېښه وه، چې له دوی څخه يې د ژوند لاري د ورکېدا لامل ځکه ګرځېدلای شوه "چې **خان شهید** او مشر ورور يې نژدې لس او دیارلس کلن وو او په داسي ټولنه کې د دومره لږ عمر لرونکو وس او توان دومره نه وي، چې هغه تګلوری دي و ساتلای شي" خو د باباد مرګ له کبله يې په ژوندانه کې پر څه خندِ او ځنډ را منځته کېدلو سربېره هم مور او ماما داسي مخور مخکښان وو، چې د ټولې کورنۍ لپاره يې د نښه ژوند او رانه سباوون ذهن او زړه درلودی او د نومورې خان تر مړینه وروسته يې د ټولې کورنۍ د روزنې او پالنې چاره په ډېره نښه توګه تر سره کړای شوه.

خان شهید د خپل پلار د مړینې پېښه داسي یادوي:

"ژوند نښه په مزه روان وو، چې پلار مې په کال ۱۹۱۸ز کې "چې د ورپ لومړی لوی جنګ پر تمامېدو وو" د پېچ په رنځ ناجوړه سو. هر څه درمان چې کېدای سو؛ ویې کړ، ګوپالداس یوناني درمانی د کوټې او یو کرسچن ډاکټر له چمن څخه راغله، خو رنځ نښه نه سو او شل ورځې پس هغوی خپل خدای ته ورسېده." (۱۶)

د **خان شهید** و ټول ژوند ته په ژور لید سره جوتېږي، چې د نومورې ځانله پوهنیزه وړتیا (منفرد قابلیت) په برخه وه او نابغه څوک وو، چې د هرې ژوندنۍ سترې او ستونزې په وړاندې به يې څرک او ځیرک

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ذهن د نووا و رنو لارو د پرانستنې او هوارولو لپاره د لام تړلو هڅاند خوی درلود او د یتیم کېدا پر مهال که څه هم هغه ته د ټولنیز غبرګون احساس شوی وو، کوم چې له هر یتیم سره تر سره کېدی او ښوزله به ګنل کېدل، په هم دې نیامت به یې له کورنۍ سره ژړلي هم وي او د ژوړي خواشینۍ څرګندونه به یې هم کړې وي، چې داسې پلار غوندې شخصیت یې له لاسه ورکړی وو، د چا په مرګ چې پر کورنۍ سرپېره د سیمې د ټول اولس هم خوا بده وه او خلکو به ویل، چې په نژدې وختونو کې دومره لویه جنازه د چا نه ده شوې، مانا دا چې لوی شمېر اولس یې جنازې ته په راتګ سره د خپلې خواخوږۍ څرګندونه په ښه توګه وکړه، خو د **خان شهید** څرک او ځیرک ذهن د پلار په مړینه نومورې ته د وجدانې ډاډمنتیا لاره پرانسته او هغه ته یې له ښوزلو او یتیمانو سره د ملګرتیا تومنه ورکړه.

دا چې د پلار په نه شتون کې یې هم د کورنۍ له خوا د ژوند نیوارتیاوو، پوښاک، خوراک غم خوړل کېدی او د لوست لاره یې ورځ په ورځ نوره هم پرانستل کېده له، نو فکر یې د رانه سباوون د لارو چارو په لټون سر شو او ورځ په ورځ یې غوړېدا په برخه شوه، چې بنسټ یې د پلار په شتون کې اینبوول شوی وو، د پلارنۍ مینې تنده یې څرک ذهن د زدکړو او لوستلو په مینه سره خړوبه کړه او له لوست سره د مینې پیاوړتیا یې د ژوند لاره نوره هم ورته ویړه/ اسانه او غوړېدلې و ساتله.

د لوست په اړه داسې لیکي:

"چې زه څومره د لوست لېوالە کېدم؛ هومره لوست راته اسانه کېده، د جوړاون (ګرامر یا صرف او نحو) سېوا مې د تازي ټول د لوستو چلاند (مروج) کتابونه ولوستل، د کتاب د کتلو په چل او خوند پوه سوم او لوست مې دا شان سو، چې ځان له به مې کتاب کوت، چې چېرې به نه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سوم پوه، نو هغه ځای به مې د ملا شهر محمد ساګزي څخه و پوښته."(۱۷)

داسې ښکاري، چې د لوست په لړ کې يې ملا شهر محمد په زړه پوري تکيه وه، چې د پلار په نه شتون کې يې وجدان پرې د ډاډمنتيا اوبه ځنبلې او پوښتنه به يې ځنې کوله، د مورنۍ ژبې پښتو د زدکړې/ لوست او مينې د نيالګي زنې که يې څه هم د پښتو لوستي مور په غېږه کې اينبوول شوی وو، خو پالنه يې د پلار / استادانو او په ځانګړي ډول د ملا شهر محمد ساګزي په هڅه تر سره شوې وه، چې نوموړي استاد به د قامي ژوندون او ژبې په لړ کې هر وخت له خان کاکا (نور محمد خان) سره خبرې کولې، نو **خان شهید** به هم ورسره وو، که څه هم کوشنی وو، خو پر انساني ذهن باندې د هرې خبرې اغېز جوت دی، لکه بې لوسته چې هر کوشنی د مورنۍ ژبې زدکړه يوازې د اورښدلو او کتنې له لارې تر سره کوي.

په کورنۍ کې د قامي ژوند او زدکړو په ځانګړي ډول د پښتو ژبې د لوست او زدکړو په اړه دا رڼتيا او ورتيا خبرو او په دې لړ کې پر لوړه کچه د کوم پښتو عالم او ژبپوه ستاينې ښې اغېزې و لرلې او د پښتو ژبې د زدکړو لاره يې ډېره و غوړوله، د ښوونکي له خوا د کتابونو په راوړلو سره د لوستونکي غوښتنه پوره کول... له زدکړو او خپلې ژبې سره د دواړو بې کچه او بېساري مينه جوتوي او پر دې سربېره د لوستونکي ذهن لپاره د خپلې ژبې او ادب لاره پرانيزي او د باور په تر لاسه کولو سره په دې پايله او نتيجه رسي، چې د پښتون قام لوی شمېر ستونزي په عصري زدکړو او د خپلې ژبې په علمي کولو او سيالولو سره هوارېدلای شي، ځکه ليکي، چې:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"اوس خو د ژوند مراد هم پښتو ده او باور لرم، چې که پښتانه نور هیڅ هم ونه کړي، خالي پښتو خپله کړي او خپل ټول سرکاري او ځانې کارونه په پښتو کوي، پښتو ولي/ لیکي او پښتو وایي، نو به د دوی په سل کې که نور نه وي؛ آتیا برخې کار وسي، هم به یې خپله وروري خوږه سي او هم به د نورو خلکو د هیلې او جنجاله و خبرې او دهغو سره به یې وروري پخه سي." (۱۸)

پایله (نتیجه) دا چې دا د **خان شهید** د وړوکوالي/ د کورنۍ د روزنیز او تولنیز چاپېریال زمان او مکان وو، چې د نومورې د ژوند لیک په رڼا کې تاسو ته وړاندې کړل شو او هم دا هغه بنسټ او اډانه وه، چې د دومره ستر کردار لپاره یې وخت د ستړو ستومانیو/ کړاوونو/ ځوروونو په څنګ کې د مور او پلار او خپلوانو د مینې خواږه ور لورولي وو او هم یې د پلار په مرګ د یتیم کېدا په څېړه وهلی وو.

مانادا چې د مور د غېږې پر مینه ناک ښوونځي سربېره په خپل ماجت او کور کې له یوه او دوو ملایانو څخه د ځور تر لیدلو وروسته له نورو پوهانو ملایانو څخه دیني زدکړې/ له مېلمنو سره راشه درشه/ د بابا روزنیزه تګلاره/ د بودو یا کیسې او نکلونه اورېدلو په څنګ کې د بابا له خوا د ځانه سره جوخت ساتلو/ د نومورې د غوښتنو پوره کولو او زړه ساتلو لپاره ځینې پلارنۍ ژمنې، د پارسي او تازي ژبو په څنګ کې د عصري علومو لپاره د کورنۍ له خوا د کوټې ښار ته د لېږلو او ځینو نورو کورنیو کارونو په لړ کې سفرونو او نورو داسې چارو د **خان شهید** په روزلو سره د هغه پر زړه او ذهن باندې د نومورې تر سره شوي قامي کردار ته لاره رونه کړه او داسې د دې قامي کردار بنسټ و رغېدی.

د غندلې او د هغوی د سمونچارو لپاره یې هڅې تر سره کړې، چې نن

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یې هم په ټولنه کې خلک له څرګندونې او اظهار څخه کنبښخېږي، پر دې سربېره یې د خلکو له زړونو څخه د بې ځایه وهمونو، کرکو، کړنو او انګېرنو د ایستلو ذهن و غوړاوه، د پیرانو د کوډو، ټوټکو، ټګیو او د هغوی د ایجنټانو له دروهنو او درواغو څخه یې د خلکو د ژغورلو هڅې تر سره کړې، خلک یې کار، کروندې، لوست او زدکړو ته را وبلل، د اولس د زړونو پر دښته یې د هېوادنۍ مینې او پت نیالګي کنبښوول او و یې روزل، آن چې په خپله وینه یې خړوب هم کړل، د ودانۍ او پرمختګ لپاره یې د ټول پښتون / افغان یووالی او ملتیا اړینه و پامولە او په همدې لړ کې یې د پښتون اولس څخه د مرستې، ملاتړ او ملتیا غوښتلو لپاره هر درو ټکاوه او د وطن و هره ناوه، غږونو، شپلو او دَرو ته یې د خپل زړه د ډاغ درزا او انګازې و رسولې، هغه ګروهه (عقیده) درلوده، چې د ژوندنې نظام له بدلون سره د خلکو نفسیات، اخلاقیات یا سړیتوب هم ځکه بدلون مومي، چې د چاپېریال له بدلون سره سم یې وګړي هم بدلون مومي.

د همداسې اووښتون / بدلون یا تحول لپاره د **خان شهید** کردار ته دنیاد منلو سر ښوروي او اوسنیو خلکو ته په ویاړ باور ورکوي، چې د وطن، قام او ټولنیزو ارمانونو د پوره کولو لپاره د ټول ژوند پر سترو ستومانیو او کړاوونو سربېره تر ځان تېرېدل په کار دي، لکه **خان شهید** چې د خپل قام او وطن د ودانۍ او سیالۍ لپاره او په خپله پښتنې ټولنه کې د ځان ځانۍ د فکر له منځه وړلو او د ټولنیز فکر خورولو لپاره سپېڅلی کردار و درلود او په همدې لاره کې یې ځان و بلهاره.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سرچینې:

۱: روهي؛ محمد صدیق څېړندوی. ادبي څېړنې، خپرونکې؛ دانش خپرندویه ټولنه، چاپ کال ۲۰۰۷ز ۱۳۸۶ل ۳۹۴ مخ

۲: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون دویم ټوک، خپرونکې؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز ۳۶۹/۳۷۰ مخونه

۳: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړی ټوک، خپرونکې؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز ۱۰۵/ ۱۰۶ مخونه

۴: همدغه اثر ۱۰۹/ ۱۱۰ مخونه)

۵: ګیرس، ګ، ف، د مېرنې اولس ادبیات، ژباړن؛ معتمد شینواری، خپرونکی؛ د قومونو او قبایلو وزارت/ د نشراتو او تبلیغاتو ریاست، چاپکال ۱۳۶۴ل ۱۹۸۵ز ۴۱ مخ

۶: پورتنی اثر ۴۱ مخ

۷: خټک؛ خوشحال خان، ارمغان خوشحال، خپرونکې؛ یونیورسټي بک ایجنسي پښور. چاپکال ۲۰۰۱ز مخ ۵۶

۸: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړی ټوک، خپرونکې؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز ۱۱۱مخ

۹: همدغه اثر ۱۱۰/ ۱۱۱مخونه

۱۰: همدغه اثر ۱۱۱مخ

۱۱: پورتنی اثر ۱۱۲ مخ

۱۲: پورتنی یاد شوی اثر ۱۱۴مخ

۱۳: پورته یاد شوی اثر ۱۱۴ مخ

۱۴: پورتنی یاد شوی اثر ۱۱۶ مخ

۱۵: پورتنی یاد شوی اثر ۱۱۷/ ۱۱۸ مخونه

۱۶: پورتنی یاد شوی اثر مخ ۱۲۳

۱۷: پورتنی یاد شوی اثر مخ ۱۲۴

۱۸: پورتنی یاد شوی اثر مخ ۱۲۷

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خان شهید زدکړې

قلم گفتا کہ من شاہِ جہانم
قلم کش زاب تخت می رسانم (۱)

د ستر مبارز **خان شهید** (عبدالصمد خان) تر کورنۍ پېژندنه او د هغه د وړوکوالي تر چاپېریال وړاندي کولو وروسته به په زړه پوري وي، چې د نوموړي د زدکړو په اړه هم څه نه څه وړاندي کړل شي. څرګنده دي وي، چې په پورتنیو لیکنو کي هم د نوموړي د کورنیو او دیني زدکړو په اړه دومره څه ویل شوي دي، چې لوستونکي یې له یادونو څخه د زدکړو په اړه پوره اټکل کولای شي، خو دلته به یې پر دیني او کورنیو زدکړو سربېره د دودیزو عصري زدکړو په اړه لږ په غوړېدلي ډول خبره وشي، چې لوستونکي یې د زدکړو او ځیرکتیا په اړه پوره خبر سي **خان شهید** لس/ یوولس او ورور عبدالسلام خان یې دیارلس کلن وو، چې پلار (نورمحمد خان) یې دوَر پېښې ناروغۍ له کبله و مړ.

په پښتني ټولنه کي داسي ناڅاپي پېښه کورنۍ ژوند له هر ډول خندِ او خندِ سره مخامخ کولای شي. د نوموړي په ژوند کي که څه هم د پلار د مړینې له کبله څه خندِ او خندِ را منځته شوی وو، خو د **خان شهید** او کورنیو کوشنیانو د زدکړو او روزنې لاره یوازي دا نه چې هم هغسي و ساتل شوه؛ بلکې نوره هم وغوړېدله او په دې لړ کي نوموړی تر کورنیو (له پلار او مورِه څخه لوست او نوري ژوندنۍ زدکړي) او دیني زدکړو (چې په لوست یې په تازي (عربي) پارسي او پښتو کي بڼه وارد وو) وروسته دیارلس کلن وو، چې له مشر ورور (عبدالسلام خان) سره د ګلستان و میانځي (مډل) ښوونځي ته د عصري علومو د زدکړو لپاره و لېږل شو او د ښوونځي استادانو تر آزموینه وروسته د خپلې پوهنیزې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ورتیا پر بنسټ په لومړي وار په دریم ټولګي کې کښېناوه او د زدکړو په نه ډول تر سره کولو لپاره یې یو ښوونکی پر کور باندې هم د کورنۍ له خوا ورته ونیول یا وتاکل شو، چې ښوونه یې ورته کوله.

خان شهید لیکي، چې په هغه وخت کې څلورم ټولګی (جماعت) د لومړي ښوونځي (پرایمري سکول) وروستی کال او تر هغه وروسته به هلکان میانځي (مډل) ښوونځي له تلل، چې په ټول ولات (صوبه) کې یوه ښله ازموینه تر سره کېدله او په ازموینو کې به د لومړي، دویم او دریم نومره راغلو هلکانو ته د څلورو کلونو لپاره اړه (وظیفه) ورکول کېدله، نو زه هم دې ازموینې ته د لېږل سوم او د ټول ولات په شپېتو هلکانو کې د اوو ورځو په تر سره کېدونکې ازموینه (امتحان) کې لومړی نومره شوم، چې د دې ویاړ په درناوي مې په خپل ښوونځي کې غونډه تر سره شوه او په خوشحالۍ کې یې ټولو لوستونکو ته یوه ورځ ارخصتي (چهټي) هم ورکړه. نومورې د خپلو زدکړو په لړ کې وایي:

"زه چې ښوونځي له تلم، که څه هم د تازي او پارسي پوره رسېدلی پوه وم، خو د نړۍ د ژوند په یوه خوا هم نه رسېدم، د کورنۍ، کور او لوستو د بندښتونو له مخې خپل په شا او خوا ناخبره او نابلده وم، چې ښوونځي ته ولاړم، هم به مې سهار تر ښوونځي وړاندې او بیا د ښوونځي څه (څخه) د راتګه پس تازي کیتابونه لوست. د ښوونځي لوست دومره راته اسانه وو، چې چپ د یوه واره چې مشر ورور مې تر ما څه نمبرونه زیات اخستي وو او ماته یې دومره زور راکړی، چې دوې روځې مې ژړل، بیا په هیڅ ازموینه کې نه چا تر ما زیات نمبرونه واخستل او نه مې کله په سل کې تر نیوي کم نمبرونه په هیڅ شي کې واخستل..." (۲)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په پښتني چاپېریال کې مود زدکړو په اړه مخکې هم یادونه کړې وه، چې دلته له زدکړو څخه کوشنیان سر ټکوي او هر لس/ یوولس کلن هلک (که عصري علوم وي او که دیني) له زدکړو څخه بېزاره او زړه شینی وي، دا ځکه چې ښوونیزي لاري چاري یې کومه ټاکلې او تر تجرباتو وتلې کړنلاره نه لري، هر چا (ښوونکي) پر خپل سر خوښه کړې او رغولې لاره پلي کړې ده، د پوښتني څوک نشته، بل دا چې د زدکړو ته د یوه کوشني د اېلتابه او مایل کولو لپاره د مینې پر ځای د جبر/ زیاتوب او وهلو لاره غوره بلل کېږي، آن چې ښوونکي/ استاد ته د کورنیو له خوا هم د کوشني د وهلو او ترټلو اجازه ورکول کېږي، مانا دا چې کوم چوکاټ او معیار نه دی ورته ټاکل شوی، بل دا چې د عصري زدکړو په ضد که څه هم یو ډول پټ مذهبي نفسیات شته، خو شاته یې د شومو هدفونو لپاره زوروره سیاسي او تجارتي مفکوره هم کار کوي، مانا دا چې اوس هم دلته خلک په ډاګیزه توګه د عصري زدکړو په ملاتړ نه درېږي، خو چې وس یې و رسېږي؛ مخ نه ځنې اړوي. ملا دی که ګدا دی؛ تر خپله وسه پوري په خپل کوشني باندې تر ښوونځي، لېسې، پوهنځي آن تر پوهنتونه پوري زدکړي کوي او د **خان شهید** د زدکړو وخت خو پوره پېړۍ (سل کاله) مخکې وو، چې په هغه وخت کې پښتون اولس عصري زدکړي کړټ نه خوښولې او درناوی خو یې د لېونې خوب وو. دا خبره دي هم څرګنده وي، چې له عصري علومو څخه د پښتنو د لېرې ساتلو کړنلاره یوه پلي شوې او شعوري کړنلاره وه، چې رینبې یې د کالونیل ازم په ځپو کې مورد فرنګیانو په هڅو کې لیدلای شو، کوم چا چې د نولسمې زېردیزي پېړۍ په نیمایي کې که یوې خوا ته دلته د زدکړو لپاره اداري جوړې کړې، لکه په پېښور کې اېډورډ کالج، په بنو کې او داسې نورې تعلیمي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اداري، خو ورسره يې په پښتني ټولنه کې په شعوري توګه د ځينو لاسپوڅو ګوډاګيانو په خوله دا پروپاګند هم خور کړی، چې دلته عېسويان مبلغين ګومارل شوي دي او د عيسويت تبليغ کېږي، چې مسلمانان عېسويان کړای شي او هغوی (فرنګيانو) د خپلې خورې کړل شوي خبري د ربنتيا جوتولو لپاره ځينې داسې چاري ځکه هم ترسره کړلې، چې د خلکو وَزړه ته ولوېږي او د هغوی (انګرېزانو) د ملتيا کوونکو کورنيو په چپه (سېوا) نور پښتانه بې سيواده او ناپوهه پاته شي. نو ځکه يې له عصري علومو څخه د پښتنو لاره ډب کړه او په ټولنيزه توګه د همدې خورې شوي پروپېګنډې له اغېز څخه د ځان ژغورلو له پښتنو څخه نژدې يوه نيمه پېړۍ وخت و خور، چې په ټولنه کې يې د شلمې زېږديزې پېړۍ تر پايه پورې هم اغېزې تر سترګو کېدلې او خلکو به عصري علومو ته زړه نه ښه کاوه، آن چې په پاکيزه توګه يې عصري زدکړې بېلارې بلله.

خان شهید هم د خپل وخت د زدکړو د کړنلارې په اړه خپله اند پښتنه وړاندې کړې ده، يو ځای ليکي، چې:

"ښه مې ياد دي، چې د پردۍ ژبې او نيمګړې ښوونې (ناقص تعليم) له مخه د پتونو (پېړو) په مراد په شپږم ټولګي کې پوه سوم او هغه هم د خودو ناست ناست په زړه کې را ولوېده، که په لومړي سر کې لا د پتونو په مراد چا پوه کړی وای، نو زما د زدکړې خواري به څومره اسانه سوې وای، که زمونږ ښوونه په مورنۍ ژبه وي، نو داسې ناخوالي او ګراني شاګردانو ته نه سي پېښېدلای." (۳)

دلته دا څرګنده شي، چې له عصري علومو يا د وخت له اړتياوو سره سمه پوهه تر لاسه کول که څه هم پښتنې ټولنې غوښتله او حق يې هم وو، چې د ټولنيزو اړتياوو پوره کوونکې پوهه تر لاسه کړي او د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مهالنی ناپوهی له پړاوه څخه د پرمختګ ګامونه واخلي "که څه هم د دوی خپلې ناندرۍ او ناپوهي هم ځای پکښې لري" خو د نورو لاملونو په څنګ کې یې سیاسي لاملونه، د بنګلاګکرو شومي هیلې او هدفونه هم له پامه نه شي ایستل کېدلای، چې پښتانه یې په ټولنیزه توګه له عصري علومو څخه لېرې و ساتلای شول.

د ټولنیز ذهنیت په داسي چاپېریال کې د مزاحمت او مقاومت نیالګي د خال خال ذهنونو او زړونو پر دښته را ټوکېږي، چې د ټولنیز بهیر په وړاندې د "ولي ویلو" توان و لري او د ټولنیز فکر په مقابل کې د یو شمېر ستونزو اوسټړو په ګاللو د اووښتون لار هم خپله اوتر سره کړي.

د **خان شهید** د کردار او شخصیت په لړ کې مور پامولای شو، چې د ټولنیز ژوند له کړۍ وړۍ څخه د زدکړو تر لاسه کول، له کومې ویناوو د کتاب له لوسته څخه زدکړه او اخذ کول او د هغوی د وړتیاوو په خپلولو له ناوړو څخه ځان ژغورل او یا هم ادر (عبرت) په کول د ځینو څرک او ځیرک ذهنونو چاره وي، مور داسي هم ویلای شو، چې "څرک او ځیرک وګړي وي او که قامونه" هر ډول ستړې د ځان په ګټه تماموي، ولي چې وړتیاوي خپلوي او له ناوړو څخه په ادر کولو له هغوی څخه د ځان ژغورنې لاري چاري لټوي، نو د زدکړو له لارې د ټولنیز چوپړ او خدمت لپاره خپل ذهن او زړه ته د لارې پرانستلو و شا ته هم څرک او ځیرک ذهن یا پرمختګ خوښوونکي غوښتنې وي او یا په اصطلاح ښه ماغزه وي، چې د شخصیت په جوړولو کې لاس لري، نو د خپلو زدکړو په لړ کې د **خان شهید** له لیک څخه مور داسي یو شمېر خبرې وړاندې کولای او جوتولای شو، چې د دې ستر شخصیت او کردار و شا ته که یو خواد چاپېریال غوښتنې او اغېزې وې، نو بلې خوا ته یې څرک او ځیرک ماغزه او کورنی روزنیزه تومنه وه، چې د دومره ستر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شخصیت په جوړولو کې یې له یو بل سره ملتیا او ملګرتیا کړې ده، **خان شهید** د لوست، وینا او تولنیز ژوند له کړۀ وړۀ څخه د زدکړې او اخذ کولو بې شمېره خبرې وړاندې کېدلای شي، خو دلته یې د لوست پر مهال یوه نمونه وړاندې کوو، چې له یوې وړې وینا څخه د نوموړي ذهن دومره په زړه پورې پایله تر لاسه کړې وه، چې د نوموړي پر ټوله ژوند او کردار باندې یې اغېزې لرلې وې او په ژوند کې یې د یاد شخصیت په قول او فعل کې د توپیر او تضاد مخه نیولې وه، لیکي:

"په یوه آزموینه کې استاد د اووم ټولګي له کیتابه لیک «املا» راته و وایه، چې یو ځای پکښې دا شان وو. "نامی سپیکر ہونے کے لئے نیک چلن ہونا ایسا ہی ضروری ہے، جیسا آئینہ کے لئے صفائی" مانا د اوخار مشریا ویان جوړېدو لپاره پاک ژوند هم دا شاني په کار دی، لکه د اینداري لپاره پاکي یا رونا." پر مخ د دغه مراد څه نوري خبرې وې، چې بد سړی که څه وینا کوي، نو خلک و یو بل ته ستر ګي وهي، چې وګوره! وایي څه؟ او کوي څه؟ زما باور دی، که دا دوه شیان "یوه د ښاغلي پوه علامه اېغبال (اقبال) د ورو درها (دعا) وه"

لب پہ آتی ہے دعا بن کے تمنا میری
زندگی شمع کی صورت ہو خدایا میری

نن مې خولې له ده راغلې د وړوکي د زړه څخه خدایه داسې ژوندون راکې لکه وي چې شمع بله زما مخې له نه وای راغلي، زه هر څه چې وای؛ خو دا به نه وای، چې اوس یم." (۴)

په دې لړ کې به یوه بله نمونه هم وړاندې کړو، چې د شخصیت او ژوندنې کردار رغولو لپاره بنسټ رغوونکي چارې دي او په لوست یې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اټکل کېدلای شي، چې د ستر او تلپاتي کردار لپاره څومره سپېځلتیا/ سوچه توب او رښتینوالە په کار دە؟ مور کولای شو، چې د مخورو مخکښانو په ژوند لیک او یا هم له هغوی سره په ژوند کې د پاتېدلو پر مهال داسې ډېر څه وویلو او د خپل ژوند لپاره یې د لارې مشال کړو، **خان شهید** لیکي:

"ما هغه وخت هم لکه چې د خپل دیني بنوونې له مخې د بول (وعده) پوره کول دیني پور «فرض» او د سړیتوب نخښه بلله او اوس یې هم ګڼم. زما په پام که د نړۍ څخه یاد سړي له ژوندە څخه د بول «وعدې» پوره کول ووځي، نو نه خو د نړۍ ژوند چلېدای سي او نه د سړي ژوند د سړي پاتېږي، د ځیناور به وي. بول ما تل یوازي د بل سړي سره نه ګابه، د ځان سره/ د خدای پاک سره بول هم ما بول ګڼلی دی او هم یې ګڼم، چې په ژوند کې مې یو وار یو کار نیولی یا مې یوه لاره خوښه کړې ده، بیا مې ډېره کمه پرې ایښې یا بدله کړې ده، چې له هغه وخته چې خپله یې په تاوان پوه سوی یم او یا بل په پوه کړی یم، که نور نه وي، د چا د بېړي، د چا د شرمه، د چا د هیلې او یا د ځان د اسانۍ لپاره خو مې ګرد سره نه ده بدله کړې..." (۵)

د **خان شهید** په شخصیت او تلپاتي کردار جوړونه کې مو له بنسټیزې پیلامې څخه دا دوې نمونې د مشت نمونه خروار په نیامت څکه وړاندې کړې، چې د نن او سبا لوستونکي پرې و پوهېږي او د خپلې وجدانې ډاډمنتیا او تسکین لپاره د مخکښو کردارونو کړوړه څپل او د ژوند د لارې مشال و ګرځوي.

پر وړاندې شوو نمونو سربېره هم د **خان شهید** د پیلیزو یا لومړنیو زدکړو پر مهال د خپلو کړل شوو خویونو ځینې داسې سرچینې وړاندې کېدلای شي، چې په رونا کې یې د نوموړي ژوند ته لاره

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ځلولې او اسانه کړې ده، مانا داسې خویونه چې په خپل زمان او مکان کې یې د کلتوري ارزښت په تاله سره د سړیتوب ویاړ او درناوی په برخه وو، لکه لوز/ قول، بول پالل، د ښوونکو/ استادانو درناوی ساتل، له مهالنیو ناوړو خویونو او بېځایه ناستو پاستو څخه ځان ژغورل او داسې نور خویونه چې **خان شهید** په هلکوالي کې خپل کړي او پاللي وو او له بېځایه چارو څخه یې ځان ژغورلی ساتلی وو.

د خویونو خپلولو په اړه مې ځینې خبرې، نمونې او شواهد ځکه د نوموړي له ژوند لیک څخه را واخستل، چې اغېزې یې پر ټول ژوند باندې جوتېږي، که څه هم ځینې خویونه په ژوند کې اجمالي یا سرېږنه بڼه و لري او له منځه ووځي، خو ځینو خویونو و شاته پرې ژوري ریښې او روایي اغېزې وي، کېدلای شي؛ په سباکې یې کوم څېړونکی پر خپل وار ټوپوهنیزه (نفسیاتي) څېړنه هم تر سره کړای شي، خو ځینو ویړو (پراخو) او وړتیالرونکو خویونو یادونه یې ځکه اړینه (ضروري) ده، چې پر ټول ژوند یې د اغېزمنتیا خبره موږ وړاندې هم وکړه، لکه د بول (قول/ وعدې) پاللو په اړه چې **خان شهید** یادونه کړې ده، خو پر ټول ژوند باندې یې له خورو اغېزو څخه یوه نمونه وړاندې کوو، چې عام چاپېریال، کورنۍ روزنې، لوست، رسنیو او د مذهبي چاپېریال اغېزو یې د نوموړي ژوند و اولسي چوپړ ته ځانګړې کړې دی او پیاوړې ذهن او زړه یې ور په برخه کړې دی، مانا دا چې ځینې اړتیاوې، شومې هیلې (تحریصات) او لمسونې هم نه دي توانېدلې، چې له خپله هوډه څخه یې واړولای شي، نوموړي له ځانه سره کړې بول (قول/ وعده) د ژوند تر پایه پورې پاللی دی، چې نورو اجمالي خبرو ته یې هم باور او پخلی ور په برخه کوي، لکه د سرکاري نوکرۍ نه کول "چې **خان شهید** یې په خپل کشر تابه کې له ځانه سره د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بول یا وعدې یادونه کړې ده" او موږ وینو، چې نومورې د ژوند تر پایه خپل بول او قول پاللی دی او هیڅ اړتیا، شومي هیلي او جبر له خپلې لارې نه دی اړولی، نومورې په دې لړ کې لیکي، چې:

"په دغه وخت کې مې بل د ځان سره دا دی وکړی، چې د انګرېز سرکار نوکري به نه کوم، هغه داسې چې لا په دریم ټولګي کې وم، چې مشر ورور به مې د ډیلي (دهلي) څخه د مولانا محمد علي (اخبار/ همدرد) را غوښت او ما به لوست. دغه وخت خلافت او د انګرېزانو سره ماته (عدم تعاون) په زور کې وه، هغوی به هم په دې باندې زیات لیکل او دا نوکري به یې ناروا ګڼله... څه د همدرد پازه (سبب/ وجه) څه زما د خپلې کورنۍ انګرېز دښمني او دینداري، نو ما هغه وخت دا تر زړه و کښله، چې نوکري به نه کوم." (۶)

کله چې **خان شهید** د خپل قام/ قامي تشخص او اولسي حقوقو په ملاتړ د رهبري او همدې ټاکلي مرام ته د رسېدلو لپاره د اولسي ملتیا تر لاسه کولو لپاره سیاسي هلي ځلي پیلوي، نو د واکمنانو او لاسبرو خلکو و ګټو ته د تاوان رسېدلو اندېښنې را منځته کېږي او هغوی یې په بېلا بېلو لارو د مخنیوي هڅې پیلوي، چې نوري لارې چارې یې په درد وَنه خوري او نهیلي شي، نو د یو شمېر شومو هیلو په لومه کې یې د را وستلو هڅې پیلوي، چې پای له ناکامۍ سره مخامخېږي او وروسته بیا د جبر او زندانونو لاره خپلوي، د شومو هیلو او حرص ورکولو په اړه **خان شهید** لیکي:

"په روستو ژوند کې بیا په دې لار کې د ډېر ازمویښتونه را باندې راغله او د ډېر ځله لمسي (ترغیبات) او ځلي (تحریصات) را وړاندې سو، ولې هغه وخت خو تر نن لا هم زیات په نوکري کې مزې وې او هم پیسې.. بلې خوا ته چې خلک به په وړو وړو نوکرو پسې ګرځېده، منښتونه/

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زاری او خوشامندي به يې کولې، په ما پسې پخپله غټې غټې نوکرۍ ګرځېدې، تر دې چې ماته په کال ۱۹۳۶/۳۷ کې "چې کرنل پارسنز "د ګورنر جنرل ایجنټ" او کېپټن" اوس کرنل" شاد کوټې پولېټیکل وو، دغه کرنل شا په ډېر زور و ویل، چې میا نصیر دین د چمن اې اې سي لېرې کوو، ته ولاړ سه، د هغه پر ځای او خپل د قام اخګر زو خسمانه کوه، خو د خدای په مهرباني زما پښې و نه ښویېدلې او تر پایه مې خپل بول وساته." (۷)

پورته وړاندې کړل شوې خبرې او د خویونو ځینې نمونې که څه هم د رسمي زدکړو په لړ کې څه بل ډول برېښي، خو بیا هم له پیلیزو/ بنسټیزو زدکړو سره تړاو لرونکې ځکه دي، چې په ټولنه کې د هر وګړي ذهن او زړه ورسره مخامخېږي او دلته ځکه وړاندې کړل شوې، چې لوستونکي و دې ارخ ته هم ځیر شي او په ژورلید سره و پاموي، چې له هرې پېښې او چارې سره چې څوک مخامخېږي، د چا ذهن څه رنګه اخیسته (اخذ) ځنې کوي او څوک څه رنګه زدکړه (ادر/ عبرت) ځنې کولای شي؟ مانا دا چې ځینې خلک دومره ژوره ځیرکتیا او د ژوندانه ذهن او زړه لرونکي وي، چې هر ډول سټرې او ستومانۍ د ځان په ګټه اړوي او چاته رسېدلې ګټه هم په تاوان واړي. **خان شهید** د کورنیو او ماحت د ډینې زدکړو په ملاتړ د عصري زدکړو څلور ټولګي په یو کال او درې میاشتې کې پای ته ورسول او تر هغه وروسته یې تر اتم ټولګي پورې زدکړې په (ورنېکولر مډل سکول) کې په درې کلونو کې تر سره کړې دي، چې لومړي دوه ټولګي پنځم او شپږم یې په کال کال ویلي دي، هغه هم د ښوونکو/ استادانو مولوي فضل دین/ مولوي برکت علي/ سید میر محمد شاه او داسي نورو په وینا او یا څه داسي د زدکړو په لاره کې د تاکلو بندیزونو له کبله وو، خو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اووم/ اتم یې په یوه کال لوستي دي، ماناد دې دواړو ټولګو آزموینه یې په یوه کال ورکړې ده او په ښه ډول پکښې بریالی شوی دی.

د **خان شهید** په ژوند لیک کې پر یو شمېر ژورو پوهنیزو او علمي خبرو سربېره ځینې داسې خبرې هم لوستونکي و فکر کولو ته اړ کړي، چې په هغوی کې د زدکړو له وخت څخه تر مشرتابه پورې تجربه او پیغام را ټغښتی وي، لکه د اتم ټولګي د زدکړو او آزموینې په لړ کې چې پخپله نومورې داسې څرګندوي:

"دا شان ما د اووم او اتم ټولګي نه په یو کال ځان اوزګار کړی، آزموینه مو د کوټې په سرکاري ښوونځي کې وه او په دغه شپو کې د پنجاب د پوهنتون (یونیورسټي) د لسم آزموینه هم کېدله، نو ځای تنګ وو، ځکه یې مور پر یوه یوه ډیسک باندې دوه دوه کښېنولو، خو د بېلو بېلو ښوونځو.. زما د ډیسک مل ښاغلی قاضي محمد موسی وو، که څه هم تر دې د مخه ما او ده نه سره پېژاندو، خو دلته مو سره و پېژانده، زما او د ده دغه اشنایي د ده تر مرګه وله، که څه هم په وروسته ژوند کې زمور سیاسي لاري ځله بېلې وې، خو اشنایي مو تر پایه وه." (۸)

پورته مې د لوستونکي لپاره د ژورلید یادونه ځکه کړې وه، چې په ژوند لیک کې د داسې خبرو لوست و مور ته د نن او پرون د پرتلیز جاج اخستلو لپاره ډېر څه را په ګوته کوي، له دې پورتنۍ خبرې څخه مور پاموړ شو، چې ځاني ملګرتیا او سیاسي ملګرتیا دوې بېلا بېلې لاري دي او کېدلای شي، چې په ځاني ملګرتیا ساتلو کې د یوه او بل د دریځ/ موقف په اوږدلو سره دواړه د یوې منلې لاري ملتیا وکړي، خو نن مور وینو، چې په هره ناسته کې به د دوو ملګرو وکړو/ ډلو تر منځ د سیاسي وړاندو/ نظرونو اختلاف یا بېلتون په ځاني مرورتیا او اختلاف اوړي او بیا د یوه او بل د دریځ/ موقف د اوږدلو لاره و تړل شي، چې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

داسې رویې زموږ د ناپوهۍ/ تېپ ولاړ ذهنیت څرګندویه وي، نه د غوړېدلي او پوهنیزي وړتیالرونکي ذهنیت... مانادا چې زموږ وراشې یامباحث دسکالو (موضوع) د سپیناوي پر ځای د یوه او بل د ملامتولو لپاره وي او یا هم د ناستو خلکو په مخکې د یوه او بل د ځان عالِم ښکاره کولو لپاره وي، چې زموږ د ځان خوښوونکي (نرګسي) ناروغه ذهنیت څرګندویه دي، نه د پوهنیزي وړتیا او علم لرونکي ذهنیت...

لوستونکي به هم وایي، چې د لیکنې سرلیک (عنوان) د **خان شهید** زدکړې دي او له زدکړو څخه خو مراد هرو مرو یادینې زدکړې وي او یاهم عصري زدکړې... خو تر همدې سرلیک لاندې زما خیال او ذهن له چاپېریال څخه د نوموړي د زدکړو/ روزنې او له هغه څخه د ښه ذهن په توان اخستنو یا زدکړو ته هم ور واووښت او له ځانه سره مې ری (فکر) و واهه، چې دغه شان اخستنې او زدکړې هم په دې لړ کې راځي، ځکه مې پورتنۍ خبرې په همدې فکر وړاندې کړې او خیال مې دی، چې په وګړنیز کردار رغونه کې پوره لاس لرونکي دي، خو بیا هم که چا ته څه څنګلېره وایسېږي، نو تر دې پورتنې جسارت او زیاتوب دي د تېرېدلو (درګذر) غوښتنه ځنې کوم.

د ګلستان میانځنی (مډل) ښوونځی په دې سیمه کې د انګرېزي راج له تاریخي نخښو څخه یوه نخښه وه، چې د ښېګړې او سمون له هم دې مدنې او پرمختګیزې لارې (ښوونځیو جوړولو) څخه یې غوښتل؛ په اولس کې ځان ځای او په څه پېرزوینو/ لورېنو د هغوی د نوې زېرې (ځوان نسل) وړتیا په کار واچوي، ځکه یې د لوست او کوښنیانو ته په لومړي سر کې په دې شرط "چې تر میانځنې ښوونځي یا به اخستې ټولې پیسې بیرته د انګرېز سرکار ته ورکوي" لوست او د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

میاشتي لس روپۍ يې ورکولې، پر دې سربېره به يې کوشنيانو ته پر وخت نيم پاو وچه مېوه خورما يا کشمش هم ورکول او دا هم چې د پښتني ټولنې مذهبي نفسيات يې هم ښه پوره لوستي وو او د دې نفسياتو د قرار او تسکين لپاره به يې د ماجت په ملا باندې د ښوونځي تر لوست وروسته د کوشنيانو ته سيپاره (دا چې قرآن د هرش پارې يا برخې دی، نو په دغه پاره کې به د عربي ژبې د زدکړې د قاعدې په څنګ کې د قرآن پاک د هرشمه پاره هم وه، نو ځکه يې سې پاره مانا د هرشمه پاره بلله) او قرآن مجيد (چې **خان شهيد** ورته سپين پارکی وايي) ورته وايه کېدی، نو به د لهړي لهړي سيمو هلکوان ورته راتلل. د انګرېز د دې شاتنيو هيله مند و نفسياتو په څنګ کې د هغوی د آله کارو يا اهلکارو استادانو (چې د هر يې پنجابيان وو) هم دا هڅه وه، چې په لوست تر سره کولو سره دا خلک تر مور مخته نه شي او په سباکې به د سرکار د نوکريو او ملازمتونو ځای را باندې و دروي، نو نه يې غوښتل، چې زدکړې په ښه توګه ورکړي او د انګرېزي په لړ کې خو يې دا پروپاګند هم خور کړی وو، چې دا پښتانه پر مذهب ټينګ ولاړ خلک انګرېزان او انګرېزي نه خوښوي، نو ځکه يې په ګلستان او نورو کليوالو سيمو کې "چې چېرې هم ښوونځي وو" زياتره يې تش اردو ښوونې لرلې، چې د پنجابيانو ښوونکو يا استادانو له ژبې سره ورته (SAME) ژبه او هغوی ته اسانه وه، خو پښتنو هلکوانو به کور ته مورنۍ ژبه پښتو، په ماجت کې عربي او پارسي، په مکتب کې اردو او انګرېزي ژبې لوستې، نو د هر لوستونکي کوشني ذهن به دومره وېشل شوی او تقسيم شو، چې نه به يې کومه ژبه ښه زده شوه او نه به يې زدکړې په ښه توګه تر سره کړای شوې او پر دې سربېره به د ښوونکو رويه هم د خپلوی پر ځای د خپلو شومو هدفونو او مرامونو ساتونکې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وه، چې پای به د لوستونکي ذهن د کرب او اذیت سره په مخامخ بدلو له لوسته څخه ببزاره او شنډ پاته شو، ځکه خو دا ټولنیز ځور او اذیت د پښتون شاعر لپاره د زغم وړ نه وو او د پښتانه قام او فکر په استازیتوب سره اروانباد سیف الرحمن سلیم دې ویلو ته اړ شو، چې:

د جمات استاذ عرب دی په مکتب کې ډیلي وال دی
یو استاذ راله پیدا کړی خو پښتون را له پیدا کړی (۹)

خان شهید د زدکړو په ارزښت پوه وو او په دې لړ کې یې د مورنۍ ژبې په لوست او ارزښت پوره او کره باور درلودی، ځکه یې د سیاست په پیلامه او ځوانې کې هم د دې سیمې په لومړۍ ملي غونډه ۱۹۳۳ز کې "چې د نوموړي په مشري تر سره شوې وه" په مورنۍ ژبه د زدکړو قرارداد منل شوی وو، چې لومړنۍ زدکړې دې و زده کوونکو ته په مورنۍ ژبه ورکول شي. په دې لړ کې اروانباد عبدالرحیم مندوخېل "د **خان شهید** د ژوند فرهنګي او سیاسي اړخونه" تر سرلیک لاندې په لیکل شوې مقاله کې د **خان شهید** حواله راوړي او داسې لیکي:

"زه د بلوچستان په پښتنو کې پیدا شوی او لوی شوی یم او دا قدرتي خبره ده، چې زما په سیاسي ژوند او مقاصدو کې د دوی ضروریات او مسایل پېش پېش دي، ما په سر کې دا محسوسه کړه، چې د هغوی د عقب ماندګۍ او زموږ د بې بسۍ تر ټولو لویه وجه د زدکړې ناقصه طریقه ده، په دې چې دا د دوی په مورنۍ ژبه نه ورکول کېږي، د دې په نظر کې نیولو سره په ۱۹۳۳ز کې په جېکب اباد کې د بلوچستان کانفرنس پر موقع "چې د دې سیمې په تاریخ کې لومړۍ ملي غونډه ده" دا قرارداد منظور کړای شو، چې ابتدایي زدکړې دې د زده کوونکو په مورنۍ ژبه ورکول کېږي." (۱۰)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تر پنځم ټولګي پورې د انګرېزي ژبې د لوست نه ورکولو لاره تر اوسه پورې هم پالل کېږي او پوره یوه پېړۍ وروسته هم د انګرېزي ژبې زدکړې تر پنځم ټولګي وروسته په شپږم ټولګي کې پیلېږي، خو وَس او توان لرونکو کورنیو او د زدکړو په ارزښت خبر یا آګاه خلکو هغه وخت هم په خپلو هلکانو د انګرېزي لوست کاوه او د دې لپاره به یې خپل کوشنیان تر کوټې او نورو ځایونو پورې استول او اوس یې هم دا لاره پاللې ده، چې له همدې کبله او همدې ځایه څخه دلته په پښتنو کې د لوړې او ټیټې طبقې د توپیر نیالګي ریښې و نیولې، چې وروسته پیاوړي او اوس خو ښې برداره ونه (درخته) ترې جوړه شوې ده، که څه هم **خان شهید** یې د مخنیوي لپاره ډېرې منډې ترنډې کړې دي، خو ځینې خندونه وو، چې دغه چاره داسې پاته شوه، راشئ؛ د وړاندې شوي نظر باور د نوموړي **خان شهید** په ژوند لیک کې ګورو:

"مادځینو نورو خپلوانو په مرسته دا کوښښ پیل کړی، چې په لومړني ښوونځي (پرایمري سکول) کې هلکان زیات سي او ښوونځی بیرته سم میانځنی انګرېزي (مډل سکول) سي.

زه د ښوونې په واکوالانو پسې لګیاوم، چې ښوونځی بیرته انګرېزي میانځنی (مډل) کړي او تر هغو "چې کوم هلکان څلورم وویي" هغو ته اړه (وظیفه) ورکړي، چې په کوټه کې پر مخ لوست وکړي، کومو هلکانو ته "چې به سرکاري اړه نه سوه پیدا" هغو ته به ماځان له خرڅ ورکاوه، چې هلکان بېکاره نه سي او د هغوی په بېکاري نور خلک د لوستو زړبدي نه سي." (۱۱)

د **خان شهید** دغه په زړه پورې هڅه زموږ د باور لپاره بسنه او کفایت کوي، خو په لوست کې دغه طبقاتي روایت اوس هم پر ځای پاته دی، په ټول هېواد کې د زدکړو یوډول کړنلاره یا نصاب خو د لېونې خوب

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دی، چې د لوړې او وس لرونکي طبقې هلکوان او نجونې له پیله څخه په لوړ بیعه ښوونځیو کې د انګرېزي زدکړې تر سره کوي، بهرنیو ولایتونو او هېوادونو ته استول کېږي او ریاستي ملاتړ هم د دوی په برخه وي، خو د تېټې یا کښته طبقې هلکان په اردو یا سرکاري ښوونځیو کې لوست او زدکړې کوي، بل دا چې اوس خو بیا د تېکنالوژي دور دی، د کښته او ناوسه طبقې خلک چې مخکې یې په انګرېزي ښوونځیو وس نه رسېدی، د تېکنالوژي د زدکړو په اړه فکر هم نه شي کولای، ولې چې هغه هم د شتمنې یا لوړې طبقې د لاس مینځه ـ ه، ورځ په ورځ زدکړې ګرانېږي؛ بلکې د غریبانو او کښته طبقې له لوست څخه د لېرې ساتلو هڅې په شعوري ډول تر سره کېږي او عصري علوم ورځ په ورځ د اولس تر وس وځي، چې دغه لاره د ریاست او د هغه د لاسبرو پلویانو هم ورسره خوښه ده او پالي یې...

د زدکړو په لړ کې پر وړاندې کړل شوو ستونزو او پرانستو لارو چارو سربېره پخپله د پښتنو څه مذهبي تاند اړخ او ذهنیت هم د خنډ لامل وو، چې د ځایې ملایانو له خوا ملاتړ کېدی او له کبله یې خلکو د عصري علومو څخه ببزاره ذهن او زړه درلودی، خو د ځانګړې یادونې وړ یې غربت او معاشي ستونزي وې، چې د خپلو کوشنیانو لوست ته یې زړه نه ښه کاوه او نه یې دومره زغم درلود، چې کوشنی به یې لس/ دوولس کاله په لوست کې تېروي، بیا به د مور او پلار یا کورنۍ په ښه ورځې، خو تر لوست وروسته هم د روزګار باور نه هغه وخت وو، نه اوس شته، چې ریاست دې ورکړې وای او یا یې هم اوس ورکړي، ځکه د ریاست پر نوکریو او ملازمتونو باندې خو د لاسبرو خلکو حق او واک پر ځای پاته وو او اوس هم دی، هغه د شاعر خبره، چې:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دوی رونـــاد علـــم د دولـــت پـــه زولنـــو تـــړي
خلاصه به دا پېغله د شتمنو له حصاره کړو (۱۲)

په دې لړ کې د **خان شهید** ببخي د کشر منګ (کم عمر) هلي ځلي هم د یادونې وړ دي، لکه هلکوان زدکړو ته پارول، په شا او خوا خلکو او کلیو کې په دې اړه خبرتیا خورول او د عصري زدکړو تر لاسه کولو لپاره لاسوندونه او دلایل ویل، په ماجتانو کې د زدکړو په ملاتړ وَ خلکو ته د خبرو او وینا زړه کول، له بې وزلو، نادارو، غریبانو لوستونکو سره مرستې او کومک کول، آن چې خپله وظیفه (اړه) د استادانو په لاس ځکه وروښل، چې لوستونکي له خنګ (شرم/ احساسِ کمتري) سره مخامخ نه شي او داسې نوري یو شمېر چارې (چې څه ناڅه یې پورته هم یادونه وشوه) یوازې د دې لپاره "چې د سیمې هلکوان له زدکړو څخه زړبدي (بېزاره) نه شي" په څنګ کې خپلې زدکړې هم په ښه توګه تر سره کول، چې کردار یې د نن د لوستونکو سازمانونو لپاره ښه په زړه پورې لار ښود او مشال دی.

د عصري زدکړو په لړ کې د **خان شهید** د کشر منګ (کم عمر) هلي ځلي ځکه هم د یادونې وړ دي، چې په پورتنۍ وړاندې کړل شوې ټولنیز چاپېریال کې د داسې چارو تر سره کول د کوم پرمختګ خوښوونکي انقلابي زړه او نابغه ذهن لرونکي کار وي، چې د غوښتنو په رونا کې یې (چې ښوونځی دي بیرته انګړې میانځنی (مډل) شي او تر څلورم ټولګي وروسته دي و نادارو غریبانو لوستونکو هلکوانو ته وظیفه (اړه) ورکول شي) د همدې غوښتنو په رونا کې انګړې واکوال ښاغلي ویلسن یو وار لاندې میانځنی (لویر مډل) ورکړ او وروسته یې میانځنی ښوونځی... وروسته د ښوونځي لپاره پنځه اېکړه مځکه چې نیمه د **خان شهید** او ورور له خوا/ څلورمه برخه یې محمد اعظم جان

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او کورنۍ / نوره یې په زر کلداري، د یوه اپکړ له شمېره په بسپنه (له نورو خپلوانو څخه په چنده) ورته ځانګړې کړې وه او خیال یې درلودی، چې د نژدې شا او خوا شل زره ابادي لرونکي سیمې لپاره د هغه وخت منځنۍ بنار ګلستان ته (چې تحصیل / ډاک خانه / روغتون او تپلي فون یې درلودل) د واکمنو په مرسته او ملاتړ یو پوهنځی (کالج) هم راوړي، د پورتنیو خبرو د باوري کولو او پخلي لپاره د نومورې (**خان شهید**) له ژوند لیک څخه حواله را اخلو، هغه لیکي:

"د بنوونې له ځانګې سره ودانۍ نه وې، په پای کې یې نوې ودانۍ جوړه کړله، چې په پنځه اپکړه مځکه کې نیمه موټر ورونو وړیا ورکړله او خلرمه بناغلي محمد اعظم جان او د هغوی اکاګانو ورکړله او یوه خلرمه موټه زر روپۍ اپکړ ورلره واخستله، چې پیسې به زموږ خپلوانو په بسپن (چنده) ور تولې کړلې، څه وخت پس بیا زما وراره بناغلي محمد زمان خان کوښښ وکړی، بسپن یې وکړله او د اوچتو تولګو (هائي کلاسز) د کال خرڅ به یې ورکړی او هلکانو به نهم او لسم ورکوله، دا سرېښته هم څو کاله وه، چې بیا سرکار سم لسم (مېټرک) کړی او اوس دا شان چلېږي..." (۱۳)

خان شهید په اتلس کلنۍ ۲۵ـ ۱۹۲۴ز کلونو کې د اتم تولګي د لوست تر پوره کولو وروسته په پرله پسې یا رسمي توګه د لوست لاره پرېښوله، که څه هم په دې لړ کې نومورې د دې خبرې پخلی کوي، چې د کورنیو غړو، ورور او د بنوونځي د بنوونکو، استادانو، بنوونیزو چارواکو آن چې د تحصیل، ضلعې او ولایت (صوبې) تر واکوالانو پورې تولو په هره توګه مانا په دم، درم او قدم د خپل کومک / مرستو او ملاتړ باور ورکړی وو، خو **خان شهید** په رسمي ډول وزدکړو تر سره

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کولو ته زړه ښه نه کړی. لامل یې پخپله هم ښیي او موږ یې له وړاندې شوي لامل څخه په اولس کې خواره واره نفسیات هم پامولای شو، چې د شاتنیو ارتیاوو او نورو مجبوریو له کبله په چاپېریال کې زدکړې د شعور او پوهې د غوړېدلو لپاره نه تر سره کېدې؛ بلکې د معاشې ارتیاوو د پوره کولو لپاره وې، نوموړی لیکي:

"زه که څه هم هغه وخت د دوی ټولو د مهربانۍ او خواخوږۍ پاسوالہ وم او اوس هم یم، خو چې ما به له دوی نه تپوس وکړی، چې زه اته یا لس کاله نور انګرېزي لوست وکړم، نو ګټه به مې څه وي؟ نو هر یوه به راته ویل، چې ښه نوکري به پیدا کړې او لوی افیسر به سې او داسې نوري خبرې... انګریز نوکري خو ما پر ځان پخوا لا ناروا کړې وه، نو ځکه ما و نه منل..."(۱۴)

پای دا چې د اردو اتم ټولګي د آزموینې یادونه خو یې په تېرو شوو پانو کې شوې ده، خو وروسته یې په ۱۹۲۶ز کال کې د کاروباري چارو سره سره د اتم انګرېزي ټولګي آزموینه هم په ښه ډول تر سره کړه.

د زدکړو او په ځانګړې ډول په رسمي ډول د عصري علومو په لړ کې په کار دی؛ وویو، چې **خان شهید** که څه هم له ورور او کورنۍ سره د مرستو لپاره د خپلو باغونو پر څارنه سربېره د مېوې د تجارت کولو لاره پلې کړه او دغه د زدکړو یا تعلیمي لړۍ یې نوره و نه ساتلای شوه، خو وروسته یې د ځینو قامي ژبو پر زدکړه سربېره د عصري علومو لړۍ هم په ډېر کړاوجن چاپېریال کې په پرله پسې ډول و ساتلای شوه، په دې اړه نوموړی لیکوال سیال کاکړ داسې لیکي:

"وروسته دغه دردېدلي پښتون په داسې حال کې "چې د زندانونو په تورو کوټو کې را ګیر وو" خپلې تحصیلي سلسلې تې ادامه ورکه، په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

غیر رسمي ډول د فاضل پښتو، فاضل فارسي، مېټرک او ایف اې آزموینو ته کښېنوست او بریالیتوب یې په بر ه سو." (۱۵)

په پای کې غواړم، چې د **خان شهید** د هر اړخیزه پیلیزو زدکړو خبره د یوه نوموتي لیکوال د نظر په رونا کې لوستونکو ته وړاندې کړم او په دې لړ کې خپله خبره را ټوله کړم، استاد ابراهیم عطایي لیکي:

"**خان شهید** د ورځې کتوب او هلکتوب ورځې په دغسي ماحول کې تېرې کړې، چې هلته پر چاپېریال د حماسو زرینه کړۍ را تاو شوې وه، دې دیو ځیرک او دَراک شخصیت خاوند وو، د کلي پر سطح یې لوست پیل کړ، خو په خصوصي توګه یې مطالعات له عنعنوي او سکولاستیکي چوکاټ څخه را وایستل او د دغې پدیدې عامل هغه سفرونه وه، چې ده له کلي څخه د هغې ورځې د بریتانوي بلوچستان سیاسي مرکز کوټې ته کول او هلته یې په نوي رنګ کې د سیاسي فرهنګ فکر ځان ته اړاوه." (۱۶)

د همدې زدکړو پایله یا نتیجه وروسته موږ د نوموړي په ژوند لیک کې څرک کولای یا احساسولای شو، چې **خان شهید** ته د کورنۍ روزنیز چاپېریال، دیني او عصري زدکړو داسي هڅاند ذهن او زړه ور په برخه کړی دی، چې په مېړانه یې د ټولنې د هر ډول ناوړو خویونو وَ وړاندې کولو ته زړه ښه کاوه او پر هغه باندې یې له هر چا سره او د هر چا په مخ کې د خبرې کولو ذهن او زړه درلود، دا ځکه چې نوموړي ته پخپله پوهنیزه وړتیا سره څرګنده او جوته وه، چې د داسي ناوړو خویونو په اړه له خلکو سره وراشې یا مباحث تر سره کول د داسي ناوړو خویونو د مخنیوي لاره پرانیزي او پر داسي ناوړو خویونو باندې د ستر ګو پټولو خوی ښه چاره نه ده، ځکه د تاریخ په اوږدو کې جوته شوې ده، چې پرمختللو ټولنو په همدې خوی پرمختګ تر سره کړی دی او نن یې د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دنیا واک واګي په لاسونو کي دي، چي پر خپل وخت باندي یې له ستونزو سره د مخامخېدا او د هغوی د هوارولو ذهن او زړه لرلی دی، خو هغه ټولني "چي پر ناوړو خویونو او ستونزو باندي د سترګو پټولو خوی لري" کله هم له ستونزو څخه د ځان ژغورلو وس او توان نه شي لرلای... ځکه خو **خان شهید** د پښتني ټولني د هغو ناوړو خویونو یادونه کوله او په اولس کي به یې وراشې یا مباحث ورباندي تر سره کول، چي غم یې و خوړل شي او پخپل ژوند لیک کي یې هم د داسي ټولنیزو ناوړو چارو یادونه کړې ده، لکه د پښتنو بې ځایه باور او عقیدې چي هر څه یې په پیرانو پوري تړل او له هغوی څخه یې د هر ډول ودانۍ او چارو تر سره کولو ذهن او زړه درلودی، مانا دا چي ډېري ناوړي چاري به یې د هغوی په دعاګانو پرېمنځلي بللې او یا په حج کولو سره به یې ټولي تېري ګناوي بخښلي، مینځلي، پاکي او هېري بللې او یا به تش د څه اورادو او یا هم وظیفو په لوست او پر ځان باندي په چوف کولو سره ځان له هغو تر سره کړو ګناوو څخه پاک ګاڼه، چي پخپله به یې تر سره کړي وې، پیر او ملا او یا هم کوم ملنګ ته په څه ورکولو له کړو ګناوو څخه د ژغورون زړه لرل او دغه لاره پالل، هر ناوړه کار په شیطان پوري تړل او ځان بې ګناه بلل، د شپې د پېرانانو او بلاوو له وهمه نه وتل، له پیرانو سره د غیبانه قوتونو د ملتیا ذهن لرل، د رَوو او پېریانو په بڼه د زړه د غوښتنو پوره کولو لپاره د پېغلو ښځو او ځوانانو له خوا د بېلا بېلو ناکردو او ناشونو لارو هوارول او د ...نلو ذهن او زړه لرل، چي دا ټولي خبري پیرانو او کوډګرو د خپلو ګټو لپاره خورې کړي او دوی منلي وې، چي په اولس کي د ځان ټېواکه او ناوسه ...لو روحیه پیاوړې کوي، له کار کولو او زیار کښلو څخه یې زړونه نوروي او داسي فکر کوي، چي د ژوند ښېګړه او وداني خو هسي هم د ملا او پیر په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دعاګانو سره کېږي، نو خواري او کار په څه ښه دی؟ کرکې، کړنې، انګېرنې لکه په کور کې د وَنو (درختو) نه لګول، په ماځیګر کې جارو نه وهل او داسې نورې چارې... په همداسې ناوړو خویونو کې ښځو ته حقوق نه ورکول، هغوی ته د انسان په سترګه نه کتل، د ناوسه خلکو او خپلوانو ترټل، بچه بازي، تګې، کوډې او نورې ناوړې چارې چې نن یې هم خلک یادولو ته زړه نه ښه کوي او پر هغه باندې د سترګو پټولو خوی لري... کنې نو موږ ته پر خپله پوهه او عقل سربېره پښتنې کلتور، سړیتوب آن چې مذهب هم د ناوړو چارو د مخنیوي په لړ کې خپل چوکاټونه او پیمانې ټاکلي دي، نو په کار ده، چې پر هر ډول ناوړو چارو باندې د مخنیوي لپاره وراشې یا مباحث تر سره شي او په داسې ډول یې د هوارولو لاره پرانستل شي...

خان شهید غوښتل، چې د ښو ستاینه او د بدو غندنه وکړل شي، خو په دې لړ کې یې یوازې پر دې ستاینه او غندنه بسیا نه کوله؛ بلکې ښې چارې یې تر سره کولې او د بدو د مخنیوي لپاره لاس په کار وو او داسې هڅې یې تر سره کول غوښتې، چې مخنیوی یې تر سره شي.

په همدې لړ کې پر مختللیو ټولنو د نوي نژاد/ نسل د ښې روزنې لپاره په خپلو ښوونیزو لارو/ نصاب کې د وختنیو غوښتنو، ژوندنیو چارو، کلتوري سړیتوب او ټاکلیو نرخونو/ نورمونو د پېژندنې غم خوړلی دی او تر روزنه وروسته یې له نوي نژاد/ نسل څخه د ګیلې حق ځان ته ورکړی دی، چې موږ وربانديد سترګو پټولو خوی یا عادت لرو او یا یې هم د زور او جبر له لارې د مخنیوي ښځایه هڅې تر سره کوو.

پر یادو شوو خویونو سربېره په کار دی؛ د پښتنې ټولنې هغه اړخونه هم یاد شي، چې په ژورلید او څارنه سره یې د **خان شهید** ذهن او زړه له ځانه سره ساتلې وو او په دې لړ کې یې نوموړی اند ښښمن ساتلی وو،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لکه د دښمن له خوا د هغې کړنلاري پلي کول "چې ببل یې کړه؛ ابل یې کړه" او هغوی د پښتنو تر منځ د پښتونوالي د چوکاټ په ورانولو سره و تربګنیو، کرکو او بېځایه بَدیو ته په وده ورکولو پښتانه یو له بله ببل و ساتلای شول، د انګرېز له خوا په پښتنو کې د خپل ملاتړ لپاره د ځینو جرګو جوړول، د خپلې خوښې پلي کولو او ملاتړ لپاره و ځانې ګټو ته مایل او ذهن لرونکي د جرګې استازي تاکل او په هغوی باندې خپله چاره تر سره کول، د هغوی د ناوسیو او ورانیو له لارې د پښتونوالي چوکاټ ته زیان رسول او بې باوره کول... او بله خبره دا وه، چې د پښتنو اقتصادي لاري چاري یې په شعوري توګه شنډې او ماتې کړې، د انګرېز تر واک مخکې که سوداګري وه او که نوکري وې؛ ټولې د پښتنو په خپل لاس کې وې او تر خپله وسه پورې یې د هند/ چین او ایران سره د وچې مېوې او نورو توکیو سوداګري کوله، خو د دوی له راتګ سره که څه هم لاري جوړې شوې، ولې د دې ځای د خلکو لپاره د ودانۍ لاري بندې کړل شوې، ریل راغله، ډاک بینک منې آرډر راغلل، دفتري کارونه شول، د زدکړو بهیر پیل شو، خو د دې ځای د اولس په ژبه نه وو، مانا دا چې دوی ته لاره تړل شوې وه او دا کار په شعوري توګه و شو، ځکه پښتانه په اقتصادي توګه و وهل شول او د اړتیا پوره کولو لپاره مزدورۍ او د نورو ولاتونو تګ ته اړ کړل شول، چې ټوله دنیا په ډکه شوه او دلته پاته اړتیا لرونکو یا خو له دوی سره کار پیل کړ او یا یې لږ او ډېر کار کاوه، ځنګلونه یې و وهل شول، مخکې یې بې سرېښتې ځکه پاته شوې، چې دوی د انګرېز له خوا په دې لړ کې و جوړو کړل شوو ځانګو ته په هیله ناست وو، خپل کار او زیار هم پاته شو او هغوی یې هم غم و نه خوړ، ځکه یې مخکې بې اوبو او تېرې پاته شوې، نه کروندې وشوې او نه باغونه او نه هم پښتنو په دې اړه کومه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تجربه او لاس ته راوړني و لرلې... بل دا چي مالداري وه، چي د پښتنو دورځنيو اړتياوو هر څه يې ور پوره کول، هغه هم پر ورشوګانو، هاړ او پرګوړ باندي د تربګنيو بې غوري و خوړل او دوی يې اړ کړل، چي د خپلو اړتياوو پوره کولو لپاره نوکريو ته راشي او داسي د هغوی تر لاس لاندي او پلويان يې شي، چي ډېرو هم داسي وکړل... د سوداګري لاره يې په ژبه اخستلو بنده کړل شوه او له نورو سره د ځان پوهولو لپاره د ژبو او نورو زدکړو وسايل او سرينښته غوښتل، چي له دوی سره نه وو. دا ووا؛ د **خان شهید** د زدکړو په اړه د ښوونيزو اداروا و تولنيز چاپېريال چي د نوموړي ذهن يې په خپل زمان او مکان کي د خپل ستر تولنيز کردار اداکولو ته ست او و رغاوه.

خو دا څرګندونه هم په کار دی؛ وکړو، چي په پورتنۍ ليکنه کي مو په پښتي ځغلنده او سرسري توګه د **خان شهید** د لومړنيو يا پيليزو دينې، کورنيو، تولنيزو او عصري زدکړو پر او په پرله پسې ډول وړاندي کړی، چي د نوموړي هڅاند ذهن او زړه د پښتني تولنيز ژوند په تاريخ کي د يوه ستر سياسي کردار تر سره کولو لپاره تومنه ځنې اخستې وه او هم دا يې د پيليزو زدکړو هغه تمځای هم دی، چي له همدې ځايه ځخه يې ذهن او زړه د يوه وجود په وسيله او بڼه د سياسي لارو چارو کړی کړی بهير ساتلی دی او له ځانه سره يې بهيرونه او کاروانونه په ملتيا ساتلي دي. د زدکړو تر دې لومړي يا پيليز پړاو وروسته ځيني داسي کورنۍ او د قامي (سياسي) چارو اړتياوي هم وې، چي **خان شهید** يې په پرله پسې ډول له رسمي زدکړو تر سره کولو ځخه و ګرځاوه.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سرچینې:

۱: له خپل یادښت څخه
۲: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړی ټوک، خپروونکی؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز ۱۴۵/ ۱۴۶ مخونه
۳: همدغه اثر ۱۴۶/ ۱۴۷ مخونه
۴: پورته یاد شوی اثر ۱۵۱/۱۵۲ مخونه
۵: یاد شوی اثر ۱۵۳ مخ
۶: همدا یاد اثر ۱۵۶ مخ
۷: همدا یاد اثر ۱۵۶/ ۱۵۷ مخونه
۸: پورته یاد شوی اثر ۱۶۰ مخ
۹: سلیم؛ سیف الرحمن، دوړو وړو خدایانو دې بنده کړم، خپروونکی؛ پښتو نړیواله مرکه چاپکال ۲۰۱۷ز، مخ ۱۷۹
۱۰: مندوخېل؛ عبدالرحیم، د ننګ او فرهنګ اتل، خپروونکی؛ د افغانستان د سیمه ییزو او مطالعاتو مرکز، مشموله؛ د خان شهید سیاسي او فرهنګي ژوند، چاپکال ۱۳۷۸ل ۲۰۰۸ز، مخ ۵۱
۱۱: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړی ټوک، خپروونکی؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز ۱۷۱/ ۱۷۲ مخونه
۱۲: آزاد؛ محمد نعیم، پښتني انځور، خپروونکی؛ صحاف نشراتي موسسه کوټه، چاپکال ۲۰۰۱ز، مخ ۹۲
۱۳: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړی ټوک، خپروونکی؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز ۱۷۲/ ۱۷۳ مخونه
۱۴: پورتنی یاد اثر ۲۲۰/ ۲۲۱ مخونه
۱۵: کاکړ؛ پوهاند سیال، د کسې د لمنې پښتانه لیکوال، خپروونکی؛ بولان بک کارپوریشن کوټه، چاپکال ۱۹۸۳ز مخ ۳۴۷
۱۶: عطایي؛ محمد ابراهیم. د خان شهید یاد، خپروونکی؛ د سرحد ونو چارو وزارت. مشموله، د خان شهید لنډ ژوند لیک، چاپکال ۱۳۷۰ل، ۱۹۹۱ز ۲۳/ ۲۴ مخونه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهید (عبدالصمد خان) د خپل ژوند لیک په هینداره کي

«دویم څپرکی»

۱: د خان شهید د مقاومت / مزاحمت پیلامې (اسباب) ۱۱۰
۲: د خان شهید د سیاسي شخصیت چاپېریال
او د سیاسي پیلامو (اسبابو) څرکونه او احساسات ۱۱۷
۳: د خان شهید سیاسي / قامي مبارزه ۱۲۹
ا: د خان شهید د قامي مبارزې په شالید کي توده مبارزه ۱۳۱
ب: د خان شهید د قامي مبارزې په شالید کي مطبوعاتي مبارزه ۱۵۲
ج: د خان شهید قامي مبارزه د انګرېز زورواکۍ په دوره کي ۱۶۱
د: د خان شهید قامي مبارزه تر انګرېزانو په وروسته دوره کي ۲۴۲
۴: خان شهید د عدمِ تشدد پلوي وو ۳۰۷

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خان شهید د مقاومت / مزاحمت پیلامې (اسباب)

نه مي ځان کله خرڅ کړی دی پر خدای
په جنت نه په سره سپین پر چا بډای (۱)

خان شهید (عبدالصمد خان)

د هیلو او ژوند وګړي (سړي / افراد) پر هر ډګر باندي ژوندانه ته په ورین تندي او په زړه پوري ځواب وایي او د ژوندانه له هري ستړي ستومانۍ سره د مبارزې او مقاومت ګړندي نفسیات لرونکي وي. مانا دا چې په هر ډول چاپېریال کې د ژوند ستایونکي وي او همداسي نفسیات لرونکي وګړي په ژوندانه کې د بدلون (تحول) او پرمختګ ذهن او زړه لري او غواړي، چې د خپل زمان او مکان د جمود په ماتولو سره پرمختګ وکړای شي. همداسي وګړي د ټولنیز فکر څښتنان او د ژوندانه وګړي بلل کېږي، چې د علم او هنر غوندي د ځان او یا په ځان کې نه شي پاتېدلای، په ځان کې پاتېدل یا ځاني ګټې په خیال کې ساتل د هغوی لپاره د مرګ په مانا وي، ځکه هغوی د خپل وجدان د ډاډمنتیا / قرار او تسکین لپاره پخپله پوهنیزه وړتیا (قابلیت) سره د خپل زمان او مکان په ژورلید او څارنه د اولسونو په ارمانونو ځان خبروي او په را سربېره کولو سره یې د پوره کولو لاري چاري لټوي او پای د اولس په ملتیا تر لاسه کولو سره د خپلې ټاکلې کړنلاري په رونا کې د ټولنیز ژوندانه له غبرګي څخه د ځینو خنډونو، ناوړو او ذهني جمود په لېرې کولو د پرمختګ او بدلون مرام ته لاره وهي.

داسي مبارز وګړي د ژوند هغه بڼه او چاپېریال نه خوښوي، چې دوی پکښې اوسي؛ بلکې غواړي، چې د خپل رسا فکر او پوهې پر اساس

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

باندې د خپل زمان او مکان د تولنیز ژوند بڼه نوره وغوړوي، پرمختګ وکړي او د پرمختګیزو تولنو له ژوندہ څخه په تومنه اخستلو د هغوی لوري ته کوتلې ګامونه ور واخلي، نوي لاري/ نوي پنځونې (تخلیق/ ایجادات) او نورو نوو چارو ته د لاسرسي لپاره هلې ځلې کوي او هر هغه نوی پنځ/ اختراع یا ایجاد "چې د ژوند د پرمختګ لپاره په کار شي" خوښوي او ستاینه یې کوي.

څرګنده ده، چې د داسې مبارزو نفسیاتو لرونکو او پرمختګ خوښوونکو خلکو په مخ کې د تولنې هغه جمود خوښوونکې ډله "چې نه غواړي؛ د زمان او مکان له چاپېریال څخه ځان وباسي" درېږي او خپل وس په کار اچوي او په همداسې ډول د خپلو ګټو د ساتنې لپاره هڅې کوي، چې اولسي ذهنیت په هم هغه چاپېریال کې له ځان سره ملګري وساتي، مانا داسې ببلا ببلې لارې چارې لټوي، چې د دوی په ګټه تمامېږي، دوی دغه بدلون یا تحول ته ځکه زړه نه بښه کوي، چې په زیان/ تاوان یې تمامېږي.

دغه مقاومت او مزاحمت په هر زمان او مکان کې د پرمختګ او بدلون خوښوونکو او نه خوښوونکو تر منځ روان وي، چې د پرمختګ خوښوونکو ملتیاد اولسي ذهنیت د غوړېدلو او د خپلو حقوقو په تر لاسه کولو سره د غوړېدلې ژوند لوري ته د ګامونو اخستلو په مانا وي او د بدلون نه خوښوونکو ملتیا او ملاتړ د جمود خوښوني او د اولسي ذهن له غوړېدا او ودې څخه د راګرځولو مانا لري.

د مقاومت او مزاحمت په لړ کې چې د **خان شهید** د ژوند زمان او مکان په ژورلید سره و څارو، نو لیدلای شو، چې دلته هم دغه جګړه د **خان شهید** له ژوندہ سره سمه پیل شوې ده او ورو ورو خپل اوج او توندوالي ته رسېدلې ده، چې د مزاحمت په دې ډګر کې **خان شهید** د پرمختګ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خوښوونکو په ملاتړ او ملتیا یوازي دا نه چې ولاړ دی؛ بلکې د مخکښ په ځانګړ تیا او صفت سره ځای لري.

د **خان شهید** د مزاحمت او مقاومت پیل هم "لکه پورته چې یادونه شوې ده" له کوشنیوالي او له خپله کوره څخه شوی دی، کومه چاره چې به یې په کور کې هم خوښه نه شوه، نو مزاحم طبیعت به یې د "ولي" په ویلو د نټې خوی خپل کړی، آن چې څرک او ځیرک ذهن (شعور / پوهه) به یې د هغې چاري پر بڼه او بد اړخ باندې د دلیل ویلو توان هم ور په برخه کړی، همدغه خوی وو، چې د شعور او پوهې له غوړېدا سره سره یې د ژوندانه په اوږدو کې پیاوړ تیا وموندله، وروسته یې پر ټول ژوند اغېزمن او په شخصیت جوړونه کې یې مل او مرستیال پاته شوی دی.

نوموړي په کوشنیوالي کې هم له ځینو داسې دودیزو چارو لکه په کورنیو خوړو کې څه نه ویل، بې له غبرګونه هر څه پر ځان منل او نورو داسې وړو وړو چارو یا جزئیاتو څخه هم سرغړونه کړې ده او لږ تر لږه یې د داسې چارو په وړاندې د خپلې ناخوښۍ څرګندونه کړې ده، مانا دا چې د هر چا خبره هرو مرو منل او مطلق د هغه پر خوښه تلل یې خوی نه وو (چې داسې خویونه په نرګارې ټولنه یا پدرسري سماج او یا هم د ډکټېټر شپ په دوره کې پښې ټینګوي او د خلکو ذهنونه یې جبراً منلو ته اېل پاتېږي، خو ژغورې یې په مزاحمت او مقاومت ترسره کېږي) وروسته یې پخپله کورنۍ کې د ماجت د ملایانو د زدکړو په کړنلارو کې له ځینو تېریو او زیاتوب څخه د نټې او زړشینۍ څرګندونه کړې وه، په ښوونځي کې یې هم پر خپلو زدکړو باندې د ښوونکو د بې باورۍ په وړاندې خپله خبره په لوی زړه او باور ورکولو سره ساتلې او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نه تش په خبرو کوم شخصیت جوړېږي. مانادا چې د قول او فعل تضاد په هیڅ توګه د اولس او تاریخ د تېرایستلو وس او توان نه لري.

د نوموړي د زړه خبره په خوله وه، چې څه به یې ویل؛ د زړه به یې ویل او له خپلې وینا څخه یې مخ نه اړاوه. هغه د زمان په نبض پوه او ژورلید لرونکی څوک وو او د یو شمېر ناوړو چارو او دودونو د غندلو په څنګ کې یې د خپل زمان او مکان د سړیتابه ډېر خویونه او دودونه خپل کړي او هم یې ستایلي دي.

د کورنۍ چاپېریال په څنګ کې یې پر ټولنیز کلیوالي، زدکړیال، ښاري او سیاسي چاپېریال باندې ژور نظر لرلی دی او د خپل ژورلید او پوهې په رونا کې یې د کوشنیانو د زدکړې، ځوانانو د روزنې او د مشرانو د ارزښت په څنګ کې د ښځینه برخې ژوند او ارزښت ته هم په پوره ژورلید سره کتلې دي او په ټولنه کې یې د هغوی د ژوند په ځار لواو ارزولو سره د وړ او ناوړه توپیر وړاندې کړی دی.

مزاحمت یا مقاومت د خپل وجدان د تسکین او قرار لپاره پر ځان باندې د ستړیاوو، ستومانیو او کړاوونو د منلو او سهلو نوم دی، ځکه په دې لړ کې **خان شهید** داسې اشاره کړې ده، چې:

"وړوکوالی د مور غېږ خو روغ جنت وو، چې پر خپلو پښو روان سوم، سرګردان سوم..."(۲)

د ژوندانه په هر زمان او مکان کې د بدو چارو او ناوړه خویونو په وړاندې د سړیتابه دلاري پر خپلو سربېره د بدو او ناوړو غندنه کول مزاحمت او مقاومت دی، نوموړی په دیني عقیده دومره پوخ باوري وو، چې پر دې ټولو وړتیاوو لرلو سربېره یې هم له ناوړو چارو او خویونو څخه د ځان ژغورلو توان د لوی رب لورېنه او مهرباني بللې ده، ځکه په دې لړ کې داسې څرګندونه کوي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"چې سړی نوی ځوان وي، پیسې لري، د خپل سر هم وي او لا یې نور خلک هم ناچاره کوي، ګوا سړی به په بدو پسې ځغاست او بل به ترې ګېښنه، په ما پسې بد ځغاستل او زه ترې بچ سوم، نو دا زما مړانه نه وه، د خدای مهر (مهرباني) وو، وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ" (۲) څرګنده دي وي، چې په هغه مهال ټولنه کې داسې لوی شمېر خویونه وو، چې د غندلو او پرېښوولو وړ وو او **خان شهید** یې هم په خپل ژوند لیک کې ښه په پوره او پراخه توګه یادونه کړې ده، خو دلته مو په سرسري یا اجمالي بڼه د هغوی یادونه وکړه، چې لوستونکي وربانديوپوهېږي. که چېرې لوستونکي یا هم څېړونکي د پوره خبرتیا او څېړنې ذهن و لري، نو کولای شي، چې د **خان شهید** د ژوند لیک په لوست د هغه مهال ټولنیز خویونه ځان ته څرګند او باوري کړي.

ویلای شو، چې هره ټولنه په خپل زمان او مکان کې داسې دودیزه کلتوري، مذهبي، سیاسي، معاشي وړ او ناوړه چاري او خویونه لري، چې د وخت په اوږدو کې ورو ورو تر ذهني پیاوړتیا، رغښت، تجربه او روزنه وروسته ناوړې چاري او خویونه پاته شي او هغه خویونه خپل کړل شي، چې دوی ته ښه و ایسېږي، د دغه ټولنیز ذهنیت په رغونه کې د ګړندیتوب او چټکتیا را وستلو لپاره په هر زمان او مکان کې مزاحم او مقاوم ذهنونه د ځینو وګړو په بڼه را منځته کېږي او د خپلې پوهنیزې وړتیا او پوهې په توان اولس د ځان ملګری کړي او د هغوی په ملتیا ټولنیز ذهن دې ته ست (مایل/ اېل) کړي، چې ناوړه پاموله شوي خویونه پرېږدي او همداسې یې د نښو خویونو په خپلولو ټولنیز کلتور د پرمختګ ګامونه واخلي... څرګنده دي وي، چې په دې مزاحمو کردارونو کې ځینې نومورې او ځینې نومورکې هم شي، خو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یو، یو داسې کردار پکښې را سربېره شي، چې پوره زمان اغېزمن کاندي، ځکه یې زمان/ دوره په نوم باندي و نومول شي.

د پښتنو په ټولنیز چاپېریال کې د داسې نومورو کردارونو په لړ کې **خان شهید** هغه نومورې کردار دی، چې زمان یې په خپله غېږ کې د کردار د اغېز په منلو خپل سر ټیټوي او ویاړ په کوي.

په پورتنۍ لیکنه کې د نومورې کردار "**خان شهید**" د مزاحمت او مقاومت هغه پیلیز چاپېریال وړاندي کړل شو، چې لوستونکي ترې د نومورې مزاحم او مقاوم ځوان ذهن په بنه ډول انځورولای او جوتولای شي، کوم چې وروسته د یوه ایښوول شوي نیالګي په څېر غوړېدلی، بارداره شوی دی، چې د کردار د سیوري په غوړولو سره یې په اغېز جوتولو زمان پر خپل نامه کړ.

سرچینې:

۱: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړی ټوک، خپروونکې؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز مخ ۱۵۳
۲: پورتنی یاد اثر مخ ۱۹۲
۳: پورتنی اثر مخ ۲۰۳

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خان شهید د سیاسي شخصیت چاپېریال او د سیاسي پیلامې څرکونه او احساسات

(مه فروش خاکِ ملت به طلائے ملک غیرے)

ژباړه: خپله خاوره د دښمن په زَرو وَر نه کړې پښتونه (**خان شهید**)

په پورتنیو وړاندې کړل شوو لیکنو کې "چې د **خان شهید** د کورنۍ، وړوکوالي او پیلیزو دینې، کورنیو او سیاسي زدکړو په اړه وې" په هغو کې د سیاسي پیلامې څه څرکونه او څرګندونې هم وې، چې د لوستونکي ذهن د **خان شهید** د سیاسي پیلامې لوري ته وپاموي، خو په دې اړه لیکنه به یې د سیمې او مهال د ژور څارونکي استاد عطایي په حواله پیل کړو، محمد ابراهیم عطایي لیکي:

"**خان شهید** د سیاسي تاریخ مطالعه لا په هلکتوب کې پیل کړه، په دغو ورځو کې افغانستان له برېتانیا څخه خپلواکي اخستې وه او په افغانستان کې د امانې فورم هنګامې هلته ور رسېدې او سره له دې چې انګرېز زیات کوښښ کاوه، چې له دغو جریاناتو څخه خلک په خاصه توګه پښتانه خبر نه شي، خو د افغانستان د هغې ورځې مطبوعات په مخفي توګه هلته خپرېدل." (۱)

کله چې په زمان او مکان کې د وخت په تېرېدلو سره د ټولنیز چاپېریال غوښتنې تاندي او پیاوړې شي، نو د تر سره کولو لپاره یې تلپاتي کردارونه را سرېښره کېږي او داسې کردارونه د زمان او مکان پېرزوینه وي. زمان یوه ذهن او فکر ته دومره څرکتیا، ځیرکتیا، وړتیا او ویړ تیا ورپه برخه کړي، چې په تېرو وختونو کې د اولسي غوښتنو را ټولولو، یوځای کولو او وړاندې کولو وس ولري او د اولسي غوښتنو تېري نیالګي د خپل ذهن او فکر له چینې څخه خړوب کړي، ورو ورو یې په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وده کولو ټولنیز بهیر دومره توان و مومي، چې د خپل حق اخستلو لپاره د استبداد (زیاتوب کوونکو قوتونو) په وړاندې د درېدلو ذهن او زړه و لري. مانا دا چې دغه تلپاتي کردارونه د خپل څرک او ځیرک ذهن په وړتیا سره و اولسي ارمانونو ته ژبه ورکړي او د خپل کردار په سپېڅلتوب پای د اولس په ملاتړ تر لاسه کولو د سمون او اووښتون هدفونو/ مرامونو ته رسېږي، چې همداسي یې د تاریخ په غېږ کې تلپاتی نوم په برخه شي. په همدې اړه په تاریخ او سیاست نومي کتاب کې نوموړی تاریخ لیکوال ډاکټر مبارک علي لیکي:

(ژباړه) "له پنځلسمي عېسوي پېړۍ څخه چې کله په یورپي ټولنه کې بدلونونه پیل شول، نو په هغه چاپېریال کې د تجارت لپاره د سمندري لارو لټون پیل شو، چې د اړتیاوو پر بنسټ واسکوډې ګاما او کولمبس د نوو لارو او نوو هېوادونو موندنه تر سره کړله. که چېرې دوی نه وای؛ د دغه لارو موندنه به بیا هم ځکه تر سره شوې وای، چې دغه د چاپېریال غوښتنه او د وخت اړتیا وه، چاپېریالي غوښتنو چې دوی دغه لټون ته و ګومارل؛ نور یې هم ګومارلای شوای." (۲)

مرام دا چې زمان په داسي ټاکنو کې د خپل باور پر ځای ساتلو لپاره تل دم او قدم په ډېر پام اخستې دی او د مخکښې دغه پېرزوینه یې و ډېرو درنو پوهانو او ژورلید لرونکو ته ور پېرزو کړې ده.

په همدې لړ کې که د پښتانه قام د تېرو دوو/ درو پېړیو ټولنیز ژوند او د **خان شهید** د کورنۍ چاپېریال شالید په ژورلید سره وڅارل شي، نو ځارونکي د اولسي غوښتنو په توندوالي او پیاوړتیا باندې باوري کېږي، چې زمان د خپلو غوښتنو تر سره کولو لپاره د همدې کورنۍ په روزنیز چاپېریال کې د کوم مخکښ او مخور د راسېږه کولو غوښتونکي دی او د خپلو هیلو په باور او تومنه د یوه تلپاتي کردار لارې ځاري.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

همدا لامل وو، چې د زمان د محکښې کردار (**خان شهید**) په رغولو او جوړولو کې مود زماني چاپېریال په څنګ کې د هغه د کورنۍ او وړوکوالي چاپېریال په پورتنیو لیدنو کې وړاندې کړ، چې لوستونکی ذهن د یوه کردار په رغولو کې د چاپېریال له هغو تاندو او پیاوړو غوښتنو سره آشنا شي او د رانه سباوون لپاره د سپېڅلو کردارونو په ملاتړ د ملتیا کولو ذهن او زړه ولري.

قامي سیاست ته د لېوالتیا په اړه پخپله د **خان شهید** له لیک څخه پوهېدلای شو، چې د داسي تلپاتي کردارونو شاته د چاپېریال په څنګ کې د کورني کردار، روزنې او لوست لوی لاس وي، نومورې لیکي:

"د کورنۍ، کور او لوست پازه (لامل / سبب / ذمه داري) وه، که څه بل څیز، په وړوکوالي مي لا د قامي کارو سره زړه وو، خو دومره چې یو خو به مي د خوارانو خسمانه (خدمت) کوله، د خوارو په لوست کې به مي لاس (مرسته) کاوه. د کابل د باچا سلامتي او د ترکانو آزادي مي د اسلام وداني او خپل د ژوند مراد باله، ځکه په د غه وړوکوالي مي هم د انګورې په پنګه کې "چې زمور د ښوونځي مشر استاد په غلا ټولوله" څه پیسې ورکړې او د یونان د ماتې په خوشالي کې مي د څو نورو هلکانو جرګه مشر استاد له بوتله او چوتې مو څنې و غوښتله." (۳)

د زمان د ټاکلي کردار لپاره اړینه ده، چې د ځانګړتیاوو پیلامه یې په کوشنیوالي کې ښکاره شي، لکه په څوارلس کلنۍ کې د چاپېریال د مهالنیو علمي ژبو سره آشنایي، په ټول ولات کې لومړۍ نومره راتلل، د وظیفې اخستل او له نادارو لوستونکو سره د مرستې لپاره مشر استاد ته څه پېرزوینه کول، پر لوړه کچه د کوم پېیون (تنظیم) د پیاوړتیا لپاره په بسپنه (چنده) کې برخه اخستل، د لوستونکو د پلاوي مشري کول او په استاد باندې وړتیا لرونکي غوښتنې منل.. او داسي نوري

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چاري چې ورو/ ورو يې د خلکو په زړونو کې ځای و موندی او په ملتیا يې ور سره روان کړی سیاسي بهیر پیاوړی کړی.

چاپېریال پر ټولنیز فکر ژوري اغېزې لري او پر انساني فکر، کړۀوړۀ باندې خو د جغرافیايي موقعیت یا چاپېریال د اغېزو ښندنو په اړه د نوموړي فلسفي تاریخ لیکوال ابن خلدون خبره ټولمنلې او جوته ده؛ همداسي پر وګړنیز (انساني) فکر د ټولنیز ژوند اغېزې هم جوتې بویه، وګړی (فرد) وي، قام وي او که ټولنه، یو پر بل باندې يې هرو مرو اغېزې ځکه پرېوځي، چې یو له بل سره ژوند کوي، په یوازي سر نه کوم وګړی ژوند کولای شي او نه کوم قام، ټولنه او هېواد؛ بلکې د مځکې پر مخ باندې د ژوند کوونکو وګړو (انسانانو) ژوند له یو بل سره ترلی او تر منځ يې یو ډول ژوندنی معاهده هم شته، چې یو بل ته به زیان نه رسوي، زیان خو پرېږده (د ناپوهانو او ملکیت غوښتونکو په استثنا) بلکې هر وخت يې له یو بل سره کومک او مرستي کړي دي.

خو له کومه وخته چې وګړیو د ټولنیز ژوند او فکر پر ځای د ځاني ملکیت لاره خپله کړه او دغه چاره يې د ویاړ وړ و پامولە؛ له هم هغه وخته څخه د دوی تر منځ د بېلتانه زنې و کرل شول او تر منځ يې د خپلو ګټو د ساتلو یوه پای ته نه رسېدونکې جګړه پیل شوه، د خپلو ګټو ساتلو لپاره ډلي جوړې شوې، ځانله بېلا بېل ملکیتونه و تاکل شول، توپیرونه را منځته شول، ناوسه خلک مریان او چوپړیان شول، طبقې را منځته شوې، ښاري دولتونه جوړ شول او د ګټو ساتلو لپاره هر ډول ترون او سپېځلي رشتې ماتې شوې، پر مذهب سربېره هر ډول ارزښتونه د خپلو ګټو ساتلو لپاره په کار واچول شول او نن هم د تېرونو، توکمونو، قامونو او ټولنو په بېل ساتلو سره ځینې ډلي خپلې ګټې او استراحتونه ساتي، خو په ځنګ کې يې له را منځته شوې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کړ کېچ او وګړیو تر منځ د بېلتانه له کرښو څخه د انسان ژغورني او بیرته تر خپل مرام (انسانستان) پوري د رسېدلو لپاره (که څه هم خلک یې خیالي جنت "یوټوپیا" بولي) په پوهنیزه (علمي) وړتیا د پرمختګ هلي ځلي تر سره کېږي، چي په دې لړ کي ډېرو ټولنو ډېر پرمختګ کړی دی او ډېر پړاوونه یې وهلي دي، خو پښتانه په داسي پړاو کي دي، چي نیم کوچیاني ژوند لري او اوس لا له قبیلویت څخه د قومیت لوري ته مخ پر انسانستان ګامونه اخلي، مانا په دې چاپېریال کي قومیت ورته ځکه ارزښتناک او مهم دی، چي پر بېلا بېلو ټبرونو، تپو، توکمونو یا قبیلو وېشل شوي پښتانه په قامي تالار کي په یو ځای کېدلو سره د پرمختګ لوري ته ګړندي ګامونه واخلي.

د همدغه بهیر د فکري پیاوړتیا، لارښووني او مخکښۍ لپاره زمان په خپله غېږ کي د اڼل شوو تجربو پر بنسټ دغه بار پر داسي وږو باندي ږدي، چي په ښه توګه یې د وړلو او تر سره کولو وس او توان و لري.

خان شهید د زمان داسي ټاکلی کردار دی، چي له قبیلویت څخه یې د قومیت لوري ته د خپل قام پښتانه د ایستلو لپاره د ورپېښو دسیسو (سازشونو) او قوتونو په وړاندي د درېدلو او "ولي ویلو" توان و درلود او د همدې مرام تر لاسه کولو لپاره یې تر ځان په تېرېدلو د کړاوونو، ربړو او ستړو ستومانیو ګاللو اغزنه لاره خپله کړه، د ژوند ډېره زیاته او درنه برخه یې په زندانونو کي تېره کړه او په همدې کړاو ګاللو سره یې د قامي ذهنیت ریښې تر هر پښتانه پوري و رسولې او د قامي یووالي د ارمان زڼي یې د هر پښتانه د زړه په کور کي و کرل..

د نوموړي په شخصیت رغونه کي به د زمان د لوړو ژورو پلټنه پرېږدو، د تاریخي بهیر د تېرو زمانو تر څېړنه به هم تېر شو او د هغوی په اړه د لاسوندونو (حوالو) وړاندي کول به هم نورو لیکنو ته پرېږدو. دلته به

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یوازې د خپل ټاکلي سرلیک په رونا کې "چې د **خان شهید** د خپل ژوند لیک په هینداره کې د هغه د شخصیت رغوني انځور وړاندې کول دي" د خپلې خبرې باوري کولو هڅه تر سره کړو.

و قامي سیاست ته د **خان شهید** د ورتېر بدلو او زړه غوښتني خبره مخکې هم وشوه، چې د کورنۍ، کور او لوستو اغېز یې لومړي لاملونه وو، خو چاپېریال هم داسې وو، چې د نوموړي قامپال ذهن یې له ځانه سره وساتلای شو، هغه دا چې په پښتون اولس کې د ۱۸۷۹ او ۱۸۹۳ز کلونو د ګندمک او ډیورنډ معاهدو له مخې" د پښتون وطن د شال، پښین، کورمه، کوړک، لنډې کوتل، سوات، باجوړ، چترال، وزیر، چمن او شا او خوا سیمو د بېلتانه خبرې په ژوندۍ بڼه کېدلې او په غبرګون کې یې په ټول پښتون وطن کې د مبارزې غورځنګونو څپې وهلې، خو یوه پېښلې او منظمه سیاسي ډله نه وه رغېدلې، لکه څنګه چې مو وړاندې کړه، چې پښتانه د بېلا بېلو تېرونو، توکمونو او قبیلو ټولګه، جغرافیه (که څه هم ټاکلي پولي یې بنسکاره دي) او مذهب خو یې له نورو سره ګډ درلودی، ولې یوازینۍ ژبه او کلتوري خویونه وو، چې د دوی د خپلوۍ احساس یې پیاوړی ساتلی وو او خلک د وطن ژغورنې لپاره جګړې ته را پارېدلي وو. **خان شهید** لیکي:

"که څه هم زه ډېر کم وم، خو دغه جنګ زما پر ژوند ډېر برید وکړی، دا جنګ ډېر لږ وخت او لږ څو میاشتې وو، خو ځکه چې موږ ته نژدې لا زموږ په کور کې وو، ځکه یې هر څه موږ ته څرګند وو، کوم ژوند او ښور چې د دې غاړې په ټولو پښتنو کې پیدا سو، هغه د پټې شی نه وو، زموږ د شا او خوا کلو څخه به هره ورځ خلک تله، خو یو، یو یا لږ لږ او هغه هم زیاتره خوار خلک... ماړه خلک، مخور، خانان، پیران او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ملایان یو هم نه ولاړ او نه چا په ډاګه سر واخست، خو د خولې خواخوږي د ټولو د پښتون سرکار سره وه.."(۴)

پروړاندې شوې چاپېریال سربېره د نوموړي په کورنۍ کې استاد ملا شېرمحمد وو، چې د شا او خوا مشران به د همدوی په کور کې را ټولېدل او له هغه سره سلا او مشورې کولې او دا به یې سنجوله، چې د وطن ژغورنې لپاره څه او څنګه کول په کار دي، پښتون لښکر به له همدې کور (**خان شهید** کور) یا ځای (ګلستان) څخه پر اته او لس میله باندې پرې او (قرار) درلودی او له هغه ځایه څخه به پوله یا ټک لس پنځلس میله نور لېرې وو، چې د دوی له سیمې څخه به په مانبام کې ست شوې کسان په خړه (سپېدو داغ/ سهار وختي) و وتل او له خپل بهیر سره به په یو ځای کېدلو لاس په کار شول، د دوی مخورو او مشرانو به د قامې لښکر له مشرانو سره د زړه خبره درلوده او یو پر بل باوري وو. همدغه باور او اعتماد د اولسونو زړونه پر ځای او ډاډمن ساتل، چې د هر ډول اړتیاوو په شاته کولو سره یې له قام سره د درېدلو او ملاتړ کولو لاره خپلوله، که څه هم د ښمن لوري د اولس تر منځ د بې باورۍ او بدګمانۍ لپاره په سیمه کې د چور چپاول او هم یې و اولسي شتمنیو ته د تاوان رسولو ملاتړ وکړی او د خلکو تر منځ یې د بېلتانه رامنځته کولو لپاره د خپلو لاسپوڅو او ګوډاګیانو په لاس شعوري هڅې هم تر سره کړې، خو د پښتو، پښتونوالي او مذهبي مینې په مزې باندې له یو بل سره تړلي زړونه دومره ډاډمن او څرک وو، چې له خپل هوډ او تاکلي لارې څخه نه لېرې او نه بېلارې شول. د د ښمن له لوري د پښتنو یو پر بل باندې د بدګمانه کولو په هڅو کې ډاکې، شوکې، غلاوې، د پښتنو سوداګرو مالونه لوټل، د ګلستان بنار ته اور اچول، تاوتریخوالی را منځته کول او داسې نور څه وو، چې د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

قامي ژوند چاپېریال یې ترینګلی ساتل غوښت، خو پر دې سربېره هم د دښمن په وړاندې د مزاحمت ډګر وړځ په وړځ مخ پر غوړېدو وو او د پښتنو تر منځ پر کښل شوې نژدې اووه ویشت سوه کلومیټره پوله هر ځای د مقاومت ښور او ځوړه خوره شوه، پر ښکېلاکګرو بریدونه، له انګرېز لښکرو سره مخ په مخ او لاس په لاس ډغري، له هغوی څخه په سوبه (فتح) تر لاسه کولو د نیول شوو ځایونو بیرته اخستل او داسي ډېري چاري زړه ته ډاډ ورکوونکي وې، خو د اوږدې مودې لپاره د خپلې سوبې ساتل، د قامي لښکرو اړتیاوې پوره کول او په قامي لښکر کې د برخه لرونکو ژوندنۍ او کورنۍ اړتیاوې پوره کول داسي چاري وې، چې په دې لړ کې پښتنو کومه تاکلې، پېښلې او منظمه کړنلاره نه وه سنجولې، نو ځکه یې د یوه داسي دښمن په وړاندې د خپلې سوبې ساتلو او مقاومت وس او توان نه درلود، چې خپل لښکر یې په وسله پوره ساتلی وای او د میاشتني معاش په څنګ کې یې د هغوی د اوسېدنې، ساتنې او خوړو چاره هم کړې وای.

همدا لامل وو، چې د پېښلې یا منظمې کړنلارې نه لرلو له کبله د پښتنو په مزاج کې د ژر تر ژره پایلې یا نتیجې تر لاسه کولو هوډ ځای نیولی وو، د اوږدې جګړې/ کړنلارې پلې کولو ذهن او زړه یې نه درلود، خو په مقابل کې دښمن په سړه ساه د دوی مزاج، خویونه، کلتور او مذهب هر څه څارلې او لوستې وو او هر اړخیزه یې خپله کړنلاره او پلان سنجولې وو، د پښتنو له ناخبرتیا، ناپوهۍ، شومو ځیلو، اړتیاوو، تربور ګلویو، خپلمنځي دښمنیو او داسي نورو ناوړو کمزورېو څخه په کار اخستلو یې ډېر خلک د ځان کړي وو او د پښتانه ملي لښکر یې په همداسي لارو/ چارو بې سبکه کړی او له پښتو ولی وو، که څه هم پښتانه قام په تېرو وختونو کې باچهی جوړې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کړي او پاللي دي، خو په دې وخت کې يې دومره ځير کتيا او څرکتيا نه درلوده، چې د شومو هيلو لپاره د ښکېلاکګرو او ځبېښناکګرو را اوږده شوي لاسونه د ځان، قام او وطن له ګرېوانه څخه په ښه توګه وکاږي.

په دې لړ کې که د پښتنو ټول ژوند د تاريخ په اوږدو کې په ژور ليد سره وڅارل شي، نو څرګند ېږي، چې په توره کلک او مېړنې دي، خو پښتون داسې څکښاری او ځير ک قام نه دی پاته شوی او نه يې دومره ورتيا لرلې ده، چې هره سترې دي د ځان په ګټه تمامه کړي، ولې چې هوښيار قامونه او ټولنې هره سترې د ځان په ګټه تماموي... پښتانه کله په مغلو هم پسې شوي دي او کله بيا پارس د ځان په ګټه له خپلوانو سره په غاړه کې اچولي دي، که تاريخ وکتل شي، نو دغه مغول وو، چې درنه برخه پښتانه يې په خلجي ستايلو سره د خپلو پښتنو په مخ کې و درول او د پارس صفويانو بيا درنه برخه په درانې ستايلو د خلجيو پښتنو په وړاندې و درول او په ېلا ېلو دسيسو او چارو يې د خلجي او درانې په نومونو او کله يې بيا د قبيلويت او ځانې ګټو په شومو هيلو له يوبل څخه ېل ساتلي دي، ځکه خو قامپال خوشحال بابا د ارمان لاسونه داسې مروړي، چې:

هره چار د پښتانه تر مغل ښه ده
اتفاق ورځنې نشته د هر ارمان
که توفيق د اتفاق پښتانه مومي
زور خوشحال به دوباره شي په دا ځوان (۵)

د پښتنو د يووالي ارمان درانه خوشحال خان بابا درې/ درې نيمې پېړۍ مخکې هم په زړه کې لرلی وو او د يووالي همدغه لاره يې د پښتانه قاموليو لپاره په زړه پورې بللې وه، ځکه يې د يووالي ېغ پورته کړی وو، خو د دې ارمان پوره کولو لپاره پښتون ذهن تر ډيالېکتيکي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پړاو په تېرېدلو ډېره اوږده زمانه په بر کي و نیوله او له میرویس نیکه، احمد شاه بابا، شیرشاه سوري، دریا خان اپریدي، ایمل خان مومنداو نورو غړیالیو مېړنیو څخه د ګڼ شمېر مخورو، مخکښانو په لیدلو یې ایله د شلمي زېږدیزي پېړۍ په پیل کي د پرله پسې پردیو یرغلونو او زیانونو په وړاندي تانده بڼه خپله کړه او له داسي بریدونو، ستړو او ستومانیو څخه د قام ژغورني او ودانۍ لپاره پر تپو، توکمونو او قبیلو ځله وېشل شوي قام د راټولولو او یووالي هڅو تومنه و موندله او د یوې پېیلي/ منظمي کړنلاري ټاکلو لپاره په قام کي سیاسي ذهنیت وده وکړه او د ودانۍ لپاره یې سرلاري کردارونه خان عبدالغفار خان (**باچا خان**) عبدالصمد خان (**خان شهید**) **امان الله خان** (غازي) او داسي نور وو، چي ورو ورو یې د خپل قام او وطن له ګرېوانه څخه د پردیو لاسونو د کښلو تړاو لرونکي پېیلي هڅي پیل کړای شوې، چي له کبله یې تس نس او پاشل شوو اولسونو د یو منظم وجود لرونکي پښتون قام وجود و موندی، دښمن که یې څه هم مخنیوی کاوه او اوس یې هم کوي، خو د پښتنو د ودانۍ او یووالي هڅي رواني او ګړندۍ دي.

په پورتنیو یادو شوو کردارونو کي عبدالصمد خان (**خان شهید**) هغه کردار دی، چي د سیاسي پوهي په توان یې د پښتون وطن د نورو درې منځیو (مرکزونو) کندهار، کابل، پېښور په څنګ کي د یوې داسي برخي (حوزې) په شعوري ویښتابه کي د مخکښۍ او لومړیتوب ځای په برخه شو، چي له خپل وجود څخه په بېلتانه یې پر ژبه او تشخص باندي د پردیو ژبو او هویت یرغل ورځ په ورځ پیاوړتیا موندله او ټولنیز ذهن او زړه یې دې ته اېل وو، چي خپله ژبه، تشخص له لاسه ورکړي، لکه په هیند، سیند او اوسني پنجاب کي پښتني سیمو او پښتنو لکه میاوالي، اټک، سیوۍ او داسي ګڼ شمېر نورو سیمو چي خپله ژبه/

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هویت او تشخص یې له لاسه ورکړی دی، یوازې او یوازې ځان ته په پښتانه ویلو وخت تېروي. په یاده شوې حوزه برتش بلوچستان کې د نوموړي د سیاسي کردار په اړه یوه حواله را اخلو:

"د بشپړ پښتون قام د سیاسي شعور په وده کې پر درنه برخه لرلو سربېره د پښتون وطن د ځلورم منځي (مرکز) په جوړښت او سیاسي شعور را سربېره کولو کې نوموړی سیاسي مخکښ " **خان شهید** " بنسټیز ارزښت او لومړی ځای په برخه لري." (۶)

دا وې؛ د پښتني وطن او خپلې سیمې په سیاست کې د مخکښ سیاسي کردار " **خان شهید** " د پیلامې څه نخښې ننباني (څرکونه) او اغېزې یا اخستنې "چې دنوموړي د ذهن اوزره په جوړولو کې یې په زړه پوري برخه لرلې وه" ستاسو په مخ کې وړاندې شوې.

څرګنده دي وي، چې د خپلې سیمې پر مشر تابه او له پښتو فرهنګ سره د مینې او پالنې په څنګ کې یې سیاست او سیاسي هلې ځلې وې، چې د نوموړي " **خان شهید** " ټول ژوند یې په غېږ کې نیولی او دغه کردار یا اړخ (بعد) یې پر نورو یادو شوو اړخونو باندې ځکه پیاوړی وو، چې **خان شهید** خپل ژوند ورته ځانګړی کړی او په دې لاره کې یې نه هېرېدونکی او تلپاتی کردار تر سره کړی دی، چې په را روانو لیکنو کې به یې په پوره او بشپړه ډول یادونې تر سره شي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سرچینې:

۱: عطایي؛ محمد ابراهیم. د خان شهید یاد، خپرووونکی؛ د سرحدونو چارو وزارت. مشموله، د خان شهید لنډ ژوند لیک، چاپکال ۱۳۷۰ل ۲۴ مخ
۲: ډاکټر؛ مبارک علي، تاریخ اور سیاست، خپرووونکی؛ فکشن هاوس. چاپکال ۱۹۹۷ز مخ ۱۱
۳: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړی ټوک، خپرووونکې؛ پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز ۱۳۳/ ۱۳۴ مخونه
۴: پورتنی اثر مخ ۱۳۵
۵: د خوشحال خان خټک دیوان؛ سریزه او سمون؛ حبیب الله رفیع، خپرووونکې؛ د امان کتاب خپرولو موسسه، چاپکال، ۱۳۹۷ل کال ۳۷۹مخ
۶: آزاد؛ محمد نعیم. د مبارز او سرلاري شاعر ملا عبدالسلام اشېزي اند او هنر. خپرووونکی؛ پښتو ادبي غورځنګ. چاپکال ۲۰۱۵ز مخ ۱۶۸

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

«د خان شهید (عبدالصمد خان) قامي / سیاسي مبارزه»

«زما توره بریره د قام په خدمت کې سپینه شوه، دپاکستان حکومت ما وژلای شي مګر د قامي خدمت نه مي ګرځولای نه شي» **خان شهید** (۱)

د تاریخي بهیر چاپېریال که په ژور لید سره و کتل شي، نو څرګنديږي، چې د پښتنو / افغانانو دې لرغوني وطن ډېري لوړي ځوړي لیدلي دي او دا وطن د لوی شمېر بنکېلاکګرو او ځپېنباکګرو له زیاتوب او تېري سره مخامخ شوی وطن دی. د تاریخ په اوږدو کې له سکندره تر انګریز بنکېلاکګره "هر چا چې څه ناڅه وس موندلی دی" د خپلو شومو هیلو لپاره یې د دې وطن و ګرېوان ته لاس اچولی او خپله برخه ګټه یې ځنې وړې ده، خو کله بیا د دې وطن د اوسېدونکو له خوا هم د ځان او وطن ساتنې لپاره په پوره مېړانه جګړې او تهاجمونه ترسره شوي دي. دغه پورتنی چاپېریال که په لنډه توګه / اختصار سره وړاندې کوو، نو به ووایو، چې په ۱۹ مه زېږدیزه پېړۍ کې د برتانیې او تزاري روسیې دولتونو پر نورو هېوادونو او سیمو باندې د لاسبرتیا ذهنیت و درلود، د دې ذهنیت په غوړېدلو سره د تودې او سړې جګړې بهیر ته د ستري لوبې (The Great Game) نوم ورکول شو، چې تر مېچن لاندې یې یو شمېر اولسونه لکه غنم و انل / دل شول. په همدې بهیر کې د آسیا زړګوټي افغان وطن هم د خپل جیوپولیټیکل ارزښت له کبله د ډېر زیاتوب ځغملی دی او د برتانیې له بنکېلاکګرو سره یې په تر سره شوو درې جګړو ۱۸۴۲-۱۸۷۹-۱۹۱۹ز کې په کلک مقاومت خپل وطن او برم پر ځای وساته. پر دې جګړو سربېره د لومړۍ نړیوالي ۱۸-۱۹۱۴ز جګړې اوبیادویمې نړیوالي جګړې پېښېدلو پایله د درنو بدلونونو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لامل شوه، چي د تزاري روسیې ځای شوروي ملګرتیا و نیو او برتانیې په خپل ارزښت بایللو خپل ځای امریکا ته پرېښوو، ځکه د امریکا اولسمشر هري ټرومین د ۱۹۴۷ز کال د مارچ میاشتي پر ۱۲مه د خپلي وینا پر مهال له شوروي ملګرتیا څخه په اندېښنو څرګندولو د هغو وَ بدۍ ته ټټر و ټکاوه، ختیځ او لوېدیځ بلاک جوړ شو، چي نژدې د نیمي پېړۍ په سړه جګړه پاللو سره پای د ۱۹۹۱ز په دسامبر میاشت کي شوروي ملګرتیا ماته و خوړه او دغه سړه جګړه پای ته و رسېدله.

دسړې جګړې پر مهال د ناټو او وارسا پوځي تړونونه، په ۵۲-۱۹۵۱ز کي د کوریا سوهېلي شمالي شخړه، په ۱۹۶۲ز د برلین شخړه او په هم دې کال په کیوبا کي د شورویانو شاتګ، په وېتنام او کمبوډیا کي د امریکا پلویانو ماته، په ۱۹۴۸ز کي د فلسطین او په ۱۹۵۶ز کي د سویز کانال کړکېچ، له پرتګالي ښکېلاک څخه د انګولا، موزمبیق ژغور او د کمبوډیا، لاووس، ایتهوپیا او نګاراګوا شخړه او داسي نور نور...

د تودې او سړې جګړې په بهیر کي د ښکېلاک لاسونه تر ویړ او پراخ افغان وطن پوري هم را اوږده شول او په دې لړ کي مو مخکي هم د ځینو سرچینو په باور څرګنده کړې وه، چي د افغانستان له غوړېدلي خاوري څخه ډېرو زورواکانو په بېلا بېلو وختونو کي په زور زیاتوب سره خپلي شومي هیلي تر سره کړي او ځیني برخي یې په بېلولو د ځان کړي هم دي، خو د زیاتوب دغه چاره و کوشنۍ وچي (برصغیر) ته د انګرېز ځبېښاکګر او ښکېلاکګر تر راتګ وروسته ډېره تونده او ګړندۍ شوه، چي پښتون/ افغان وطن د خپل جغرافیایي ارزښت له کبله د دواړو زورور تر منځ داسي دَل شو، لکه د مېچني د پلونو تر منځ چي غنم و اڼل شي او لا تر اوسه دغه لړۍ روانه ده، چي دلته یې د **خان شهید** د تر سره شوي مبارزې په شالید کي لږ په سپړلې توګه د وړاندي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کولو هڅه کوو. د خپلي سکالو (موضوع) په تړاو به تر ټولو مخکي د **خان شهید** د سیاسي مبارزې په شالید کي د تودې او مطبوعاتي مبارزې لړۍ د دې لپاره وړاندي کړو، چي د نوموړي د سیاسي مبارزې ډګر ته د لوستونکو د ذهني رسېدګۍ لاره وغوړېږي.

د خان شهید (عبدالصمد خان) د سیاسي مبارزې په شالید (پسِ منظر) کي د تودې مبارزې چاپېریال

کوشنۍ وچي ته د ایسټ انډیا کمپنۍ په نوم د انګرېز راتګ ډېري شومي هیلي درلودې، که څه هم د دې سیمي د اولسونو په مخ کي یې له دوی سره د خپلي پرمختګیزي تجربې د ګډولو او هم یې د دې وطنونو د آبادولو/ ودانولو او پرمختګ هیلي څرګندي کړي وې، خو پوښلی (پس پرده) مرام یې د دې وطن د شتمنیو وړل او په لږ څه ور پېرزو کولو سره یې ډېر څه تر لاسه کول مرام وو، ټاکلي کړنلاري یې اوږده موده په بر کي نیوله او ورو/ ورو یې ډېري مځکي تر خپله تتۍ لاندي کړې او هم یې ډېر څه و نغړدل او هم یې د ځان کړل...

په ښکېلاکګره/ استعماري دوره کي د خپل ځبېښاک لپاره د وړو وړو هېوادونو نیول یا مستعمره (Colony) کول د لاسبرو واکمنانو یو ډول خوی او تر لاندي هېوادونو لپاره یو ډول رښتیا او واقعیت وګڼل شو، په دې لړ کي نوموړی لیکوال ارواښاد محمد ولي ځلمی لیکي:

"استعمار او امپریالیزم هغه دوه عامله وو، چي آسیایي، افریقایي او د لاتیني امریکې ملتونه یې د خپلو طبیعي او اجتماعي حقوقو د حاصلولو لپاره راویښ کړل او د استعماري سلطو د منځه وړلو لپاره یې په خپلو تاریخي مبارزو پیل وکړ." (۲)

په پښتنو کي یو متل دی، چي "غل غلا نه شي کولای؛ تر څو کورني غله ورسره مل نه وي" په دې وطن کي هم داسي وشول، چي د ایسټ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

انډیا په نوم راغلو ځبېښاکګرو او ښکېلاکګرو د دې ځای د اولسونو په اقتصادي او کلتوري توګه تر ژور لوست وروسته د خپلي کړنلاري تر سره کول پیل کړل او داسي خلک یې د ځان کړل، چي تل یې پردیو ته ښه راغلی ویلی دی او له خپل درناوي څخه په تېرېدلو یې د پردیو په ملتیا د سرټیټۍ ژوند تېرولو ته ذهن او زړه ښه کړی دی، زور زیاتوب تر سره کوونکو انګرېز ښکېلاکګرو او ځبېښاکګرو هم د هیند د ناپوهه او اړتیا لرونکو اولسونو د ناپوهۍ په ملتیا د تېر تاریخ د مذهبي او قامي دښمنیو او کرکو د نفسیاتو په راپارولو سره هغوی د ځان مله کړل، چي وروسته یې په خپل ملاتړ او د راپارول شوو ملګرو په ملتیا په ۱۸۱۲ز کال د اټک کلا. په ۱۸۱۹ز کال کشمیر. په ۱۸۲۱ز کال د اسمعیل خان دېره. په ۱۸۲۳ز کال د غازي خان دېره او پېښور. په ۱۸۴۳ز کال د سیند ولایت. په ۱۸۸۲ز کال د سیستان یوه برخه د انګرېز استازي د ایران په ملتیا. په ۱۸۵۴ – ۱۸۷۶ز کلونو کي بلوچستان. په ۱۸۷۹ز کال شال، پښین، کورم، کوږک، لنډي کوتل د ګندمک معاهدې له مخي او په ۱۸۹۳ز کال سوات، باجوړ، چترال، وزیر او چمن د ډیورنډ معاهدې له مخي لاندي کړل او همداسي یې د خپلو شومو هیلو ساتني ته لاره وهله (هېره دي نه وي، چي د روسانو لخوا په ۱۸۳۰ز کال د خراسان، په ۱۸۸۴ز کال د مرَو او په ۱۸۸۵ز کال د پنجدې بېلول ځانله څپرکی غواړي...) د دې ټول زور زیاتوب او تېري په وړاندي په اولسونو کي غبرګونونه او کرکي راپارېدلي دي او پای په غورځنګونو او بریدونو هم اووښتي دي، چي د لیکلي تاریخ برخه دي. هېره دي نه وي، چي د کالونیل ازم په نیامت د راغلو جاسوسانو پیل تر دې لا پخوا هم شوی وو، فرانسویانو دغه خوی او سنت تر برتانیې هم مخکي تر سره کړی وو او په دې لړ کي را استول شوی فرانسووا برنیه د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

(۱۶۸۸ـ ۱۶۲۰ز) (چې د درانه خوشحال خان بابا "۱۶۱۳ـ ۱۶۸۹ز" همعصر وو، خو دې سیمو ته راتګ یې د روښانې ملي نهضت و پای ته له رسېدلو سره سم شوی دی) په ببلا ببلو هېوادونو کې ګرځېدلی او له ۱۶۵۹ز څخه تر ۱۶۶۹ز کال پورې په هندوستان کې پاته شوی دی او په همدغه دوره کې یې کتاب د "د مغلو په دولت کې د سیاسي کودتاوو تاریخ" لیکلی دی، نوموړي د مغلو په امپراتوري او دربار کې د سیاسي کړکېچ او کشالو په اړه ژوره علمي څېړنه د اقتصادي لاملونو پر بنسټ تر سره کړې ده او د دې ټولې سیمې په ځانګړې ډول د افغانستان په اړه یې هم ډېر څه لیکلي دي، د نوموړي برنیه د کتاب د مطالعې او ژباړې په رونا کې په سریزه لیکلو سره نوموړی ډاکټر ګل محمد نورزی هم هغه چاپېریال په ژوره توګه څارلی دی، لیکي، چې: "د برنیه په زمانه کې د هند په نیمه قاره او آسیا کې درې سیاسي قوتونه موجود دي: په هند کې د بابر کورنۍ ده؛ په پارس کې د صفویانو امپراتوري؛ په منځنۍ آسیا کې د بخارا د ازبکانو خانان... افغانستان د دې درې ګونو یرغلګرو قوتونو په منځ کې د ولجې میدان ګرځېدلی وو، د افغانستان ختیځ او جنوب لوېدیځې برخې تر غزني پورې د کابل په ګډون د مغلو په لاس کې وې، له کندهاره تر هراته پورې د صفویانو تر پښو لاندې وې، د هندوکش هغه خوا شمالي سیمې د آمو تر سینده پورې د ثمرقند او بخارا خانانو له خوا وخت پر وخت لوټل کېدلې، برنیه په خپل کتاب کې د افغانستان پر وېش باندې د دغو درې ګونو مغرضو قوتونو مبارزې ته ځای په ځای اشاره کړې دي او هم یې د دې لرغوني تاریخي هېواد په ستراتیژیکي موقعیت کې ډېر مهم ګڼلی وو. برنیه د مغلي اکبر بادشاه منشي ابوالفضل علاني دغه خبره،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې ویلي یې وو: تر څو چې کابل په لاس نه وي، تر هغې هیڅوک نه شي کولای؛ د هندوستان واکدار شي." (۳)

مانادا چې د دې هېواد د ستراتیژیکي موقعیت په اړه پخوا لا د ژورلید لرونکو له خوا څرګندوني شوي دي او د تاریخي پراوونو په وخت او زمان کې د همداسې ژورلیدلرونکو د کتنو/ مطالعاتو په رونا کې علامه محمد اقبال لاهوري هم ویلي دي، چې:

آسیا یک پیکر آب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا
و ز کشاد او کشاد آسیا (۴)

نوموړي برنیه د خپل استاد ګاسیندي Gassendi (۱۵۹۲ـ۱۶۵۵ز) لاره پاللې او د خپل استاد د زدکړو ژوره اغېزمنتیا مني، چې نوموړی فیلسوف او ماتریالست وو او د کالبر اقتصادي سیاست "چې بورژوازي ته یې د لنګي غوا په ستر ګه کتل او د دربار د تغذیې وسیله یې پامولې" یې ملاتړ کړې او په همدې رونا کې یې د هېوادونو څارنه کړې وه.

په همدې شالید لرلو سره د برېتانوي کمپنۍ په اړه د پورتنۍ خبرې (چې لومړی به یې د خلکو ژوند، خوی بوی، کلتور او جغرافیه په ژوره توګه و کتل یا مطالعه کړل؛ وروسته به یې د خپل ژورلید لرونکو لېرلو استازو د مطالعې په رونا کې خپله کړنلاره پلي کوله) د نوموړی کولو لپاره به د استاد عطایي له کتاب "د پښتنو او بلوڅستان سیاسي کرونولوژي" څخه یوه حواله را واخلو، چې خپله خبره جوته کړای شو، نوموړی لیکي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"په ۱۷۹۷ز کال میر عزت الله هندي د یارکند، بخارا او افغانستان سفر پیل کړ، چي تر ۱۸۱۳ز کال پوري یې دوام وکړ، د ده په سفرنامه کي د ختیځ هند د برېتانوي کمپنۍ لپاره د سیاسي پېژندني په باب ډېر مواد وړاندي شول. د ختیځ هند برېتانوي کمپنۍ چي مرکزي آسیا ته د نفوذ پراخولو پلان درلود، نو د سیمو توپوګرافیکي معلوماتو ته یې اړتیا درلوده، د همدغه مقصد لپاره یې په همدغه کال ۱۷۹۷ز کي یو بل هندوستاني شیخ رحیم علي همدلته را واستاوه، چي هغه د (بیان حالاتِ منازل کابل او بلدۀ شاهجهان اباد) په نامه کتاب و کیښ، د دغو کارونو لوی سازمان ورکوونکی د برېتانیا غټ سیاسي مامور ویلیام سور ګرافت نومېدی، چي په لندن کي یې جراحي کوله او د اسانو د نسل پېژندني متخصص وو، دی چي د کمپنۍ (د ختیځ هند) له خوا استخدام شو، نو د (تارم) (سیحون) (اکسوس) او (اندوس) د حوزو د سروې وظیفه ور وسپارل شوه، ده میر عزت الله را و لېږی او بیا یې په ۱۸۲۵ز کي د هغه ګزارش په کلکته کي چاپ کړ، دا سړی پخپله هم افغانستان ته راغلی، کابل، بلخ او میمنه یې کتلي څو په اند خوی کي مړ شو، د ختیځ هند د برېتانوي کمپنۍ ماموران توپوګرافران او جاسوسان په دغه وخت کي د آسانو د نسل پېژندونکو او سوداګرانو په جامو کي راتلل." (۵)

دا هغه لومړني ګومارل شوي جاسوسان او یا د برټش کمپنۍ لپاره په معاش کارکوونکي وو، چي د کالونیل ازم په نیامت د منځنۍ آسیا د هېوادونو نیولو او له هغوی څخه د خپلو شومو هدفونو تر لاسه کولو لپاره د راغلو/ راتلونکو ښکېلاکګرو او ځبېښاکګرو پیلامه موږ ته را په ګوته کوي او دا هم چي تر هند وروسته یې د پښتنو وطن افغانستان په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لومړي سر کي موقعیت درلود، چې پورتنیو یادو شوو هېوادونو ته د تګ او رسېدګۍ ارزښت وړ چارسو یا څلور لاري لرونکی وو.

هېره دي نه وي، چې د همدې ګومارل شوو جاسوسانو د ژوري کتنې او لیدنې په رونا کي وروسته دې هېوادونو ته د رسیدګۍ په لاره کې د ځای او موقعیت لرونکي هېواد افغانستان ته په ببلا ببلو جامو کې د خپلو اهدافو تر لاسه کولو لپاره استازي را واستول شول، نو ځکه ددې وطن خلک او مځکه د خپل موقعیت "بفرزون" او ارزښت له کبله د دواړو لوړیو تر منځ د جنګ او مبارزې ډګر پاته شول. د افغانستان په ملتیا و یادو هېوادونو ته د پردیو یا خارجیانو راتګ د ددې ځای د اولسونو د ژوندانه پر ډول (چې پر خپل طبیعت روان وو) یو ډول اغېز وکړ او د هغوی کلتوري دودونه یې هم سره تا او بالا کړل، ورسره یې نور کړکېچونه او تصادمات هم را منځته کړل، د همدې چاپېریال په لړ کي نومورې لیکوال ارواښاد محمد ولي ځلمی لیکي:

"پردو او خارجي هېوادونو ته د اروپایانو راتګ د دغو هېوادونو د ځوزره کلن ژوندانه پر وضع او د تفکر پر طرز اغېزه وکړه، هغه معتقدات او ثقافتونه "چې دوی د خپلې نېکمرغۍ موجب ګڼل" هغه یې تحقیر او ډېر سست کړل او په دوی کي یې د قبیلو د مشرانو مستقیم حاکمیت په خطر کي واچاو، نو د قبیلو د مشرانو، اشرافو ګټې او سنتي اداب او روابط چې متاثره شول، په عکس العملونو یې شروع وکړه، د ملي مبارزو په نامه یې د استعمار ځخه د ځان خلاصولو او خارجي حاکمیت د پای ته رسولو لپاره تاریخي قیامونه پیل کړل، د استعمار چیانو د تسلط او روابطو ځخه ځکه کرکه کېده، چې په استعمار او استثمار خوښېدل او رضا کېدل ملي خیانت و ګڼل سو"(۶)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په همدې شالید کې که چېرې دا و وایو، چې د دې یاد وطن خلک یو ډول اړیا مجبور هم وو، چې د خپل وطن د ساتنې لپاره د راغلو اویا هم راتلونکو مخنیوی وکړي، نو ځکه یې د تودې مبارزې لاره غوره کړه، ولې چې د دې ځای اوسېدونکو د نړیوال چاپېریال دومره ژور لید او پوهنیزه وړتیا نه درلوده، چې د راغلو بنکېلاکګرو د مخنیوی لپاره د سیاسي لارو چارو په کار اچولو د نوري نړۍ ملاتړ تر لاسه کړای شي او په داسې ډول د خپل اولس او وطن له ګرېوانه ځخه د راغلو زورورو لاس وکاږي، نو اړ وو، چې یوازې او یوازې د تودې مبارزې لاره خپله کړي، هغه د پښتنو متل دی، چې "اړ ته به غښتلی نه وایې" بس پښتانه/ افغانان اړ وو، چې خپل وطن په خپلو سرونو و پالي، ورو/ ورو یې په اولس کې د دغې مبارزې و شاته د قامي، وطني او مذهبي مینې ملاتړ په کار واچاوه او په همدغه تومنه سره یې دغه توده مبارزه تر سره کړای شوه، قامي، وطني او مذهبي مینې ملاتړ یې ځکه په برخه وو، چې پر پښتون وطن تېری کوونکي بنکېلاکګر او ځپېښاکګر د بل قام، بل کلتور او بل مذهب خلک وو، نو ځکه په قامي ذهنیت کې د قام، وطن او مذهب ماناد پښتانه قام، افغانستان وطن او اسلام دښمنان و ګڼل شول.

د قام، وطن او دین ساتنې د تودې او وسله والې مبارزې په دې دوره کې د هر پیاوړې او نومیالي مخکښان مبارزین تېر شوي دي، چې د وطن او خپلواکۍ په لاره کې یې د اولسونو په ملتیاتر خپل سر یه بریالي پاته شوي دي، بوازې یې په هوډ او څه ناڅه تر لاسه شوې وسله په وسلو سمبال او مجهز لښکرو ته ماته ورکړې ده، که څه هم د مبارز بهیر په دې لار کې د تولو یادول ځان ته څېرکی (باب) عوړي. خو له

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خپل وجود څخه په را پرې شوې برخه او په ځانګړې ډول د پښتنو په وطن کې د ځینو مخکښانو مبارزینو یادونه به د نمونې په ډول وکړو، چې لوستونکي لږ تر لږه د تودې مبارزې په دې بهیر باندې خبر ذهن اوزړه وو لري.

هېره دي نه وي، چې په لر او برو پښتنو او یا هم افغان وطن کې که څه هم د تاریخي او جګړه ایزو مبارزو لړ ډېر اوږد او د تاریخ لیکوالو له خوا کتابونه کتابونه خبرې ور باندې شوي دي، خو موږ د یوه سیاسي بهیر د نوموړي شخصیت **خان شهید** (عبدالصمد خان) او د هغه د کردار په شالید کې د یوې اجمالي یا سرسري یادوني زړه لرو، کنې نو په همدې یاده شوې دوره کې په بر وطن کې له بېکبلاکګرو سره په تر سره شوو جګړه ایزو مبارزو کې له وزیر سردار محمد اکبر خان، غازي عبدالله خان اچکزي، امین الله خان لوګري، محمد شاه خان بابکر خېل، میر مسجدي خان، محمد جان خان وردګ، غلام حیدر خان ساپي، ملالی میوند واله، غازي ادې، مامونده ترور او په منځنیو او لرو سیمو کې له نورو یو شمېر مبارزینو څخه تر ملا مشک عالم، د هدې ملا نجم الدین اخندزاده، سردار محمد ایوب خان غازي، میر زمان خان، ببرک ځدران، سوات صاحب، ترین خان، ملا پوونده او نورو پورې داسې نور بې شمېره د یادونې وړ مبارزین تېر شوي دي، چې د هغوی په اړه خبر تیا به لوستونکي د پښتون تاریخ کتابونو ته اړ باسي.

د تودې مبارزې بهیر په تاکلې برخه مرکزي پښتونستان (اوسنۍ خیبر پښتونخوا) او منځني پښتونستان (قبایلي سیمې چې د وسله والو مبارزینو لپاره په زړه پورې سنګر وو او په خپله ارته او سنګري غېږه کې یې د هرې برخې و پښتنو مبارزینو ته د مورد غېږې هومره مینه او ساتنه ورکړې ده) کې ډېر توند او ګړندی وو او د یادو شوو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سیمو په څنګ کې د سوهبلي پښتونخوا مېړنیو مبارزینو هم په خپلو هوارو او غرنیو پولو کې د انګرېز دښمن په وړاندې توده مبارزه تر سره کړې ده، چې تر ډېره وخته پورې يې د دښمن مخنیوی وکړای شو...

په ۱۸۳۸ز کال د انګرېز ښکېلاګر و له خوا په باقاعده ډول د پیل شوي زور زیاتوب په وړاندې د پښتون وجود په هره برخه کې څه ناڅه غبرګون و ښوول شو او تر ۱۸۷۸ز کال پورې له تاوده سنګرونو څخه د دښمن بریدونه او تهاجمونه په کلکه او مېړانه ځواب کړل شول...

په ۱۸۴۶ز کال د ښکېلاګر دښمن له خوا د بنو تر نیولو وروسته په پښتنو قبایلو کې د غبرګون ځوړه نوره هم تانده شوه او د وزیرستان د خلکو په را پورته کېدلو او مقاومت کې د مستر ډالن پوځي مشر په ملتیا په زرګونو پوځیان مړه او د پښتنو نژدې یو سل او پنځه څلوېښت کورونه و نړول شول، چې وروسته همدغه توده مبارزه تر ۱۹۴۶ز پورې په پرله پسې توګه ساتل شوې ده، چې پر پښتني وطن نژدې سل جګړې تر سره شوي دي.

په ۱۸۵۲ز کال د کرمي جګړه هم پښتنو په ډېره مېړانه تر سره کړه او په ۱۸۵۳ز کال د ختکو د بهادر خېلو د مالګي پر درنګونو (کانونو) باندې د ځېښناګر او ښکېلاګر دښمن له خوا د نیولو په نیت بریدونه پیل شول، چې په نولس ورځې پرله پسې جګړه کې پښتنو په مېړانه خپله شتمني و ساتله او دښمن ته يې کلک ځواب ورکړ.

په ۱۸۵۹ز کال مېچن پرنګی و وژل شو، چې په غبرګون کې د دښمن له خوا د پښتنو نژدې څلور زره کورونه تالا ترغه شول، خو مقاومت يې بیا هم بریاته ورسېدی...

په همدې لړ کې د مبارزینو یو مخکښ مشر د سوات عبدالغفور وو، (چې په سوات صاحب او د سوات په اخوند نومورې وو) په ۱۲۱۳هـ ق-

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۷۹۴ کي زېږېدلی او په ۱۸۶۳ ز کال یې د امبېلې په جګړه کي له ځبېښاکګرو او ښکېلاکګرو انګرېزانو سره جګړه تر سره کړې ده.
په ۱۸۶۳ ز کال له مردان څخه په آزادو قبایلو باندي بریدونه پیل شول، چي د مخنیوي لپاره یې د بونېر د خلکو په ملاتړ د سیدو شریف د نومیالي مجاهد بابا په مشري کي د سوات پښتانه د امبېلې جګړه ایز ډګر ته و رسېدل، د دیر او باجوړ پښتنو هم په پیاوړي هوډ د بونېر پر پوله باندي په ملکا ـ نومي ځای کي د دښمن د مخنیوي لپاره ډېرې واچولې او د مردان د سیمي چارغولي عجب خان ایسپزي هم په سودم کي پر ښکېلاکګر دښمن بریدونه کول، چي وروسته یې په توده چینه کي له دښمن سره په جګړه کي ژوند له لاسه ورکړی.
د ټانک د ۱۸۷۹ ز کال. د واڼه د ۱۸۹۲ ز کال. د کاڼي ګرم او جندولي د ۱۸۹۴ ز کال او په ۱۳۱۳ هـ ق/ ۱۸۹۶ ز د ټوچي په جګړه کي چي دلته هم نژدې زر کورونه ویجاړ شول او د وینو ولې و بهېدلې. په ۱۸۹۵ ز کال د چترال د مهتر وژنه او بیرته یې د ورور په مهتر ټاکل کېدل او په هم دې کال د جندول عمرا خان غازي د قامي، وطني مینې او احساساتو په استازیتوب ښه په مېړانه مبارزه کړې ده او د همدې ښکېلاکګرو د زیاتوب او تېري په مخکي ولاړ پاته شوی دی، چي د سرتور فقیر (ملا مستان ۱۸۹۷ ز) په مشري کي یې د چکدرې او مالاکنډ د جګړې پر مهال په چترال کي له انګرېز پوځ سره ډغره وهلې او وروسته کابل ته تللی او هم هلته په واصل اباد کي ښخ دی، سید اکبر چي د تیراه د اکاخېلو په ملا نوموړی او د ۱۸۹۷ ز کال د جګړې په مخکښانو کي وو. ملا پوونده هم هغه پیاوړی توریالی وو، چي د ډیورنډ د معاهدې پر مهال یې جګړه ایزه مبارزه کړې او د انګرېز پوځ په مخکي په کلکه درېدلی دی.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په ۱۹۰۸ز کال د خیبر او تاتړې د غازیانو او مخکښانو په ډله کې ملتان خان زخه خپل اپریدي د پرنګي په ضد په تیراکي یوه ډله جوړه کړه او په اندر شهر بازار پېښور او بالا حصار کې یې پر انګرېزانو خوب حرام کړی وو او هغوی یې له اندېښنې سره مخامخ کړي وو، د روس کېپل پرنګي پر غوښتنه سربېره یې سوله و نه کړه، خو د خپل ملګري او د انګرېز په ټګي او شومه هیله غولېدلي "شېر غلام" په چغل/ مخبري پېښور ته نژدې په سورېز خوړ کې له ملګرو سره تپې او و نیول شو.

د مبارزو په دې بهیر کې یو او نیم بل هم د شېر غلام غوندې پاته شوي دي، چا چې په ګوډاګیتوب د خپلو پښې وهلي او د پردیو لپاره یې په شومه هیله کار کړی دی، یو او نیم یې د مبارزې پر مهال پېژندل شوي او یو و نیم وروسته هم پښتنو ته څرګند شوي دي.

د ترنګزو حاجي صاحب (فضل واحد) په ۱۹۱۹ز کال کې د ځېبنښاګګر انګرېز له تر لاس لاندې سیمې څخه د خپلو ستړو مشرانو ملګرو په سلا له نومورو مخورو ملګرو فضل محمود مخفي، مولوي فضل ربي، مولانا تاج محمد، مولانا سیف الرحمن الکوزي او مولوي عبدالعزیز په مشري کې د بونېر پولو ته تللي او د انګرېز د مخنیوي لپاره یې جګړه ایزي چارې تر سره کړې دي، چې په ۱۹۱۴ز کال یې د بونېر د چملې په جګړه کې "چې د امبېلې/ سرکاوي د کنډو جګړه وه" پرله پسې اووه ویشت ورځې جګړه کړې ده.

سنډاکی بابا په ۱۹۱۶ز کې د چکدرې/ سوات/ مالاکنډ په جګړو کې له انګرېزانو سره جګړه تر سره کړې ده او د کاټ کلې پر کنډو یې دښمن ته ماته ورکړه.

دالینګار فقیر پر آګره باندې د اتمانخېلو د لښکر په ملتیا له ځېبنښاګګرو انګرېزانو سره جګړه کړې ده.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په ۱۹۱۹ز کال مغل کوټ محاصره شو، ملا محمود اخندزاده هم په ۱۹۱۹ز کال د بنکېلاکګرو په ضد و درېدی او د ملګرو په ملتیا یې کلکه جګړه تر سره کړه. په ۱۲۹۹هـ ل ۱۹۲۰ز کال د توچي او اپوزي په جګړو کي... په ۱۳۱۹هـق کال د مېزر جګړه او د سید امیر سالارزي "چي د بابړي په ملا یادېدی" (بابړه د چارمنګ سیمي یو کلی دی) د مومندو او باجوړ په غزاګانو کي یې پوره برخه لرلې ده او په ۱۳۴۱هـق کي مړ دی.

په ۱۹۲۱ز کال انګرېز د غلام حیدرخان اپریدي پر کلي او کورنۍ برید وکړ، چي زوی عجب خان اپریدي (۱۲۴۵ل زوکړی- ۱۳۴۰ل مړ) خپله کډه د محمود اخندزاده په مرسته له اخور درې څخه بري تیراه ته یووړ له او پخپله د بدل اخستلو ته ولاړ او پر کور باندي یې د انګرېز له خوا د تر سره شوي برید په بدل په توده مبارزه تر سره کولو د بروس انګرېز پر کور برید وکړ، چي بروس له کوره و تښتېدی، خو مېرمن یې عجب خان یووړ له او د پښتون مبارزې برم او پت یې داسي و ساته، چي د تیراه غرونه او انګرېز یې دواړه شاهدان دي او پښتنو د پټپالني داسي لوی شمېر لاسوندونه او ثبوتونه وړاندي کړي دي، چي دنیا یې منې.

ه ۲۲- ۱۹۲۱ز کلونو کي ملا رزاق اندړ وزیرستان ته ولاړی او هلته یې د دښمن په وړاندي مقاومت پیل کړ.

د بابړي د ملا صاحب مشر زوی محمد یوسف "چي په ګل صاحب نومورې وو" د باجوړ او مومندو پر غزاګانو سربېره یې د ۱۹۳۰ز کال په نومورې غزا کي پوره برخه لرلې ده او د کړېې/ نهاکي او کنداو په غزاوو کي هم پاته شوی دی.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په ۱۹۲۱ز کال د انجمن اصلاح الافاغنه ټولنه جوړه شوه، زرګونه ځوانان یې مله شول، چه په اولس کې یې د ملي روزنې او ذهنې ویښتابه لپاره ګټوري چاري تر سره کړې..

په ۱۹۲۷ز کال کې د انګرېز ځبېښاکګرو او بنکېلاکګرو په ضد د صنوبر حسین کاکاجي په مشري کې د انجمن زمیندار په نوم ټولنه جوړه شوه، چې د سیاسي غورځنګ مرستیاله جوته شوه.

په ۱۹۲۹ز کال په اتمانزو کې د ځلمو جرګه جوړه شوه، چې د همدې کال د نهمي میاشتي په لومړۍ نېټه د ستر مخکښ عبدالغفار خان (باچاخان) په وینا پرانستل شوه او د خدایي خدمتګارو تحریک په ۱۹۲۹ز کال د نوموړي مخکښ باچاخان په مشري کې له اتمانزو څخه پیل وکړ، د ۱۹۴۰ز کال په اوومه میاشت کې د چارسدې په ګل بېله نومې ځای کې د سیند پر غاړه د سردریاب په نوم د خدایي خدمتګارانو ډېره جوړه شوه، چې همدغه ځای د اولسي سمونچارو لپاره د خدایي خدمتګارو د اولسي ناستو/ جلسو مرکز پاته شو...

د ټوچي سیمې د اپې کلي فقیر (مرزا علي خان وزیر) چې په خپله پوهه او هوډ یې د شا او خوا سیمې د اولسونو په ملاتړ و انګرېز بنکېلاکګرو او د هغوی و ځیناستو ته وطن اور کړی وو او خپلې جګړه ایزې هڅې یې تر سره کړلې، چې شپاړس کاله یې د مقاومت او مزاحمت ډګر تود و ساتلای شو.

پر پورتنیو یادو شوو جګړو، پېښو، زیاتوب او تېرې سربېره په بنو کې د ایشرواټ انګرېز له خوا د مولانا فضل قادر او نورو دوه سوه پښتنو وژل او دلوی شمېر کورونو نړولو په څنګ کې د اکبر پورې (۱۹۲۱ز) زور زیاتوب. د قصه خوانی (۱۹۳۰ز) زور زیاتوب. د مهابن (۱۹۳۰ز) زور زیاتوب. د تکر (۱۹۳۰ز) زور زیاتوب. د اتمانزو (۱۹۳۱ز) زور زیاتوب

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د نړیوالو او انساني فکر پالونکو لپاره د بنکېلاکګرو او ځپښناکګرود زور زیاتوب او ظلم هغه نه هېرېدونکي نښاني دي، چې د پښتنو په تاریخ او زړونو کې به تل تر تله ثبت پاته وي.

د مرکزي او منځني پښتونستان د مبارزینو په څنګ کې د جنوبي پښتونستان مېړنیو هم له بنکېلاکګر دښمن انګرېز سره په توده مبارزه کې پوره برخه لرلې او د پښتنو د قامي مېړانې په روایت ساتلو سره یې خپله مېړانه د تاریخ په پاڼو کې خوندي کړې ده، چې د ځینو مخورو مخکښانو یادونه به یې دلته وکړل شي، چا چې د اولسونو په ملاتړ په دې توده او وسله واله مبارزه کې پوره برخه اخستې او د سرونو په بلهارلو (قرباني) یې تر خپله وسه او ژونده پورې د وطن او خپلواکۍ ساتنه تر سره کړې ده او د بنکېلاکګرو په وړاندې یې د مقاومت او مزاحمت ذهن او زړه لرلی دی. د مبارزې په دې لاره کې ډېرو وطن پالو د بنکېلاکګرو په وړاندې د اولسونو د وینښتابه په تور یا جرم زندانونه ګاللي دي او آن تر دې چې د دښمن د زور زیاتوب، ځورونو او کړاوونو له جوړي په زندانونو کې په ډېره ناترسي وژل شوي هم دي، خو بیا یې هم ملاتړ کوونکو او لاره پالونکو د خپلواکۍ د ساتلو په مینه او مرام خپله لاره په ډېره مېړانه پاللې او ساتلې ده.

شاهجهان جوګیزی وو، چې پر وطن باندې یې د انګرېز بنکېلاکګرود مخنیوي لپاره جګړه ایزه لاره غوره کړه او په دې لاره کې یې د ګڼ شمېر ملګرو په ملتیا په مېړانه مبارزه تر سره کړه او د کځ احمدون او سپېره راغه پر جګړو سربېره یې په بغاوه کې د غورټ اتمانخېل او واصل کدېزي په ملتیا جګړه تر سره کړې ده او هم یې په نورو جګړو کې برخه اخستې ده، د نوموړي ملګري فیض محمد پانیزي هم په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۸۷۹ز کال کې په زرغونه غره کې د انګرېز بنکېلاکګرو لاره و نیوله او د ملګرو په ملاتړ یې د کېپټن شاورز په ملتیا سپاهیان و وژل.

حمزه دولت زي هم د ځینو مخورو ملګرو په ملتیا په سره تنګي کې د انګرېز بنکېلاکګر لښکر مخه نیولې او له هغوی سره یې د پښتانه لښکر په ملتیا په مېړانه جګړه تر سره کړې ده.

د مغلو په دوره کې له خوست څخه بوري ته د راغلي کورنۍ نومیالی مبارز سید پالې شاه خوستی (۱۹۴۹ز مړ/ بوری) وو، چې په وسله واله مبارزه کې یې نهه نوم لرلی او په ژوب/ سلیزه او نورو ځایونو کې یې له انګرېز بنکېلاکګرو سره په پوره مېړانه مبارزه کړې ده او هغوی یې پر ځان حیران کړي دي، له نوموړي سره په دې جګړه ایزه مبارزه کې د لوی شمېر وطنوالو مبارزینو په ګډون خپل ورور سید کټا شاه خوستي، سید باز خان، سید رحمت شاه، صوبا خان او خپل زوی شین ګل شاه خوستی هم ملګري او ملاتړ پاته شوي دي، نوموړی په مانګ نیکه هدیره سنځاوی کې ښخ دی.

سردار شېرجان جوګیزی هم له هغو سرتېرو مبارزینو څخه دی، چې د بنکېلاکګرو په مخکې یې خپله مېړانه څرګنده کړې او په رونا ورځ یې تر خپل سر په تېرېدلو سره پولټیکل ایجنټ په خپل دفتر کې و واژه، پر دې سربېره یې نوري جګړه ایزي چاري هم د خپلوانو او فکري ملګرو په ملاتړ تر سره کړي دي، چې وروسته د دښمن له خوا نیول شوی او په دار شوی دی، نوموړی د پښین شادیزیو سیدانو په هدیره کې ښخ دی.

سردار دوست محمد جوګیزی او سردار بنګل خان پلار او زوی وو، چې د سردار سلطان محمد خان اودلازیي (عبدالله زیي) او ګلباران جوګیزي په ملګرتیا او هم یې ځانله ځانله مبارزې تر سره کړي دي، د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بابښې جګړه. د کنې مرغې جګړه. د تاني شپې جګړه او پر شینکی تانه یې له ښکېلاکګرو انګرېزانو سره په پوره مېړانه د جګړې ډګر تود ساتلی او ګټلی وو. سنزر موسی خېل، ګلان او بادرو (بهادر) یاسینزی هم د تودې جګړې په لړ کې د نامه څښتنان دي او دوی هم د انګرېز په ضد جګړه لاس پورې کړې وو.

دولت حمزه زی نوموړی غازي دی، چې د انګرېزانو سره یې مخ په مخ او لاس په لاس د جګړې زړه لرلی دی او هغوی ته یې د خپل زیاتوب او تېرې کولو احساس ورکړی دی.

بختنامه کاکړه هم له خپلو مېړنیو وروڼو سره په مبارزه کې درېدلې او د انګرېز په ملتیا یې یو سکهـ هم پخپله توپنکچه په نخښه کړې او وژلې دي، چې وروسته تر مچ زندانه پورې رسېدلې او **خان شهید** یې د مین میرا جان په ملتیا احساسات پاروونکې کیسه لیکلې ده.

عبدالله مرانې، نیاز محمد مرانې، مشو مرانې، ښکاري مرانې، مرتضی مرانې او لنډک شېرانې/ مرانې هم د جګړه ایزي مبارزې په لاره کې له انګرېز ښکېلاکګرو سره پوره په مېړانه ډغره وهلې ده او د ژوب د پولټیکل ایجنټ پېنس انګرېز په وژلو سره یې ښکېلاکګر له ژورو اند ښښنو سره مخامخ کړي وو، وروسته په نیولو سره د انګرېز له خوا په سزا و رسول شو.

سهاک باتوزی، ګلاب ونېځی او میاداد مخانی هم د دې لارې پلویان او په مبارزه کې د ښه نامه څښتنان دي.

سردار حسن کېزیي هم له انګریزانو سره جګړه کړې ده او د مبارزینو په لړ کې ځای لري.

ساوڼ موساخېل هم ښکېلاکګر انګرېزان پر دې وطن و کراره ته نه دي پرې اېښي او د مبارزې په دې لاره کې یې د انګرېزانو وینې بهېولې آن

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې د دښمن له خوا په نیولو تر داره و رسېدی او د فیض محمد غازي په څېر یې مړی و سوځل شو، چې ایرې یې په بولان دره کې خاورو ته وسپارل شوې.

یارو کاکړ هم له انګرېزانو سره جګړه ایزه مبارزه تر سره کړې ده او په دې لاره کې د پوره نوم څښتن دی او همداسې په دې مبارزه کې مبارز حاجي او فتح خان ښه پوره نومیالي دي، چې د بوري په بازار او شا او خوا کې یې له انګرېزانو سره جګړې تر سره کړې دي.

سردار ندر حمزه زیي او زوی سردار بلوڅ خان یې له ورونو سردار وزیر، سکندر خان، حیات خان، ښادي خان او لال خان یې د مېختر / کړاوغره او وهاري په جګړو کې پوره مېړانه ښکاره کړې ده، چې وروسته د یوې جګړې پر مهال نیول شوي او زندانونه یې هم ګالي دي او د بلوڅ خان مړی د کندهار په معروف اولسوالۍ کې خاورو ته سپارل شوی دی، همدغه ډول ملک باران کډېزی وو، چې له انګرېزانو سره یې جګړه تر سره کړې ده.

جانان حمزه زیي هم په بوري او ژوب سیمو کې په پوره مېړانه جګړه تر سره کړې ده، چې د سېبت او بوري جګړې یې ډېري نومورې دي.

ارسلا خان اتمانخېل په دې لړ کې ډېر نومورې او له انګرېزانو سره یې ډېري جګړې تر سره کړي دي او په همدې لاره کې یې سر بایللی او د شهادت لوړه درجه یې په برخه شوې ده.

سردار باز خان موسا خېل هم د مبارزینو د لړ نومورې دی او په جګړو کې یې برخه لرلې ده.

د مبارزینو په دې لړ کې ژړک خان چرمی دی، چې د جګړه ایزه مبارزې په تاریخ کې ډېر نوم لري او ډېري جګړې یې له انګرېزانو سره تر سره کړي دي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د بوري او دکې په څنډو کې نژدې بلوڅانو وروڼو هم په دې جګړه ایزه مبارزه کې خپله برخه مېړانه ترسره کړې او لوی شمېر مېړنې یې په شهادت رسېدلي دي، خو و ټاکلې سکالو ته یې یوازې پر یادونه باندې بسنه کوو، چې د جنوبي پښتونستان د لوېدیزې برخې بنوراوک، کوټې او پښین په څنډو کې هم د بلوڅانو وروڼو مبارزه د پوره یادونې وړ ده، خو د پښتنو په برخه کې د ایکلزیو جګړه ډېره نومورې ده، چې پر سنګر نومي ځای د جنرل انګلېنډ و بنکېلاکګر لښکر ته پښتنو مېړنیو د صادق خان درانې په مشرۍ کې د مدت خان غبیزې، قادرخان لالا، رحمدل خان ترین، شاهسوار خان بټې زی، میټاخان بټې زی، یحیاخان ترین، باران خان ایکل زی، نصرالله خان ایکل زی، منصور خان خویدادزی، ماسم خدایدادزی، دلاور خان او د کربلاد سیفل رنګه مخورو په ملاتړ او مرسته غابنې ماتې ځواب ورکړی دی او دښمن یې شا ته تمبولی دی. په دې یاده جګړه کې د بنوراوک د برېڅانو او شا او خوا پښتنو پر ملاتړ سربېره د مرزا خان کاکړ په مشرۍ کې مرستیال راتګ هم د یادونې وړ دی.

د پښتنو په منځ کې تر کرښه راکښلو ۱۸۹۳ز کال وروسته د پښتنو غبرګون ډېر توند او د لیدلو وو، چې ډېرو مېړنیو د انګرېز بنکېلاکګرو په وړاندې د توري توپک په اخستلو خپل توند غبرګون و ښود، په یادو مېړنیو کې فیض محمد غازي دښمن انګرېز له دومره ژورو اندېښنو سره مخامخ کړی وو، چې په مرګ یې د مړي تر سوځلو وروسته ایله د انګرېز زړه پر ځای او کرار شو، نومورې و دښمن ته تر ډېرو تاوانونو رسولو وروسته په ۱۸۹۵ز کال د لاسپوڅو پښتنو په مرسته و نیول شو او سوځلی جسد یې د پښتون شاعر شیخ فرید (۱۰۰۰هـق) د زیارت په څنګ کې خاورو ته وسپارل شو، د مبارزینو په دې لړ کې د نومورې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مبارز شجاع احمد خپل نوم هم د هېرولو نه دی او همداسې د دې سیمې ګوډ نظر محمد، سید میر علي شاه بنادیزی، محمد انور خان حمیدزی، زقوم خان بادین زی، ملاباران کاکوزی، ندر (نادر) برښوری او نور د یادونې وړ او د نه هېرولو دي.

د بېلتانه د کربنې په مخکې د بنوراوک د سمند خان برېښې او ملګرو د تودې مبارزې یادونه هم په بنو تکو سره په کار ده...

څرګنده دي وي، چې په دې لړ کې د ډېرو نومورکو مبارزینو لپاره یوازې او یوازې د نور تکی کارول شوی دی، خو دا زموږ کمزورې او له پوهې څخه په ټولیزه توګه لېریوالی دی، چې په پوره توګه مو د قامي او وطني مبارزینو مېړانې او نومونه نه دي ثبت شوي او نه مو مخکینیو دې اړخ ته د خوندي ساتلو داسې پاملرنه کړې ده.

ډېره لویه جفا او ستره بې پامي به وي، چې د مبارزې په دې لړ کې د پښتنو مېرمنو مانا بښځینه برخې یادونه و نه کړل شي، که څه هم لا ړ یې ډېر اوږد او په دې یاده دوره کې د میوند له ملالي څخه تر ماموندې تروریې او بختنامې پورې په زرګونو پېښلي او مېرمني تېرې شوي دي، چې په هر اړخیزه مبارزه کې یې خپله برخه په پوره مېړانه او باتورې سره تر سره کړې ده، خو دا چې پښتنې چاپېریال او ټولنیز ذهن او زړه دومره نه دي کړې، چې د مېړانې له یادولو سره یې د هغوی نومونه هم خوندي کړي او ساتلي وای، دلته یې یوازې او یوازې پر یادولو بسنه کوو او د مېرمنو د مېړانې داسې ډېرې کیسې لرو، چې د اولسونو په خولو کې ژوندۍ او په پښتنې ناستو کې کېږي، چې څوک به یې پر خپل وار را ټولې کړي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دا خبره هم د یادولو وړ ده، چې د پورتنیو لوی شمېر مبارزینو یادونې پر کتابونو سربېره د اولس په ناستو او یا هم د اولسي ادب برخه دي او په ځانګړې ډول یې د اولسي ادب په غاړو او نورو ژانرونو کې یادونې شته.

"پاموړ ده، چې د پورتنیو مبارزو د یادونې په لړ کې د ۱۳۵۱ل د خپلواکۍ ترون پر ۱۴۹/ ۱۵۹ مخونو سربېره "د **خان شهید** ژوند لیک" "زموږ غازیان او شهیدان" "پښتونستان" "افغانستان د ساړه جنګ په لمبو کې" او څه نور مواد هم تر نظر تېر شوي او پلټل شوي دي."

هېره دي نه وي، چې تر انګرېز په را وروسته دوره کې هم په دې یادو سیمو کې د تودې مبارزې لړۍ پاته شوې او تر سره شوې ده، چې د نوموړي محمد ایوب خان اڅکزي په مخکښي او مشري کې د همدې مبارزې لپاره سلګونه پښتانه غرونو ته و ختل او په اځکزۍ توبه کې یې په پرله پسې توګه د تودې مبارزې په څنګ کې د پښتون/ افغان تشخص ساتنې د روانو سیاسي بهیرونو د سیاسي مبارزې ملاتړ کاوه.

د ټولنیز سیاسي مرام تر لاسه کولو لپاره و غرونو ته د ختلو همدغه لړۍ د خیبر پښتونخوا او سوهېلي پښتونخوا د سیاسي سازمانونو او بهیرونو مخورو ځوانانو هم و غرونو ته په ختلو ساتلې ده، چې لوی شمېر ځوانانو دغه مبارزه د خپلو کورونو، خپلوانو، اسانتیاوو او نورو ژوندنیو کارونو په پرېښوولو سره په ډېرو کړاوونو ګالو ترسره کړې ده.

د یادونې وړ ده، چې د سوهېلي پښتونخوا د سیمې د ځوانانو مشري بناغلي بسم الله خان کاکړ، نور محمد اځکزي او نور د مخورو کولې او خیبر پښتونخوا مشري اعظم خان هوتي او نور د **ملګرو کوله**.

داسي لوی شمېر مبارزینو "چې شمېر یې په **ټول** پښتنه وطن کې زرګونو ته رسېږي" د بنکېلاکګرو په وړاندې کله په خپل سر او کله د همفکرو او سنګرې ملګرو په ملتیا د خپل وطن د بېرغ او خپلواکۍ لاره

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په مېړانه او سر ورکولو ساتلې ده، چې د تولو ښکاره مبارزینو نومونه راوړل تر وس تېره خبره ده.

د مبارزې جګړې د دغه بهیر شالید ګډوډ ځارل شي، نو پېړۍ پېړۍ زمانې یې په بر کې نیولي او خوړلي دي، ښځې له ډېره وخته د دې وطن او هېواد اولسونه د ځپښناک او ښکېلاک په نظر او لومو کې پاته شوي دي، له سکندر څخه نیولې تر مغلو پورې یو شمېر بریدونه، زیاتوب او تهاجمونه دې وطن لیدلي او هم زغملي دي. د دې وطن اوسېدونکي کله د درانې او غلجي (غرزي) کله د قبیلو او څانګو په نومونو وېشل شوي او د دښمن په مخکې یې زور اوبه شوی دی او دغه وېش په ښه پوره توګه د هند د ګورګانیانو او د ایران د صفویانو له خوا په شعوري توګه پالل شوی دی، "چې ګورګانیانو به غلجي / غرزي پر ملا تکول او صفویانو به د درانیو ملاتړ کاوه" کله یې بیا کورنۍ ژړا کوسیان د ځانې ګټو لپاره په لمسون او ګودا ګیتوب د دښمن په ملاتړ درېدلي دي او د خپل ورور پر غاړه یې چاړه ایښې او ستر ګې یې ځنې ایستلي دي، کله یې بیا دښمنانو لاس سره یو کړی او په ملتیا او ملګرتیا یې پښتانه / افغانان پر منځ ځله دوه ځایه کړي دي، چې په ماتېدلو او تېت او پرک ساتلو کې یې مرام د خپلو ګټو تر لاسه کول او هم د پښتنو له برم او غېرګون څخه د ځانونو خوندي ساتل وو، ولې چې هغو د پښتنو تر سره کړی تاریخ په نظر کې ساتلی او تېرې کیسې یې نه دي هېرې کړې.

د یادې شوې تودې مبارزې د چاپېریال له کبله که څه هم د اولسونو د غېرګون او مقاومت بهیر ورځ په ورځ ګړندی کېدی او مخ پر پیاوړتیا وو، خو وروسته د اولسونو دغه یادو شوو بهیرونو د زمان په غېږ کې د ذهنیت له غوړېدا او پرمختګ سره سم د تودې او جګړه ایزې مبارزې پر ځای د سړې یا جمهوري / پارلیماني مبارزې لاره درک کړه او د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جرګو/ مرکو له خپل مخني تاریخ او د دنیا له پرمختګ کوونکي چاپېریال څخه یې په تومنه اخستلو د پېیل شوو (منظمو) سیاسي غورځنګونو لاره خپله کړه، له نورو قامونو سره په ملتیا یې و سیاسي هلوځلو تر سره کولو ته ذهن او زړه ښه کړ او د نولسمي پېړۍ په پیلیزه برخه کي یې غوړېدا او پیاوړتیا ته نوره لاره وو هله. څرګنده دي وي، چي دغه یاد سیاسي بهیر وَ پښتني ټولنه ته په زړه پوري ستر سیاسي کردارونه و لورول، چي نړیوال ارزښت یې په برخه شو او د دې بهیر په سر لارو کي یاد کردار (چي د سیاسي بهیر لاره یې په خپله پوهه او مقاومت سره و غوړوله او تلپاتی نوم یې په برخه شو) **خان شهید** (عبدالصمد خان) دی، چي دغه لیکنه ورته ځانګړې شوې ده.

د **خان شهید** د تر سره شوي سیاسي مبارزې په شالید کي د تودې مبارزې د بهیر تر وړاندي کولو وروسته به اوس د یادي مبارزې په شالید کي د مطبوعاتي مبارزې بهیر وړاندي کړو...

د خان شهید (عبدالصمد خان) د سیاسي مبارزې په شالید (پس منظر) کي مطبوعاتي مبارزه

د ښکېلاکګر دښمن انګرېز له خوا پر پښتون وطن باندي د بلوسپدلو یا زور زیاتوب له لارې د پښتنو د خپلواکۍ لاندي کولو او خپلو ګټو ته د رسېدلو لپاره چي څومره هلي ځلي تر سره شوي دي، اټکل او اندازه یې د خپل وطن او خپلواکۍ د ساتني لپاره د پښتنو د پورته وړاندي کړل شوي تودې مبارزې او بلهاریو (قربانیو) څخه کېدلای شي.

ښکېلاکګر دښمن انګرېز د وسله والو بریدونو په څنګ کي نوري لارې چارې او وسیلې په کار اچولي وې، چي د وسله والي جګړې او زور زیاتوب په څنګ کي د پښتنو د ماتولو لپاره د "ببل یې کړه؛ اېل یې کړه" لاره هم غوره کړې او خپله کړې وه، چي د پښتنو تر منځ یې د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بیلتانه ساتلو لپاره د هغوی له کمزورو/ ناموزه اړخونو څخه په ګټه اخستلو ترڅه بریده بریا هم تر لاسه کړې وه، خو پر دې سربیره یې یوه بله زوروره وسیله مطبوعات هم د پروپاګند لپاره په کار اچولي وو، چې تر ډیره وخته پورې پښتانه ورسره نااشنا او نابلده وو، خو هغوی له دې وسیلې څخه په کار اخستلو ډیري ژوري ریښې اچولي وې او ځینې اډاړې یې هم جوړې کړې وې، چې په ښکاره یې د ټولنیزې ودانۍ لپاره د هڅو بڼه درلوده، خو په پټه یې د خپلو مرامونو لپاره کار کاوه.

مور غواړو؛ د مطبوعاتو په دې لړ کې د دښمن د تبلیغاتو په وړاندې چې پښتنو او پښتون وطن مېشتو څومره هلې ځلې په ځومره کړاو تر سره کړې دي" هغه هم د لوستونکو په مخ کې وړاندې کړو.

د مطبوعاتي مبارزې په لړ کې غواړو، چې هم هغه د تودې مبارزې د وړاندې کولو لاره و پالو او لومړی د مرکزي پښتونستان (اوسنۍ خیبر پښتونخوا) بیا د منځنۍ او آزاد پښتونستان (آزاد قبایل) او ورپسې د سوهبلې پښتونستان (اوس د بلوچستان برخه) مطبوعاتي مبارزه وړاندې کړو، چې لوستونکي ذهن ته د مبارزې په لړ کې د **خان شهید** د سیاسي مبارزې شالید په ښه ډول څرګند روښانه شي.

هېره دې نه وي، چې د وطن مېشتو له خوا د وړاندې کېدونکو مطبوعاتو په بهیر کې سیاسي او ادبي هلو ځلو ښه پوره، کره او سیاله برخه لرلې ده، چې د پښتون تشخص ساتنې په څنګ کې یې پښتو ته هم په زړه پورې چوپړ او خدمتونه تر سره کړي دي.

لومړی به هڅه وکړو، چې په مرکزي پښتونستان (اوسنۍ خیبر پښتونخوا) کې تر سره شوي مطبوعاتي هلې ځلې وړاندې کړو او په دې لاره کې دا څرګندونه او سپیناوی هم اړین (ضرور) دی، چې تر خپلې وسې پورې به ښکاره او خوندي شوي هڅې وړاندې کړل شي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"افغان" د پښتو اووه ورځنۍ جریده وه، چې په ۱۹۱۰ز کال په پیښور کې پیل شوه، ادبي، کلتوري او سیاسي رنګ یې خپل کړی وو او لومړی مدیر یې راحت زاخېل وو. "شانِ افغان" دا په ۱۲-۱۹۱۱ز کلونو کې سمونپال، دینپال او تولنیز اخبار وو. پخپل مرګ و مړ.

"افغان" دا هم اووه ورځنۍ جریده وه، چې په ۱۹۲۴ز کښې له مردانه څخه د میا آزاد ګل کاکاخېل په ادارت را ووتله.

"همدرد افغان" په پښتو ژبه په ۱۹۲۷ز کښې را ووت، چې خانمیر هلالي یې چلوونکی وو، د نومورې په مشري او مدیریت کې "خیبر" (۱۹۳۱ز) "آزاد پښتون (مجله) "زلمی پښتون (۱۹۳۵) "ربښتینی خدایي خدمتګار (۱۹۳۶) "جمهوریت (۱۹۳۲- ۱۹۶۱)" هم راوتلي دي. د مبارزې په دې لړ کې درنه برخه لرونکې پښتون مجله په ۱۹۲۸ز کې د **باچا خان** له خوا تاسیس شوه، چې لومړی په اتمانزو او بیا په سردریاب کې خپرېدله. "نوجوان افغان" په ۱۹۳۰ کې پیل شوې اوونیزه جریده وه، چې مدیر یې تاج محمد طاهرخېل وو. "نوجوان سرحد" (۲۸-۱۹۲۷ز) او "مظلوم دنیا" (۱۹۳۸ز) چلوونکی یې عبدالرحمن ریا روهیله افغان وو. "آزاد" (۱۹۳۶ز) او "کامریډ" (۱۹۳۸ز) د ولي محمد توپان په مشري کې "سرفروش" (۱۹۳۰ز) چې مشر یې مولانا عبدالرحیم پوپلزی او چلوونکی یې عبدالله خنجر وو. "سیلاب" (۱۹۳۰ز) او "اسلم" (۴۹-۱۹۴۸ز) میاشتنۍ مجله د اروابنساد صنوبر حسین کاکاجي په مشري کې. "انګار" (۱۹۳۰ز) د نومورې ادیب امیر نواز جلیا په مشري کې. "وطن" (۱۹۳۷ز) چې نومورې ادیب محمد نواز ختک یې چلوونکی وو. "سرخپوش" (۱۹۴۰ز) چلوونکی یې چیلارام او مرستیال یې ژبپوه حسین بخش کوثر غوریاخېل وو.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"رهبر" (۱۹۳۶ز) محمد صفدر صادق تاسیس کړ. "پښتو" (۱۹۵۵ز) میاشتنۍ مجله د میر مهدي شاه مهدي په مشري کې "پښتو" اخبار چلوونکی یې ولي محمد توپان وو او یو کال و چلېده. "لار" (۱۹۵۵ز) میاشتنۍ مجله چې څښتن یې مظفر خان ظفر وو او چلوونکي یې قلندر مومند، ولي محمد توپان او مهدي شاه مهدي پاته شوي دي. "ننګیالی" (۱۹۵۵- ۵۹) میاشتنۍ مجله وه او چلوونکی یې اشرف درانی وو. "دوران" (۱۹۵۷ز) مجله چلوونکی یې همېش ګل همېش وو. "غونچه" (۱۹۵۸ز) اوونیزه مجله وه، چلوونکی یې ولي محمد توپان وو. "بانګ حرم" (۱۹۵۷ز) لومړی اوونیزه مجله او وروسته ورځپانه شوه، چلوونکی یې ماسټر خانګل خلیل وو او داسي لوی شمېر نوري مجلې/ جریدې او ورځپاڼي وې، چې په دې دوره کې یې په خپلو خپروونو کې د ټولنې استازیتوب په مېرانه ترسره کړی دی او داسي یو شمېر نوري هڅې...

اوس به د منځنۍ یاآزاد پښتونستان هغه مطبوعاتي هڅې هم وړاندې کړو، چې په دېر زیار او کړاو ترسره شوي دي، کله په لاسي تایپ، کله په ډبرین یا سنګي تایپ او کله بیا د مشین له لارې ترسره شوي دي، چې لږ یې داسي دی. "المجاهد" (۲۵-۱۹۲۴ز) پنځلس ورځنی اردو او فارسي اخبار وو، چې د محمد شعیب په مشري خپرېدی. "شعله" (۳۲-۱۹۳۱ز) په لاسي پریس (مطبعه) چاپېدونکی اخبار وو، چلوونکی یې صنوبر حسین کاکاجي وو، چې په دې وخت کې په خپل تاتوبي پرېښوولو سره د مومندو په غازي اباد کې له حاجي صاحب ترنګزو سره مېشت وو.

"المجاهد" (۳۵-۱۹۳۰ز) اخبار وو، چې د مولانا نجم الدین هډې صاحب په ډېره کې مېشتو هغو کډوالو "چې د انګرېز تر لاس لاندې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سیمو څخه تللي وو او په سنګي یا ډبرینه چاپه خانه یې دا کار کاوه" له خوا یې په مبارزه کې پوره برخه لرلې ده.

"آزاد پښتونستان" (۱۹۴۷ز) د محمد شعیب په مشري اوونیز اخبار وو. "لوی پښتون" (۱۹۴۷-۱۳۲۶ل) میاشتنی مجله وه، میراجان سیال یې موسس او په مومندو کې تاسیس شوه.

"پښتونستان" (۱۹۴۸-۱۳۲۷ل) اوونیزه اخبار وو، چلوونکی یې ظهورالدین خان رمضاني مسید وو. "آزاد پښتون" (۱۹۵۲ز) پنځلس ورځنی مجله او د "آزادۍ وړمې" چې چلوونکی یې محمد اعظم اخګزی او مهتمم یې بلال بلوڅ وو" د جنوبي پښتونستان د ملي شورا له خوا پیل شوې او د جنوبي پښتونستان اولس ته ډېره په زړه پوري وه. څرګنده دي وي، چې نوموړي محمد اعظم اخګزي او ملګرو ارباب عبدالقادر کاسي/ ملک اختر محمد کاسي، عبدالباقي خان اخګزي، حیات الله خان اخګزي یې د نوموړي مبارز محمد ایوب خان اخګزي په مشري کې د خپلواکۍ لپاره د وطن په غرنۍ سیمه توبه اخګزۍ کې توغ یا بیرغ و رپاوه او د تودې مبارزې پالونکي وو.

"بولان" (۱۹۵۲ز) اوونیز پښتو اخبار وو، چلوونکی یې سید مصطفی شاه وو. "صداقت" اوونیز اخبار دی، چلوونکی یې علي محمد خان بهتنی وو او د مومندو څخه خپرېدی.

"ځوان بڼغ" هم و غرونو ته ختلو ځوانانو مبارزینو خپره اوه او همداسي نوري څرګندي او ناڅرګندي خپرونې وې، چې د ځېبښناکګرو او ښکېلاکګرو په ضد یې د هغوی د مخنیوي او د وطن د خپلواکۍ لپاره یې په فکري روزنه سره د وینښتابه لپاره خپلې خپرنیزې هڅې تر سره کولې او د خلکو ذهنیت یې ورځ په ورځ روښانه او غوړاوه، باوري ده، چې یادو شوو خپرونو د خپلواکۍ په مبارزه کې لوی لاس لرلی دی.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په جنوبي پښتونستان (سوهبلي پښتونخوا) کې د مطبوعاتي هلو ځلو پیل د **خان شهید** له استقلال اخبار څخه را پیل شوی او بیا دغه لړۍ په ډېرو کړاوونو پالل شوې ده، چې کله په چاپي لاره کې له ستونزو او کړاوونو سره مخ شوې او کله یې د نېستۍ چپلاخي خوړلي دي، خو ډېري ځوروونکي یې د واکمنو له خوا د مخنیوی او بندیزونو څپې وې، چې په شعوري توګه تر سره کېدلې او غوښتل یې، چې د اولس ږغ د هغوی په مړۍ (غاړه) کې خپه کاندي او په داسي توګه یې د خپلو رایو له څرګندوني و ګرځوي، چې د **خان شهید** د لاهور بیان یې په ښه ډول څرګندولای شي...

د مطبوعاتو په اړه د لاهور د لوړ عدالت په مخکې که د **خان شهید** بیان ته په ژورلید سره و کتل شي، نو څرګنده ېږي، چې نوموړي خپله نهیلي او د حقوقو غوښتنه په څومره زړور توب وړاندي کړې او خپل اولسي ږغ یې په څومره مېړانه رسولی دی... په دې لړ کې لیکوال داسي یادونه کوي، چې:

"خان عبدالصمد خان اچکزي د ۱۹۵۶ کال په هغه بیان کښې چې د لاهور په مرافعه محکمې کښې ورکړ، ویلي دي، چې تر ۱۹۳۶ز پورې په ټول بلوچستان کښې یوه چاپخانه نه وه، دا نه چې ګنې چا نه غوښته او د چا ورته پام نه وو؛ بلکې حکومت نه پرېښوده او همدغه وجه وه، چې موږ به د پنجاب په اخبارونو کښې د خپلو خیالاتو د بیانولو لپاره کوشش کاوه." (۷)

څرګنده دي وي، چې په ۱۹۳۵ز کال د کوټې ښار زلزلې داسي ونړاوه، چې له خاورو سره خاوري شو او د ښار په ملتیا په نژدې سیمو کې پنځوس زره انسانان مړه شول، خو د **خان شهید** په اړه د ګلاب نګرهاري تر دې پورتنۍ یادي شوي نېټې مخکې هم په کوټه کې د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چاپه خانو په اړه یادونه شته، خو هغه اولسي چاپه خانه نه وه، بلکې یوازې یې د برتانیې سرکار مواد چاپ کړي دي او د هغو چاپه خانو په اړه د اکټر لیاقت تابان داسي لیکي:

"د گزیټیر آف بلوچستان کوټه پښین (۱۹۰۶ز) سره سم د شلمي عیسوي پیړۍ په پیل کې په کوټه کې دا درې لاندینۍ مطبوعې (چاپه خانې) وې. ۱: وکټوریه پریس ۱۸۸۸ز. ۲: البرټ پریس ۱۸۹۱ز ۳: کرزن پریس ۱۹۰۲ز. دا لومړۍ دوره ته موږ د ژورنالیزم ځلانده دوره نه شو ویلای، ځکه چې دا دورې د خلکو، ژبې او سیمې ارتیاوې سر ته نه دي رسولي او نه په دا دوره کې د پښتو څه آثار خپاره شوي دي." (۸)

خو د اولسي چاپه خانې او د اولس په استازیتوب سره د راوتلي اخبار "استقلال" په اړه "چې **خان شهید** یې موسس او د ۱۹۳۸ز کال په جنوري میاشت کې د سوهېلي پښتونخوا په کوټه ښار کې چاپ او راو واته" نومورۍ لیکوال داسي لیکي:

"د انجمن وطن د حزب ترجمان او اورګان اخبار وو، په بلوچستان کې یې داسي حیثیت لاره، لکه په محکوم مرکزي پښتونستان کښې چې د پښتون مجلې وو، په ۱۹۳۶ز کې تاسیس شو او د آزادۍ په مبارزه کښې یې ډېره زبردسته وظیفه اجرا کړه، د جرم، شمارهٔ ضبطۍ او نورو تکلیفونو ګڼې مرحلې پرې راغلې، ولې ژوندۍ تړې را وووت، چې څو په ۱۹۵۰ز کښې د پاکستان استعماري حکومت د همېشه د پاره بند کړ." (۹)

په پورتنۍ یادونه کې هم د روانباد لیکوال ننګرهاري یادونه پر اټکل ولاړه برېښي، ځکه د دې اخبار په اړه ښاغلی تابان لیکي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"استقلال ورځپانه په جنوري ۱۹۳۸ز کي د **خان شهید** په مشري کي پیل شوه، دا اوونیزه ورځپانه وه، که څه هم استقلال په اردو ژبه وه، خو د پښتو لږ برخه هم په کي شامله وه، دا ورځپاني د هر ژر په ایالت کي نوم یووړی او تر خلکو یې سیاسي او علمي شعور ورسوی." (۱۰)

پام مو وي، چي د اکثر لیاقت تابان ورځپانه توري د اخبار په مانا کارولی دی، ولي چي په لیک کي یې د اخبار په اړه د اوونیزي خبره هم شته.

د څېړني په دنیا کي هر وخت د څه نا څه تېروتنې امکان وي؛ بلکې د انسان په اړه دا خبره جوته ده، چي تېروتلای شي او بیاد نېټه لیک په اړه تېروتنې د هري کېږي، د استقلال اخبار په اړه نوموړی څېړونکی او د **خان شهید** په اړه تر اوسه پوري پېیل شوی او منظم کار کوونکی ښاغلی شوکت ترین د کوټلو شواهدو په رونا کي داسي لیکي:

"ہفت روزہ استقلال کا پہلا شمارہ ۲۰ نومبر ۱۹۳۸ء کو منظر عام پر آیا۔ عبدالقدوس صہبائی اس کے پہلے مدیر تھے۔ اخبار اگرچہ اردو زبان میں تھا، مگر اس میں کچھ حصہ پشتو کے لئے بھی مخصوص تھا، اس کا اداریہ اکثر خان شہید خود لکھتے تھے۔" (۱۱)

په همدې لړ کي "مچ بولان" په (۱۹۴۸ز) کي بند شوی او چلوونکی یې هم د ملګرو په ملتیا بندي شوی دی، اوونیزه اخبار وو، په اردو ژبه خپرېدی، چلوونکی یې بلوڅ ادیب محمد حسین عنقا وو، چي مخ کښي د انجمن وطن حزب مرستیال او بیاد استمان ګل ګوند نایب رمضان بلوڅ وو.

"نوای وطن" او "نوای بولان" چلوونکی یې میر عبدالرحمن کرد وو.

"ماهتاک" میاشتنۍ مجله وه، عبدالواحد آزاد یې چلوونکی وو.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"د جمهوریت بڑغ" د پښتو او پارسي میاشتنۍ او پنځلس ورځنۍ مجله په ۱۹۵۱ز کال د سید محمد میوند په زیار پیل شوې وه.

ورپسې "پښتو" (۱۹۵۳ز) میاشتنۍ مجله وه، چې له کوټې وتله، سرپرست یې کمال خان شیرانی او چلوونکی یې ډاکټر خدایداد وو.

"پیغامِ جدید" (۱۹۵۳ز) اردو اخبار وو، چلوونکی یې عبدالصمد درانی وو، د ورور پښتون ډلې ویاند اورګان وو، سیاسي ارخ یې تاند او په ۱۹۵۵ز کې بند کړل شو.

"بلوچستان جدید" د نواب یوسف علي خان مګسي روزل شوی نسیم تلوي یې چلوونکی وو. "نوای وطن" (۱۹۵۳ز) له کوټې څخه په اردو ژبه چاپېده او چلوونکی یې غلام محمد شاهوانی وو او همداسي "چلتن مستونګ" وو، چې چلوونکي یې ګوَربخش لال او عبدالرحمن غوري ول، چې وروسته پاکستان واکمنو بند کړ.

"ګلستان" (۵۸-۱۹۵۷ز) میاشتنۍ مجله وه، چلوونکی یې فضل احمد غازي وو، ادبي او قامي سیاسي ارخ یې درلود.

"هېواد" د سلطان محمد صابر په ادارت په ۱۹۵۹ز کال کې خپور شو.

"ظفرالاسلام" میاشتنۍ په (۱۹۵۹ز) کې ظفرالله خان پیل کړه.

د (۱۹۵۹ز) پیل شوی کارکن د تاج محمد نعیم له خوا او "تنظیم" اردو اخبار (په ۱۹۶۰ز) کې بند شو، چلوونکی یې حسن نظامي وو.

"پام موو"، چې د مطبوعاتو په دې لاړ کې د خپلواکۍ له ترون لسم لمبر ۸۰/۴۰ مخونو څخه پوره ګټه تر لاسه شوې ده او یوه بله خبره هم پامور ده، چې ماته یې یادول اړین برېښي، هغه دا چې په سوهېلي پښتونخوا کې تر ۱۹۳۰ز کال پورې د مقاومت او مزاحمت په لړ کې وړاندې شوي پېښې او مطبوعات دي د **خان شهید** د وړاندې کېدونکي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مبارزې په شالید کې و پامول شي او تر دې کال ۱۹۳۰ز پر وروستنیو د **خان شهید** او ملګرو د مبارزې اغېز خوردی." (آزاد)

تر دې ځایه پورې موتر خپله وسه او لاسرسي پورې د **خان شهید** د سیاسي مبارزې په شالید (پس منظر) کې او د څه را وروسته مودې د تودې او مطبوعاتي مبارزې لړۍ وړاندې کړله، اوس په کار دی، چې د پورتنیو وړاندې کړل شوو مبارزو د لوستونکو و جوړ شوي ذهنیت ته د نومورې د سیاسي مبارزې چاپېریال نور هم و غوړوو او خپله خبره د **خان شهید** د قامي، سیاسي مبارزې په رونا کې نوره هم و سپړو.

دا چې د **خان شهید** قامي، سیاسي مبارزه هم دوه پړاوونه لري، چې لومړی پړاو یې د انګرېز د واکمنۍ په دوره کې تر سره شوی دی او دویم پړاو یې د انګرېز تر واکمنې وروسته د ځیناستو په دوره کې وو.

د خان شهید (عبدالصمد خان) قامي / سیاسي مبارزه

د انګرېز زورواکۍ په دوره کې

په پورتنیو لیکنو کې موتر خپله وسه وکولای شول، چې د نومورې **خان شهید** د قامي / سیاسي مبارزې په شالید (پس منظر) کې د تودې مبارزې او مطبوعاتي مبارزې چاپېریال وړاندې کړو او دا څکه چې و لوستونکو ته څرګنده شي، چې د ټولنیز قامي، کلتوري، سیاسي او علمي ذهنیت رغونې او پرمختګ لپاره د څومره اوږدې مودې پړاوونه تېرېدل او کړاوونه ګالل اړین (ضروري) وي او دا هم څرګنده شي، چې په دې لاره کې د مخورو مخکښانو په ملتیا څومره غړیالیو ملګرو په څومره خواریو، کړاوونو، ځورونو او بلهاریو په پیاوړي هوډ او باور د خندونو را منځ ته کوونکو په وړاندې د مزاحمت او مقاومت په تر سره کولو خپل قام او ټولنې ته لاره هواره کړې او غوړولې ده.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د تر سره شوي مقاومت او مزاحمت په پایله کي چي کله انګریز له دې سیمي څخه تګ ته اړ (مجبور) کړل شو، نو له خپل تګ سره سم یې د هند د وېش پر وخت یاده سیمه د دې ځای د اوسېدونکو له خوښي پرته پاکستان ته و سپارله او د خپل استازي په تاکلو سره یې نور هم داسي ګامونه واخستل، چي د دې ځای اولسونو پر خپل وطن، درناوي، برم او خپلواکي باندي تېری او زیاتوب و باله، نو یې د لاسبرو واکمنو په ضد بیا مزاحمت او مقاومت پیل کړی، چي سرلاری کردار یې **خان شهید** (عبدالصمد خان) وو، چا چي له زورور انګریز څېښناکګر او بنکېلاکګر سره په مقاومت او مزاحمت کي باوري کردار تر سره کړی وو او په دې لاره کي یې هر ډول ستونزي، څورونې، زندانونه او کړاوونه ګالي وو، څرګنده ده، چي **خان شهید** د دې قامي او سیاسي مبارزې په بهیر کي د خپلې وندې او کردار پیل د خپل زوکړې له تاټوبي (سوهېلي پښتونخوا) څخه کړی وو، چي په دې لړ کي ورسره څنګلوریو قامونو لکه بلوڅ او براهوي هم پوره برخه لرله او دا هغه وخت وو، چي دا سیمه په برتش بلوچستان او وروسته په بلوچستان پوري تړل شوې سیمه وه، د پخواني تاریخ په اړه یې درونده تاریخ پوه اروانباد استاد کهزاد لیکي:

"بلوچستان له پخواني (جدروزیا) نه عبارت دی، چي د لاتین او یونان د کلاسیک د ټولو مورخینو په شهادت د آریانا جنوبي ولایت وو، نود هغو نتیجو له مخي "چي له دغو ځایو څخه په لاس راغلي دي" د پخواني آریانا د تاریخي خاوري په جنوبي برخو کښي د کلکولېټیک د دورې د ژوندانه شواهد هم تصدیق شوي دي." (۱۲)

مانا دا چي بلوچستان پخواني جدروزیا/ ګدروزیا د لرغوني افغانستان له اوو ولایتونو څخه یو ولایت وو، دې ولایت په قدیم کي ښه مدنیت

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

درلودی او تاریخ هم څرګندوي، چې بلوچستان د انګرېزانو تر وخته پورې د افغانستان د باچاهانو تر اثر لاندې وو، خو کوم وخت چې انګریزانو د پراختیا غوښتنې او وطنونو نیولو (کالونیل ازم) په نیامت لاس هرې خوا ته وغځاوه، نو دا برخه یې د ۱۸۷۹ او ۱۸۹۳ز کلونو د ګندمک او ډیورنډ معاهدو له مخې د افغانستان له وجوده جلا او پرې کړه (لکه پورته چې د ښکېلاکګرو د دې زیاتوب او تېرې یادونه وشوه) دلته دا یادونه او سپیناوی اړین دی، چې لوستونکي د بلوچستان په توري یا نوم داسې و نه پاموي، چې دا ګوا اوسنی بلوچستان دی، ځکه برتش یا انګرېزي بلوچستان/ کمشنر صوبه او د بلوځو بلوچستان په کار دی؛ لوستونکي په ببلا ببل ډول و پاموي، چې خپلې سیمې یې جلا جلا او په تاریخي باور لیکلي او خوندي پاته دي.

له ۱۸۹۳ز څخه د هند تر وېشه ۱۹۴۷ز کال پورې په دغه سیاسي چاپېریال، مقاومت او مزاحمت کې ډېر داسې کردارونه او شخصیات تېر شوي دي، چې یو شمېر به یې د وخت ګرځونو د هېر کندو ته هم غورځولي وي او ځینې د تاریخ په پانو کې خوندي پاته دي، خو په دې پنځوس کلنه دوره کې د ټول پښتون وطن او خپلواکۍ ساتنې په مقاومت او مزاحمت کې لوی بدلون دا تر ستر ګو شو، چې د وسله والې تودې مبارزې او مقاومت ډګر ته د ساړه جمهوري فکر تومنې ځان ننیوست او سوکه سوکه (ورو/ورو) یې د اولسونو ملاتړ هم تر لاسه کړ، ولې چې زمان بدلون موندلی وو او پر نړیواله کچه باندې قلم تر توره، نېزه او توپک زړور او زورور جوت شوی وو او ورسره په شاته پاته سیمو کې اوسېدونکو هم دومره وسایل موندلي وو، چې د نړیوالو دغه نفسیات ورته را رسېدلي او د دوی په ذهنیت کې هم د غوړېدا له کبله دومره پوهنیزې/ علمي تومنې ځای نیولی وو، چې د جګړې پر ځای

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په خبرو او دلایلو لاره هواره کړي، مانا له وسله والي مبارزې څخه يې جمهوري/ پارليماني مبارزې ته لاره وو وهله او يا کېدای شي؛ هغه د ابنِ خلدون خبره باوري وي، چې له غرنيو سيمو څخه هوارو سيمو ته راکوز شوو اولسونو د مدنيت غبرې ته ځان سپارلی وو او د توندوالي يا وسلې اخستلو پر ځای يې د خبرو، لاسوندونو او دليلونو ذهن اوزړه درلودی، چې بنسټ او بنياد يې د مقاومت تودې مبارزې اينبی وو او د بنکېلاکګرو تر دې ځايه پوري د را رسېدلو په زمانه کې په ټول افغان وطن کې د ځېښناکګرو او د هغو د ګوډاګيانو د مخنيوي لپاره تودې جګړې تر سره شوي وې او افغانانو د خپل وطن او خپلواکۍ د ساتلو لپاره هغه زوړ او لرغونی روايت ساتلی وو، چې موږ يې له سکندره څخه تر انګرېز بنکېلاکګره پوري يادونه مخکې هم کړې ده.

دا باوري ده، چې له خپل وجود څخه د پرې کړل شوي برخي درد ټول وجود احساسولای شي، خو هغه برخه (چې جلا کړل شوې وي) تپېږي او هغې ته د ځان رغوني او خپل تشخص ساتنې ستړې ور پېښه وي، هغه د پښتو متل چې "ځای هغه سوځي چې اور پر بلېږي" نو په دغه جلا کړل شوې سيمه کې هغو حساسو او سباوون ليدونکو مخورو خپل ږغ پورته کړی او د خپلواکۍ له لاسه ورکولو په وړاندې يې د مبارزې او ژوند هلي ځلي پيل کړې، چې نوموړی ليکوال صديق الله ربښتين يې داسې يادوي:

"په دې وجه د بلوچستان خلکو د آزادۍ چيغې پورته کړې، مجاهدې يې شروع کړې او ډېرو ننګياليو لکه خان عبدالصمد خان او د کلات د خان ورور شهزاده عبدالکريم په دې لار کې جېلخانې قبولې کړې. خان محمد ايوب خان له خپلو ملګرو سره له بلوچستان څخه راوو ووت، د توبې په سرحد کې يې د آزاد پښتونستان بيرغ جګ کړ او د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پاکستاني زورګیرو سره یې په بنکاره ډګر جګړه او مقابله شروع کړه، بناغلی محمد ایوب یو پوه، لایق پښتون او د عبدالصمد خان له کلکو ملګرو څخه دی..." (۱۳)

په تولیزه توګه که څه هم پورتنی وړاندي کړل شوي تودې مبارزې د زورور دښمن په وړاندي ډېري ککړي له لاسه ورکړي وې او ډېري ارتي سیمي یې بایللي وې، خو د دښمن زور یې هم اوبکړی او د هغوی د پایلي یا نتیجې ورکولو هیله هم ناهیلې شوې وه، ولي ګټه یې دا وه، چې پر خپل قامي برم او تشخص ساتلو سربېره یې په ۱۹۱۹ز کال د غازي **امان الله خان** د خپلواکۍ اعلانولو په بڼه سره د اولسونو په زړونو کې د ژوند هیلي را ټوکېدلي وې.

کله چې غازي **امان الله خان** د چمن له لارې د یورپ دورې ته روان وو، نو بنه راغلې ته یې په زړونو کې د وطن او قامي ودانۍ ارمانونه لرونکي پښتانه اولسونه په لوی شمېر راوتلي وو، **خان شهید** چې کله په چمن کې د خپلې پوهې او ژورلید په توان د قام بې نظمه او بې پېیونه ناپوهي وینې، نو همدلته یې په ذهن او زړه کې د قامي ودانۍ او پرمختګ لپاره د پېیون یا تنظیم د نیالګي اینبوولو تخم تومنه نیسي، چې هم دغه اراده یې بیا په هوډ، هڅو او پاللو سره د بارداري وني بڼه خپلوي، خو د یورپ له دورې څخه د باچا غازي **امان الله خان** له را ستنېدلو سره سم په هېواد کې د دښمن له خوا د جوړ کړل شوي ذهنیت په ملاتړ او پروپاګنډ سره تاو تریخوالی خوړېږي او باچا کندهار ته د ملاتړ تر لاسه کولو لپاره راځي، چې بیا په خپل ژورلید او پوهه و هېواد ته د لوی تاوان رسېدا د مخنیوي په خاطر تر خپل واک تېرېږي او له هېواده څخه وتلو ته زړه ښه کوي او له هېواده سره د مینې او ودانۍ د ارمانجنو پر تودو هیلو سرې اوبه اوړي او له همدې ځایه یو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ځل بیاد هېواد پالونکو او ځانې ګټو پالونکو تر منځ د مقاومت بهیرونه په جګړه بوخت پاتېږي او هېواد بیاد فکري ناندریو او تاوتریخوالي غېږ ته لوېږي.

د همدې تاوتریخوالي پر وخت له خپل وجود څخه د راپرې کړل شوي سیمې په اولسونو کې ناکراري خورېږي او د خپل باچاد ملاتړ لپاره د ګوډ نظر محمد اچکزي او سید میر علي شاه په مخکښې سره خلک د تودې مبارزې ډګر ته ځانونه رسوي، خو د دښمن انګرېز له خوا **خان شهید** او د هغه خپلوان ملګري د خپل هېواد د ودانۍ ارمان لرونکي باچا غازي **امان الله خان** د قام پال بهیر او د خپل قام د ملاتړ او خسمانې په تور له تودې مبارزې څخه را ګرځول کېږي او د مخنیوي په پلمه یې د کوټې تر ښاره بیایي، هلته له وینګیټ انګرېز سره تر لیدلو او وراشو (مباحثو) وروسته په لومړي ځل د ملګرو په ملتیا په (۱۹۲۸ز) کال کې اته ویشت (۲۸) ورځې بندیان پاته کېږي، چې وروسته بیا له سقاو سره د نادر خان د جګړې پر مهال د دې سیمې خلک د محمد انور خان/ زقوم خان او ملا باران کاکوزي په مخګنبې (رهبري) خپل مقاومت او مبرانه تر سره کوي او د سپین بولدک تر نیولو وروسته کندهار نیسي او د نادرخان ورور محمد هاشم خان ته یې سپاري.

هېره دې نه وي، چې په همدې وخت کې مبارز شاعر ملا عبدالسلام اشېزی د خپل قام د فکري روزنې لپاره خپل پوهنیز او علمي رول په کار اچوي، د غازي باچا په ملاتړ / مدحه او د سقاو حبیب الله کلکاني په غندنه کې پوره کتاب شعرونه وایي، نومورې هم د اولس د وینا ته په تور د انګرېز له خوا نیول کېږي، د خپلوانو ګوډاګیانو له خ پر ورېښو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ستړو سربېره يې کتاب سو سن چمن هم د علم پالنې دعوه کوونکو انګرېزانو له خوا و اور ته لوېږي. چې شاعر يې پخپله يادوي:

فرنګـــي سوســـن چمـــن و اور تـــه واچـــاو
پـــر مـــاهـــم دابـــراهيم مصـــيبت راغـــی (۱۴)

دانګرېز ځپښناکګر له خوا د **خان شهید** او ملګرو د يادي وړې ډلې د همدغه زندان په اړه نوموړی روسی ليکوال ګ، ف، ګبرس په خپل څېړنيزادبي نښير (اثر) "د مېړني اولس ادبيات" کې داسې ليکي:

"د کوتې د پښتنو يوې ډلې د خان عبدالصمد خان اخګزي په مشري د بچه سقاو د ارتجاعي رژيم په مقابل کې د افغانانو حمايت وکړ، په دغه حرکت باندې چې څنګه د انګرېز حکومت خبر شو، سمدستي يې د دغې ډلې غټ غړي بنديان کړل او حرکت يې منحل کړ." (۱۵)

د **خان شهید** د لومړي زندان په اړه "چې د نوموړي په خپل ژوند ليک کې يې په پوره توګه يادونه شوې ده" پر **خان شهید** باندې تر ټولو زيات کارکوونکی او په دې لړکې تر ټولو زيات حقدار ليکوال "چا چې د خپل ژوند او قلم شېبه شېبه د **خان شهید** ژوند، شخصيت، سياست او ادب څېړنو ته ځانګړې کړې ده او د بابايې پښتون او پښتونخوا په نوم يې يو شمېر نښيرونه د چاپ په ګټه پسولل شوي دي" استاد ليکوال پوهاند عبدالغني خان غنو داسې ليکي:

"۱۹۲۹ء کے آواخر میں پہلی مرتبہ پشتونوں کے یہ عظیم فرزند فرنگیوں کی طرف سے گرفتار کر لئے گئے۔ خان بابا نے ملی شعور کی بنیاد پر اپنی ملی جدوجہد کا آغاز کیا اور اپنے سیاسی نظریات اور نصب العین پر پختنی استقامت اور افغانی مردانگی کے ساتھ قایم رہے۔ ۱۹۲۹ء سے ۱۹۷۳ء تک

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پشتونوں کے سیاسی ملی ترجمان سیاست کے میدان میں ملی جیت اور پشتونوں کی آرزوؤں اور تمناؤں کے لئے جے رہے اور نبرد آزما رہے۔"(۱۶)

د پورتني وړاندي کړل شوي چاپېریال په اغېز د **خان شهید** ذهن او زړه اوس دې ته جوړ وو، چې نور نو د خپلو ارمانونو د سوکالۍ او پوره کولو لپاره د هغې اوږدې لارې بنسټ کښېږدي، چې نوموړي خپل ژوند ورته ځانګړی کړی وو او دا یې تر زړه کښلې وه، چې په دې لاره کې که کوهی وي او که ګرنګ، لوړي وې او که ځوړي، سترې ستومانۍ وې او که کړاوونه، زور زیاتوب وي که ځوروني ... دا به مې د ژوند برخه او مرام وي، چې قام ته به ښه ورځ غواړم او راوړم.. ځکه د پیل په اړه وړاندي شوې خبره باوري کوي او داسي لیکي:

"اوس زه په دې پوه وم او په بیړه لګیا هم وم، چې یوه ډله او غوټه (جماعت) داسي جوړ کړم، چې د اولس او هېواد د ودي لپاره خدای پاري کار کوي، نو هله به کار سمېږي، خو ګرانه دا وه، چې پخوا دا کار چېرې په غونډ بلوچستان کې نه وو سوی، نه ځوک په رسېده (پوهېده)، ډله خو پرېږده؛ هلته خو د کوټې د ښار د اوږه خلکو پرته په درست ولات کې د اولسي غونډې یا دیني غونډې او یا د چاویان (مقرر) د وینا دود هم نه وو." (۱۷)

داسي ځرګندېږي، چې **خان شهید** د خپل ژوند په لومړیو شلو پنځه ویشتو کلونو کې "چې د خپلې پښتنې ټولنې کوم ژوندنی چاپېریال لیدلی او ښلا ښلو ځایونو ته تر سفرونو وروسته یې د نورو پرمختللیو ټولنو او د دوی تر منځ په خپل ژور لید او پوهه کوم توپیر لیدلی وو" همدغه ځرګونه، احساسات، نفسیات وو، چې د نوموړي په زړه کې یې د وطن او قام د سیالۍ، ودانۍ، پرمختګ او پر خپلو شتمنیو د بسیا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کولو یاد خپلو شتمنیو په کار اچولو دوس او توان موندلو لپاره ارمانونه پنځولي وو، چې نوموړي په هیڅ ګون و نهیلی ته نه پرېښوول او په خپله پخه اراده او هوډ سره يې پتېلې وه، چې د ژوند شېبه/ شېبه به د همدې تولنیزو ارمانونو د پورې کولو لپاره په کار اچوم.

خان شهید په دې هم پوه وو، چې سفر اوږد او مزل ته رسېدل پېرې په برکي نیولای شي، خو په وجداني توګه ډاډه وو، چې کومه لاره مي خپله کړې او څه کول غواړم؛ هغه د انسانیت، مسلمانۍ، پښتونوالي او سرېتوب په چوکاټ کي وِړ او په زړه پوري چاره ده.

ځکه يې دومره درانه بار ته وړه ورکړه، نوموړي تر دا وخته پوري له ځانه سره پر سنجولو سربېره په کور، کهول او کلي کي هم د خپلې خبرې باور تر لاسه کړی وو او په خپلوانو یا په اصطلاح ور نژدې پښتنو کي يې د باور وړ ذهنونه او ملګري موندلي وو، نو ځکه يې دا قامي کار له خپل ماجت (جومات) څخه پیل کړی.

تر خپلو ارمانونو پوري د رسېدلو لاره **خان شهید** او ملګرو په ډېره سادګۍ خو په ژوره توګه پیل کړې ده او هغه داسي چې د خپلو ملګرو په ست اوسلا يې د روژې په مبارکه میاشت کي د سورت الملک د تَبَارَكَ الَّذِي د تش اورېدلو پر ځای له خپل ملا څخه په دې ډول غوښتنه وکړه، چې یوازي د تشو تورو (الفاظو) په اورېدلو څه جوړه ده، تاسو يې په مانا باندې د پوهولو لپاره خلکو ته وینا وکړی.

خبره زړه ته لوېدونکې وه او د خلکو هم ورسره خوښه وه، چې ملا يې همدې ورځ ورته چمتو نه وو، نو ځکه يې **خان شهید**، ته وویل، چې تاسو يې پیل کړی، بیا به دغه لاره زه و پالم.

زه فکر کوم، چې د اولسي ښېګړې لپاره د قامي کار پیل په داسي چاپېریال کي تر دې په ښه او ژوره توګه نه شوای پیلېدلای. لکه **خان**

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شهید چې پیل کړی وو، د چا په مخ کې له وینا کولو سره خو یې په ښوونځي کې لا خوی نیولی وو او سهم یې لېري شوی وو او پر دې سربېره یې داسې کولو ته مخکې هم ذهن او زړه جوړ کړی وو، نو ځکه یې دلته په ښه پوره او کره توګه د اورېدونکو تر ذهنونو پوري د قامي ودانۍ خبره و رسوله او خلک یې ست کړل، چې د اولسي ښېګړي دغه لاره د دنیا او آخرت د ډاډمنتیا او بسیا کولو لاره ده.

خو د قامي ویښتابه او ټولنیزي ودانۍ د دې پرتمیني لاري په پاللو کې چې د چا ګټو او واک ته زیان رسېده؛ هغوی هم څرک او پوه وو، چې داسې چاري یې په ژوره توګه څارلې او پر هر ځای سربېره یې هغه ځایونه "چې دوی د "ولي ویلو" توان، ذهني وړتیا او پوهه پکښې لیدله" په ځانګړي ډول څارل، ځکه یې په داسې ځایونو کې خپل ګوډاګیان په شومو هیلو ست کړي او ګومارلي وو، **خان شهید** او ملګري یې هم ډېر ژر په دې خبره باندي و پوهېدل، چې:

دلتـــه دم او قـــدم دواړه پـــه حســـاب دي
پـل غلـط لـه لاري مـه ږده بـې حسـابه (۱۸)

مانا دا چې د مقابل لوري لاسونه تر خپلوانو پوري هم رسېدلي او دوی یې څارل، ځکه یې دوی و غوښتل او د خپل کلي په ماجت کې یې د تر سره شوي غونډي او خبرو په اړه و پوښتل، **خان شهید** او د قامي سیاست په لاره کې ورسره مله ملګري یې په دې پوهېدل، په ذهن او زړه هم دې ته جوړ وو، چې په دې لاره کې به د مقابل لوري له مخنیوي سره مخامخېږو، خو ګټه یې دا وکړه، چې د هغه ساده اولس په زړونو کې یې هم اندېښنې او پوښتني را پورته کړې، چې د اولسي ښېګړي په دې کار کې داسې کومه بده خبره وه، چې دوی یې په ګناه و نیول شول، دا خبره او اندېښنې په پښتني اولس او په ځانګړي ډول په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شااو خوا سیمه کې تر ډېره پورې خورې شوې، هغه ځکه چې د ماجت تر غونډه وروسته سمدلاسه په دا بله ورځ **خان شهید** د پولیسو ډپټي سپرنټنډنټ ته وړاندې کړل شو او بیان یې د سي آئي ډي د انسپکټر دلدار سنګھ په ملتیا اخستی او لیکل شوی وو.

د **خان شهید** دورکړل شوي بیان په غبرګون کې د مقابل لوري هڅه له ورایه ښکاري، چې د ویښتابه دغه کړۍ د لاهور کانګریس له غونډې سره تړي او په دې لړ کې د کانګریس د غونډې او د **خان شهید** د تګ په اړه پوښتنې ګروېژنې کېږي او ورپسې له هغه ځایه څخه د راوړل شوو کتابونو او پارکیانو (پمفلټانو) "چې هلته وېشل شوي وو" په اړه هم پوښتل کېږي او ګلستان ته په بیولو سره هغه مواد "چې د کانګریس لاهور په غونډه کې د یوې سیاسي ډلې د خپلې خبرې رسولو او قامي ویښتابه لپاره وېشل شوي وو او **خان شهید** ته رسېدلي وو" تر لاسه کېږي او راوړل کېږي... دلته په سیمه کې د قامي ودانۍ بهیر چې د **خان شهید** په مشرۍ کې یې ځان ښکاره کړی او تاکلی وو او د تودې مبارزې پر ځای یې د سړې او سیاسي مبارزې لاره خپله کړې وه او غوښتل یې، چې د قامي ذهن د ویښتابه له لارې د خپلې ودانۍ او پرمختګ هڅې تر سره کړي، خو مقابل لوري ته هغه څوک "چې دغه چاره یې و خپلو ګټو ته د تاوان رسېدلو لامل بلله" و درېدل او په ښېلا ښېلو پلمو سره یې د دغه بهیر د مخنیوي هڅې پیل کړلې.

مقابل لوري ته دا څرګنده وه، چې دغه فکري لاره په پښتون اولس کې د خپلواکۍ د ساتلو او تر لاسه کولو لپاره د تودې مبارزې د لړۍ هغه په توان د اولسونو تر ذهنونو او زړونو پورې خپل ږغ تر پخوا هم په پیاوړې ډول رسوي، ځکه یې د مخنیوي لپاره اند ښښمن وو او پر دوی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

باندې يې د تورونو (الزامونو) تپلو لاره خپله کړله، چې تاسو اولس له کاره باسی، بېلاري کوی يې او داسې نور نور...

له دې لاري څخه د مخنيوي په لړ کې د مقابل لوري د لومړی هڅې په اړه **خان شهید** ليکي، چې نژدې پنځلس/ شل ورځې وروسته هم هغه وينګټ انګرېز ګلستان ته راغلی او په ډېره خوږه ژبه او ربنتيا ويلو سره يې د سرکار په اراده خبر کړم، چې د قامي بنېګړي کار که وَړ، بنه او روا هم دی، خو په اوسني چاپېريال کې د سرکار لپاره د زغم وړ نه دی، نو دوې خوښې يې راکړې، چې يا به دا لار پرېږدې او يا به يې سزا وړې او سزا به هم زموږ له خوا د تاکل شوي جرګې پښتانه غړي درکوي، چې ته يې د بنېګړي غم کوې، خو ما وروستی لاره غوره و بلله او په خپله دې اراده باندې مې خبر هم کړی.

وروسته مې د خپلو ملګرو په ملتياد اولس د ذهني رغوني لپاره هغه د ماجتانو د لمنځونو د غونډو لار غوره و بلله او دې لاري ته مې د ملايانو ست کول پيل کړل، خو هغوی د ډېرو پلمو او ځان کښلو لاره خپله کړه، چې بيا مې د مطبوعاتي مبارزې د لاري پلي کولو هڅه پيل کړه او په دې لاره کې هم په ټول ولات (صوبه) کې تر دا وخته پورې نه هيڅ يوه ورځپاڼه وه او نه کومه داسې هڅه تر سره کېده، يوازې يو د سرکار انګرېزي اخبار وو، چې په پنځلس ورځې کې خپرېدی.

په دې لړ کې هم راته څرګنده شوه، چې له سرکاره څخه د اختيار يا منظورۍ اخستلو اړتيا وه او موږ په دې باور وو، چې سرکار به موږ و دې کار ته نه پرېږدي، خو بيا مو هم دغه لاره چاره په پام کې وه، د شا او خوا سيمې و خلکو ته د خبرې رسولو او په هغوی کې د خپلې لاري د ملګرو او ملاتړ موندلو لپاره موږ په سيمه کې د ماجتانو د غونډو او په ځانګړې ډول د جمعې د لمانځه د غونډې لپاره هڅې روانې کړې وې،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې په اخترونو کې مود ګلستان مېلو ته پام ور واووښت، د درې ځلورو ورځو په دې مېلو کې به له لېرې لېرې ولکو څخه هم خلکو ځانونه را رسول او دوې درې ورځې به یې دلته په مېلمستیا تېرولې، د اختر د مېلو پر مهال له شا او خوا سیمو څخه د راغلو ځوانانو سره پوره پوره ناستي او خبرې وشوې او خپله خبره مو نښه خوره و بلله، چې وروسته مو په ګلستان کې د جمعې لمانځه د غونډې او هلته د وېناوو دودلو لپاره ایله څو میاشتې وروسته ملا سید ایوب شاه ست کړ...

زیاتوي، چې په ګلستان کې د جمعې د لمانځه د غونډې پیلېدلو په هیله وو، چې د جمعې تر یاده غونډه درې او څلور ورځې مخکې یې د ۱۹۳۰ز کال د مئي پر ۱۵ مه نېټه د اې سي مرتضی خان په موټر کې د مشر ورور عبدالسلام خان او ملګري محمد ایوب خان په ملتیا پولتیکل ایجنټ کوتې ته د هغوی په غوښتنه را وستلو او راته وویل شول، چې لاټ له تاسو سره د خبرو لپاره محمد یعقوب خان (اې اې سي او دغه وخت په مکران کې د کلات نایب وزیر او له مور سره د ملګري محمد ایوب خان پلار) تماکلی دی، چې دوولس ورځې وروسته له مکرانه څخه راغلی... زمور او د سرکار تر منځ یې خبرې اترې وکړې، خو پایله یې څکه و نه لرله، چې د واکمنو راته په زړه کې وو، چې مور به په سزا رسوي...

د راسرېږه کېدونکې غورځنګ په اړه د واکمنو اندېښنې له ځینو غونډو څخه جوتې شوې وې، چې **خان شهید** یې یادونه کړې ده، په یادو غونډو کې د دې مبارز بهیر د مخورو د مخنیوي خبرې شوې وې اودا وړاندیز هم شوی وو، چې په نوکریو ورکولو سره یې ست کړی، خولاټ څکه نه وه منلې، چې تر څو پورې به مور نوکریاني ورکوو...

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د قامي خپلواکۍ او هڅو خبره هغه وخت نوره هم پېچلې او خوړه شوه، چې په یو ډول زنداني چاپېریال کې د **خان شهید** او ملګرو شلمه ورځ وه، ناڅاپي د تودې مبارزې ذهن او زړه لرونکو اتلس (۱۸) کسانو د ملا خیر محمد اخګزي په مشري کې یو انګرېز مېجر پارلې او د هغه مېرمن او ورسره یو کېپټن پرېږ ځکه وړي وو، چې بې توره پوره مو زمونږ دري مخور (خانان) نیولي دي او دا شرط یې اینبی وو، چې زمونږ د خانانو په را ایله کولو به ستاسو خلک هم درپرېږدو، خو تاوان یې دا وکړ، چې د انګرېز لاسونه اوږده او خپل خلک یې په زاریو او خواستیو را وژغورل، خو تر پوله په دې خوا په بنکېل (مستعمره) سیمه کې یې پر خلکو ژوند تریخ کړ او په سلګونو پښتانه په ځانګړي ډول و پوله ته نژدې اوسېدونکي یې و نیول، **خان شهید** او ملګرو ته یې تر پوښتلو، تګ راتګ او د جرګې تر بې وسي وروسته دوه کاله د زندان سزا واوروله او ورسره دا هم چې تر سزا وروسته به د دري کالو لپاره د بنسو ضمانت ورکوي، کنې په بدل کې به یې دري کاله نور هم زنداني وي، له پولیس لاین کوټې څخه یې د ۱۹۳۰ز کال د جولایي میاشتې په وروستۍ لسیزه کې د کوټې هودې جېل ته ور وستل. د **خان شهید** د بند دویم ځل وو، چې جېل ته په تګ تګ کې یې خوبولي ارمانونه داسې وو:

د لاینه را روان سوم، د وړاندې ژوند په چورت کې څه ډوب شانته وم، خو چورت مې د ژوند په بنه او رونا خواکي وو، چې په دې بند به اولس وېښېږي، بیا به آزادي راځي، هېواد به آزاد وي، انګرېز به نه وي او زمونږ به خپل سرکار وي، په بېره یا خوابدي نه یم پوه سوی، باور مې دی، چې دغه وخت که یې دار (پانسی) له بیولای او دغه زړه او دغه چورت مې وای، هم به په هیڅ خوابدي او بېره نه وای پوه سوی."(۱۹)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د شعور څښتنانو ربنتیا ویلي دي، چې تر څان په تېرېدلو تر مرامه پورې د رسېدلو لاره رونا کېږي او له همدې ځایه د قام لپاره د **خان شهید** د څانګړي شوي ژوندانه د آزموینو هغه سرسخته دوره پیلېږي، چې قامي او سیاسي کار ته یې د څانګړي ژوند شېبه شېبه د خپل قام د خپلواکۍ، ودانۍ او سیالۍ په نوم کړه او د ژوند د پاتې څلوېښتو کلونو شپه او ورځ آن چې شېبه شېبه یې په هیڅ ځور او کړاو هم و نه سپموله او له خپل هوډ سره په ربنتوني باور یې په کردار کې د تلپاتیوالي او نه هېرېدلو توان په برخه شو، هغه د شاعر خبره چې:

موږ که یې هېر کړو دغه خاوره اتل نه هېروي
د هر اتل پر دغه کانو غرونو پل پاتې وي (۲۰)

ربنتیا هم **خان شهید** خپله قامي / سیاسي لاره په دومره مېړانه و پالله، چې یا خو به په زندان کې وو او یا به له قام او وطن سره وو، په زندان کې یې هم د دودیز ځور او رویو د بدلون په ضد د بندیانو د ښېګړې لپاره پر ځان د شپږ سو او یوویشت ورځو شومیا (بهوک هړتال) یووړه او په بدل کې یې د ټولو بندیانو ژوند هم هوسا کړی.

د قامي ودانۍ او سیالۍ لپاره یې د قام پر وګړي وګړي سربېره د غرونو او شېلو تر کانو بوتو پورې هم د زړه د ډاغ آزانګې و رسېدلې، خو د دښمن هیڅ ځور، زیاتوب او کړاو دومره و نه توانېدی، چې د **خان شهید** او قام تر منځ دي یې د مینې او تړون دغه مزی شلولی وای، آن چې مرګ هم له قامه څخه جلا نه کړای شو او د پښتون تاریخ په زړه د ښکېلاکګر او ځپېنباکګر (استعمارګر او استثمارګر / امپریالیست) انګرېز زندانونه وه، چې له کړاو او ځورونو څخه یې غږ غوندي زړونه لړزول، خو له ځینو داسي کردارونو سره مخ شول، چې د اوبو غوندي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نرم وجود وَ پیاوړي هوډ او اراده ته یې د زندان کانو د پوالونو هم ځان تینګ نه کړای شو او پای یې د بیرته وتلو لاره ورکړه.

ښکېلاکګر او ځپېنښاکګر هم ترې نهیلی شوي دي، ځکه په دې اړه د **خان شهید** لیک هم داسي ګواهي ورکوي، نوموړی لیکي:

"ګومان مي وو، چې څه کامي تور (سیاسي جرم) به یې را باندې لګولی وي، خو چې تپوس مي وکړی، نو یې و ویل، چې نه تاسو ته یې د پرنګیانو د تښتولو د جوړې (سازش) په تور کې سزا درکړې ده، ډېره مي خوا بده سوله، ولې تر دغه وخته زما ګومان وو، چې سرکار او پرنګیان به د اولس او خوارو خلکو په وده (ترقي) بیداري او پوهه خبرتیا او ښېګړه ناخوښه نه وي، چې زموږ دستي مراد وو، دوی به خپل د باچهی سره کار وي او تر څو چې موږ د دوی په باچهي او سرکاري کار- کار نه لرو، نو دوی به راسره کومک کوي او میانځګړي (عدالت) که یې څه هم بې داغه نه وي، خو دومره بې لاري به هم نه وي، نه ګواه، نه آګاه، نه خبر، نه اتر هیڅ بې هیڅه به د پرنګیانو د تښتني په داسي تور سزا راکوي، چې زموږ د بنده هم شل ورځې پس نورو خلکو کړی وي." (۲۱)

د اولس او خوارو خلکو ودانېدل، وده (ترقي) بیداري، پوهه، خبرتیا او ښېګړه... انسانیت وي، مذهب وي او که د هر چاپېریال سړی توب (اخلاقیات) وي؛ ټول یې خوښوي او ستایي، دا خو حدیث هم دی، چې رحمان بابا په شعر کې خوندي کړی دی او وایي:

د خلیل تر کعبې دا کعبه ده لویه
که اباد کا څوک ویران حرم د زړه (۲۲)

د انساني ژوند او یا هم خپلې ټولنې د ودانۍ او سیالۍ غوښتنې په دې لاره کې په غوښه پښو کې اوسپنیزې بېړۍ او په غوښن لاسونو کې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اوسپنیز ولچکان وو، بدني ځوروني او بده دا وه، چې انسانیت پالونکي ناوسه او د ناوړو ګټو تر لاسه کوونکي زورور زورواکي وو، نو ځارونکي او ژورلید لرونکي دې وینا ته اړ شي، چې هر قانون د زرورو د ګټو ساتونکی و پاموي، کنې نو قانون خو د نیاومنتیا (انصاف) تاثر ورکوي؟ دا ځکه چې زورورو او شتمنو ته به په زندان (جېل) کې هم هر څه رسېدل او بېوزله غریبانو او د هغوی بچانو ته به پر کورونو هم څه نه رسېدل، خو له واکمنه څخه تر بنادمنه پوري ټول په دې لهېدلي وو، چې د بېوزلو له اړتیاوو او مجبوریو څخه په ګټه اخستلو هر ډول د زړه مراد تر سره کړي، بده دا وه، چې بېوزلو به هم ځان اړ باله، چې د ژوند تیرولو لپاره و غلاوو، درواغو، سپکاوي او هر ډول ناوړو ته ذهن او زړه ښه کړي او له هیڅ ډول چاري څخه هم مخ نه واړوي.

ولې چې د ژوندنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره د معیشت/ اقتصاد په ارزښت هغه خلک پوهېږي، چې د ژوند په اړه د ژور فکر څښتنان وي، خو کومه ټولنه چې ښه په زحمان، پوري تړي او بد پر شیطان تاوانوي، مانادا چې ښې چاري د خدای لوربینه او مهرباني بولي، بدي او ناوړې چاري پر شیطان اړوي، چې شیطان تېر ایستلی یم، نو داسي خلک په ژوند کې خپل کردار نفي کوي، ناوړه او بدي چاري خدایه غواړي... هغه د شاعر خبره:

په یوه داسي ناروغي باندي اخته یو ټوله
چې له هر چا څخه د ځان ستاینې رایه غواړو
په خپله کړې کار ناوړه له شیطانه ګڼو
را ګرځېدل له داسي کاره هم له خدایه غواړو (۲۳)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پوهان د داسي ټولنې په اړه وایي، چې د کومې ټولنې اقتصاد تر وړل شوی، وهل شوی او ځپل شوی وي؛ هلته څوک عقیده ساتلای شي او نه نظریه. په داسي ټولنه کې د پیسو لپاره انسان وژنه، وروڼه او خپلوان پر بدي کول، نالیدلې او ناکتلې ګواهیاني ورکول، د ځان سپکه منل... مانا دا چې د هري ناوړې چاري تر سره کېدل خپله اړتیا او مجبوري پامېږي، چې د اکر (حالت) دغه تسلسل یا پرله پسې والي د خلکو خویونه وران کړي، نو بیا هلته د معاشي ستونزو د هوارولو لپاره د خپل ذهن او فکر په کار اچولو، د لاس او پښې خوځولو پر ځای د ناوړو چارو تر سره کولو او د بل لاس ته د کتلو خوی خپل کړل شي... هغه د پوهانو خبره چې د وخت له ستونزو سره د مخامخېدا او هوارولو خوی نه لرونکي خلک پای تر ستونزو لاندې انل کېږي او دل شي، مانا پر ستونزو باندې د ستر ګو پټولو خوی ستونزې نورې زیاتوي، یا هغه د یو ډول صوفیانو تګلاره چې نفس وژنه د نفس د پاکې وسیله ګڼي، خو د نفس وژنه د نفس د پاکې او سپېڅلتیا لامل نه ګرځي؛ بلکې نور کړکېچونه او ستومانې را منځته کوي، د نفس د سپېڅلتابه لاره د نفس غوښتنې په ښه توګه او ښه لاره سره پوره کول دي.

خان شهید په یوه داسي ټولنیز چاپېریال کې له هر ډول ټولنیزو ستونزو سره د مخامخېدا او هوارولو ذهن او زړه درلودی، ځکه یې د دومره زورور دښمن په وړاندې و درېدلو ته ذهن او زړه ښه کړی وو او د ټول اولس په استازیتوب ولاړ وو.

د **خان شهید** د ژوند لیک په لوست سره لوستونکي و پوهېږي، چې نوموړی که په زندان کې وو او که د اولس په میان کې وو؛ د خلکو مینه ورسره تر اند د پاسه وه، هغوی به ورته د ځان د استازي په سترګه کتل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او نوموړی به یې د وطن او اولس له دښمن سره په جګړه او مبارزه کي ولاړ مخکښ باله، ځکه **خان شهید** لیکي:

"د انګرېزانو او د هغوی له باچهۍ نه خو کرکه هله هم خوره وه، نو خلکو به موږ ډېر په مینه، ارز او خواخوږي کسلو (کتلو) او په درنه سترګه یې راکاته، لکه موږ چي یوه کلکه توره کړې وي او د قام د جنګ توریالي یو." (۲۴)

په ژوند لیک کي یې لوستونکي په سلګونو ځایه له داسي احساساتو سره مخامخېږي، چي د اولس له خوا په ډېره سپېڅلتیا، ژوره مینه او سپین زړه د درناوي او ارزون له غبرګون سره مخامخ شوي دي.

په زندان کي چا په مېچن باندي د غنمو و اڼلو ته نه پرېښوو او چا به د جامو وینځلو ته. چا به یې د پښو د بېړۍ لپاره د څرمن چموټي جوړي کړي وې او له بازاره به یې زندان ته ور استولې.. چا یې د کالیو مینځلو هڅه کړې ده او چا یې د زندان په بڼ کي له لاسه بېلچه کښلې ده، چا ورته په بڼ کي د کار کولو پر وخت د باغ مېوه پېرزو کړې ده او د همدغه بڼ (باغ) مالي "غلام" ورته هره ورځ له بازاره اخبار راوړی دی، آن چي په زندان کي پر پښتنو سربېره د کانګریس د مینې او ملتیا په اغېز هندوانو، سیکانو، بنګالیانو او نورو ځپلو هم په درنښت ور کتلي دي او داسي نور په سلګونو مینه ناک، احساسات پاروونکي غبرګونونه چي د خوار، پوه او قامپال اولس د زړونو د ږغ استازیتوب کوي او د ژوند لیک په لوست پوري اړه لري. نوموړي د زندان ستړي ستومانۍ په ډېره پوره او کره بڼه لیکلي دي او د لیکلو لامل یې هم داسي ښوولی دی:

"د جېل د ژوند نوري ټولي خوارۍ، د خوړو، د جامو، د بسترې، د ځای، د سپږو او د کار یوې خوا ته وې او د بېړیو یا جولان زاوال بلي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خوا ته، سپوا له بندښته (قید) او د جېل د افیسرانو د سپکو سپورو ویناوو او بد روِشه بله یوه خواري هم د ښېریو په سر نه وه.

زه دا ځکه لیکم، چې وروستي خلک په دې پوه سي، چې د هېواد دا اوسنۍ آزادي چې دوی یې ګټي خوري، په هله اسانه د انګرېزانو څخه نه ده اخسته سوې؛ بلکې دا د زرګونو او لکونو قام دوستو ځوانانو د زړه په وینو او د بدن په غوښو ګټل سوې ده.

ما ته د مېچن انلو ستړیا په یوه ورځ را ځرګنده سوه، چې څومره ګران او زاوال جن کار وو او هم د هغو خلکو کلک باور، د قام او هېواد پخه مینه او ټینګار را ښکاره سو، کومو چې د قام د خسمانې په تور کې په کلو پرله پسې مېچنې انلې دي، لکه **باچا خان**، حسرت موهاني او ځینې نورو ښاغلو..." (۲۵)

دا هغه شپې او ورځې دي، چې د مبارزې د مخورو مخکښانو مفکوره دا وه، چې د ټولنیز ذهن او زړه لپاره د سړې (د دلیل او منطق لاره) او جمهوري مبارزې لاره هواره کړای شي، په دې لړ کې نوموړی روسی لیکوال ګ. ف. ګېرس خپل نظر داسې وړاندې کړی دی، هغه لیکي:

"د روانې پېړۍ د دېرشمو کلونو په سر کې خان عبدالصمد خان په ډېر اخلاص او خوشحالي سره د کانګرسیانو مفکوره (عدم تشدد) و منله، ده فکر کاوه، چې د استعماري حکومت په شرایطو کې د تشدد نه ډکه مبارزه بې نتیجې ده، موږ باید د عدم تشدد په فضا کې ملت او خلک پوه او آزادي ته یې چمتو کړو او چې دا کار و شو، را تلونکي مسایل پخپله حل کېږي." (۲۶)

د نوموړي ګېورکي فیودو رو ویچ ګېرس پورتنۍ خبره تر دې ځایه پورې د منلو وړ برېښي، چې په دې وخت کې مخورو مخکښانو د تودې مبارزې پر ځای د عدم تشدد لاره وړ او پر ځای و بلله، خو دا چې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"دا مفکوره یې یوازې د کانګرسیانو بللې ده" د تامل وړ برېښي، ځکه د پښتنو تر منځ د جرګو، مرکو دود او لاره ډېره اوږده مخینه لري، چې په سلا او مشوره سره د هري ستړي او کړکېچ د هوارولو په زړه پوري لاره ده او پښتنو تل تر خپله وسه پوري د جګړې پر ځای د خبرو او مرکو لاره غوره بللې ده، چې د مهذبو اولسونو نخښه وي.

خان شهید د دویم ځل زندان (۱۹۳۰ز) پر مهال د یوه آفیسر لاله رام کرشن د ښېګړې له کبله د زندان د کارکوونکو له ښه غبرګون سره مخامخېږي، خو وروسته ورته څرګنده شي، چې دغه آفیسر دامرتسر د یوه کانګریسي خپل وو او ورته ویلي یې وو، چې دا زموږ ملګري دي، د دې خلکو به ډېر پام ساتي، **خان شهید** د دې پېښې په اړه خپل تاثر او غبرګون په خپل ژوند لیک کې ځای ورکوي او داسي لیکي:

"له دې څخه ماته څرګنده سوله او اوس هم اندازه لګېدای سي، چې له دې هېواده د انګرېز باچهي د هیندوانو په ځومره یو مخیځ (همه ګیر) کوښښ ورکه سوله. د دوی هر سړی چې وو او هر کار چې یې کاوه، که نوکر وو، که سوداګر وو، که لوی نه لوی آفیسر وو، که په پوځ کې وو او که بل ځای، خپل پر ځای او خپل په توګه یې د انګرېز سرکار ریښې غوڅولې. کانګرس یې جنګ کاوه، سوداګرو ورله پیسې ورکولې، سرکاري نوکرانو په خپل رنګ کې د قامي خلکو کومک کاوه او د دفترونو خبرونه یې ورکول، استادانو او ماسټرانو ځوانان شاګردان نرا وښځي په قامي لار پوهول، همدغه یوه لار او د یوه قام یو مخ ژوند ویښ والی او کوښښ دی، چې..." (۲۷)

مانا دا چې د یوې مبارزې د سر کولو او بریا لپاره د اولس پر وېښتابه سربېره قامي پېښون (تنظیم) او یووالی ځومره اړین او ضروري دی او **خان شهید** په خپل ژوند لیک کې ځکه ځای ورکوي، چې پښتانه یې په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لوست و پوهېږي، چې د خپلواکۍ اخستلو او د یوې مبارزې تر سره کولو او بریا لپاره پېیون (تنظیم) او قامي یووالی څومره اړین دی.

په ۱۹۳۰ز کال کې د **خان شهید** او ملګرو زندان ته تګ ګڼ شمېر سرچینې باوري کوي او زباتوي، چې په دې سیمه کې دا لومړی ډله وه، چې د خپلواکۍ لپاره د قامي ویښتابه په تور زنداني شوه، که څه هم په چل ول او دروهنه یې د انګرېز د تېښتې تور ورباندې ترپلی وو، خو وروسته دنیا ته جوته شوه، چې دغه زندانیان د قامي لارې لارویان وو، یوه باوري سرچینه داسې لیکي:

"د سیاسي بندیانو دا لومړۍ جوپه وه، چې جېل ته تللې وه او له دې کبله ډېر سخت سلوک ورسره کېده" (۲۸)

د دویم ځل په زندان کې په تېرو کړو وړځو، شپو کې له ستونزو، ځوروونو، کړاوونو پر ګاللو سربېره د زندانیانو او ځان د حقوقو لپاره د پرله پسې شپاړسو وړځو شومیا (بهوک هړتال، که څه هم ځینې سرچینې (د خپلواکۍ ترون ۴۰ مخ) یې یوویشت وړځې یادوي، خو **خان شهید** یې شپاړس وړځې یادوي. یاده دي وي، چې نومورې د یوویشت وړځو شومیا هم تر سره کړې ده) تر سره کول او خپله خبره په منل، په زنداني تېرشوي کال کې د سوهېلي پښتونخوا د ببلا ببلو سیمو پر زنداني پښتنو سربېره د ویړ او ړنګې (څنګۍ) پروت بلوچستان د ببلا ببلو سیمو او تپو د زنداني خلکو له لیدلو او یا د چې د ټول هیند وَ ببلا ببلو سیمو ته د زندان د نشتوالي له کبله د نشتوالي شوو زندانیانو بیرته د مچ (۱۹۲۹ز) و جوړ شوې جېل ته د راوستلو او له هغوی سره د لیدلو او حال شریکولو له کبله، **خان شهید** د خپلې پوره او کره تجربې تر لاسه کولو خبره کوي چې تر دې تجرباتو او باور وروسته له انګرېز سره د خپلواکۍ لپاره سې د مبارزې په پوړه (باوري)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زړه و پټیله، مانا دا مي تر زړه وکښله، جي زه به قامي کار او د خپلواکۍ مبارزه تر سره کوم، په دې اړه لیکي:

"زما قامي ژوند هم د دې شپې څخه پیل سو، چي په کلکه مي ملا و تړله، چي په نېغه به قامي (سیاسي) کار کوم، تر دغه وخته که څه هم په پام کي مي څه شی ګرځېده او زړه مي څه کول غوښت، خو لار مي ټاکلې نه وه، په دغه ورځ مي لار څرګنده سوله، چي د انګرېزي سرکار د ناخوښۍ سره به د هېواد د آزادۍ کار کوم." (۲۹)

له زندان څخه په اپریل ۱۹۳۰ز کال کي تر خوشي کېدلو وروسته **خان شهید** نژدې درې میاشتي وخت پر کور او شا او خوا سیمه کي تېروي او له ملګرو سره تر سلا او مشوره وروسته په جولایي ۱۹۳۰ز کي د سیند پر لار بمبۍ ته روانېږي، چي د غونډ مېزي جرګې (ګول مېز کانفرنس) وَ استازو ګډون کوونکو ته د خپلي سیمي په استازیتوب خپلي ټولنیزي ستړي، ستونزي او ناخوالي و وایي او پرې خبر یې کړي، په دې سیمه کي دغه سیاسي خوځون ته نوموړی لیکوال م، ګلاب ننګرهاری د لومړیتوب ځای ورکوي او لیکي:

"په ۱۹۳۰ز کښي د بلوچستان یو څو وطن پرست ځوانان خان عبدالصمد خان اڅګزی، خان محمد ایوب خان اڅګزی، نواب یوسف علي خان مګسي بلوڅ، خان عبدالسلام خان اڅګزی او نور سره یو ځای شول او په وطن کي د رڼا پیدا کولو کوشش یې شروع کړ." (۳۰)

خان شهید و حیدراباد ته له رسېدلو سره سم په احمد اباد کي و اوسېدونکي پښتانه عیسی خان نشتر افغاني ته "چي د ټول هیند د پښتنو د جرګې (د آل انډیا افغان کانفرنس) مشر (صدر) وو" د تار له لاري د خپل ورتګ خبر ورکوي، چا چي په ټول هیند کي په خپلو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هڅو او پښتني مینه سره د هغه ځای د اوسېدونکو پښتنو په زړونو کې له قام او وطن سره د مینې لمبه بله او توده ساتلې وه.

څلیرویشت/ پنځه ویشت کلن ځوان عبدالصمد خان (**خان شهید**) ته په هیند کې د ټول هیند د پښتنو د جرګې له خوا ښه راغلی ویل کېږي او **خان شهید** د همدې جرګې په هڅه له شا او خوا سیمو څخه د راټولو شوو پښتنو وَغونډه ته ویناکوي او دا یې د خپل کلي کور د ښوونځي او کورنۍ ماجت تر ویناوو وروسته پر لوړه کچه باندې په لویه اولسي او سیاسي غونډه کې لومړنی سیاسي ویناوه.

د همدې سفر پر مهال تر لومړی غونډه وروسته له ګاندي جي سره په ګجرات وید پوهنځي (کالج) کې لیدل، د هغه له ښه غبرګون او خویونو څخه پوره څه چې ډېر اغېزمنېدل او د هغوی کړنلاره ځارل داسې څه وو، چې **خان شهید** له ګاندي جي سره په تېرو شوو پنځلسو ورځو کې څومره څه تر لاسه کړل، په ژوند لیک کې یې ګورو، لیکي:

"ما د ګاندۍ جي سره پنځلس ورځې تېرې کړې او ربنتیا ده، چې د هېواد په هکله څومره زدکړه ما په دغو پنځلس ورځو کې وکړه او د څومرې مشرانو سره مې دالته پېژندګلوي او نژدېکت پیدا سو، هغه په بله توګه په پنځلس کاله کې هم نه سو کېدلای، دالته ما د ډېرو مشرانو په زیاته د ګاندي جي د ژوند د هر اړخ ښه کتنه وکړله، لنډه دا چې زما د قامي ژوند اېرۀ (بنیاد) دالته کښېښوولې سوه او داسې پخه کښېښوولې سوه، چې بیا هیڅ کله هم و نه ښورېدله." (۳۱)

د **خان شهید** پورتنۍ ویناکه په ژوره توګه وڅارل شي، نو لوستونکي پوهېدلای شي، چې په پخه اراده او هوډ سره د دې قامي او سیاسي ژوند د بنسټ او بنیاد ایښودلو او له یو شمېر مخورو سیاسي مشرانو سره په ناسته پاسته کې د تجربې او پوهې تر لاسه کولو و شاته د **خان**

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شهید ستر کردار تر سره کوونکی ذهن او زړه وو، چې د خپلې ټولنې د ودانۍ او پرمختګ ژورو ارمانونو ځای پکښې نیولی وو.

د **خان شهید** د ژوندانه شپږه شپږه او ټول مسیر مور ته د دې وینا او هوډ ساتلو باور راکوي، چې نومورې د پښتانه قام د خپلواکۍ، ودانۍ، پرمختګ او سیالۍ لپاره د ژوندانه هره برخه خواږه قربان کړي وو او خپله دغه پورتنۍ خبره یې د نړۍ په وړاندې په خپل کردار په ډېره ښه توګه تر سره کړې او جوته کړې ده.

د ژوند لیک په لوست او ژورلید سره مور لیدلای شو، چې **خان شهید** چېرې هم تللی دی او چېرې یې هم د لږ پرمختللو او ودانو ټولنو ښه خویونه او ښېګړې لیدلې دي، نو په دې ارمان یې زړه ورته پسخېدلی او هوسېدلی دی، چې کاش داسې ښېګړو او خویونو زمور په شاته پاته ټولنه کې هم ځای نیولی وای، ځکه یې هر ځای او هر کله ټولنیز ژوند په ژوره توګه ځارلی دی او له هغوی څخه یې د ټولنیز ژوند د ودانۍ، سیالۍ او پرمختګ لپاره ښه خویونه او ښېګړې د ذهن په کاسه کې تر خپلې ټولنې پورې را رسولي دي.

د دې بهیر پیل مور له ګاندي جي سره د اوسېدلو پر مهال وینو، چې بیا یې پر ټوله ژوندانه باندې خورا ښکاري، ولې چې هلته **خان شهید** پر قامي او سیاسي تجربه تر لاسه کولو سربېره د هغه ژوند او خویونه په ډېره ژوره توګه ځارلي دي، چې احساسات یې مور په ژورلید سره د ژوند لیک په لوستلو درک کولای شو.

د پورتنۍ خبرې د باورې کولو لپاره په سرسري ډول هغه خویونه "چې **خان شهید** د ګاندي جي او ملګرو په ژوند چارو کې لیدلي او د قامي ښېګړې لپاره یې ورته بللي دي، داسې دي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کار ته په درنه ستر ګه کتل، د کار کولو ذهن او وس لرل او په کار باندې د ټولنیز ژوند انه د هوسا کېدلو ذهن او زړه لرل، د اقتصاد په لړ کې ژورد باملرنه، ببځایه خرڅ نه کول او د خپلې ماشینې، لاسي ورهنې (صنعت) په کارولو سره د خپل قام او ټولنې اقتصادي پیاوړتیا ساتل، د وړیو ورېښل او وورتل. خامتا کالي اغوستل او د خپل فکر و نظر په استازیتوب هر چا ته ور پېژندل، د هر چا مذهب او سړیتوب ته په درنه ستر ګه کتل، د ژوند لپاره د اړتیا هومره خبرې، خواړه، خوب او د هرې چارې لپاره د وخت مېرل/ ګڅه کول یا ټاکل او د هغه باورې پالل، خبره کول او په سر رسول، زغم (عدم تشدد) او پر خپل زغم باندې مونډېځ باور ماناد ایمان تر بریده باور لرل، زغم د پوهې په مانا اخستل، چې په وه خلک خپله ستونزه او کشاله په خبرو هواروي، ناپوهان خپله ستونزه او کشاله په زور، زیاتوب او تشدد هواروي او داسې څه نور خویونه او ښېګړې چې د **خان شهید** ذهن او زړه ورته پسخېدلی دی او ارمان یې کړی دی، چې څه رنګه به و شي، چې د ټولنیزې ښېګړې دا خویونه زما ټولنه هم د ځان کړې او پر خپلو پښو د درېدلو سیالي او ویاړ و لري، همداسې یې د خپلې ټولنې د پرمختګ ارمانونه په ذهن او زړه کې کرلې ګرځول او د رانېه سباوون په اړه یې فکر کاوه.

د دومره ستر قامي کردار و شا ته د خپلواکۍ، ټولنیز پرمختګ، ودانۍ او سیالۍ هم دغه ارمانونه وو، چې د قامي، سیاسي لارې په خپلولو سره یې د خپل منګ (عمر) د شېبې شېبې په ځانګړتیا باوري کړ.

خان شهید په همدې دوره کې د خپل ویاړ او همفکره درانه پښتانه مشر خان عبدالغفار خان (باچا خان) سره په داسې ډول وینې، چې د ګاندي جې په پېرزوینه د دېوي داس او یوه بل آئی سي ایس زده کوونکي ځوان په ملتیا د ښه راغلې لپاره د ربل ستهېشن ته ورځي، که

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

څه هم د یو بل له نامه سره آشنا وو، خو پر همدې ستړیشن باندې په لومړي ځل له زورور بنکېلاکګر او ځپېنبناګګر دښمن سره د مخامخ پښتنو افغانانو دوه داسې ستر کردارونه یو له بل سره وینې، چې تر دې مخکې یې نه وو سره لیدلي، یو بل ته موسک شي او پښتنه مینه د سترګو په رپ کې د یوه بل تر زړونو پورې ځان رسوي، یو بل ته غاړې وځي، سره پېژني او له **باچا خان** سره ورسره دواړه مخور ملګري (امیر محمد خان، میا احمد شاه) د ښار کوم بل هوټل ته ځي، خو د پښتنو دغه دواړه مخور کردارونه د ګاندي جي په غوښتنه د هغوی سره لیدلو ته ځي او بیا په یوه اوسپدنځای کې سره پاتېږي، کشر د مشر د درناوي لپاره هڅاند وي، خو مشر د کشر د درناوی ذهن او زړه لري، د پښتنو دواړه مخور کردارونه د زړه خواله سره کوي او په لږ وخت کې ډېر څه سره وایي، په پښتنو مخورو زړونو کې د قامي شریک درد د خسمانې او دودانۍ، سیالۍ ارمانونه خپلې غوټۍ سپړي، د هیلو شمال یې د اغزن اغزن چاپېریال پر سرونو باندې د راتلونکي رانه قامي سباوون په خیال د زړونو د درمل او ډاډمنتیا پانې خوځوي او قامي ژوند ستایي... درد یو دی، لاره یوه ده، فکر له فکره سره ملګرتیا کوي، یو په بل باوري کېږي، په نژدېکت سره ګرانېږي او د ملګرتیا داسې هوډ کوي، چې د ژوند تر پایه پورې یې د ببلتانه درد نه دی لرلی، **خان شهید** لیکي:

"**باچا خان** هم زما په کمره کې ډېر هسو او خان لالا هوټل ته ولاړ، په لومړۍ ورځ او دوې کې زه د **باچا خان** نه ډېر تنګ شوم، ځکه چې دی له مانه ډېر مشر وو او ما به د کشر په توګه د دوی خسمانه او څه ورځې کارونه کول غوښتل، خو دوی به زه دې ته نه پرېښوووم او لا به یې زما خسمانه کول غوښتل، کله به یې چای را جوړې کړې، کله بل څه... زه به په دې ډېر شرمېدم، خو په پای کې زه ډېر کلک سوم، نو سره بلد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او خوارہ سولو، خدای پاک دي يې تر ډېرہ ژوندی لري، وروسته بیا ډېر سره نژدې او کلک ملګري سو، لا یو او که د خدای ج خوښه وه، یو به... ما يې ډېرہ اوچته پوهه او ډېري ښېګړي و لیدې او لا يې وینم." (۳۲)

د یو شمېر سیاسي مخورو مخکښانو کانګریسیانو پر لیدلو سربېره له مسلمانانو مخورو مولانا شوکت علي، سر سلطان احمد، سر شفاعت احمد، سر محمد شفیع، سر شاهنواز او مېرمن شاهنواز سره تر لیدلو وروسته همدغه څلیرویشت/ پنځه ویشت کلن ځوان د هغو مخورو پښتنو (چې د خپلو سیمو په استازیتوب تللي وو) په هغه لاړ کي ځای لري، چې ښاغلي جناح يې د کانګریس له استازو څخه د لیدلو غوښتنه کړې وه. **خان شهید** د یوې بشپړې سیمې برتنې بلوچستان او بلوچستان د اولسونو په استازیتوب له ښاغلي جناح سره ځانله وینې او د یادي شوي سیمې د ستونزو په اړه تر خبرتیا ورکولو وروسته د هغه (جناح) له ښه غبرګون او خواخوږۍ سره مخامخېږي او دا هم وینې، چې د نوموړي په دوولسو اوځارو نکاتو کې انګرېزي بلوچستان د یوه ښل ولات (صوبې) په توګه ځای لري. د یادو شوو سیمو په استازیتوب دا لومړی سیاسي، قامي مخور دی، چې د هند له یو شمېر مخکښانو مخورو سره وینې، له ښاغلي جناح سره د لیدلو په لړ کې **خان شهید** په خپل ژوند لیک کې داسې لیکلي دي:

"د سلام نه پس دستي دا ګرانه پېښه سوله، چې هغوی په انګرېزي خبرې پیل کړې، ما جواب خو په انګرېزي ورکړی، خو سمد لاسه مې ورته و ویل، چې زه په انګرېزي کې ښه روڼ نه یم، خپل مراد به پوره بیان نه کړای سم، هغوی لږ دم سوچ وکړی او ویل يې: ته کښېنه! زه په اردو پوهېږم، خو ویلای يې نه سم او ګومان مې دی، چې ته به هم زما په انګرېزي دومره پوه سې، نو خیر دی، ته خپله خبره په اردو کوه او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زه به خپله په انګرېزي کوم، نو په دې شان مو یوه نیمه ګانټه خبرې سره وکړلې. که څه هم هغوی له بلوچستان سره د پخوا نه لا ډېره خواخوږي درلوده او د وخته یې د بلوچستان ببل خپلواکه ولات (صوبه) په خپلو اوڅارو دوولسو ټکو (نکاتو) کې اېښې وو، خو تر دغه وخته په بلوچستان لا نښه خبر نه وو او نه یې تر دغه وخته د بلوچستان بل قامي سړی لیدلی وو."(۳۳)

د همدې دورې پر مهال د ځینو قامي / سیاسي چارو لکه په برتش بلوچستان کې سمونچاري او بلوچستان کې د ټولنیز چاپېریال د ستونزو په اړه د وړوکي پاڼکي یا پمفلټ چاپول او په مخورو کې د هغه وېشل او پر دې سربېره په یوه سیاسي غونډه کې په ګډون کولو په هغوی باندې د وزیر میر شمس شاه د زور او زیاتوب له کبله د خپلې سیمې څخه د مګسیانو کډوالو په ملاتړ کې د غندونکي پرېږ یا قرارداد وړاندې کول او د غونډې له خوا یې د منلو غبرګون او سهار په ورځپاڼه کې چاپېدل او داسې نور...

د هیند په دوره کې د قامي / سیاسي کار لپاره د **خان شهید** هوډ کول او په دې لړ کې د اوڅاري نخښې د خوښولو په اړه یوه حواله را اخلو:

"نو مادالته په بمبۍ کې ځان له د خامتا جامې او اوڅاره قامي / سیاسي خولۍ "چې د ګاندي ټوپۍ یې بلله" جوړې کړلې او د ځان سره مې دا بول و کاوه، چې پر مخ به هم دا جامه کوم، په کومه ورځ چې ګاندي جي په دې جامو کې و لیدم، وې! دا دي ولې اچولي دي؟ زه څه پرېشانه غوندې سوم، وې مې؛ ستاسې نه دي خوښې؟ وې، نه! زما خو ډېرې خوښې دي، خو چې سړی یو وار په خپله خوښه دا جامې واچوي او بیا یې د بل په خوښه بیرته باسي، نو بد کار وي او ستاسې د ځای سرکار به تا دې ته نه پرېږدي.. ما وې؛ دا سوچ ماکړی دی، هیڅ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کله به یې د بل په خوښه یا د بل لپاره و نه باسم، که مې جامه اغوستله؛ همدا به وي، وې! نو بنه کار دی..." (۳۴)

د هیند په دوره کې له ګاندي جې سره تر پنځلس ورځې اوسېدا او د پښتون مخکښ مشر عبدالغفار خان (**باچا خان**) ښاغلي جناح او یو لړ نورو مخورو سیاستپوهانو سره تر لیدلو، په سیاسي پوهه کې تر نورې غوړېدا او په ډاګیزه توګه د قامي/ سیاسي کار لپاره د نخښې په توګه د خامتا جامو تر خوښولو او اغوستلو وروسته چې کله **خان شهید** له هینده را ستنېږي، له را ستنېدا سره سم د دښمن له لورې هم ورسره ډاګیزه جګړه پیلېږي، خو دا ځل د جګړې بڼه ځکه بدلون مومي، چې دښمن و لیدل، تجربه او باورې شو، چې زندان، ځورونو او شومو هیلو و نه کړای شول، چې د **خان شهید** هوډ او اراده ماته کړي او له خپله قامي/ سیاسي کاره څخه دې یې را و ګرځوي او بل دا چې نور نو د **خان شهید** شخصیت هم د کوشنۍ وچې (برصغیر) پر سیاسي هسک (افق) باندې د ستورې په څېر ځلنده بڼه نیولې وه او د خلکو په زړونو او ذهن کې یې ځای موندلی وو، دښمن په اسانه نه شوای کولای، چې لاس ور واچوي، ولې چې نیولو او زنداني کولو یې په اولس کې د توند غبرګون را پارولو اند ېښنې لرلې، نو ځکه یې دښمن هم په پام سره ګام ځیست او په ببلا ببلو پلمو او بهانو یې **خان شهید** ته د ذهني ځور ورکولو هڅې پیل کړې او غوښتل یې، چې له اولس څخه یې لېرې و ساتي، د سرکار له خوا ور بلل، د هیند د دورې په اړه پوښتنې ګروېژنې، په ښار کې د ناستې ولاړې د خلکو په ببلا ببلو پلمو ترهول، آن چې په کوم ځای کې به د **خان شهید** شپه وه او یا به د چا پر کور مېلمه وو، نو پولیسو به هغه مله/ کوربانه او د ځای څښتنان تنګول، پوښتنې او ګروېژنې به یې ترې کولې او بل دا چې د **خان شهید** پر ژوره ځارنه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سربېره به يې د نوموړي له کورنۍ، خپلوانو، ملګرو، ورځپاڼو او سياسيانو سره د ليکونو لړۍ هم څارل کېدله او په ښځايه پلمو او خبرو به يې د هغوی د تماسونو مخنيوی کاوه.

سمدلاسه بيرته د خپل ورور او کليوالو د کاروباري څارنې په لړ کې لاهور، ډيلي او کانپور ته تګ کول او تر بيرته راتګ وروسته د ځينو قام پالو ځلميانو په ملتيا د ځوان مير عبدالعزيز کرد سره ليدل، چې په همدې وخت کې د مزاحمت او مقاومت د خوځښت نخښې ننبانې د کلات د يوه ستر وزير په ضد د پارکوټي په چاپ سره څرګندې شوې... بدبختي دا وه، چې د بنکېلاکګرو او ځښښناکګرو د پرله پسې شعورې هڅو له کبله د سيمې اولسونو وروروروخپل واک له لاسه ورکړی وو، خپله کرونده، رمې او لاسي کارونه يې له لاسه وتلي او ډېر يې په درد نه خوړل، څه يې په نوکريو لهېدلي وو، چې دا رتياوو، د کار ذهن او زړه نه لرلو او يا هم سرکار ته د ځان نژدې کولو په نيامت يې په اولس کې يو ډول د ګوندۍ "مانا يو تر بل د ځان مخ ته کولو" لاري او ذهنيت وده کړې وه، ځينو خو "د يوه مريی د سلو بادار" لاره خوښه او ښه بللې وه، پر خپلوانو يې د بَړ/بَړ ويلو لپاره د بل مريیتوب ته غاړه ايښې وه او لويه برخه خلک داسي وو، چې وختنيو ستونزو زړه ځنې کښلی "وانښ او واني يې ځله ختلي" مانا د ژوند نيو ستونزو هوارولو ته يې غړی وتلی وو او له وختنيو ستونزو سره د مخامخېدلو او هوارولو توان يې تر وړل شوی وو، چې د داسي تولنو ذهنيت د ستونزو هوارولو پر ځای د ناچاری لاره ځان ته پرانيزي او د خيالونو په دنيا کې اوسېدل خوښوي، "چې نه کار په هغه څه کار" خبره هوښياري او ځير کتيا بولي، مانا دا چې د هغه مهال پښتون اولسي ذهنيت د خپلې نېستۍ او ناوسۍ په چاپېريال کې د ناچاری داسي کنډو ته ټېل وهل شوی وو، چې د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ستونزو د هوارولو او لاس په کار کېدلو پر ځای یې په خیالي یا رومانوي دنیا کې و اوسېدلو ته زړه ښه کړی وو.

په داسي ذهن او زړه لرونکې ټولنه کې د ځان ځانې چاپېریال ریښې نیسي او په خلکو کې پر خپله ټکی داور اړولو (ماناخپل چاروکي) اویا "هشه هشه لره؛ نظر پر خپل غوایه" غوندي ذهنیت وده مومي، یو له بله بېزاري، بېلتون، یو د بل ښه مه غواړه، د بل په پرمختګ او ښه والي خوا بد ېږه، له یو بل سره د بدو کولو ذهن لره، د ژوند په اړه د فکر نه لرلو له کبله په هر چا پسې پوچ او رد وایه او داسي نوري ناوړې چاري.. نو په داسي چاپېریال کې د اولسي ستونزو هوارولو لپاره ذهن او زړه لرل یوازې د لوستو او خبرتیا لرونکو خلکو برخه وي، چې **خان شهید** په دې لاره کې د دښمن هر ډول درانه واري ته خپل ځان تاکلی وو او په دې لاره کې یې د هر ډول ځوروونو او سترياوو ګاللو ته زړه ښه کړی وو. د داسي ستونزو هوارولو په لړ کې **خان شهید** په خپله پوهه د مونډیزو یا بنیادي چارو تر سره کولو لپاره هڅه وکړه، چې د لوستونکو وېښو ځلمیانو په ملاتړ او مرسته د خلکو په خوله له واکمن انګرېز څخه په وړاندیز کولو د خپل تاکلي، چونلي سرکار غوښتنه وکړي، ځکه **خان شهید** پاموله، چې د دې ټولو ستونزو لامل د انګرېز له خوا د تاکل شوو بېسوادو غړو خان بهادرانو، ملکانو، سردارانو، نوابانو ناپوهي ده، چې د اولسي یا ټولنیزو ګټو پر ځای خپلي ګټې په نظر کې ساتي او نه پوهېږي، چې قامي/ سیاسي ګټه تلپاتې ده او د قام په ودانې موږ هم ورسره ودانېږو، نو ځکه هغوی "د یوه مریې د سلو بادار" تګلاره پلي کړې وه او د نهیلي، مالي کمزورۍ او بېکارۍ په دې دور (Economic Depressions Slump) کې چې **خان شهید** یې پر ټوله نړۍ او په ځانګړي ډول پر کوشنۍ وچه باندې د راغلي ځپې یادونه هم کوي، نو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دلته هم د اقتصاد په اړه د راغلو اند ښښنو او را سربېره شوي قامي شعور او ویښتابه له کبله د سرکاري روزګار یا نوکریو پر سر ګوندي (مسابقه) او شخړې را منځته شوې، چې د هوارولو او خپلو ځایي خلکو د حقوقو لاس ته راوړلو او ساتلو لپاره په ۱۹۳۲ز کال کې یوه ډلګي د لوکل مسلم اېسوسي اېشن په نوم جوړه شوه، چې د هېواد په سرکار او کار کې د خلکو د ستونزو هوارولو لپاره چاري تر سره کړي او د ځایي خلکو په خواله کولو سره د بهرنیو د زور زیاتوب مخنیوی وکړل شي. د دغه ډلې په ټاکلې تګلاره (مرادونه/ مقاصدو) کې د ځایي خلکو خسمانه او ستونزو هوارول وو، ماناد لوستونکو، زدکړو، روزګار یا نوکریو او داسې نورو چارو په لړ کې خپل وس په کار اچول وو. **خان شهید** په دې اړه لیکي:

"د دوی خدای پاري خواریو به ډېر خوند راکاوه او کومک ته مې یې زړه غوښت، خو غړی یې ځکه نه سوم جوړېدای، چې په دوخت (دستور) کې یې د انګرېز پت (وفاداري) وو، چې ما نه سو منلای، نو دا لار مې اسانه وبلله، چې دریې زړه په دریې کاله ورکړم او مشریې جوړ سم، چې د انګرېز د پت (وفاداری) د لووړې (قسم) هم بېچ سم او په کار یې هم ورشریک سم." (۳۵)

همداسې په دې وخت (۱۹۳۲ز) کې ورو/ ورو په خلکو کې د عصري زدکړو د ذهنیت له ودې سره سم د ځوانانو لوستونکو شمېر ورځ په ورځ مخ پر زیاتېدو وو، په ښار کې له **خان شهید** سره په لیدلو، کتلو او ناستو کې د لوستونکو ځوانانو او مخورو خلکو سیاسي روزنې، فکر او پوهې دومره وده وکړه، چې په ځکښاري او زړور تیاسره یې سرکار ته پر ناوړو چارو باندې د ولسي ویلو توان وموندی او وروورو دغه تګلاره پالونکي ځوانان او ذهنیت مخ پر وده وو او پر دې سربېره **خان شهید** په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اولسي ذهنيت کي هم د سياسي او قامي وينښتابه لپاره ډېري هڅې او خواري کښلي وې، چې په نتيجه کي يې په همدې کال ۱۹۳۲ز زه بلوچستان ته د وايسرای پر راتګ اولسي استازو د خپلې سيالۍ او سمونچارو (اصلاحاتو) غوښتنه وکړه. د همدغه سياسي او قامي تومني وده او زور وو، چې په وده کولو او وينښتابه سره يې د پښتنو او بلوڅو سرکاري مشران دې ته ست کړل، چې په ۱۹۳۳ز کال کې د بهرنيو چارو له سکرتر متکاپ څخه يې د بلوچستان د راتګ پر مهال د خپل سرکار غوښتنه وکړه... و دې اولسي وينښتابه او بيداری ته په کتلو سره مقابل ځبېښناکګر دښمن هم لاس تر زني ناست نه وو؛ بلکې هغوی هم تر خپله وسه پورې هڅې کولې، چې په نوکريو، شومو هيلو او څه کومک او ملاتړ باندې په پښتون او بلوڅ اولسونو کې د ځان خلک و مومي او په داسي توګه د خپل واک او ځبېښناک لاره غوړېدلې وساتي... او پر دې سربېره يې په اولس کې د هغه مزاحمت او مقاومت کوونکي ډلې "چې د خپل وطن او اولس د ګټو ساتونکې او د دوی د ګټو په مخ کې خنډ جوړېدله" د بدناموولو او تورنولو هڅې د پروپاګند (چې **خان شهيد** ورته د پرې پېژاندې توری کارولی دی) له لارې تر سره کولې او ځان به يې د انسانيت پالونکی او مهذب ښوده، نو د داسي دښمن "چې په ښکاره د اقتصاد ځپلي ټولنې لپاره د نوکريو، شومو هيلو او څه کومک او ملاتړ وسيلې او شتمنۍ و لرې او تر پرده و شاته يې د کالونيل ازم ځبېښناکګره پروژه پلي کړې وې" له جغ او زيندۍ څخه په ټوليزه توګه د اولسي ذهنيت ژغورنه د يوې ډېرې اوږدې او پياوړې سياسي مبارزې غوښتونکې وه، چې د پيل بڼ يې په اولسي ذهنونو کې لږ او ډېر هيله ساتونکی ځای موندلی وو.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهید وایي، چې په همدې وختونو ۱۹۳۲-۱۹۳۱ز کې د بلوڅو لوري ته د کلات د خان په مرګ باندې ښه پوره بدلون ځکه را منځته شو، چې د کلات خاني "له خپل پلار خدایداد خان سره په بوري او پښین کې بند وان او د پلار تر مرګ وروسته په شپږ مانده کوټه کې زنداني پاته شوي" اعظم خان ته ځکه په برخه شوه، چې د مړه شوي مخني خان/ محمود خان د اوجاغي (خاندانې/ کورنۍ) ښځې نرینه اولاد نه وو او د سوریتي یا مینځې اولاد ته بلوڅان د پلار د ځایناستي ارزښت نه ورکوي، نو یې خاني و وراره ته و رسېدله، د اعظم خان له تاکل کېدلو سره سم له ویښو خلکو سره د وران وزیر میر شمس شاه "چې له زور زیاتوب څخه یې مګسیان کډوال شوي وو او د هغوی مشر یوسف علي خان مګسي د نوموړي په نغوته لس زره روپۍ ډنډ او په کلات کې نظر بند پاته وو" له وزارت څخه ځکه لېرې کړل شو، چې یوې خوا ته د نوي تاکل شوي خان نه وه ورسره جوړه او بل دا چې قامي ډلې "انجمن اتحاد بلوچان" او مګسي اولس "چې مشري یې میر یوسف علي خان مګسي کوله" د نوموړي په ضد بلوڅ اولس را پارولی وو او بل دا چې اعظم خان د بند پر مهال په پښتني سیمو کې پاته شوی وو او له پښتنو سره یې د زړه خواله هم لرله، نو یو خو د بلوڅو قامي/ سیاسي ډلې و ژغورل شوې او قامي کار یې په ښکاره پیل شو او نوموړی له پښتنو څخه هم چندانې لېرې څوک نه وو، بیا دا چې د نوموړي په مړینه باندې د کلات د خان په توګه د احمد یار خان تاکنې هم پر سیاسي/ قامي کار باندې اغېزې و درلودلې، چې هغه هم قام ته نژدې او ویښ څوک وو، چې د نورو غوندې په نه څه نه شو تېر وتلای.

شهید غوندې په ۱۹۲۹ز کال د لاهور د کانګریس کلنۍ غونډې ته تللی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وو او هلته یې یو لیک د کلات د زور زیاتوب په اړه لیکلی او په "مساوات" ورځپانه کې چاپ شوی وو، که څه هم د نوموړي مګسي نوم ورباندې نه وو، خو د پیسو په زور د کلات وزیر میر شمس شاه ته رسېدلی وو، چې په تور یې د ۱۹۳۰ز کال په پسرلي کې نوموړی میر مګسي نیول شوی او په مستنګ کې زنداني شوی وو. وینې شاعر او په سیندي، اردو او پارسي ښه پوهېدی او ښه ویناوال هم وو. **خان شهید** زیاتوي، چې دغه نوی ځوان ډېر ربنستونی، زړور، نېغ، لاس ارتی (سخي) زړسوانده او قام دوسته وو.

خان شهید لیکی، چې د بلوچستان تر ټولو د ماړه (شتمن) نواب قیصر خان مګسي زوی یوسف علي خان د ډېرو پیسو او ښه زړه په توان د لاهور پر ورځپانو او د ولات پر قامي/ سیاسي کار ځکه خور (حاوي) شو، چې د پنجاب په ورځپانو کې یې خوندور او تېز لیکونه کول او د بلوچستان د ولات (صوبې) خلکو به په مینه لوستل او د دومره نامه څښتن وو، چې د هیندوانو او مسلمانانو د جوړې (یونیټي) لپاره د نوموړي غونډې (د الله اباد د اوځاري غونډې) غړی هم وو.

خان شهید وایي، چې دغه یاد سړی مې تر دغه وخته لیدلی وو او نه مو د ډلې ترون او اړیکي سره درلودې، خو د همدې کال (۱۹۳۲ز) په ووړې (دوبي) کې یې پر موږ باندې د باور په کولو سره په "زمیندار" اخبار کې بیان ورکړی وو، چې پنځلس ورځې وروسته به په بلوچستان کې د خپلواکه سرکار غوښتلو لپاره په لاریون تر سره کولو د بلوچستان ورځ و لمانځل شي او د لاریون مشري به مولانا عبدالصمد خان (**خان شهید**) کوي، په دغه ناڅاپي خبر او باور باندې موږ ملګرو یو بل ته په خبر تیا رسولو سره د سنډېمن هال په شین ګنبټي کې ناسته وکړه او د دیوه سیاسي بڼې د پټ ساتلو او پر موږ باندې د باور ځواب مود

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ملګرو په ملتیا په ښه زړه ورکړی او دنیا ته، مو هم د خپل یووالي او ویښتابه ږغ په ښه وایه (ډول / توکه) ورسه وه.

هوا! وروسته مود لیک له لاري په رمزونو سره پوه او ست کړ، چې یو خو قامي، سیاسي کار بې پیونه (تنظیمه) په سر نه رسېږي او بل دا چې له وخته سره به په ځان او ملګرو کې د مزاحمت او مقاومت و توان ته په کتلو داسې ګام اخلو، چې په سر و رسېږي.

مخکې مو هم یادونه وکړه، چې په همدې کلونو (۱۹۳۰-۳۱ز) کې دلته په خوارو او ځپلو اولسونو کې د سیاسي ویښتابه څپه روانه وه او په هیند کې د کانګریس، په روهه (سرحد / اوس خیبر پښتونخوا) کې د خدایي خدمتګارو قامي او سیاسي جګړه زوروره او توده وه او په ځنګ کې د افغانستان ښوربښت، د نازي جرمني، پاشي اتلي او داسې نورې پېښې او پر دې سربېره د دغه پېړۍ د شلمو او دیرشمو کلونو په لسیزو کې پر نړیوال او ځایي چاپېریال نښتې خپل وزر غوړولی وو او اولسونه د لوړې او مالي نشتوالي سره هم مخامخ وو او بیا په زیاته سره زموږ په وطن کې د خوارو اولسونو ځپلې اقتصاد او توند جذبات... نو په داسې چاپېریال کې د بې آزموینې، بې تجربې ځوانانو د سیاسي بهیر لپاره څومره په پام او سړه سینه د ګام اخستلو اړتیا وه، چې بې پامې او تاندو جذباتو له هر ډول ستړو او ستومانیو سره د مخامخ کولو په داسې اندېښنې لرلې او هم یې د نهیلیو کندو ته ټېل وهلای شول...

شهید سیاسي پوهې ته اوونښت، چې تر دې وخته پورې یې پخپله ځیرکتیا او پوهه د ټولو باور پر ځای ساتلی وو، نو ځکه په ملتان کې د بلوڅو په نامه د یوې غونډې جوړولو په لړ کې نومورې نواب زاده میر یوسف علي خان مګسي لومړی لیک **خان شهید** ته ولیکی او په غونډه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کي یې د ګډون ورته و ویل، چي بیا هم **خان شهید** ورته د بلوچستان د پښتنو او بلوڅو د قامي او سیاسي هڅو، ویښتابه او د خپلو حقوقو تر لاسه کولو او ودانۍ لپاره د یوې ګډي او شریکي ډلي د اړتیا خبره وکړه، په یاده غونډه کي پټېیل شوې وه، چي د همدې کال (۱۹۳۲ز) په پای (ژمي) کي به د ټول هیند د بلوڅانو غونډه (کانفرس) په جېکب اباد کي تر سره کوو.

تر غونډه دوې میاشتي مخکي چي کله و **خان شهید** ته بیا د ګډون او د غونډي د هرکلي د جرګې جوړولو او نورو چارو په لړ کي د مشورې لپاره بلنه ورکول کېږي، نو نوموړی یو ځل بیا د پښتانه او بلوڅ د دې قامونو د ستونزو هوارولو لپاره د دواړو د ملتیا خبره کوي او هغوی یې په داسي غبرګون (Conference Free From Bluchi Questions) باور ورکوي او **خان شهید** جېکب اباد ته په ورتګ نژدې دوې میاشتي مخکي د ملګرو په ملتیا د یادي غونډي په لړ کي خپلي هلي ځلي پیلوي او د غونډي په پیلیزو چارو، تګلاره، تجاویزو، د ګډون لپاره د وړتیا لرونکو کسانو په ټاکنه او داسي نورو چارو کي پخپله پوهه، کردار او استعداد هغوی ست کړل، چي د بلوچستان لپاره د بلوچستان په استازیتوب، له سیند، پنجاب او نورو شا او خوا سیمو څخه د قامي او سیاسي مشرانو په ګډون دغه تر سره کېدونکې لومړنۍ قامي او سیاسي غونډه د **خان شهید** (عبدالصمد خان) په مشري تر سره کړي، که څه هم د دې غونډي د مشرۍ لپاره له غونډي سره په ښه زړه کومک کوونکی د خیرپور ریاست نواب میر نواز علي خان تالپور ټاکل شوی وو او ښه پوره کومک یې هم کړی وو، چي نه راغلی، په دې قامي غونډه کي که څه هم د سرکار له خوا د مشرانو او نورو خلکو د ګډون د مخنیوي لپاره پټي او ښکاره هڅې تر سره شوي وې، خو په غونډه کي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خلکو ګډون ډاډمن او د اولس د ږغ ځوږه په ټول هیند کې خوره شوه. د ددې غونډې په اړه **خان شهید** داسې لیکي:

"دا شان د بلوچستان د خلکو پښتنو او بلوڅانو دا لومړی قامي غونډه د بلوچستان د سرکاري پولي (حدود) نه باهر او د سیند او پنجاب د بلوڅانو په شراکت د خیرپور ریاست د نواب خېمو، سامان او مالي مرسته او د بلوچستان او سیند د لویو زمیندارو، سردارانو او سردار خېلو په پیسو او کومک زما په مشري کې پیل سوله، چې یو شانته په سیند کې هم د خلافته وروسته د مسلمانانو لومړی او اولسي غونډه وه، ولې دغه وخت په سیند او پنجاب کې لا په ټول هیند کې د مسلمانانو څه اولسي ډله یا ټولی (جماعت) نه وه." (۳۶)

له پورتنۍ خبرې څخه جوتېږي، چې د یوه ټولمنلي، ستر، غوړېدلي اوباوري کردار و شاته د فکر او پوهې ډېره درنه شتمني پرته (کار فرما) وي او د همدې شتمنۍ په کار اچولو لپاره د ټولنیزې سپېڅلې مینې ارتیاوي، چې د **خان شهید** په ستر قامي کردار کې یې لیدلای شو.

مانا دا چې پر ټول ولات (بلوچستان/ سوهېلي پښتونخوا) سربېره د نورو ولاتونو (سیند، پنجاب) درونده استازیتوب په ډېر لوی باور سره و دې ته زړه ښه کوي او د یادې غونډې مشري و **خان شهید** ته سپاري، هغه د شاعر خبره چې ژوند د کرار په ژبه خبرې کوي:

چې رونوي د ژوندانه دستونزو لار په ژبه
هغه وګړي تل ژغېرې د کردار په ژبه
ژوند مرور وي له هغو څخه چې کار نه کوي
آزاده! ژوند کوي خبرې تل د کار په ژبه (۳۷)

په غونډه کې لوی شمېر مخورو مخکښانو ګډون درلودی او اغېز یې دا وو، چې د غونډې په دویمه ورځ خبر خپور شو، چې انګرېز سرکار له

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بمبۍ ولات څخه د سیند د بېلولو خبره منلې ده، کومه چي د سیند د خلکو زړه غوښتنه وه.

په کوټه ښار او شا او خوا سیمه کي تر قامي/ سیاسي کار کولو او خپل فکر غوړولو وروسته دویمه غونډه په حیدرآباد کي وشوه، چي په دې غونډه کي ډېرو درنو مخورو ګډون کړی وو او د سرکار یو شمېر نوکران هم ورته راغلي وو. په همدې وخت کي انګرېز سرکار پر وزیرو او مسیدو قبایلو باندي د الوتکو بمبارۍ کولې، که څه هم په غونډه کي ځینو سرکاري نوکرانو او ورسره ملګرو یې د اولسي (سیاسي) کار په مخکي خنډ هم اچاوه، خو د **خان شهید** په شتون کي تر سره کېدونکي دغه غونډي د انګرېز سرکار په ضد د غندني پرېڼ (قرارداد) و مانه او غوښتنه یې وکړه، چي سرکار دي سمدلاسه دغه ناوړه چار بنده کړي.

خان شهید له همدې غونډي څخه په فکري تومنه اخستلو و پتېیله، مانا اراده یې وکړه، چي د کوم اخبار/ ورځپاڼي غم به خوري او بل به په سرکاري خلکو کي د قامي فکر د را سربېره کولو او ویښتابه لپاره کار کوي، نو د همدې لپاره یې د ځینو ملګرو په سلا او مشوره له سرکاره څخه د اخبار را ایستلو غوښتنه وکړه، سرکار یې غوښتنه که څه هم و منله، خو د خنډ لپاره یې یو شمېر غوښتني (شرایط) وړاندي کړې.

خان شهید د اخبار او قامي/ سیاسي کار لپاره د سرکاري خلکو د ملاتړ تر لاسه کولو په نیامت او هڅه ډیلي ته ځي او هلته د مسلم کانفرنس د ډلي له مولانا شفیع داودي، د مدراس د کانګریسي مسلمان مشر سید مرتضی بهادر (چي له کانګریس څخه پر دې خبره بېل شوی وو، چي په سنټرل کمېټۍ کي یې د روهـ (اوسنۍ خیبر پښتونخوا) د خپلواکه ولات په جوړولو کي مرسته نه وه کړې) سره ویني او هغوی یې د اخبار په لړ کي د ملاتړ لپاره له یوې جوړي شوي، جرګې څخه پوښتنه کوي،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بنوونکي یې په دې ست (منونکي / مایل) کړي وو، چې زدکړه یې و
مني او د هلکوانو استعداد ته په درناوي د کتلو ذهن او زړه ولري.
پر دې سربېره یې په خپل کلیوال او بنارې چاپېریال کې د ځینو بېځایه
کلتوري خویونو (چې په اولسي ذهنونو کې یې ځای نیولی وو) لکه
"نر پسه د چړې دی، تربور د توري شپې مړوی دی، بنځه د پښو
موچنه ده، د بنځې عقل په پونده کې دی، عصري زدکړي سړی کافر
کوي" او داسې ګڼ شمېر نور خویونه یې د اولس په وړاندې په ډاګه
غندل او په مقابل به یې په وراشو یا مباحثو سره د بنوار خونو په ملاتړ
دلایل او لاسوندونه وړاندې کول، د همزولو او ځوانانو په وړاندې به
یې د نشو او بېځایه خویونو، ناستو پاستو غندنه کوله او له داسې چارو
څخه به یې د راګرځولو لپاره وراشې او مباحثې تر سره کولې...
سربېره پر دې یې د وګړنیزې (انساني) روغتیا پالنې په لاره کې د
اولسي ذهنیت په رغونه له ځینو دودیزو ناوړو لارو چارو څخه د
راګرځولو لپاره هم ډېرې هلې ځلې کړې دي او له هلکوالي، ځوانۍ
څخه یې په دې لړ کې په کور، کهول او کلي کې د پیرانو، زیارتونو،
کوډو، توتکو، تعویذونو او نورو چارو تر سره کولو پر ځای و اولس ته د
روغتیا پال (ډاکټر) او درملنې لارې چارې ستایلې او ملاتړ یې کړی
دی او داسې نور نور... دا خبره مو د نوموړي په ژوند لیک کې په
بلورې توګه جوتولای شو، چې **خان شهید** په خپل مزاحم او مقاوم
طبیعت تر خپله وسه پورې د پښتنې ټولنې د ټولو ناوړو چارو غندنه په
لوی زړه کړې ده، نه یوازې غندنه بلکې د مخنیوي لپاره یې کوتلې
ګامونه هم اخستې دي او دا یې زبات کړې ده، چې د خبرو تر شا که د
عمل ملاتړ نه وي، نو هغه خبرې تش خبرې پاتې وي او د اولس په
مخکې خبرې کوونکی د هیڅ ټول او وزن ویاړ په برخه نه شي لرلای او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خو د مټکاف انګریز په خوله ځواب ورکول کېږي، چې په بلوچستان کې پریس ایکټ نشته او په خبرو خبرو کې تر ډې دا هم څرګند ږي، چې سمدلاسه هلته پریس ایکټ او یا اخبار پیلول هم نه غواړو...

خان شهید وایي: نو ماد هیند سرکار د بنوونیزې څانګې له مشر میا فضل حسین سره ولیدل، چې ډېر پوه، پیاوړی، ربنتیاګو او کلک سړی وو، د یادانښت غوښتنه یې وکړه، چې د اخبار د اولسي، قامي، مالي، بنووني، نوکرانو په اړه وو او ما په دوې ورځې کې جوړ او ورکړ. همدغه سړی میا فضل حسین وو، چې د انګریز پر ناخوښي سربېره یې په بلوچستان کې د پوهنځي (کالج) پرانستلو لپاره هڅې کولې، خو په څه وخت کې میا هم له ځایه و نبورېد او د زلزلې نادر به پېښه هم پر کوټه وشوه، چې ټول کارونه یې سره وران او ویجاړ کړل.

د میاله خوا د تر سره کېدونکو هڅو وروسته **خان شهید** د هغه په سلا یو ځل بیاله مولوي شفیع داودي، سر محمد یعقوب، سر محمد یامین، ډاکټر سر ضیاوالدین، سر شفاعت احمد خان "چې ټول د اسمبلۍ غړي وو" سره ولیدل، خو هغوی دومره خواخوږي نه بنوولە او دا کار یې ډېر ګران باله او و یې ویل، چې واکمن یې نه خوښوي او څه موده وروسته به د سر آغا خان له راتګ سره سم هغه ته جرګه شو، خو د دواړو مسلم ډلو "مسلم کانفرنس/مسلم لیګ" د مشرانو و مټکاف ته د وراستولو لپاره زړه ښه کړی او په دې لړ کې یې له کېټر انګریز سره پر تونډو وراشو یا خبري شخړو سربېره هم پوره یو نیم کال وروسته په بلوچستان کې د اخبار دود (قانون) پلي کړی، خو هغه هم په داسي وخت کې چې **خان شهید** په زندان (جېل) کې وو...

د غوښتنې پوره کېدل که څه هم ډاډمنتیا بخښونکې وي، خو په داسي وخت کې ځوروونکې او دردوونکې ده، چې د یوه ولات او وطن لپاره د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پر مختګ د لاري پرانستلو په لړ کې کوم وګړي هڅه او مبارزه کړې وي، خو د تر سره کېدلو پر مهال یې هغه کردار زنداني وي...

د پریس ایکټ په لړ کې و دې قربانیو او ورپسې خواریو ته په کتلو او څارلو سره بناغلی اکرم شاه لالا لیکي:

"د پریس ایکټ د پاره قرباني، بیا چې پریس راغلی، بیا اخبار اول اخبار، بیا په اخبار کې اول صحافي، بیا د اخبار سره اول تیکنیشن، ګوا اخبار چلول یې هم ده کول، اډیټر یې هم دی وو، ترتیب کول یې هم ده کول، بیا د مشین تر شا ولاړ وو، د هغه زمانې د پریس په لحاظ سیاهي پکښې اچول، بیا ته اخبار را باسې، بیا یې سهار په بازار کښې خرڅاوه او داسې نوري چاري..." (۳۸)

خان شهید په اخباري دود (قانون) کې د مرستې د مننې په غبرګون سره د مرتضی بهادر او مولوي شفیع داودي په بلنه په مسلم کانفرنس کې ګډون کوي، چې **خان شهید** یې د ستري جرګې په غړیتوب هم منلی وو، وروسته یې د هغوی په یو شمېر غونډو کې ګډون کړی وو، چې په پیښور (تنظیم) کې د خان بهادرانو، لویانو، غټانو او افیسرانو په څنګ کې د هیند د مسلمانانو مشرانو ناوړه رویې او له یو بل سره تر سره کېدونکي ناوړي چاري او پوچ و رد وینې، نو په اړه یې د ناخوښۍ څرګندونه کوي او د دواړو ډلو د غونډې لیدلی حال داسې لیکي:

"د دوی غونډه پیل سوله، نو ټول هم هغه زمور د ډلې غړي وو، لغړ (یوازې) درې تنه بناغلی پوه (علامه) اېغبال (اقبال) مشر مولوي محمد شفیع داودي او زه (عبدالصمد خان) داسې وو، چې د لیګ غړي نه وو، مور په کوټه (کمره) کې یوې ډډې ته کښېناستو، منټ دوه پس درې څلور کسه پاڅېده، په یو ځل یې ویناوي پیل کړې او د غونډې د مشر یې نه منله، کېپټن سر شېر محمد پنجابي پر مشر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کرسۍ راتسه (وغورځوله) کړله او پسې راغی، هغه یې تر لاس و نیو، د کرسۍ نه یې را واچاوه، وروسته د ډوډۍ پر مهال هم د سر یعقوب او د بهار د سید مسعود سره خوله سوه او یو بل ته یې د بنځو رنګه پېغورونه سره ورکول، زه چې په داسې سپکو کارونه وم بلد او د پښتنو په درنو قامي مرکو ولد وم او یا مې بیاد کانګریس د کارینده جرګې درانه مشران لیدلي وو او د هغوی درنې مرکې او درانه خویونه او هر قامي مشر مې ډېر دروند او پاک سړی ګانه، د دې خلکو و خویو ته هک پک (حیران) پاته وم او ډېر ارمان راته درپېده، چې د هندي مسلمانانو اولسي مشران دا دي، نو پای به یې څه وي." (۳۹)

څرګنده دي وي، چې د مسلم کانفرنس په تر سره شوو غونډو کې (چې **خان شهید** ګډون پکښې کړی وو) هم نوموړي د خپل وطن او اولس په اړه د مسلمانانو مشرانو پر کردار نیوکه کړې وه او د هغوی په ناسته کې یې هم د هغوی په ضد خبره کړې وه، لیکي، چې:

"هم په دې کال په لاهور کې د مسلم کانفرنس کالیزه غونډه د ډاکټر اقبال په مشري کې په لاهور کې وسوله، د پنجاب ټول سرکاري مشران مسلمانان او د هیند غټان را غونډ وو، زه د ستري جرګې د غړي په توګه د پریانونو (وړاندیزونو) د جرګې (سبجیکټ کمېټي) هم غړی وم، په دې جرګې کې د مولانا غلام رسول مهر او بنسغلي الله بخش یوسفي په مشري کې موږ څو کسو دا پرېنټ وړاندي کړ، چې دا غونډه په غونډ مېز جرګه (ګول مېز کانفرنس) کې د مسلمانانو مشرانو د کار غندنه کوي، ځکه چې هغوی د مسلمانانو نه مراد هم ترسره نه کړ." (۴۰)

خان شهید وایي، چې دا پرېنټ یا قرارداد که څه هم و منل شو، خو د کمېټي مشر د قرارداد په اړه ما ته داسې وویل، چې ځوانه! دا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

غونډه او دا پرېن (قرارداد) ډېر ځله لېږي دي، ځکه په دې وړاندیز کې د ډېلي په لویه جرګه کې د مسلمانانو غړو د شمېر او د بلوچستان د ولاتو د خپلواکۍ پر خبره سربېره نوري خبرې هم وې.

په همدې وخت کې **خان شهید** له ځینو پښتنو مشرانو سره لکه د پېښور بناغلی علي ګل خان او بناغلی پیر بخش خان وکیل او داسې نورو سره ولیدل او د روهـ (اوس خیبر پښتونخوا) او برتش بلوچستان د پښتنو د ژوندنۍ چاپېریال په اړه خبرې وشوې، چې په روهـ کې له پښتنو سره د انګرېز پر زور زیاتوب او ناوړو چارو باندې د **خان شهید** زړه نور هم درد پدلی وو، مانادا چې د هغوی هره شېبه او هر ګړی د خپل مرام او خپل قام په نوم وو.

په یاده غونډه کې په ګډون کولو سره د دغه پېیون یا تنظیم د غړیتوب په لړ کې **خان شهید** وینې، چې بنسټ او موندې یې سیاسي نه بلکې د شتمنو پر راټوړه ورکړه ولاړ وو، ځکه تنظیمي یا سیاسي کارکوونکو غړو ته هغه ارزښت نه وو په برخه، کوم چې شتمنو ته په برخه وو.

نوموړی له بیرته راتګ سره سم و خپلو پېیوني یا تنظیمي چارو ته په پاملرنه په ژوند لیک کې څه داسې اړخونه را سپړي، چې په بنکاره خو ښځې له پامه وتلي ایسي، ولي د پاملرنې وړ وي، چې ژور لوستونکي ترې د را روان مهال او وختونو لپاره ډېر څه زده کولای شي او له همدې لارې د هغه مهال او یا هم اوس مهال د پښتنو نفسیات ویلای شي، په ځانګړي ډول د پېیون (تنظیم) چلولو لپاره د معاشي اړتیاوو پر بنسټ د بسپنې (چندې) په لړ کې **خان شهید** د خپلو غړو او ملګرو د څه بودو (کیسو) پېښو او اند ښښنو په یادونه سره وایي، چې په دې ډګر کې یوازي او یوازي هغه وګړی په سپین مخ وتلای شي، چې په سپېڅلي نیت یې د کردار په تر سره کولو باور ساتلی وي، نوموړی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زیاتوي، چې د ملګرو په منځ کې باور ډېر ارزښت وړ وي او په داسې مکار دښمن لرونکې او اقتصاد ځپلې ټولنه کې خو باور او بې باوري د ژوند او مرګ پولي ځله بېلوي، ماناکه باور و ساتې، نو په فکري توګه ژوندی پاته کېدلای شې او که یې نه و ساتې، نو د زمان چپلاخي او احساسات به دي د خپل وجدان په زیندې دار ته خېژوي.

د سپېځلي کردار په باور پر خپل ځان هم ګمان کوي او وایي، چې په بېلا بېلو ډلو کې زما د خوښولو وَ شاته هم دغه د شومي هیلي نه لرلو کردار وو، چې نه مي له چا څه غوښتل او نه مي ځان له څه اخستل، خو ځکه چې د ملګرو ټول خرڅ مي په ځان نه سو پوره کولای او نه مي تر پایه داسي ملګري پیدا کړل، د ډلي خو پرېږده، چې خپل قامي یا ځاني خرڅ یې پخپله کولای، نو په ناچاري مي له خلکو بسپن (چنده) کاوه، هندو وو او که مسلمان، که خوار وو که بډای یا سردار په ټبه زړه یې مرسته را سره کوله او په دې لړ کې یې نه یم تنګ کړی.

خان شهید په دې لړ کې د دوو لارو په ټاکنه څرګنده کړې ده، چې یا خو به پخپله وس لرې او یا به هم بسپن کوې او په بسپنه کې یې هم دوه ډوله خلک ټبوولي دي، چې یو خو کارکوونکي او ملګري نظریاتي خلک وي، چې د خپلو ارمانونو د بشپړتیا او تکمیل لپاره هڅې کوي او بل دا چې په شتمنو خلکو کې هم دوه ډوله خلک وي، چې یوه ډله یې خدای پاري وي او بله ډله یې د ځینو ځاني ګټو ساتلو لپاره داسې چارې ترسره کوي، چې په را روان وخت کې یې ګټې په خیال کې وي.

خان شهید په دې لړ کې د نومیالي مخکښ **باچا خان** (عبدالغفار خان) د ټاکلې او بې هیلې لارې یادونه هم کوي او لیکي:

"د دې یوه چاره خو هغه ده، چې ښاغلي **باچا خان** نیولې ده، تر اوسه یې را چلوي او تر ډېره ځایه یې سر ته هم رسولې ده، چې نه د چا نه څه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

غواړي او نه چا ته څه ورکوي، نه خپل په خرڅ تګ راتګ ځان خبروي او نه د ملو یا ډلې په دې، که به چا بندوبست کړی وو، نو په موټر کې به تله، کنې پر پښو به روان وو، که به څه وو؛ و بې خوړل، کنې په لوړه یې وخت اړاوه، لادا چې نور ملګري یې هم ډېر خرڅ ته نه پرېښوو." (۴۱)

د پورتنیو خبرو په لوستلو زه (آزاد) هر وخت له یو ډول څرنګوالي (کیفیت) سره مخامخ شوی یم او زړه مې وغواړي، چې د دومره سپېڅلي کردار په سیوري وجدان ډاډمن کړای شم او دا هم چې د دې مخورو مخکښانو تر منځ څومره رښتونې او له شومو هیلو ژغورلې ملګرتیا وه، چې د یو بل تر فکري ژور تابه پوري یې رسېدلو ته لاره پرانستې وه، ما چې د **باچا خان** د کردار په اړه څومره څه لوستلي دي، په دې څو کرښو کې دومره زور راته څرګند شوی دی، چې مینه او کردار یې زما د وجود هر هر اندام په لړځ اخته کړای شي.

د **خان شهید** په ژوند لیک کې د دې سپېڅلي مخکښ یو بل انځور هم په همداسې مینه کې نغښتی لیدلای شو، نوموړی وایي، چې په پېیون کې د ملګرو او غړو په منځ کې چې ډېرې اندېښنې را ولاړېږي؛ هغه په ځانګړي ډول په داسې ټولنه کې د پیسو د راکړې ورکړې له کبله وي، چې درانه او سپېڅلي کردارونه هم له اندېښنو سره مخامخ کولای شي، لکه پورته چې یې هم یادونه وشوه، **خان شهید** لیکي:

"په دې هکله ما ته ډېره ګرانه دا پېښه وه، بې بسپنې (چندې) ډله نه سوه چلېدای او د بسپنې سره د پښتنو د لوړې له مخې بدګمانۍ ترلې وې، خبر نه یم، چې د بسپن ګټه به زیاته وه که د ملګرو او د خلکو د بدګمانیو تاوان؟ چې سرکار او د نورو ډلو مشرانو او اخبارو به هم هوا ورکوله، بیا چې ګورم، **باچا خان** هم د دغو بدګمانیو او دروغو نه ووېرېږ، چې هیڅ کله یې د چا نه بسپن نه اخستله." (۴۲)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هېښوونکې ده، چې د داسې سپېڅلو مخکښانو کردارونو لرونکی قام نن هم له سترو ستومانیو سره مخامخ پاته دی او نن هم له خپله ځانه او وجدانه څخه د پوښتنې کولو ذهن او زړه نه لري.

خان شهید څرګندوي، چې د ستونزو او سترو هوارولو پر ځای په مخ ږولو سره لاس تر زنې کښېنستل، د بېلې یا بلې لارې د کتلو خویونه د پرېوتې او بې سره قام وي، مانا هغه قام چې د پېښون (تنظیم) سیاست او کار ذهن او زړه نه ولري، د هغو د خپلواکه او خواږه ژوند هیله بېځایه ده، موږ ته په کار ده، چې پر خپل کردار باندې د بیا کتنې خوی ولرو او د بابا او نیکه په توره د نازېدلو خویونه پرېږدو، ولې دا هم تولمنلې او علمي خبره ده، چې په نن کې څه نه لرونکې تولنه د پرون په ویاړونو ځانونه خوشحاله او ډاډمن ساتي.

خان شهید د کچهې او جل مګسې په لیدلو سره د هغوی د شاته پاته ورځې او شاړو مځکو په اړه تر پلټنې ګروېږنه وروسته په دې رسېږي، چې دغه ولکه سل کاله مخکې د پښتونخوا یا خوراسان زورورو باچهانو له خپل وجود سېند څخه را ببله کړې وه او د کلات و خان ته یې د مړه ورور په خون بهاکې ورکړې وه، چې په یوه جګړه کې مړ وو، کومه چې وروسته د کلات خان د جالاوان او ساراوان و ببلا ببلو تپو، قبیلو ته ور وېشلې وه، نو له دې څخه ښکاري، چې له خپل وجود څخه جلا شوی هر اندام او مځکه پای خپله شېرازې او ودانې له لاسه ورکوي او له پامه وځي.

خان شهید وایي، د یادې مځکې او سیمې د اوسېدونکو ارزښت هغه نه وو پاته، لکه د خپل وجود سره په تړاو کې چې وو، په سرکار او جرګو نه وې، نو هغه لکه ګونګ بې خولې او بې زبانه پاته وي او بل دا چې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زمانه هم و داسي چاته برخه نه ورکوي، هغه وايي، د زورور تر سيوري لاندي ځوک وده نه شي کولای او په دې لړ کي د امريکې د حبشيانو (تورانو/ تور رنګ لرونکو) بېلګه راوړي، چې پر پوهه تر لاسه کولو سربېره هم نه دي سيالان شوي...

په همدې شاليد کي موږ له خپل وطن څخه په بېلا بېلو وختونو کي د جلا کړل شوو برخو او د هغوی تشخص له لاسه ورکول ليدلای شو. **خان شهید** د پښتنو او بلوڅو د ژوندني چاپېريال په ليدلو او څارلو سره څرګندوي، چې په بلوڅو کي "که څه هم دوی وايي، چې يو وخت يې مشری او سرداری د قاموليږ او اولسواکۍ بنسټ درلود، خو زما په ليد يې مشري يا سرداري د انګرېز دور او يا تر دې هم لږ مخکي د نيکت (موروثي) پاته شوې ده او داسي مشر يا سردار په هيڅ توګه نه غواړي، چې خپل برم او واک له لاسه ورکړي او په دې وخت کي خو يې بياد راغلو پرديو (انګرېزانو) ملاتړ هم ځکه په برخه وو، چې دوی تر اولسي ګټو د ځاني ګټو ساتونکی ذهن او زړه درلودی، ځکه هغو د ځان کړل او د دوی په سيمه کي به يې خپل استازي (نوکر) هم د دوی په خوښه تاکل او په دواړو به يې د اولس لوټلو او ځورولو لاره پرانستې وه.

په همدې ملتيا يې له اولس سره دومره زور زياتوب تر سره کاوه، چې ه برم يې د چوکۍ (کرسۍ) او لوړ ځای ناسته يوازي دوی ته پاته شوه او د دوی په مخکي بل ځوک پر چوکۍ نه شوای کښېنستلای او نه د دوی په نوم چاته ويل کېدلای شوای... د سردار خون بهايا بدل د شلو کسانو په مرګ رغېدله او د مير خون بهاد لسو کسانو په مرګ.. آن چې د سردار، نواب په کلي کي هم چاکوم غله، لوټمار او نورو ناوړو چارو تر سره کوونکو ته څه نه شو ويلای، چې دا به مشرانو، سردارانو د ځان

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سپکاوی ګانه، مانادا چې هر غله او لوټمار به دوی ته ځان رساوه او پای به ددوی آله کار شو او په شوکو او غلاوو کې به یې برخه سره کوله.

د سردار په مخکې به د ویلو لپاره لومړی پوښتنه کېدله او بیا به یې هم پیل په دې ټکو کاوه، چې "سردار ته دې خیر وي" آن چې دغه خوی د خلکو تر روغبړه پورې هم و غځېدی او په روغبړ کې یې هم ځای ونیو، هر یوه به دا خبره چې "سردار ته دې خیر وي" هرومرو یو بل ته په روغبړ کې غبرګوله، **خان شهید** په دې یادونه کې د هېل هټلر (Hail Hitler) بېلګه یا مثال راوړی دی، د ټولنیز ژوند وړاندې شوی انځور د هغه وخت د سردارانو، نوابانو د زور زیاتوب تشه سرسري بڼه وه، چې له دې څخه پرته یې هم د زور زیاتوب نورې بڼې شته، خو په ځانګړې ډول د بنځو په لړ کې زیاتوب د ویلو او څرګندولو نه دی...

خان شهید لیکي، چې په داسې چاپېریال کې یوسف علي خان مګسي او نورو پرمختګ خوښوونکو بلوڅو غړو له موږ سره په ډله کې کار کولو ته په ډېر لوی زیان او تاوان زړه ښه کړی وو، نور خو پرېږده، آن چې یوسف علي خان مګسي د نواب د کورنۍ غړی هم له خپله کوره شړل شوی وو، خو دغه لاره یې د وجدان په ډاډمنتیا او سپېڅلي هوډ پالله. د پښتني ټولنیز ژوند په اړه هم **خان شهید** وایي، چې په پښتنو کې هم د مشرۍ او سرداری دور د قاموليۍ، اولسواکۍ بنسټ درلود او دغه چاره به یوازې په ښه کردار د اولس په چوپړ کې د زړه په تسکین او د وجدان په ډاډمنتیا، مېلمستیا او تورې تر سره کېدله، مانا مشر به دا خویونه لرل، ځکه د ستر خوشال بابا زوی عبدالقادر خان خټک وایي:

دهر خان چې نه روتۍ وي او نه توره
ښه جواب یې دربان و کا چې خان نشته (۴۳)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دا چې د پښتنو د ځینو سیمو خلک تر سمو باچهیو د لاندې پاتې دا له کبله د اولسواکۍ او اولسوالۍ په خوی بوی پوه شوي وو، نو په فکري توګه څه ژغورلي او توانا پاته شول، خو د انګرېز له راتګ سره سم د پښتنو سیمو څه برخې د ټاکل شوو سردار، نواب تر زور زیاتوب لاندې شوې او هغوی هم ځانې ګټو د ځان کړل، چې وس به یې و رسېدی، د اولس له ځوروولو او زور زیاتوب څخه یې لاس نه اړاوه او ځینو یې بیاد ستانه توب/ پیرۍ او رسېدلو ځورې په اولس کې خوره کړه، چې اوس یې هم څرې وړی د مرغړیو (خنازیرو) اوده منې، په ځانګړې ډول وروب، بوری، موسی خپل تر باراخانه او څه نورې ولکې. که څه هم زور زیاتوب یې کاوه، خو دومره نه وو، لکه د بلوڅو په سیمو کې چې وو. همداسې د روهـ (خیبر پښتونخوا) سیند او پنجاب سیمې وې، چې د داسې خانانو/ وډېراګانو او چودریانو تر زور او زیاتوب لاندې وې... انګرېز د همداسې په شمېر کسانو په ملتیا او ملاتړ غوښتل او هم یې وکړل، چې د کالونیل ازم خپله تګلاره پلي کړي او د بنکېلاک په توان د نیول شوو سیمو ځبېښناک تر سره کړي، چې په همدې ډول یې د برتش انډیا، برتش ګیانا، برتش سمالي لېنډ او نورو سیمو په څنګ کې د پښتنو و نیول شوو سیمو ته یې د برتش افغانستان پر ځای د برتش بلوچستان بېځایه نوم ورکړی.

په داسې سابنده چاپېریال کې **خان شهید** او ملګرو یې د همدې یادو شوو پردیو بنکېلاکګرو او ځبېښناکګرو په څنګ کې د یادو شوو ګوډاګیانو او په شومو هیلو باندې د خپلو ځانې ګټو پالونکو په وړاندې مبارزې تر سره کولو ته ذهن او زړه بښه کړ او هغه هم په داسې وخت کې چې د دوی ډله ببخې په لومړي او پیلیز پړاو کې وه، چې یوازې او یوازې د یو څو لوستو او مخورو کسانو ملتیا یې لرله او هغه هم تر دې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بریده چې د قامي مرامونو لپاره به یې په بېلا بېلو غونډو، جرګو، مرکو کې خپل پریانونه یا تجاویز وړاندې کول او یا به یې هم د اخبارونو، ورځپانو او پاڼکیو (پمفلټانو) له لارې د خپلې قامي مبارزې لاره پالله او بس، چې په مقابل کې یې د دښمن د پای نه لرونکو ځورونو او زور زیاتوب سره مخامخېدل او د هغوی د ګوډاګیانو د خپلو ګټو پالنه او د قامي ګټې په لړ کې بې غوري او بې حسه ورځ وه.

قام نټلی (بېوزله/ مظلوم) وو او لوستونکو ملګرو غړو هم دومره ژوره کتنه نه لرله، یوازې یې د قامي خپلواکۍ ذهن او زړه درلود، خو تر اوسه د بنکېلاکګر ځبېښناکګر په چلونو او سندېمن کړنلاره نه وو خبر چې هغوی د همدې ګوډاګیانو (ترَپلو مشرانو) په وس او موټ د دې سیمې او قامونو د ځبېښناک چارې تر سره کول غوښتلې...

ځکه قامي، سیاسي مخورو او لارویانو په ژوره څرکتیا او ځیرکتیا تر خپله قامه پورې د خبرې رسولو لپاره دغه لاره غوره کړه او وې پالله، چې په اولس کې یې د انګرېز زور زیاتوب په کلکه غانده او د اولسونو بې برخې ورځ یې ژړلې او بل دا چې د انګرېز له خوا د ترپلو مخورو ګوډاګیتوب او بې غوري یې هم تر پېغورونو لاندې نیوله، چې په هم داسې توګه په دېر لږ وخت کې سیاسي او قامي شعور په پښتون، بلوڅ نټلو او خپلو اولسونو کې ژوره خواخوږي و موندله او همداسې په ټول اولس کې د خپلې بې برخې ورځې احساس را سربېره شو، چې دغه سیاسي، قامي ډله یې یو ډول د فکري روزنیز مرکز و ګرځېدې، چې تر دغه وخته پورې یې له تاوده بغاوته پرته بله لار نه پېژندله.

په همدغه کال (۱۹۳۳ز) د **خان شهید** جېکب اباد ته تګ او د بلوچستان کانفرنس له غړو غلام قادر او مشر سکتر بناغلي غلام سرور مغل سره لېدل او بیاد مشر ورور عبدالسلام خان، اسماعیل خان او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سلیم خان په ملتیاد حیدرآباد غونډې له تګ "چې د غونډې یادونه مخکې هم شوې ده" په دې غونډه کې له کراچي او نور سیند، له پنجاب او د ټول بلوچستان له شا او خوا سیمو څخه ګڼ شمېر غړو او لوی شمېر سرکاري نوکرانو هم ګډون درلودی، غونډې ته د لوستونکو یوه ډله هم د نواب زاده میر محمود لغاري په مشرتابه کې (چا چې د بلوچستان اینډ آل انډیا بلوچ سټوډنټس کانفرنس لپاره بسپنه (چنده) هم کړې وه او دغه ډله د جېکب آباد د غونډې دایله جارو (رضاکارو) غړو د مشر مرید حسین مګسي په هڅو جوړه شوې وه) راغلې وه.

تر دې غونډه لږ وخت مخکې د بلوڅانو په سیمه کلات کې د خان په توګه د میر احمد یار خان ټاکنه او په جل مګسي کې د سردار په توګه د میر یوسف علي خان ټاکنې که څه هم په یادو سیمو کې په زړه پورې پایلې لرلې وې، خو د غونډې په وړاندې د خندونو را منځته کولو لپاره د انګرېز هڅې دومره وې، چې غونډې ته د راغلې سردار او زمور له ملګري یوسف علي خان څخه ایجنټ غوښتنه کړې وه، چې ته به ګډون نه کوې، خو د هغه لپاره بیرته تګ ناوړه کار وو، په همدې غونډه کې د قامي او سیاسي ډلې د مرکز یا منځې په توګه پرېکړه وشوه، چې په ټولو ولاتو (صوبو) کې به خپلواکه ځانګې یا ښاخونه جوړېږي او بله پرېکړه د **خان شهید** په خوښه دا وه، چې د غونډې تر او دې د آل انډیا مسلم کانفرنس سره و شي، چې نومورې عبدالصمد خان به ورسره د ډلې له خوا د مشر او استازي په توګه د خبرو واک هم لري.

یادې غونډې ته په بهرنیو مهلمنو کې شیخ عبدالمجید سیندی هم راغلی وو او د غونډې د ګډونوالو په جوش لیدلو سره اند ېښمن شوی وو، چې دا به د سیند د مسلمانانو په منځ کې بېلتون را منځته کړي او په نوي بېل شوي ولات سیند کې به بیرته واک هندوانو ته ورسېږي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهید وایي؛ موږ د خپل قام د ودانۍ په مراد د پوهولو لپاره له هغو سره د لیدلو پرېکړه وکړه، چې د خپل ځپلي اولس د ویښولو او خسمانې (چوپړ / خدمت) لپاره د هغوی ملاتړ تر لاسه کړو، له هغوی سره تر لیدلو وروسته دا خبره ښکاره شوه، چې د سیند ځپلی مسلمان اولس تر اوسه پورې نه کومه اولسي ډله لري، نه کوم اخبار او نه هم بله هیله، یوازې یې هغه غټان، پیران او سپتان ویده ساتل غواړي، چا چې له انګرېز سره لاس درلود او د ویښو ملګرو د یادې ډلې په مخکې یې هم وخپلو ګټو ته د تاوان په اند ښښنه خنډونه اچول غوښتل..

همدغه ویښه ډله د شیخ عبدالمجید سیندي، سپټ عبدالله هارون او نورو ملګرو په ست کولو بریالۍ شوه، چې د بلوچستان د نتلي اولس د ږغ اورېدلو لپاره یې غونډې ته زړه ښه کړ او د ډلې ملګرو د شپږو ټولیو په ملتیا یوه اوونۍ مخکې خبر څېرې (هینډ بل) چاپ او خور کړ او په څوورځو کې یې ټول کراچي را وغوښت او تر ټولو نومورو کسانو پورې یې د غونډې مراد او د ګډون لپاره ست او بلنه و رسوله، چې په اغیز یې د کراچي په ښار کې دومره ستره او تاریخي غونډه تر سره شوه، چې ږغ یې ټول هیند و لړ ځاوه او په ځانګړې ډول د بلوچستان د اولسونو په اړه د **خان شهید** سپینه (ربستیا) وینا او د انګرېزانو د کړنلارې غندنې د قامپالو پر زړونه سربېره په ټولو ورځپاڼو کې ځای نیولی وو او په غونډه کې د ګډون کوونکو مخورو په ملتیا د بمبۍ، مدراس او ډیلي د لویو ورځپاڼو استازی صورت سینګ (د هیند د لویو ورځپاڼو هغه استازی وو، چې د کوټې د زلزلې پر وخت د خپلو ورځپاڼو په استازیتوب کوټې ته را استول شوی او همدا صورت سینګ وو، چې و **خان شهید** ته یې د کراچي د یادې دورې او وینا په تاثر کې د بلوچستان ګاندي نوم ورکړی وو) او کې جانکیاني، مجتبی، مولوي نورالحق (د پښتو د اسلامیه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پوهنځي ډین) او نور سیاسي ذهن او زړه لرونکي وو، چې د دې ډلې سیاسي او قامي بڼ یې په داسي وخت کې خور کړی، چې د انګریز او کانګریس د ډلې جګړه اوج ته رسېدلې وه او د هغوی لوی شمېر غړي یا خو بندیان وو او یا هم د انګریز سرکار له وېرې ګوښه ناست وو، نو دغه غونډه او سیاسي هلي ځلي او منډې ترنډې وې، چې و سیاسیانو ته یې د نوي ژوند زېری ورکړ.

د کراچي د یادي غونډې په اړه **خان شهید** داسي لیکي:

"د غونډې په ورځ دا نه چې یوازي کنې په غونډه کې خلک ډېر وو، هال په ډک لا تر زیات وو، ناپېښه دا وه، چې د هر رو (لارې) غټان تر دې چې هغه سرکار پرست خلک هم را غونډ سوي وو، چې په خپل ژوند به چېرې اولسي غونډو له نه تله، په نورو کې جام میر ایوب خان بېرسټر هم راغلی وو، چې د لسېلې د نواب تره وو، مسټر طیب جي بېرسټر چې بیا د سیند د ستري میانځګرۍ (چیف کورټ) ستر میانځګر (چیف جج) هم وو، جمشید نسروانجي او اوځار بینکر مسټر دستور د پارسیانو مشران وو، د کانګریس په مشرانو کې یوازي پېغله (مس) جېټي سېپا هېملاني راغلې وه، چې وروسته د سیند د سرکاري جرګې (لېجسلېټیو اسمبلۍ) وړه مشره (نایب صدر) او اوس د بمبۍ د سرکاري جرګې وړه مشره ده." (۴۴)

د **خان شهید** د لومړي ځل نیولو پر مهال و انګریزانو ته د ښېنو په رونا کې انګریز سرکار تر ډېره ځایه د **خان شهید** تر نیولو لاس اړاوه، خو د جېکب اباد (۱۹۳۲ز) غونډې په ملتیاد حیدرآباد او کراچي تر غونډو پورې د سیاسي هلو ځلو په توان په اولس کې تر دومره ویښته اخورولو او بڼ رسولو وروسته د انګریز سرکار زغم هم پای ته ورسېدی او **خان شهید** له کراچي څخه جېکب اباد ته په راتګ له خپلې کډې (چې په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دې وخت کې د **خان شهید** کډه د ژمي تېرولو او د خپل تربور او ملګري سره د لیدلو لپاره په جبکب اباد کې وه) سره تر لیدلو او په مینه تر خدای په امانې کولو وروسته ګوتې ته بیا ګلستان ته راغلی، په سهار پیر الیزیو ته د خپل استاد مولوي بارک (په کابل کې د ملایانو د سرکاري ټولې غړی) د ورور عبدالرحیم حساس د مرګ لاسنیوي یا پاتا ته ورغلی او په پیر الیزیو او ګلستان کې تر شپه اودوې تېرولو وروسته چې کله کوټې ته راغلی او د عرض محمد خان کره یې په مېلمستا شپه تېره کړه، نو په داسهار د پولیس له خوا د وارنټ په بنکاره کولو و نیول شو او د اړتیا وړ شیانو (تووروو) تر را اخستلو وروسته یې پښین ته یووړ او د ای اې سي سردار جعفر خان (چې د **خان شهید** په هڅو په اځګزو کې د سردار په موندلو کې له ناکامۍ سره مخامخ او انګرېز ته خړمخی او خواشینی شوی وو) سره مخامخ شو، چې هغه یې نیولو ته د ډېر خوشحاله او په فرنټیئر کرایم ریګولېشن ۴۰ ماده کې د نیولو او په سباد پېشولو ورته وایي، **خان شهید** داسې ځواب ورکوي:

"په دې څانګه (ماده) کې پېښې د څه وي؟ خو آر په به دې کاوه، ویل یې پولیس وایي؛ مور د کراچي او حیدرابادہ ګواهان را ولو، ما ورته و خندل، چې د سیند ویناوي او کارونه دلته څنګه پېښېدای سي، ولي هلته سرکار نسته که څه؟ او که هلته بیا بل سرکار دی؟ ویل یې؛ زمور خوښه هر ځای چې کېږي چلوو.. دا وو؛ په هغه وخت کې د بلوچستان د سرکار واکوالان او د میانځګړی شان (بڼه)." (۴۵)

د **خان شهید** پر نیولو باندې د اځګزو ملکانو ژوره خواشیني (په پښتنو کې د قبیلویت بنکارندوی ده) او د عبدالرحیم خان جاسوسي (په پښتنو کې د ګوډاګیتوب بنکارندوی ده) وروسته د انګرېز سرکار له خوا د پنځه کسیزې جرګې (خان بهادر عبدالله جان کاکړ، سردار غلام

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

محمد ترین، سید غلام محی الدین شاه، عبدالغفار اخگزی، صاحبزاده محمد ایوب) تاکنه او د هغوی په خوله سزا کول دانگریز سرکار چالاکي او د پښتنو په منځ کي د قبیلویت په نوم د کرکي، نفرت خورولو انگریزي هڅه چي تر اوسه پوري خوره او بریالی ده.

د جرګې غړو پر پښېماني سربېره هم سر غړونه وَنه کړای شوه، چي له انگریز سرکار څخه د شومو هیلو اړتیاوو بېواکه کړي وو او د انگریز په خوښه یې په بې واکه ژبه د پښتنو دغه قامي، سیاسي مشر د درې کلونو په بند او د بند تر تېرولو وروسته د درې یا پنځو زرو د لاسګري (ضمانت) په سزا و رساوه.

باوري ده، چي شومي هیلي د بېواکه اولس نخښه او څوک له ځانه پردي کولای شي، په منځ کي یې د بېلتانه کرښي را کښلای شي، ورور له ورورہ بېلولای شي، ځان پېژندنه قام پېژندنه ده، قام پېژندنه د قامي حقوقو او شتمنیو په خپلولو سره خپلواکه کېدل او له شومو هیلو ځان ژغورل دي، چي خپلواکي هم دې ته وایه شي.

همدا هغه بند او د میانځګرۍ یا عدالت په وړاندي پېښېدل وو، چي **خان شهید** ته یې د خپل بیان لپاره یوازي او یوازي دوې ورځي وخت ورکړ، چي نوموړي شپه او ورځ پر ځان یوه کړه او په شپږ ویشت کلن منګ یا عمر کي یې د قام مقدمه په دومره ښه او غوړ بدلي ډول د هغوی په مخ کي وړاندي کړه، چي نن هم هغه بیان تاریخي ارزښت لري.

د پورتنۍ جرګې په خوله باور کول او د هغوی خپلواکه بلل **خان شهید** خپله ناپامي بولي او له ذهن او زړه څخه د دې بار سپکولو او لېري کولو (تزکیه نفس) لپاره د یوویشت ورځو پر له پسې روژې نیولو هوډ کوي، چي وروسته یې په مچ جبل (۱۹۲۹ز کال جوړ) کي تر سره کوي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهید له پښین زندان څخه د کوټي د پولیټیکل ایجنټ بنګلې ته تر څه پوښتنو او ګروېږنو وروسته د کوټي زندان سي کلاس ته او بیا له کوټي زندان څخه د مچ زندان ته وړل کېږي او له نورو بندیانو څخه جلا یا ځانله په پنځلسم واټ کي زنداني کېږي.

څرګنده دي وي، چي مچ زندان ته تر راتګ مخکي **خان شهید** د خپل ملګري عبدالعزیز کرد په نیولو او د جرګې له خوا په درې کاله سزا رسولو خبرېږي، چي هغه هم دلته په مچ زندان کي بندي وو.

اته پونډه زولنې او څو ورځي پس بیرته د زولنو پرانستل، له خپلو کتابونو بې برخي کول، قرآن او د جېل له پاړکنځي (لایبرېري) څخه د یوه انګرېزي او یوه اردو کتاب ورکول، له قلم، پنسل او کاغذ څخه بې برخي کول، په یوویشت ورځي پرله پسې نیولې روژه کي د خدمت لپاره دوه درې کسان ورکول، د درماني (ډاکټر) څارنه او وروسته بیا هم دلته د واکمنو له خوا د ځینو نورو ګمارل شوو څارګرو، څارونکو تر څارنه لاندي د ژوند تېرول، د بلوڅي ژبي زدکړه، د انګرېزي ژبي پخول (ښه زدکړه) او څه نورو ته هم د زدکړو او لیک ور زده کول...

د کاغذ او قلم پر غوښتنه سربېره نه رسېدل او پر زړه نه غوښتلو سربېره هم دې ته اړ ایستل چي له نورو لارو یې تر لاسه کړای شي، وروسته په همدې لړ کي د څارونکو او نورو په ملتیا او مرسته د عبدالعزیز کرد سره د لیکونو راکړه ورکړه او له دباندي څخه د نظامي او اسلم خان په مرسته د لیکونو او لیکنو را رسېدل، په د باندیني حال خبرتیا آن چي د لیکونو دغه لړۍ تر لیکنو پوري و رسېدله او یو وخت داسي هم و شو. چي د دیوان جمیعت رائ د داسي انګرېزي لیکني "چي په هغه کي بې پر بلوچستان باندي د انګرېزانو د احسانونو او پېرزوینو خبره کړې وه" په ځواب کي **خان شهید** د کرد ملګري په ملتیا داسي لیکلي وو، چي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"د انگرېزانو په راتلو خو د اولس په غاړه هغه پخوانۍ جامې هم پاتې نه سوې، د کچې، مکران او توبې او زیارت بلوڅ او پښتانه اوس هم برمنډ لیدل کېدای سي، هو! تا رنگه څو نوکران چې د ډېره غازي خانه د خره پر شا سپاره راغلي وو، اوس په هډسن کارونو کې ګرځي او یا یو څو تنه سرداران چې د اختر مبارکۍ کارتونه جوړ سوي دي." (۴۶)

څرګنده دي وي، **خان شهید** په جبل کي تر غوښتنه وروسته له کوره را غوښتل شوي اتلس تفاسیر لکه بیضاوي، جلالین، تفسیر کبیر او نور... د نورو درنو پوهانو پښتو، اردو او پارسي کتابونه، د ویناوو یا احادیثو شپږ کتابونه (صحاح سته) او داسي نور لوی شمېر کتابونه ولوستل او د بلوڅي ژبي زدکړه او د انگرېزي پختیا پر دې سربېره وه.

د انگرېزي ژبي په پوختیا کي و **خان شهید** ته د جبل د انگرېز مشر هم څه مرسته او کومک رسېدلی وو، هغه داسي چې جبل وارډ ته به ورته راتلی او له **خان شهید** سره به یې په انگرېزي خبري / ګپ شپ کاوه، خو پر دې سربېره هېښوونکې او ځوروونکې پېښه دا وه، چې د انگرېزي ژبي د پوختیا او نورو زدکړو لپاره **خان شهید** کله د جبل له انگرېز واکمن څخه د کاغذ قلم یا پنسل غوښتنه کړې وه، نو هغه له لوړو واکوالانو څخه د ورکړي او نه ورکړي په اړه پوښتنه کړې وه، چې په غبرګون کي د انگرېز سرکار ځواب څه داسي وو، **خان شهید** لیکي:

"د جبل پرنګي له د سرکار جواب راغی، چه ده ته کاغذ قلم دوی نه سي ورکول کېدای، ما بیا ورته و لیکل، چې که نور نه وي؛ سلېټ او سلېټي را ایله کړی، څه وخت پس یې جواب راغی، چې هغه هم نه سي کېدای." (۴۷)

زه فکر کوم، چې د اوسمهال په ټوله نړۍ کي به بله داسي بېلګه / مثال په ډېره ګرانه تر لاسه شي او یا به ډېخي د ګوتو په شمېر پېښو کي وي،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې د علم غوښتونکو مخنیوی دي په دومره سپین سترګي او جبر تر سره شوی وي، هغه هم د داسي واکمنو له خوا چې و تر لاس لاندي اولسونو ته به یې دا تاثر ورکاوه، چې موږ د شاته پاته خلکو د ښېګړو او پرمختګ لپاره خدای ګمارلي او علم پال خلک یو...

دا هغه پېښي دي، چې موږ پکښې د ښکېلاکګرو او ځېښناکګرو آره بنه او شومي هیلي لیدلای شو، همداسي یې د ۱۹۳۵ز کال د کوټې په زلزله کې له اولس سره د **خان شهید** د کومک زړه غوښتنه هم په ډېره سپین سترګي سره ځواب کړې وه.. ډېره ځوروونکې او دردوونکې ده، چې تر پورتني بندیز وروسته هم بیا د لیک لوست دغه چاره د لوړي او پیاوړي ارادې ځښتن " **خان شهید** " د کتابونو د مرستي په څنګ کې د کانې په مرسته د خدای پر مځکه یا د زنداني خوني/ کمرې د دېوال پر لاندینۍ برخه باندي (چې په اوونۍ دوو کې به د جېل له خوا لېږ (ګل) کېدله) تر سره کړه. **خان شهید** په دې اړه لیکي:

"چې د سرکاره مي هیله و ختله، نو یو وخت هسي ناست ناست مي پام سو، چې ولي د خدای پاک د مځکې او کانو څخه د سلېټ او پنسل کار وانخلې، بس دستي مي خپل لوست دا شان پیل کړ، چې انګرېزي کتاب ناول ماول به مي کوت او هر ګران نوی او نابلده توری چې به مي مخې له راغی؛ هغه به مي په خپل ژبتوني (لغت/ ډکشنري) کې وکوت او په کانې به مي پر مځکه پنځه څلې و لیکی، چې ایزګي یا پیزې (سپیلنګ) به مې یاد سو، بیا به مي پنځه خبري داسي و لیکلې، چې مراد به مي په یاد کې تینګ سو، خو ګرانه دا وه، چې د شپې مځکه نه وه، څه ورځې پس مي دې ته پام سو، چې د زنداني کوټې د دېوال پر لاندې برخه دا کار کېدای سو، خو ګرانه دا وه، چې مادا نه غوښتل،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چي دجېل پرنګی زما دانوی سلېټ و ويني، پس مي زده سو، چي پر ليکلي څه اوبه و پاشې او بيرته يې لېو کړې، نو ورک سي" (۴۸)

دا وه؛ د اولسي ودانۍ لپاره په اغوستي پوښ کي د راغلو ځبېښاکګروآر (اصل) بڼه او کردار چي د اولس د ويښتابه له وېري يې د هغوی مخور مخکښان په زندان کي هم ساتل او له هغوی سره يې داسي رو کاوه.

وروسته د جېل واکوال ښاغلي ټاون سن تر بدلېدلو مخکي **خان شهيد** او ملګری عبدالعزيز کرد د مچ په اتم وارډ کي سره يو ځای کړل.

که څه هم د کراچي تر غونډه وروسته د انګرېز سرکار له خوا غبرګون ډېر سخت او په ځانګړي ډول د بلوچستان د اولسونو د مشر او مخورو تر نيولو وروسته البلوڅ اخبار هم بند کړل شوی وو او د کارکوونکو د مخنيوي څه نوري چاري هم تر سره شوي وې، خو د دوی خوځښت دومره پياوړی شوی او ملګري يې جوړ شوي وو، چي د دوی په زنداني دوره کي يې هم د باندي کار په ښه ډول روان ساتلی وو.

مقابل دښمن پر پورتنيو ناوړو او ناخوالو سربېره د مشرانو د کورنيو پر ځور او د ځينو ملګرو د بېزاره کولو نور چلونه هم تر سره کول، چي داسي بېځايه تورونو او د پروپاګند هڅو د خامو ذهنونو د ملګرو په منځ کي څه بېلتون هم راووست، چي د هغوی له کبله ځيني پاخه ذهن لرونکي ملګري هم بدزړي شو..

خان شهيد يادوي، چي د ۱۹۳۵/۱۹۳۴ز کلونو ژمی ډېر سخت سوړ او تر نورو کلونو، وختونو زيات بارانونه وشول او په مچ کي زوروره سيلۍ او بادونه چلېدل، چي پر مځکه او لاندي شا او خوا فرش باندي به خرمنونه کنګل (يخی) پروت وو.

خان شهيد په مچ جېل کي وو، چي د ۱۹۳۵ز کال د پنځمي مياشتي د دېرشمي نېټي له تېرېدا سره سم د شپې پر څه د پاسه درې بجې هغه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

درنه او زورووره زلزله وشوه، چې د کوټې دښار په نړولو سره یې په زرګونو انسانان تر نړاندو لاندې و وژل او په لکونو انسانان یې بې کوره او بې پرده کړل... هېره دي نه وي، چې تر دې زلزلې مخکې په ۱۹۳۱ز کال راغلې زلزلې د مچ زندان هم څه برخه نړولې وه.

خان شهید زیاتوي، چې د زلزلې په دومره درنه او ځوروونکې پېښه کې د دومره زیات انساني مرګ ژوبلې په څنګ کې د جېل د بندیانو ژوند هم ارزښت درلود او په دې لړ کې مي خبره په پوره ټینګار تر واکوالانو پورې و رسوله، چې د هڅو پایله په شپه کې د بندیانو د باندې را ایستل او ویدول وو، خو له د باندې څخه د خپلو ملګرو په وسیله دا خبرې را رسېدلې، چې سرکار د اولس چوپړ شاته کړی او د خپلو خلکو غم خوري، چې په همدې رونا کې مو له سرکاره و غوښتل، چې د خلکو د خسمانې او چوپړ لپاره مي پرېږدي، په همدې وخت کې د زلزلې په دویمه یا دریمه ورځ د ښاغلي نظامي د لیک له لارې خبر شوم، چې خوږ ملګری ښاغلی یوسف علي خان مکسي هم په زلزله کې لاندې شوی او مړ دی، **خان شهید** لیکي:

"په دې مي زړه تر اند د پاسه بد سو، نظامي ته مي و لیکل، چې د مرګ څه نور خبرونه او نخښې نښانې یې راته ولیکه او لاندې مي ورته د صایب داکړې و لیکله:

چون شمع زندگانیٔ روشن دلان دمیست
اما دمے کہ باعث احیائے عالمیست

د **خان شهید** ژبارلې بڼه یې داسې ده:

د ډېرو یې شان د نېکانو ژوند یو دم وي
خو په دې دم د جهان ژوندون تول سم وي" (۴۹)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تر زلزله وروسته خلک له بناره بند کړل شوي وو، په بنار او شا او خوا کلیوالو سیمو کې په لکونو خلک له سختو کړاوونو سره مخامخ وو، نو ځکه **خان شهید** و ستر واکوال ته په لیک لیکلو غوښتنه کوي، چې د دغو ځپلو او نتلو خلکو خسمانه په کار ده، زه او زما د ملګرو ډله به دا کار او چوپړ تر سره کړو، خو سرکار یې په داسي رټه توګه ځوابوي:

"ځلور میاشتي پس کښتر انګرېز جواب راکړ، چې سرکار به تاپرېږدي، خو هله چې ته د درې کارو لپاره داسي لاسګری راکړې، چې ته به په هیڅ توګه د انګرېز سرکار د هغه رایتو، د بلوچستان د سردارانو او د بلوچستان دریاستو د نوابانو د تاوان او بدنامۍ هیڅ کار نه کوې" (۵۰) دا وو؛ د انګرېز سرکار د نیاومنتیا یا انصاف هغه انځور (تصویر) چې پر غوښتنه سربېره یې په دومره درنه مرګ ژوبله کې هم د اولس استازي مشر ته د خپلو خلکو د خسمانې یا خدمت لپاره د زندان ور (دروازه) ځکه ټرلی و ساته، چې د دوی ځانې ګټو ماناواکمنې ته د زیان رسېدلو بېځایه اند ښکنه ورسره وه او په داسي وخت کې یې هم د خپلو رایتو (مانا هغه خلک چې د دوی لاسپوڅي وي) ګوډاګیانو او ټاکلو سردارانو او نوابانو غم ورسره وو، خو له مرګ ژوبلې سره د مخامخ دومره اولس د ځور او زاوال کوم فکر ورسره نه وو.

خان شهید د نړۍ د ژوري سیاسي او تاریخي کتنې (مطالعه) په رڼا کې ډېره ژوره پاملرنه لري او خپله کره کتونکی یا نقادانه نظر زباتوي، چې شاته پاته هېوادونو مانا مسلمانانو د خپل ځان لپاره هیڅ هم نه دي کړي، لکه فرانس، انګرېز، امریکن، روسانو یا چینایانو اولسونو چې وکړل او یا یې نن د هیند او افریقې خلک کوي، په شاته پاته اولسونو کې بدلون یا تحول هم د سړو لپاره وي، چې دوی ته پیسې ورکوي او جنګوي یې او یا د دوی ناخوښه وي، د اولسواکۍ یا کوم نظام لپاره کله

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هم دوی جګړه نه ده کړې، ځکه د انګرېزانو، امریکې، روس او چین جنګونه د ازادۍ، اولسواکۍ، سوشلزم او کوم بل نظام لپاره جنګونه بلل کېږي، خو د مسلمانانو جنګونه د سړو په نوم یادېږي او دا هم یادوي، چې له علي او معاویه ځخه د نادر او سقاو تر جنګه پورې ټول د سړیو په نوم یاد جنګونه دي، بې وسلې او د زغم جنګ خو دوی له سره کړی هم نه دی، ځکه یې په تاریخ کې د خلکو حال نشته، یاد دوو شاهزادګانو کیسه وي او یاد دوو جنرالانو، سردارانو او باچهانو او یا... کله د یوه د زنده باد نارې وي او کله د بل، د فکري نظام خبره نشته، په ځومره ژوره ځارنه او ژور نړۍ لید د دغه توپیر انځور وړاندې کوي:

"پر ټوله نړۍ قامونه خپل د سر او مال په ښندلو د پردو او خپلو باچهانو نه د اولس آزادي، واک او اولسواکي (جمهوریت) و ګټل او لګیادي، خپل د ابادۍ او ودي کارونه کوي او مسلمان یکي یو قام دی، چې لا د خپلو او پردو باچهانو/ ټولواکانو (دکټېټرز) سردارانو او خانانو په مریېتوب کې پراته او هر چېرې د اولسواکۍ نه بې برخې دي، هر ځوک "خپل یا پردی" چې په زور او ډنډه د واک واګې په لاس کې واخلي، بس دوی دا د خدای کړۀ او زور ګڼي او ورته پراته وي." (۵۱)

همدا هغه ژور نړۍ لید او ځارنه وه، چې د پښتون قام په فکري روزنه کې یې تبارز وکړ او هغوی یې په فکري توګه دې ته ست کړل، چې په خپل زمان او مکان کې د ملک پالنې، خانپالنې، سردارپالنې او نورو له تېښز یا تائید ځخه په ځان ژغورلو د دې فکري جمود غندنه وکړای شي او همداسې یې د اولسونو په فکري روزنه تر سره کولو هغوی ته د نظریاتي سیاست او اولسواکۍ لپاره د سیاسي هڅو لوری روښانه کړ.

په همدې روښانه کې د **خان شهید** او مخورو یادي مبارزې ته د قامي، سیاسي مبارزې نوم ورکول شوی دی، چې د قام او اولسونو په ذهنیت

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کې یې په بنه توګه تبارز کړی دی او په فکري اووښتون یا تحول منلو سره یې د جمود په ماتولو د پرمختګ پړاو ته ګامونه اخستي دي.

د همدې مبارزې په تور زنداني شوی **خان شهید** (عبدالصمد خان) تر خپل ملګري میر عبدالعزیز کرد وروسته په ۱۹۳۶ز کال کې د شپږمي میاشتي (جون) پر اوومه نېټه باندي چې لا یې هم اووه ویشت کاله منګ او عمر پوره کېدلو ته یوه پوره میاشت پاته وه، تر زلزله یو کال یوه میاشت او اته ورځي وروسته په شپه کې له مچ څخه د پولیسو تر څارنه لاندي چمن ته یووړل شو او هلته د کوټې پولټیکل ایجنټ ګېسټرو په خپل اوسېدنځای (ریسټ هاوس) کې د **خان شهید** له خوا د شومیا تر تاکل شوي نېټې دوې، درې ورځي مخکې د پرېښوولو د بڼ پېرزوینه وربانديي کوي او دا هم ورته وایي، چې دلته د افغانستان او بلوچستان د پېښو/ کشالو د هوارولو لپاره ګډه جرګه روانه ده، که له ما سره ځې، نو ملتیا مو وکړه، خو **خان شهید** د یوې اوونۍ وروسته ژمنه ورکوي او د کورنیو خپلوانو او پښتنو لوري ته روانېږي...

په چمن کې د لوی شمېر خواخوږو پښتنو سره تر لیدلو وروسته د ړېل له لارې پر ګلستان سټېشن د خپلې کورنۍ، خپلوانو او راغلو ګڼ شمېر پښتنو د درناوي سره مخامخېږي او خپل کور ته ځي.

یوه اوونۍ وروسته له پولټیکل ایجنټ سره د ژمنې په پاللو پر چمن پوله باندي د دواړو خواوو افغانستان او بلوچستان (مستعمره سیمې) تر منځ د ځینو پېښو کشالو د هوارولو لپاره په تر سره کېدونکې ګډه جرګه کې ګډون کوي او د دواړو خواوو د پښتنو مشرانو سره وینې، د مرکې پر مهال د دواړو لورو د مشرانو او پولټیکل ایجنټ په غوښتنه د دوی په منځ کې کنبېنستل، څه ځور او څه هیلې را سربېره کېدل او د هغې خوا د مشرانو په خپل کار د زړه ډاډ او سرپڼې (ویاړ) لیدل او د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خپلوانو تر منځ په بېلتانه له غږېو (د زړه ارمان) سره مخامخېدل او داسې نور جذبات او احساسات وو، چې تر لیدلو وروسته یې **خان شهید** په دغه بیت د زړه سوده (کرار) کړې وه:

نه کلونه د غلام په غلامي کښې
نه یوسات د آزادۍ کې ځکندن وای (۵۲)

له بېلا بېلو سیمو څخه د ملګرو او پښتنو تر راتګ او له هغوی سره د خبرو په ترڅ کې د قامي، سیاسي وراشې تر څېړلو، سپړلو او د راروان وخت لپاره د خپل نظر تر شریکولو وروسته **خان شهید** د خپلو نیولو (ګرفتاری) په اړه د هغه تور سپینولو "چې د جبل پر مهال په ځینو ورځپاڼو کې دا پروپاګند خور شوی وو، چې دوی په قامي کار کې نه دي نیول شوي" لاټ ته لیک واستاوه او د سرکار له خوا یې په منلو سره بیرته سپیناوي و شو، چې تېر زندان په قامي او سیاسي لاره کې وو.

په همدې وخت کې له سرکاره د اخبار لپاره غوښتنه (درخواست) کول، چې پوره لس میاشتې وروسته په ۱۹۳۷ز کې و منل شوه او د اوسني ټول بلوچستان په مرکز کوټه کې له بېلا بېلو پښتنو غړو او د کلات ریاست د مشر میر احمد یار خان په ملتیا له ګڼ شمېر مخورو او وس لرونکو سیاسي غړو سره د اخبار د بسپنې (چنده) لپاره لیدل او ورو/ ورود خلکو تر ذهنونو پورې د خپل قامي کار خبر تیا هم خورول د دې وخت سیاسي هلې ځلې وې، چې د ۱۹۳۰ز- ۱۹۴۰ز کلونو تر منځ په ټول هیند کې پر خوره نېستي سربېره د زلزلې د خوارۍ و او کړاوونو په چاپېریال کې خورا ګران کار وو او بیا په پښتنو کې چې نه یې د ولات په سوداګري کې داسې برخه درلوده او نه یې په سرکاري نوکرۍ کې.. خو بیا هم په پوره کال کې تر ګڼ ځېدلو وروسته نژدې اته زره کلداري ټولې شوې وې، چې **خان شهید** یې په اړه داسې لیکي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"د بنـاغلي خـان کـلات جـام میـر نـورالله خـان او میـر شـاه بـاز خـان نوشهرواني د کار او مخ له مخي د کلات بلوڅو سردارانو هم د چاپ او اخبار په پنګه کي ښه کومک وکړی او ځینو نورو ځوانانو بلوڅانو هم. او نژدې په یوه کال کي ټولي اته زره څه کمي روپۍ ټولي سولې، چي نـژدې نیمـی د کـلات د غـاړي د خـان او سـردارانو وې او نیمـی د بلوچستان د پښتنو..." (۵۳)

په پښتني او بلوڅي سیمو کي له همدې لاري د ویښو قامي غړو او ملتیا کوونکو په توان د اخبار ډغ تر ډېره لهړي پوري خور شوی وو او ملګرو ورته په قامي لاره کي د پوره مرستیال په هیله د ورپېژندلو ډغ رسولی وو، چي په همدې وخت کي د سرکار له خوا د اخبار غوښتنه و منل شوه، د منظوری په اړه **خان شهید** داسي لیکي:

"هم په دغه کال کرنل پارسنز ماته په کوټه کي د چاپ ایښوولو او د یوه هفته وار اردو اخبار "استقلال" د ایستلو خوښه راکړله او ما ورله د یوې قامي پنګي ټولولو کار پیل کړی." (۵۴)

د **خان شهید** او ملګرو په ښلا ښلو کلو/ باندې او ښارونو کي د ترسره شوو سیاسي، قامي هڅو له کبله په همدې وختونو کي په پښتنو او بلوڅانو کي د ویښو ځوانانو ډله دومره ګړندی او پیاوړې شوې وه، چي د هر چا ستر ګي ور اووښتلې او دا یې زړه منل، چي دغه ډله به له موږ سره د زور زیاتوب غم خوري، پر دې سربیره هم په اولس کي د جرګې او سرکار د چارو د دود او تګلاري د څارنې او د هغوی په مخ کي د "ولي ویلو" د توان لرلو ځواږه ورو/ وروپر را سربیره کېدلو وه او بله خبره دا چي واکمن انګریز سرکار هم په دې پوه شوی وو، چي په اولس کي د سردارانو، ملکانو او د سرکار د نوکرانو په ګډه د اولس لوټل تر سره کېږي، دوی که څه هم د سرداری، نوابۍ خپل جوړ کړی نظام له

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

منځه وړل نه غوښتل، ولي چي بنسټ او بنیاد یې هم دا وو، اولس به د ملکانو او سردارانو تر لاس لاندي وو، سرداران به د خانانو او نوابانو او هغوی به بیا د انګریز سرکار تر لاس لاندي وو، دغه خانانو او نوابانو او یا هم تر دوی لاندي سردارانو او ملکانو خو دومره ژورلید، سیاسي پوهه او وړتیا نه درلوده، چي ټول هیند او د هغه چاپېریال دي و څارلای شي، خو انګرېز سرکار چي ټول هیند یې څاره او په ټول هیند کي د اولس او په اولس کي د سیاسي ویښتابه و را پارېدونکي غورځنګ ته څرک وو، چي داسي نه وي؛ تر وس مو ووځي...

بلي خوا ته د کلات خان وو، چي د خپلي واکمنۍ د پیاوړتیا په اړه ځکه اندېښمن وو، چي په زړه کي یې له سرکاره هم او د ویښو ځوانانو له ډلي هم وېره درلوده او غوښتل یې، چي سرکار هم د ځان کړي او د ویښو ځوانانو زړه هم و ساتي، دا غوښتنه د ټولو خانانو، سردارانو، نوابانو هم وه، خو دا داسي لمانځنه یا عبادت وو، چي د خدای رضا به دي هم ساتله او شیطان به دي هم نه خوابدی کاوه، چي ناشونې وه.

نو ځکه انګرېز سرکار پر اولس باندي د خپلو ترپلو مخورو واک ورو ورو را لنډ کړ او پر هغو باندي یې د څارني پاملرنه پیل کړه، چي د سیاسي خلکو لپاره په زړه پوري بریا وه او د کلات خان هم د ویښو ځوانانو څه مخور د جرګو/ مرکو د څارني لپاره په دې ست کړل، چي ځان یې د قام خواخوږی باله او تر یوه بریده پوري د قام خواخوږی هم وو، چي په همدې نیت د قامي ودانۍ لپاره **خان شهید** ورته داسي ویلي وو:

"د قامو وده په څه دم چو او تلوار نه سي کېدلای، د دې لپاره په کلو په پټه خوله د ودي او ودانۍ (تعمیر او ترقۍ) کار کول په کار وي، ته لس شل کاله هیڅ مه کوه، خپل هر څه وس او پیسې یوې خوا ته د اولس پر لوستو لګوه، په کلات یا مستنګ کي یو داسي ښوونځی (سکول) او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پوهنځی (کالج) یا پوهنتون (یونیورسټي) روان کړه، چې بلوڅان هلکان هلته اوسي او کوم هلکان چې وس نه لري؛ هغو ته خرڅ ورکوه، چې لوست کوي او ځینې د لاس کارونه زده کوي، وړاندې به د قامي ودې کار د دغه ځای پوه او لوستي خلک پخپله کوي...

بلې خوا ته د کلات په ټره (تحصیل) کې خپلې شاړې مځکې آبادې کړه، چې یوې خوا ته څه پیسې پیدا کړې، ولې ستا په دې شپږ اووه لکهه روپۍ د کاله تنخواه (سول لیسټ) خو هیڅ هم نه سي کېدای او بلې غاړې ته به د کلات نور زمیندار د ودانۍ او ګټې چل هم زده کړي، خو خان دې د زغم کار ته ټینګ نه وو او نه یې دا غوښتل." (۵۵)

مانا دا چې خان هم د قام لپاره ودانې غوښتله، خو په داسې بڼه چې زه به ټولواک یم او دا ذهن او زړه یې نه درلودی، چې د اولس ودانې او پرمختګ و اولس ته په واک ورکولو او یا هم سپارلو سره تر سره کېږي. د اولس د څه نا څه ویښتابه سره سم انګرېز سرکار هم د زندان او نورو سختیو لاره څه نا څه نرمه کړه او پټ په پټه یې په چل ول د قامي، سیاسي مخورو اړیکي له هیندوانو سره پروپاګند کړې او همداسې یې د پښتنو د مسلمانۍ د رګ په خوځولو د مخورو د بدنامولو هڅه وکړه او په څنګ کې یې له اولس سره زړه خوالې ښوول او د هغوی د زړه ساتنې هڅه کول، په قامي، سیاسي ډله کې د یو شمېر ځوانانو خپلولو هڅه، په ځانګړي ډول و **خان شهید** ته په ښه ښه پلمو د جرګې د غړیتوب لاره پرانستل او په دې لړ کې د میا نصیروالدین او کرنل برېمنر هڅې کول، د خپلې قبیلې د خسمانې او خدمت لپاره د ای ای سي چمن د لګولو شومه هیله او داسې نورې ناوړې چارې، دسیسې د سیاسي ډلې د مخنیوي لپاره په کار واچول شوې، خو **خان شهید** یې د یوه اردو بیت په ژبارلو سره په ویاړ داسې ځوابوي او په ډاګه وایي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اردو بیت داسي دی:

ہزار دام سے نکلا ہوں ایک جنبش میں
جسے غرور ہو آکر کرے شکار مجھے

د **خان شهید** له خوا ژباړل شوې بڼه یې داسي ده:

زر دامونه مي شلولي په یو ځغل دي
که څوک نه مني دا ډول دی او دا ژرنده (۵۶)

په ۱۹۳۷ز کال په کوټه کي د رېلوې مزدورانو د ډلي (یونین) له خوا د مزدورانو په ملاتړ د یوې درې ورځنۍ غونډي تابیاکېږي "چي په وار/ وار یې په بېلا بېلو ستونزو کي **خان شهید** مرسته او ملاتړ کړی وو" او **خان شهید** هم د ویناوال په توګه ګډون پکښې کوي او د هر کلي د غونډي غړیتوب ور سپارل کېږي، د غونډي پر مهال د مزدورانو په ملاتړ کي تر په زړه پوري ویناکولو وروسته د غونډي مشر پخپله خوښه د پاته دوو ورځو مشري ور سپاري.

وروسته د اخبار لپاره د چاپه خانې (پریس) ایښوولو له توان موندلو سره سم **خان شهید** په دې لړ کي د یوه پوه مهانند په ملتیا لاهور ته ځي او د چاپه خانې مېچني (مشینان) او نور اړتیا وړ شیان پېرودي، مانا اخلي یا رانیسي یې او د اخبار په اړه تر ډېر ژور رَی وهلو او په ځانګړي ډول د جام نورالله خان سره تر سلا او مشوره وروسته د اخبار لپاره د ملګرو د یوې جرګې ټاکل، چي غړي یې په دې ډول وو:

۱: محمد ایوب خان اڅګزی ۲: میر عبدالعزیز کرد ۳: میر محمد امین خان کهوسه ۴: محمد حسین عنقا ۵: محمد حسن نظامي ۶: میر عطا محمد خان مرغزاني ۷: میر شاه باز خان نوشېرواني ۹: محمد نسیم تلوي ۱۰: **خان شهید** عبدالصمد خان..

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هېره دي نه وي، چي **خان شهید** د پریس نوم د خپل ملګري میر یوسف علي خان مګسي عزیز په نوم ږدي، نوموړي مګسي په شاعري کي عزیز تخلص کاوه، د ۱۹۳۵ز کال په زلزله کي په کوټه کي و مړ.

په همدې کال ۱۹۳۸ز کي **خان شهید** د اوسني بلوچستان د پښتنو له خوا "چي هلته یې کاروبار کاوه" د جوړي شوي ډلي "انجمن افاغنه" کالنۍ غونډي ته پر بلنه باندي بمبۍ ته ځي، په هند کي د دغه ډلي "انجمن افاغنه" په غونډه کي د غلام حیدر باغي په ملتیا ګډون او له هغوی سره په بېلا بېلو اولسي غونډو کي د ویناوو پر مهال د پښتنو له خوا و **خان شهید** ته د قاید اعظم د نوم ورکولو پېرزوینه "چي وروسته بیا همدغه ویاړ د همدغه خلکو له خوا و محمد علي جناح ته ور پېرزو شو او د هغه له نامه سره یوه نښتې برخه وګرځېدی" په هیند کي تر دیارلسو ورځو تېرولو وروسته **خان شهید** د اوبو د ګوټ له لاري د دوو/ دوه نیمو ورځو په سفر کراچي ته راځي او په کراچي کي له ځینو سیاسي مخکښانو سره تر لیدلو وروسته بیرته کوټي ته را ستنېږي.

د چاپه خانې او اخبار لپاره د ټاکل شوي جرګې تر منځ د تاوتریخوالي په اړه خبرتیا د هیند په سفر کي مومي، چي له کبله یې په لږ ورځو کي جرګه خورېږي او په یوه بل پسې د بیانونو تر بریده پوري رسېږي او **خان شهید** ته په دې لړ کي د ښاغلي جام نورالله خان وړاندېزونه او اندېښنې رښتیا جوتېږي، چي له بیرته راتګ سره سم درې کسیزه جرګه و **خان شهید** ته د اخبار ټولي چاري بیرته ور سپاري او **خان شهید** د نظامي ګنجوي په دې بیت ژباړلو او وړاندي کولو له ملګرو څخه ګیله او د خپل زړه سوده (قرار) د نظامي ګنجوي په شعر داسې کوي:

با صاف دل مجادله با خویش دشمنیست
هر کس کشد به آئینه خنجر به خود کشد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د **خان شهید** له خوا ژباړل شوې، بڼه یې داسې ده:

غلیمي د سپین ږ ګي د ځان بدي ده
و هینداره ته چاړه و ځان ته کنبل دي (۵۷)

دلته به د همدې خواریو په شالید کې یو ځل بیا د اکرم شاه لالا هغه یادونه راوړو، چې مخکې هم راغلې ده، داسې یې یادوي:

"د پریس ایکټ د پاره قرباني، بیا چې پریس راغلی، بیا اخبار اول اخبار او بیا په اخبار کې اول صحافي، بیا د اخبار سره اول ټیکنیشن، ګوا اخبار چلول یې هم ده کول، اډیټر یې هم دی وو، ترتیب کول یې هم ده کول، بیا د مشین تر شا ولاړ وو، د هغه زمانې د پریس په لحاظ سیاهي پکښې اچول، بیا ته اخبار را باسې، بیا یې سهار په بازار کښې خرڅاوه او داسې نوري چاري..." (۵۸)

همداسې ده، چې **خان شهید** د سیاسي، قامي کار د مخوري په څنګ کې د اخبار و دې ټولو کارونو ته اړ پاته شي او په دې لاره کې د مېچنې یا مشین چلوونکي د نشتوالي ستونزه او د چاپه خانې په کارونو کې د نابلدتیا او نورو ستومانووونکو کارونو تر سره کول او په همدې لړ کې تر لاهور او کوټې پورې تګ راتګ او داسې نوري ناخوالي "چې د اخباري کار کوونکو له خوا تر سره کېدلې او پر دې سربېره د اخبار په رسولو کې ورېښې ستونزې، په اخبار کې د بلوچستاني اولس ږغ د مخنیوي لپاره د داسې سرکاري خلکو هڅې "چې د ځایي خلکو په ږغ رسولو له سره خوښ نه وو او یا یې هم خپل تاوان ګاڼه، لکه په نوکریو او نورو لارو چارو کې له نورو سیمو څخه راغلو او یا هم راوستل سوو خلکو کولې" داسې ناخوالي چې د هر ډول پیاوړي ارادې ماتوونکي وې، خو بیا هم د اولسي پرمختګ لپاره د زمان تاکل شوی کردار **خان شهید** بری مومي او دغه ټول خندونه، ستونزې پخپله پخه اراده او هوډ سره هواروي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په همدې کال ۱۹۳۸ز کې د برتش بلوچستان او بلوچستان د پښتنو او بلوڅو د بېلا بېلو سیاسي مخورو او غړیالیو ملګرو سره د تېرو کلونو، وختونو د سلا او مشورې "لکه د **خان شهید** په مشري کې د سیوی غونډه" او پر داسي نورو چارو سربېره په اولس کې د سیاسي ویښتابه و تومنه او جذباتو ته په کتلو د **خان شهید** څرک او ځیرک ذهن په خپل ژورلید سره و پتېیله، چې د اولسي واک په را ټولولو سره د ټولنیز پرمختګ، ودانۍ او هوساینې لپاره یو سیاسي پېیون/ تنظیم په کار دی، په همدې نیامت یې د غړیالیو ملګرو په ملتیا په یاده سوې سیمه کې په لومړي ځل د "انجمن وطن" په نوم د سیاسي پېیون بنسټ کنبېښوو، چې ملګرو یې د مشرتابه لپاره وړتیا او ځراکت د **خان شهید** په رانه/ سپېڅلي کردار کې لیدی، ځکه یې نوموړی مشر و ټاکل شو. په میې ۱۹۳۸ز کال د همدې پېیون/ تنظیم د خبنتي په اینبوولو سره د سیاسي لارویانو او ویښ اولس په ذهن او زړه کې د ودان او نوي ژوندانه د ارمان پوره کولو هیلې را و توکېدلې، سیاسي غړو او اولس ته د ټولنیزې ودانۍ په لړ کې د خپل وس په کار اچولو لپاره لاره پرانستل شوه، چې په تاندو او نوو ولولو سره یې په سیمه کې د اولس دلا ویښتابه لپاره سیاسي هڅې نوري ګړندۍ شوې.

خان شهید هم له پورتنیو وړاندې کړل شوو ستړو او اخباري کړاو څخه تر لږ وار موندلو وروسته د ستر مخور باچاخان (عبدالغفار خان) سره د کړې ژمنې د پاللو او له خپل پښتانه قام سره د خواخوږۍ او درد شریکولو لپاره پېښور ته ځي او لومړۍ شپه د عبدالقیوم خان ببر ستر سره تېروي، چې په سهار په اسلامیه پوهنځي (کالج) کې د بلوچستان د لوستونکو په ملتیا له نورو پښتنو لوستونکو سره وینې او ورپسې له پېښور څخه اتمانزو ته د نوموړي مخکښ باچاخان تر کور

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پوري ځان رسوي او له هغوی سره دوې/ درې شپې تېروي، و تول پښتون ته د ورپېښو ستونزو په اړه له یو بل سره د وس او توان د ګډون او د پښتنو د یووالي لپاره د برتېش بلوچستان او بلوچستان له بلوځو او پښتنو اولسونو سره د لیدلو او سیاسي دورې لپاره باچاخان ته ست کوي، له عبدالولي خان، د ډاکټر خان زوی عبیدالله خان، سیف علي خان، قاضي عطاءالله خان او داسي نورو مشرانو سره تر لیدلو کتلو وروسته د جنوري پر ۲۶ نېټه باندې د مردان په اولسي غونډه کې ګډون کوي، د هغه ځای د پښتنو د ژوندانه تر ژوره کتنه او مشاهده وروسته وینې، چې د پښتنو په منځ کې کور په کور دښمنیو/ بدیو او ورانیو ژوري ریښې نیولي دي او لامل یې د انګرېز سرکار له خوا د پښتنو د مځکو زور دودیز وېش له منځه وړل او یوازې په شمېر کسانو ته مځکې ورکول وو، چې لوی شمېر پښتانه یې د خپل وطن له مځکو څخه بې برخې کړي او مځکه یې یوازې په شمېر څو مخورو، خانانو "چې د دوی پلویان او ګوډاګیان وو" ورکړې وه، همداسې د پښتنو تر منځ د پردیتوب، ناهیليو او د طبقاتي توپیر فکر ریښې نیولي وې، چې لوی شمېر یې اړ او مجبور وو او څه شمېر یې واکمن او د نورو پښتنو له کمزورېو او اړتیاوو څخه ګټې اخستونکي وو، چې په غبرګون کې یې د پښتنو تر منځ کرکې او نفرتونه خواره شوي وو، لکه په برتېش بلوچستان کې چې یې د جرګو او نورو لارو په څانګو، قبیلو او توکمونو وېشلي وو، چې د بېلتانه اچولو لپاره یې قصداً له هرې قبیلې یا تېرې څخه یو یو مشر اخستی وو او داسي یې په هغوی کې قبیلې هم په خپله قاموسونو نومولي وې، چې تر اوسه پورې دغه د انګرېز په زهرو لړلی فکر خورا پښتانه د بېلتون غم ګالي، په ذهن او زړه کې د پښتنو د بربادۍ په همدې اندېښنو ځایولو سره تر څو ورځو وروسته بېرته

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کوتې ته راستنېږي او کوتې ته له راتګ سره سم د اخبار "استقلال" د چلولو په څنګ کې د ولایت سیاسي چاپېریال څاري او له ببلا ببلو سیاسي، قامي مخورو سره په لیدلو وَ را ویښ شوي اولس ته پر لوړه کچه باندې د یووالي او ملتیا زېری ورکوي...

(پامور ده، چې د قامي مبارزې په لړ کې تر دې ځایه د وړاندې شوې لړۍ سرچینه د **خان شهید** خپل ژوند لیک "زما ژوند او ژوندون" وو، تر دې وروسته وړاندې شوې لړۍ دي لوستونکي له نورو سرچینو څخه وپاموي، چې پر خپلو ځایونو به یې یادونه او امانت و ساتل شي.)

په همدې لړ کې د کال ۱۹۳۹ز په پای کې د نوموړې مخور پښتون **باچا خان** و بلوچستان ته په راتګ دغه سیاسي بهیر نور هم غوړېږي او نوموړې د بلوچستان له لارې په ببلا ببلو ځایونو کې د انجمن وطن و اولسي غونډو ته تر وینا کولو وروسته د سوهېلي پښتونخوا مرکزي بنار کوټې ته را رسېږي، وروسته د **خان شهید** او نورو مخورو په ملتیا پښتنو سیمو ته روانېږي او په ببلا ببلو ځایونو کې د پښتنو د ښه راغلې په غبرګون کې و درنو اولسي غونډو ته وینا وي کوي.

د نړیوال چاپېریال په شالید کې "چې په همدې وخت دویمه نړیواله جګړه پیلېږي او د سیمو پر هر اړخیزه چاپېریال باندې اغېزې کوي" په ځانګړې ډول تر بنکېلاک او ځپېنښاک په لاندې سیمو کې سیاسي غورځنګونه نور ګړندي کېږي او په همدې ډول د کانګریس له خوا په ټول هیند کې د "ستیاګره" غورځنګ پیلېږي، که څه هم انجمن وطن تر دې مهاله د کانګریس سره د ملتیا کومه ژمنه نه درلوده، خو مرام او هدف یې یو او له بنکېلاکګرو او ځپېنښاکګرو مانا انګرېز څخه د هیند خپلواکي اخستل وو، نو و همدې مرام ته په کتلو سره انجمن وطن په روان غورځنګ/ تحریک کې پخپل وس او توان له کانګریس سره ملتیا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او ملاتړ کوي، چي د زمان په اوږدو کي یې د دغه فکري یووالي مزی نور هم پیاوړی شو، خو په همدې وخت کي د تر سره کېدونکو سیاسي هلو ځلو او یووالي په روڼا کي د اولسي ویښتابه و پیاوړتیا ته په کتلو مقابل لوري هم خپلي هڅي رواني ساتلي وې او د روانو سیاسي غورځنګونو د مخنیوي لپاره یې د خپلو باوري ملتیا کوونکو خلکو ملاتړ او لارښوونه هم تر سره کوله، چي په همدې لړ کي په یاد ولایت (صوبه بلوچستان) کي د **خان شهید** د ایښوول شوي تاند سیاسي نیالګي "انجمن وطن" په مقابل کي په ۱۹۳۹ز کال د قاضي عیسی په مشري کي د مسلم لیګ بنسټ کښېښوول سو، چا چي د خپلواکۍ اخستلو په نوم او ناره کولو ږغ له اولسي بهیر سره مل و ساته، خو ذهن او زړه یې د واک تر لاسه کولو لپاره د هغوی سره وو.

د خپلواکۍ په لاره کي د انجمن وطن د پیاوړي او ګړندي کردار په اړه د نورو سرچینو په ملتیا ښاغلی ګ.ف. ګیرس هم یادونه کوي، چي:

"د بلوچستان د پښتنو د آزادۍ د مبارزې په پرمختګ کي لوی رول د (انجمن وطن) ټولني "چي د خان عبدالصمد خان له خوا جوړه شوې وه" لوبولی دی، دغي ټولني د تعلیمي غوښتنو په څنګ کي سیاسي غوښتني هم لرلې، د دغه انجمن وروستی هدف دا وو، چي هند دي خپله آزادي واخلي او استعمار دي خپل تسلط پر دغه خاوره باندي ختم کړي، په ۱۹۳۹ز کال کي دغي ټولني د (پښتون جرګه) او وروسته وروسته بیا د هند د ملي کانګریس سره خپل ټینګ تماسونه او تاوده مناسبات قایم کړل." (۵۹)

پورتنۍ خبره ځکه باوري ښکاري، چي له ځبېښاکګرو او ښکېلاکګرو څخه د خپلواکۍ تر لاسه کولو په لاره کي د واکمنو له خوا یوازي او یوازي د انجمن وطن، کانګریس، خدایي خدمتګار تحریک او نورو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ملتیا کوونکو سیاسي مخور او غړیالي ملګري نیول کېږي او د زندان پر خورونو او نورو کړاوونو سربېره یې د مرګ او ژوبلي لاره هم په ډېره سپینه سترګي پالل کېږي، خو پر مقابل سیاسي لوري د بنکېلاکګرو او ځبېښناکګرو لوربیني او پېرزویني پورتنۍ خبره باوري کوي، چې **خان شهید** یې هم یادونه کړې ده او داسي لیکي:

"زه تر پاکستان وړاندې د انګرېزانو د سرکار سره د هېواد د خپلواکۍ لپاره په جنګ وم، د هغوی سره مي نه لګېدله او نه مي ورسره جوړه وه او هم مي د انګرېز د دښمنۍ له مخې د مسلم لیګ سره نه لګېدله، ولي چې په مسلم لیګ کې هم زیاتره د انګرېزانو پاللي مسلمانان وو او هغوی به مسلم لیګ چلاوه." (۶۰)

د انګرېز سرکار له خوا د **خان شهید** د نیولو، زنداني کولو لړۍ روانه ساتل شوې وه، چې په وار موندلو سره به **خان شهید** هم په وطن کې د اولس او نورو پیاوړو قوتونو د ملاتړ تر لاسه کولو هلي ځلي کولې، چې په همدې لړ کې په کال ۱۹۴۰ز په نېشنل ممبر کانفرنس کې ډیلي ته تګ او ګډون او هم هلته د خدایي خدمتګار، جمعیت علمای هند او نورو سیاسي ډلو له مخورو سره لیدل او د هغوی داسي ملاتړ تر لاسه کول، چې وروسته یې د مذهبي ډلې په استازیتوب د عطاالله شاه بخاري او نورو په ویناد انجمن وطن کار او زیار د شرعي په رونا کې روا کار و بلل شو او په داسي ډول د هغو مذهبپالو خلکو د خبرو څه ناڅه مخنیوی هم وکړل شو، چې دوی به یې د انګریز سرکار په پارولو سره د هندوانو (ماناکفارو) استازي بلل.

د همدې کال ۱۹۴۰ز په وروستۍ میاشت سپتامبر کې د انجمن وطن کلنۍ غونډه په بوري (لورالایي) کې تر سره کېږي، خو د کانګریس او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خدايي خدمتگار غورځنگ پر مشرانو باندي د بندیز له کبله د هغوی استازیتوب د هغې ډلي نور مخور کوي.

څرگنده ده، چي دغه بندیزونه، زندانونه او ځوروني د مهالنیو واکمنو له خوا د خپلو گټو او اهدافو په لاره کي د خنډونو لامل مزاحمت او مقاومت د ماتولو لپاره تر سره کېدلې، خو مزاحمتي فکر په اولسي ذهنیت کي دومره تبارز کړی وو، چي ورځ په ورځ یې په غوړېدلو سره د دښمن په ذهن او زړه کي اندېښنې را پارولې...

په ۱۹۴۱ز کال **خان شهید** ډیلي له ځي او له مهاتما گاندي سره تر لیدلو کتلو وروسته د همدې کال په پنځمه میاشت کي په آل انډیا کانگریس بمبۍ کي گډون کوي او د همدې کال په یوولسمه میاشت نومبر کي د خدايي خدمتگارو په غونډه کي د گډون لپاره اتمانزو ته ځي او له گڼ شمېر مخورو پښتنو سره لیدل کتل کوي.

په دې کلونو کي د خپلواکۍ غورځنگونه اوج ته ځي او په ۱۹۴۲ز کال د کانگریس له خوا "هندوستان پرېږدی" غورځنگ/ تحریک پیلېږي او انجمن وطن د خپل وطني چاپېریال په استازیتوب له بېلا بېلو سیاسي مخورو سره تر لیدلو وروسته د همدې غورځنگ په ملاتړ را وځي، خو انگرېز سرکار یې د اولس په زړونو کي ځای لرونکی مشر **خان شهید** له خپلو ملگرو سره اولسونو ته تر رسېدلو مخکي نیسي او تر زندانونو/ کړاوونو او ځورونو پوري یې رسوي.

د **خان شهید** د بیا زنداني کولو او کړولو په غبرگون کي انگرېز سرکار د اولس له کلک غبرگون سره مخامخېږي او ویني، چي لاره پالونکي یې ورځ تر بلي ډېرېږي او د سرکار په مخ کي اندېښنې را ولاړېږي، چي پای یې انگرېز واکمن په ۱۹۴۵ز کال بیرته له زندانه ایله/ خوشي کوي او له زندان څخه تر راوتلو وروسته د **خان شهید** څرک او ځیرک ذهن

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په چاپیریال کې د جوش او ولولو په څارلو پوهېږي، چې نور نو د هیند اولسونه د خپلواکۍ تر مرامه پورې رسېدونکي دي او منزل را نژدې شوی دی، په همداسې پړاو کې سمدلاسه **خان شهید** په درې ورځنې پولېټیکل کانفرنس کې د ګډون لپاره پېښور ته ځي او د لوی شمېر سیاسي مخورو په ملتیا د خپلواکۍ د ارمان پوره کېدلو په داسې پړاو کې د باوري هیلي په څرګندونه د ټول هیند د اولسي سیاسي واک را یوځای کولو وړاندیز کوي او د ټولو په ملتیا همدغه لاره پلي کوي...

د مبارزې و ګړندیتوب ته په کتلو سره **خان شهید** په ببلا ببلو غونډو کې د سیاسي ګټې پر پایله باندې له ګانګریس سره د کړو ژمنو/وعدو یادونه کوله او دا به یې ډاګیزه کوله، چې د هیند په اوسني قلمرو کې د راغلو ژوند کوونکو پښتنو، بلوڅو، سندهیانو او نورو قامونو خپلواکي به د ژبو او کلتورونو پر بنسټ تر سره کېږي، ولې د دې یادونو و شاته موږ د **خان شهید** نفسیات لوستلای او د نومورې سیاسي ژورلید لیدلای شو، چې په دې لړ کې پښتنو پر کانګریس باور کړی وو او د مخکښې واګې د هغوی په لاس کې وې، نو د همدې باور په رونا کې یې له هغوی څخه د قامونو د خپلواکۍ د ژمنې پاللو غوښتنه لرله...

د نهیلیو وَ را منځته شوې چاپېریال ته په کتلو **خان شهید** په همدې لړ کې د کانګریس، خدایي خدمتګار تحریک او مسلم لیګ له مخکښانو سره و لیدل او د پښتنو، بلوڅو، سیندیانو او نورو قامونو سره د ګډې مبارزې د ژمنو/وعدو یادونه یې په وار وار ورته وکړه، خو نهیلیو وار په وار وزر خورول او پښتانه د دې اوږدې مبارزې او په مبارزه کې د دې درنې برخې پر لرلو سربېره هم له خپلواکۍ بې برخې پاته شول. هېره دې نه وي، چې د نورو قامونو په څنګ کې د پښتنو خبره ببله غوندې ځکه وه، چې پښتانه له خپل وجود څخه را ببل کړل شوي وو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او د خپلواکۍ څخه مراد پخپله خوښه او یا د حقِ خودارادیت په رونا کې د ژوند کولو چوکاټ خوښول وي، خو د یادي شوي ګډې مبارزې په رونا کې د تر لاسه شوي خپلواکۍ خواږه د پښتنو په برخه و نه رسېدل، دا ځکه چې له چا څخه د خپلواکۍ غوښتنه کېدله، هغوی له کانګریس سره خپله خبره وکړه، خو کانګریس د خپلو ګټو په ساتلو سره د ځان ځانې یا انډویژوالیزم په خم نشه شول او دا یې یو ډول ځاني ګټه و بلله، لکه د ځان ځانې په دوره کې چې د ټولنې هر وګړی ځاني ګټه ته پر ټولنیزه ګټه ارزښت ورکوي، هم داسې کانګریس وکړل او خپله هغه سیاسي وړتیا او ملګرتیا یې و نه پاللای شوه، کومه چې په کار وه، ولې په شاته پاته سیمو کې د کلتوري سرېتوب یا اخلاقو په څنګ کې سیاسي بهیرونه هم د سیاسي سرېتوب ارزښتونه تر پښو لاندې کوي، لکه پر دې مهال چې یې موږ وینو.

هغه داسې چې د ۱۹۴۶ز کال په شمله کانفرنس کې تر اختلاف را پورته کېدلو وروسته د هیند دولت/ حکومت د چونې اعلان وکړ، خو د جنوبي پښتونخوا سیمه (برتش بلوچستان) یې د مبارزې له دې ګټې څخه بې برخې و ساتله او د ټول وطن واک یې یوازې او یوازې د جرګې هغو غړو ته ورکړ، چې دوی ټاکلي وو، نو ځکه یاده سیمه بې استازي، بې ژبي او بې برخې پاته شوه، مانا دا چې سابندې پر پښوول سوه.

نوموړي لیدل، چې د خپلواکۍ لپاره په ترسره شوې مبارزه کې د مرګ په مېچن انځل شوی قام پښتون د ځینو واکمنو سیاسي ملګرو په اراده د قامونو پر کچه هم د ځایي سیاست په ژرنده کې انځل/ دل کېږي، چې له خپل وجود څخه په ببل قلمرو کې د پاتېدلو په اند پښمن چاپېریال اوشالید کې **خان شهید** له ځینو سیاسي مخورو سره د لیدلو لپاره کراچي ته ځي. له مخورو قامي سیاست پوهانو لکه باچاخان، جي ایم

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سید، عبدالمجید سیندي، حیدر بخش جتویي او نورو سره وینې، پای د سیاسي مخورو په ملتیا په کراچي کي د پیپلز ارګنایزېشن په نوم ګوند اعلانوي.

د ۱۹۴۷ز کال د شپږمي میاشتي د خپلواکۍ لپاره د پښتنو په رابلل شوې جرګه (بنو جرګه) کي **خان شهید** هم ویناکوي او یو ځل بیا د تر سره شوي مبارزې پر مهال له قومونو سره د ژمنې/ وعدې تر سره کولو غوښتنه کوي، په جرګه کي د پښتنو له خواداسي اعلامیه خپرېږي: "پښتنو د خپل آزاد حکومت فیصله وکړه، پښتانه نه هندوستان غواړي نه پاکستان" د صوبې د جرګې، د اسمبلۍ د ممبرانو، د خدایي خدمتګارانو، آفیسرانو د جرګې یو شریک اجلاس په جون ۱۹۴۷ز په مقام د بنو کي د خان امیر محمد خان هوتي د صدارت لاندي اوشو، دې اجلاس په اتفاق سره دا فیصله وکړه، چې په دې ملک کي دې د پښتنو یو آزاد حکومت جوړ شي، چې د هغې د آیین بنیاد به په اسلامي اصولو، جمهوریت، مساوات او اولسي انصاف باندي ایښودی شي، دا اجلاس هر چاته اپیل کوي، چې د دې اعلی مقصد د حاصلولو د پاره په یو مرکز باندي را غونډ شي او بې د پښتون نه دي د بل چا اقتدار ته سر تیټ نه کړي. له طرفه د صوبه سرحد دلویي جرګې (۶۱) د پورتنۍ پرېکړي کوونکي جرګې تر جوړېدلو مخکي هم **خان شهید** په ۱۹۴۷ز کال د اپرېل په میاشت کي د باچاخان او ټولو پښتنو په نوم په استولي لیک کي داسي وړاندیز کړی وو "چې په پښتون مجله ۱۹۴۷ز د اپرېل په ګڼه کي پر اتم مخ چاپ هم دی" ښاغلی شوکت ترین یې داسي حواله کوي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"مذکورہ خط میں آپ نے تقسیم ہند سے قبل ہی خبردار کیا تھا کہ جب تقسیم ہند کے نتیجے میں پاکستان میں پشتونوں کو ایک باوقار مقام نہیں ملتا، اس وقت تک اگر ہندوستان یا پاکستان جنت ہی کیوں نہ ہو؛ پشتونوں کا اس سے کیا واسطہ، لہذا پشتونوں کو بحیثیت قوم ایک ہو کر ہر طرح کی سیاسی وابستگیوں سے بالاتر ہو کر جد جہد آزادی کی راہ میں دی گئی قربانیوں سے بھرپور فایدہ اٹھانا چاہیئے، وگرنہ پھر ایک نامعلوم مستقبل سے دوچار ہو جائینگے۔" (۶۲)

د پورتنیو خبرو څرک نن هم د **خان شهید** د ګوند پر دریځ باندې د پښتنو د سیالۍ او ارزښت په غوښتنه کېږي، خو په ۱۹۴۷ز کال د واکمنو په ملتیاد ملګرتیا او سپېڅلي سیاست ټول ارزښتونه تر پښو لاندې کېږي او په روهـ (خیبر پښتونخوا) صوبه کې د ګورنر په خوښه د سوهېلي پښتونخوا د ترسره شوي چوپړ غوندې ریفرنډم کېږي.

د بېلتانه او مبارزې و سر ته د رسېدلو په چاپېریال ځارنه سره چې کله افغان دولت د ۱۹۴۷ز کال په اوومه مياشت کې له خپل وجود څخه د بېلې شوي برخې د بیرته غوښتلو پیاوړی بڼ کوي، نو **خان شهید** یې په کلکه ملاتړ کوي او دا د پښتنو/ افغانانو د خپلواکۍ حق بولي...

له خپل وجود څخه د را بېلې شوي برخې د بیرته وصل کېدلو او یا هم د پښتنو د خپلواکۍ هیله او ارمان له ځنډ او خنډ سره مخامخ شول او انګرېز سرکار له وتلو سره سم د هیند وېش تر سره کړ او د پښتنو بېله کړل شوې برخه د پاکستان په قلمرو کې هم پر دوو برخو لکه شمالي پښتونخوا (صوبه سرحد/ خیبر پښتونخوا) او سوهېلي پښتونخوا سره وېشلې پاته شوه او قبایلي سیمې هم نیمزاله پاتې شوې...

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د انګرېز تر لاسبرتیا او پاکستان جوړېدلو وروسته قامي مبارزه

"دا ځل د پښتنو جنګ د وطن، قوم او پښتو ژبي په ننګ دی، پښتانه نور بې ژبي، بې قومه او بې وطنه نه شي پاته کېدای." خانشهید (۶۳)

تر وېش مخکي د ملګرو سیاست پوهانو له خوا د پښتنو سره د یووالي او د هغوی د سیالۍ ساتلو په لړ کي پر تر سره کېدونکو ژمنو باندي سترګي پټي کړل شوې او د خپلي چاري په تر سره کولو سره هغوی یوازي پرېښوول شول، چي په ځان پوهېدل؛ ډېر ناوخته شوی وو، خو بیا یې هم په خپل توان هلي ځلي تر سره کړې او د اولس په استازیتوب د نوموړي شاعر او ژبپوه حسین بخش کوثر غوریاخېل دغه ژوندی ږغ د هر چا تر غوږونو پوري رسېدلی او د هر پښتانه د زړه ږغ وو، چي:

بچے بوڑھے نوجوان
ایک ہی ملت ایک زبان
شہری دیہی سب افغان
قومی گھر پشتونستان (۶۴)

د ۱۹۴۷ز کال په اګست کي د هند د وېش او پاکستان له جوړېدلو سره سم **خان شهید** بیا نیول کېږي او تر دوې میاشتي زندان وروسته په خپل کور عنایت الله کارېز ګلستان کي (نظر بند) ساتل کېږي، د نظربندۍ د مودې و پای ته تر رسېدلو مخکي بیرته نیول کېږي او د انګرېز اې جي جي په حکم باندي یو ځل بیا په ۱۹۴۸ز کي بیرته زنداني کېږي او ورپسې پوره کال وروسته په ۱۹۴۹ز کي د هري پور زندان ته استول کېږي.

پوښتنه را منځته شي، چي له انګرېز ښکېلاکګر څخه د خپلواکۍ د اخستلو په مبارزه کي تر نورو قامونو د درنې او سپېڅلي برخي لرونکي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

قام پښتانه د قامپالو او وپښو مخورو سره دا چلند او چاري ولې تر سره کېدلې؟ د دې پوښتنې ځواب په ژور لید سره څرګند شي، چې دلته پاته شوي زوروا کي (چا ته چې د واکمنو د ګوډاګیتوب او ملتیا په بدل کې واک ور سپارل شوی وو) له پښتنو سره د هم هغه چلند په روان ساتلو و ګومارل شول، کوم چې انګرېز سرکار تر سره کاوه. د دې خبرې د پوره باور ي کولو لپاره ماته ښه ښکاري، چې د **خان شهید** له کتاب "زما ژوند او ژوندون" څخه وړاندې شوی لاسوند / حواله یو ځل بیا دلته لوستونکو ته وړاندې کړم، **خان شهید** لیکي:

"زه تر پاکستان وړاندې د انګرېزانو د سرکار سره د هېواد د خپلواکۍ لپاره په جنګ وم، د هغوی سره مې نه لګېدله او نه مې ور سره جوړه وه او هم مې د انګرېز د ډبمنۍ له مخې د مسلم لیګ سره نه لګېدله، ولې چې په مسلم لیګ کې هم زیاتره د انګرېزانو پاللي مسلمانان وو او هغوی به مسلم لیګ چلاوه." (۶۵)

د کوم زورور او ټولواک له خوا یوه دا سې انسان ته چې د ځانې او مادي ګټو ذهن او زړه هم نه لري، په ډاګه د قام ښېګړه، ودانې او سیالي هم غواړي، له اولس سره ولاړ او ملاتړ وي، په لوی زړه د هر زورور په مخ کې د ناوړه د ردولو او ربښتیا ویلو توان هم و لري او له وطن څخه یې د ښکېلاکګرو په ایستلو کې هم برخه تر هر چا درنه او ښکاره وي، د زندانونو او کړاوونو پر ګالو سربېره دي له مرګ سره هم مخامخ کړل شوی وي، د هر ډول شومو هیلو او پېرزوینو د ورکولو په مقابل کې یې هم خپل ایمان او باور ساتلی او بریالی را وتلی وي، د قام د وس پلورلو او له وطن سره د جفا کولو تصور یې هم نه وي، نو و داسې انسان ته د ځور، کړاو او زندانونو ورکولو په شالید کې په کار دی، چې د اولسونو په ذهنونو کې او په ځانګړي ډول د پښتانه قام په ذهنیت کې پوښتنه را

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سربېره شي، چې داسي څوک ولي په سزا رسېږي، ولي ځورېږي او د څه لپاره له ستړیاوو او ستومانیو سره مخامخېږي؟

موږ که فکر وکړو او په ژورلید سره وګورو، نو د پښتنو مخورو په زړه پورې کردار وو، چې د دښمن له داسي ځوروونو سره مخامخ شوی وو او پښتون ذهنیت یې له داسي پوښتنو سره مخامخ کړ، کوم کردار چې د خپل اولس ذهنیت له داسي پوښتنو سره مخامخ کړای شي؛ هغه کردار د اولس د فکري روزنې توان لرونکی کردار وي، هغه کردار په اولس کې د سیاسي، قامي ودانۍ د ذهنیت غوړوونکی او تبارز کوونکی کردار وي، هغه کردار د قامي پرمختګ/ ودې او د اولس و سیاست ته را بلونکی کردار وي، د پوهې، مینې لارښود کردار وي... پر زورورو بنکېلاکګرو او ځپېنباکګرو سربېره د هغوی د ګومارل شوو ګوډاګیانو له خوا د ځورېدلي او زندانې شوي **خان شهید** درونډ کردار هم اولسي ذهنیت له داسي پوښتنو سره مخامخ کوي او په اولسي ذهنیت کې په تبارز کولو د هغو د پاملرنې وړ ګرځي، پوښتنې را پورته کوي او د قامي ودانۍ، سیالۍ لپاره یې په زړه کې هیلې را توکېږي.

د داسي مبارزو ږغونو او کردارونو د رادو او حوصلو د ماتولو، مخنیوي لپاره که د تاریخ په اوږدو کې و څارل شي، نو د زورورو ټولواکو له خوا همدغه د زندان، ځور او کړاوونو لاره خپله شوې او پالل شوې ده، خو پایله او نتیجه یې بیا هم د زورورو په ماته او شکست تمامه شوې ده، لکه هیند ته راغلي زورور چې د داسي مبارزو کردارونو په وړاندې له ماتې سره مخامخ شول، خو د ځینو ناپوهو او شومو هیلو او غرضیانو په وس او توان یې دلته د ببلتانه زنې وکړلای شول، چې له کبله یې بیا هم دغه مبارزین له ځورونو، زندانونو او کړاوونو سره مخامخ پاته شول او منزل ته د رسېدلو په لاره کې یې د مبارزې لاره نوره اوږده شوه.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

همدا لامل وو، چې د پښتون قام د حق لپاره د نورو مبارزینو په څنګ کې **خان شهید** د پاکستان د جوړېدلو سره سم د نیول شو، لکه پورته چې هم یادونه وشوه، دغه زنداني کېدل، نظربند پاتېدل او ځورېدل د څه لپاره وو؟ په دې لړ کې که موږ لږ نړیوال چاپېریال و څارلای شو، نو راته څرګندېږي، چې امپریالیزم یا بنسټپالګرو د خپل مشین د نس ډکولو او د خپل ورهنیز یا صنعتي پرمختګ لپاره د خام مال موندلو په خاطر د کالونیل ازم لاره خپله کړه، ماناد شاته پاتې هېوادونو د لاندې کولو او له هغوی څخه د کالونی په جوړولو د هغه ځای وګړو نیز یا افرادي قوت او مځکه یې د خپل ماشین او ورهنیز پرمختګ لپاره د وسیلې په توګه په کار واچول او په دې لاره کې یې ډېره بریا هم په برخه شوه، دا خو یې هغه اقتصادي اړتیا وه، چې له دې لارې یې پوره کولای شوه او هم یې پوره کوله، خو په څنګ کې یې سیاسي اړتیا هم درلوده، چې د امپریالیزم په ضد د مقابلې نظریې سوشلزم پلویان او د هغوی د استازي هېواد روس پیاوړتیا او نظریه یې خوربدا ته نه پرېښوولې، بس په ساده ټکو کې هم دا بنسټیز لاملونه وو، چې د شاته پاتې هېوادونو مځکې یې نیولې وې، که اقتصادي جګړه وه او که نظریاتي؛ پر دې مځکه تر سره کېدله، خو موږ له پوهې، علم او سیاست څخه لېرې خلکو له دوی څخه ګټه نه شوای اخستلای؛ بلکې د دوی دګټو لپاره په کاراچول شوي وو، چې راغلو بنسټپالګرو هم دغه غوښتل، خو په مقابل کې یې ډوراندي شوي تودې، مطبوعاتي او سړې مبارزې له کبله چې راغلې بنسټپالګرو اکمنان له سیمې څخه وتلو ته اړ کړل شول، نو د تګ پر مهال یې د سوشلزم د نظریې او د هغې د استازي هېواد روس د مخنیوي لپاره و خپلو باوري ګوډاګیانو ته د واک سپارلو پېرزوینه وکړه او په دې لړ کې یې د پښتون وطن موقعیت او ارزښت د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بفر زون په بنه هم ور په ګوته کړ، بل دا چې د دې چاري تر سره کولو او پاللو په لړ کې یې د خپلو ګوډاګیانو ملاتړ هم پر ځان پور باله، ځکه یې له پښتون/ افغان وجود څخه را ښله کړې برخه په همداسې کړکېچن چاپېریال کې پر ښووله او بده لا دا چې د نوري پراختیا غوښتنې لپاره یې په دې سیمه مانا پښتنو کې د سیاست، پوهې او فکر غوړېدا هم نه خوښوله، نو ځکه یې د پښتنو د سیاسي مخکښانو، مخورو استازو په نیولو او زنداني ساتلو سره د خپلو بادارانو لاره هم هغسې وساتله.

په ۱۹۴۷ز کال د امب دربند تر بریدونو وروسته په پرله پسې توګه د پراختیا غوښتنې په نیامت واک تر لاسه کوونکو ایله په ۱۹۵۲ز کال د تنول ریاست و نیولای شو او د چترال شازاده سیف الرحمن یې ځو کاله نظر بند وساته. ورپسې په ۱۹۵۲ز کال د سوات والي کراچي ته یووړل شو او اړ کړل شو، چې په لاس لیک ورکولو خپلواکي له لاسه ورکړي... له ۱۹۵۵ز کال څخه تر ۱۹۶۰ز کال پورې د دیر او باجوړ ریاست لاندې کړل شو، د دیر نواب شاه جهان و نیول شو او زوی یې د جندول/ خان شهاب الدین په جندول کې تر نیولو وروسته لاهور ته یووړل شول، همداسې د کلات (بلوچستان) او نورو سیمو تر لاس لاندې راوستل او بیا د سوات مرج یا تر تتی لاندې کول او ورپسې داسې نورې قبایلي سیمې چې تر اوسه پورې هم دوام لري...

په داسې چارو تر سره کولو د کالونیل ازم د مفکورې پالونکو غوښتل، چې په ۱۸۹۳ز کال له افغانستان سره د سر مارتیمر ډیورنډ په لاس د تپل شوې کرښې د لاس لیک نوره پیاوړتیا هم باوري کړي، ځکه هغوی د همدې پولې له لارې د خپل زړه پادښتیا او باور غوښت، لکه ورانديې چې هم یادونه وشوه، افغانان/ پښتانه او هېواد افغانستان یې مخکې د ګورګانیانو او صفویانو تر منځ د جګړې، نیاره د آزمویني ځای

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وو، چې په منځ کې یې د ببلتانه په اچولو سره څوک خلجي/ غرزي او څوک درانې کړل، خو د پیاوړي ایراني بادشاه نادرشاه تر مرګ وروسته چې کله د پښتنو د یووالي او جرګې/ مرکې له لارې د لوی احمد شاه بابا په لاس د نوي ریاست او نوي سیاست بنسټ او بنیاد کښېښوول شو، نو د اتلسمي پیړۍ په پاته موده کې د ښه نوم او تاریخ جوړوونکو نفسیاتو که څه هم د پښتنو د ذهنیت ملاتړ کاوه او د احمد شاه بابا په مشري کې یې بریاوي په برخه شوې، تر ډیلي پورې ولاړل، خو بیا هم دغه موده وروسته د واک پر سر د کورنیو جګړو په غېږ کې تېره شوه.

د نولسمي پیړۍ په لومړي نیمایي کې د پښتنو/ افغانانو هېواد د کمیونیزم/ سوشلزم او امپریالیزم تر منځ د جګړې ډګر شو، چې پورته یې هم په څه ناڅه ډول د چاپېریال شالید وړاندې کړل شوی دی.

د وړاندې شوي چاپېریال په شالید کې د دوو برخو را منځته کېدل وو، چې په افغانستان کې واکمنو د هغه چالوری/ ملاتړ کاوه او د مرستو هیله یې څنې کوله، چې د امپریالیزم او یا برتنې مخالف وو، ولې چې دوی ورسره په جګړه بوخت پاته شوي وو او له وجود څخه یې ډېره درنه برخه تړې ببله کړې وه، خو تر وېش وروسته یې په پاته برخه کې امن او ژوند پخپله مخه روان پاته وو، خو پښتانه اولسونه ځکه تر منځ پاته وو، چې له علم او سیاست څخه لېرې پاته کړل شوي وو او د خپل ملت ژوندانه ته یې په نړیوال شالید کې د کتلو هیڅ وس هم نه درلود، یوازې هغه لوستې او ګرځېدلي کسان وو، چې د سیاست په ابجد څه ناڅه پوهېدل، لامل یې دا وو، چې په ۱۹۱۹ز کال د غازي **امان الله خان** له خوا د خپلواکۍ تر ډاکیزه کولو وروسته د امپریالیزم پلویانو هلته په اولس کې ډېر کار کړی وو او هغه خلک یې د ځان کړي وو، چې د مذهب په تجارتي او کاروباري توګه د کارولو ذهن او زړه یې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

درلود، ولي دلته واکمن د برتانیا په ملاتړ کي ولاړ وو او پښتون اولس لوی شمېر د مذهبي میني په توان د ځان کړل شوی وو، خو د پولي و دې خوا ته د سیاسي بهیرونو څپو ډېر خلک را ویښ کړي او ښه درنه برخه یې په دې پوهېدل، چي د نړیوال چاپېریال په شالید کي د پښتانه ملت سباوون و څارلای شي، نو ځکه یې د مزاحمت او مقاومت لاره خپله کړه او هم یې په هر ډول کړ او ګاللو سره و ساتله، خو مقابل لوري یې د مخنیوي لپاره د سیاست په ډګر کي هر اړخیزه هڅي ګړندۍ و ساتلې او په ځپلي اقتصاد لرونکې ټولنه کي یې د اولس له اړتیاوو څخه په کار اخستلو لوی شمېر خلک د ځان کړل او د پروپاګند له لاري یې د امپریالیزم لوری د اسلام پلوي او مقابل لوری یې د خلکو په ذهنونو کي د اسلام مخالف او بې دینه و پاماوه.

څرګنده او ښکاره وه، چي له علم او سیاست څخه په لېري او د روایتي مسلمانۍ په پالونکي ټولنیز ذهنیت کي د پروپاګند له لاري هر ډول خبرو او تورونو ځای نیولای شو، نو د افغان/ پښتون ملت د سباوون غم خوړونکي په سیاست پوه خلک په دې تورن شو، چي د روس او هیند ملاتړ لري، دا تورونه یې ځکه لګول، چي هیند د پاکستان په مقابل کي او روس د امپریالیزم په مقابل ولاړ وو او دواړه د اسلام هم مخالف ښوول کېدل، خو له سیاست پوهانو پښتنو سره نه واک په لاس کي وو، نه د پروپاګند خورولو وسیلې وې او نه یې د خلکو د ورځنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره کومه شتمني درلوده، یوازي او یوازي د نظریاتو پر بنسټ باندي د قام د ودانۍ او خپلواکۍ لپاره د راڼه سباوون هیلي او رښتیا خبري وې، چي په اولس کي پوهه لرونکې څه برخه یې د ځان کړې وه، خو دا جوته ده، چي په لوېدلي او ځپلي اقتصاد او فقر کي خلک نظریه څه چي عقیده هم نه شي ساتلای...

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په پورتني شالید کې که څه هم دواړه لوري امپریالیزم او سوشلزم یو له بله ببرېدل، خو د جګړې ډګر د پښتنو وطن او د پښتنو وجود وو. د پورتنیو یادو ریاستونو د نیولو او ځان کولو په اړه که مورږ د وړاندې شوي چاپېریال په شالید کې لږ په ژور لید سره وګورو، نو پوهېږو، چې تر پوله ودې خوا ته د پراختیا غوښتنې په نیامت د منځنۍ پولې او کرښې د پیاوړتیا لپاره پاکستان سرکار د ښکېلاکګرو په لاربښوونه او ملاتړ پورتنۍ چارې تر سره کولې او وینې پښتانه بهیرونه یې د دې چارو په مخ کې د خنډ او ځنډ لامل ګڼل، ځکه یې د پښتانه قامي سیاسي بهیرونو ګڼ شمېر وینې پښتانه مخور نیول او ځورول، **خان شهید** یې هم د یو شمېر مخورو په ملتیاد انګېزې اې جي جي په حکم زندان ته واستاوه، چې په ببلا ببلو جېلونو کې تر شپږ کلنه موده وروسته په ۱۹۵۴ز کال را خوشي کړل شو.

په دغه اووه/ اته کلونو کې له پښتنو او یا هم د کرښې/ پولې په دې خوا له اوسېدونکو سره د یادو واکمنو له خوا د زور زیاتوب یو داسې انځور "چې د هر پښتانه په ذهن او زړه کې خوندي او ثبت پاته دی" یوازې لویې پېښې یې نومورې لیکوال م، ګ، ننګرهاری داسې یادوي:

"مګر هغه پېښې چې باید د عمومي معلوماتو د پاره د تاریخي لویو پېښو په ډله کې په جنتریانو کې ولیکل شي، هغه دا دي:

۱: د پښتونستان په مطالبه باندې د شپاړس زرو پښتنو سخت جېل ۲: د چارسدې/ بابړې قتل عام. ۳: د ملاکیږدر بمباري او قتل عام. ۴: د الایې قتل عام او یرغل. ۵: د وزیرو پرله پسې شپه او ورځ بمباري. ۶: د تیراه بمباري. ۷: د بلوچستان پر مجاهدینو حملې او د هغوی قتلول. ۸: د توریو بېګنا او بې کرکې د مرګ ژوبله. ۹: په چترال کې د وینو لبتې بهېدل او... ۱۰: هغه مصارف، او خرڅونه چې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پاکستان د پښتونستان د مخنیوي د پاره د هیڅ قسم مذهبي یا انساني شرافت د حدودو د پروا ساتلو نه پرته استعمال کړي او خپل ډیموکراتیک، اسلامي او دیني شکل یې دنیا ته و ښود." (۶۶)

څرګنده ده، چې د پورتنیو یادو شوو لویو پښتنو په څنګ کې په سلګونو نورې وړې پښتې هم تر سره شوې دي، خو موږ یوازې دغه لوی پښتي د باورې سرچینې په باور دلته وړاندې کړې، چې لوستونکي ورڅخه اټکل کولای شي، بله خبره دا چې په دې پرا و کې د پښتنو سیاسي بهیر د عدم تشدد استازی بهیر وو، هغوی په خپل درانه زغم او برداشت سره دنیا ته جوته کړې او څرګنده کړې وه، چې پښتانه له ژوند او انسانیت سره مینه لرونکي درانه او مهذب خلک دي.

په همداسي درناوي او سیاسي زغم سره د خپلې لارې پالونکي کردار **خان شهید** په دې ځل بیا له شپږ کاله پرله پسې زندان څخه تر خوشي کېدلو وروسته په بېلا بېلو برخو د وېښل شوي پښتون قام و ژوندني چاپېریال او بېلتانه ته په کتلو سمدلاسه په ۱۹۵۴ز اپریل میاشت کې د ملتیا کوونکو ملګرو په سلا او مشوره د ورور پښتون په نوم سیاسي ډله جوړه کړه، چې مشر / کنوینر یې **خان شهید** و ټاکل شو، ستر سکرتر یې محمد هاشم خان غلزی، دویم مشر یې مولوي رحمت الله مندوخیل او د خپرونې ناظم یې فضل احمد غازي وو، د دغه غونډې یادونه نوموړی لیکوال میا خان اپریدی داسي کوي:

"په ۱۹۵۴ز کال د محمد هاشم خان غلزي په کور کښې د خان عبدالصمد خان اچکزي په مشري د ورور پښتون د قومي او وطني حزب تیږه کېښوده شوه، مشر خان یې رئیس او محمد هاشم غلزی یې سکرتر و ټاکل شو، چې د دوی مرام د پښتونستان په لاره کښې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مبارزه او د پښتونستان آزادي وه، په ټول محکوم پښتونستان کې يې جلسې او تقريرونه او نور ډول ډول فعاليتونه يې شروع کړل." (۶۷)

همداسې وه، چې د سياست له همدې ټاکلې چوکاټ څخه يې د يو شمېر ملګرو په ملتيا او خوښه له پاکستان سرکار څخه د پښتونستان په نوم د ولايت (صوبې) غوښتلو او د پښتنو د يو ځای کولو، د ټولو پښتنو او په ځانګړي ډول په سوهېلي پښتونخوا کې د پښتنو د ژوند، ژبې، کلتور، ودانۍ او پرمختګ لپاره و تر سره کېدونکو چارو ته د لارو پرانستلو او ملاتړ کولو غوښتنه کوله او دا يې هم په ډاګه ويل، چې موږ به کله هم د زغم لاره پالل نه پرېږدو، له هم دې سياسي چوکاټ څخه يې په پښتون وطن کې د اولسي ملاتړ تر لاسه کولو لپاره سياسي غونډې پيل کړې، د ورور پښتون له دريځ څخه يوې غونډې ته "چې په مېکموهن پارک کې تر سره شوې وه" د **خان شهید** وينا له يوه کتابه څخه را اخلو، د کتاب ليکوال ليکي، چې:

"خان صاحب پخپل بيان/ وينا کې وړاندې وويل:

ځينې د غرض خاوندان په ما او زموږ په پارټۍ پسې د پاکستان د بدخواهۍ او دښمنۍ پروپاګندونه کوي، خو زه دا وايم، چې موږ د دښمنۍ خلک نه يو، په حقيقت کې دغه کسان دي، چې د پاکستان دښمنان او دوی نه غواړي، چې پاکستان د يو اولس سره موافقې او فيصلې ته ورسېږي، دغسې کسان د حکومت او زموږ تر منځه په رنګ بدۍ او خوابدۍ باندې خوشاله دي او غواړي، چې دا شی د ډېرې مودې د پاره اوږد شي، موږ د پاکستان سره هېڅ قسم دښمني او عداوت نه لرو، موږ د پاکستان په تعمير او ودانې دومره خوشالېږو، لکه چې سړی د خپل کاله په ودانۍ او ابادۍ باندې خوشالېږي." (۶۸)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په دې هېواد کې د ټولو پښتنو او په ځانګړې ډول د سوهلې پښتونخوا د پښتنو لپاره د پورتنیو غوښتنو په لړ کې د اولسي ملاتړ لپاره د غونډو ملاتړ او غبرګون د واکمنو په ذهنونو کې درنې اندېښنې را وپارولې او دا یې د خپلو ګټو او تر لاسه شوو منصبونو په مخ کې خنډ او ځنډ ګانه، نو یې یو ځل بیا د ۱۹۵۴ز کال د جولایې د میاشتې پر اوولسمه نېټه د **خان شهید** د نظربندۍ په څنګ کې د هغوی د پېیون پر مطبوعاتي هڅو باندې هم نژدې دکال لپاره بندیزونه ولګول، یادونه یې داسې ده:

"درج بالا حکم کے ساتھ ہفت روزہ "پیغام جدید" اور ماہنامہ "پشتو" کی اشاعت پر پابندی لگا دی، اس حکم سے پاکستان کی جمہوری قوتوں، عوام اور پریس میں شدید غم و غصے کی لہر دوڑ گئی اور اس پر شدید ردعمل سامنے آیا۔ "ورور پشتون" نے ۲۲، ۲۳ جولائی ۱۹۵۴ء کو کوئٹہ میں پارٹی کے جنرل سیکرٹری محمد ہاشم خان غلزئی کی زیر صدارت منعقدہ اجلاس میں اس حکم نامے کی شدید مذمت کرتے ہوئے درج ذیل قرارداد کی منظوری دی۔ "(۶۹)

د ورور پښتون په غونډه کې د غندنې تر قرارداد وړاندې کولو وروسته د دې ځای رسنیو او هم نورو سیاسي ګوندونو او اولسونو د **خان شهید** او د هغوی د مطبوعاتي هڅو په لړ کې دغه زور زیاتوب په کلکه و غانده او یادو شوو ټولو پر خپل وار له سرکار څخه د سپیناوي په غوښتنه کولو د دې مقدمې په عدالت کې د وړاندې کولو وړاندیز وکړ.

هېره دې نه وي، چې د "ورور پښتون" له سیاسي چوکاټ څخه د قامي سیاست روښانوره هم ځلانده او پر خپر بدلو شوه، ولي پښتانه په دې پوهېدلي وو، چې د رانه سباوون او ژوند لوری د زور زیاتوب او ظلم په وړاندې د مزاحمت او مقاومت په لاره کې دی.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د **خان شهید** د نظربندۍ او نه شتون پر مهال هم د "ورور پښتون" نومورو مخورو د اولسي غونډو لاره و پالله، چې له کبله یې په اولسي ذهنیت کې ورځ په ورځ د سیاسي بڼې او فکر غوړېدلو پیاوړتیا موندله. یادونه یې له باوري سرچینې څخه را اخلو:

"د ۱۹۵۴ز د جولایي پر ۱۷ نېټه خان عبدالصمد خان بندي شو او د هغه څخه وروسته دغه درومند پېښې خان محمد هاشم خان غلزي په غاړه واخست، کله چې محمد هاشم خان غلزی د خپلو ملګرو سره کراچي ته ولاړ او هلته یې د قانون جوړوونکي اسمبلۍ یعني د موسساتو د مجلس له اعضاوو سره وکتل او د خپل منطق او استدلال او ورسره د سیاسي اهلیت او لیاقت په برکت یې د پښتونستان په باب د ورور پښتون او خدایي خدمتګارو په مطالبو یعني د پښتونستان د اولس په غوښتنه د اسمبلۍ اعضا قایل کړل او د هغوی نه یې دا تصویب حاصل کړ، چې هر قوم کولای شي؛ د خپلې ژبې پر اساس باندي ځان ته یو واحد حکومت جوړ کاندي." (۷۰)

تر پورہ کال ۱۷ جولایي ۱۹۵۴ز ـ ۲۱ جولایي ۱۹۵۵ز وروسته د **خان شهید** د نظربندۍ بندیزونه لېرې کړل شول او یو ځل بیا د هېواد په سیاست کې د قامي سیالۍ او ودانۍ بڼې نور هم پیاوړی شو، **خان شهید** د درانه مخکښ **باچا خان** په بلنه د اوسنۍ خیبر پښتونخوا له پښتنو سره د لیدلو او سیاسي بهیر د ګړندي کولو لپاره سفر وکړی او په ډېلا ډېلو ښارونو کې یې و اولسي غونډو ته وینا وکړې، په دې لړ کې ښاغلی لیکوال شوکت ترین د خپلې مطالعې په رونا کې لیکي:

"۲۱ جولائی ۱۹۵۵ء کو تقریباً ایک سال بعد خان شہید عبدالصمد خان اچکزئی کی نظر بندی سے پابندی ہٹادی گئی، نظر بندی ختم ہونے کے بعد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

آپ خان عبدالغفار خان کی دعوت پر خیبر پشتونخوا کا دورہ کرنے اور وہاں سیاسی زعماء سے مشورہ کرنے کیلئے ۷ اگست ۱۹۵۵ء کو پشاور روانہ ہوئے، دورے کے دوران پشاور، ڈیرہ اسماعیل خان، کوہاٹ، بنوں اور قبائلی علاقہ جات کا دورہ کیا، دورے کے دوران آپ کی تقاریر کا محور پاکستان کے اندر ایک متحدہ پشتون صوبے کا قیام تھا۔" (۷۱)

هېره دي نه وي، چې په دې وخت کې سیاسي غوړ ځنګونو د ون یونټ په ضد د اولسي ملاتړ تر لاسه کولو لپاره سیاسي هلي ځلي پیلولې او سیاسي مخکښان پوهېدل، چې په داسي توګه به په پاکستان کې د اوسېدونکو قامونو پښتنو، سندیانو، بلوڅانو، سرائیکیانو قامي حقوق او ارزښتونه تر پښو لاندې کړل شي، په ځانګړې توګه پښتنو سیاسي مخکښانو انګېرله، چې پښتانه به له خپل وجود څخه تر را ېېلېدلو وروسته د بل چا تر لاسبرتیا او واک لاندې راشي او داسي به له خپلې ژبې، کلتور، تاریخ او وطن څخه پرېدي شي او بیا به یې د خپل قامي ارزښت په بایللو وس او ذهنیت هم د خپلې ژبې، کلتور او ارزښتونو د پاللو پر ځای د نورو د ودانولو او سیالولو لپاره په کار واچول شي او په هېواد کې به یې ارزښت یوازې د یوه مزدور په توګه پاته شي، نه د یوه سیال او برخه لرونکي قام په توګه... لوستونکي دي د ېېلګې په توګه د میاوالي، فتح جنګ، سیوی او په هیند کې اوسېدونکي پښتانه په پام کې ولري، چې وس او ذهنیت یې د نورو په نوم شو او پښتنو په علمي، ادبي او هنري/ فلمي ډګرونو کې د نورو ژبو لپاره ډېرې لوړې چارې تر سره کړې، د نومونو لاړ راوړل یې تر وس وتلې خبره ده...

دا چې د ون یونټ وزیراعلی ډاکټر خان صاحب وو او هېښوونکې دا وه، چې د ون یونټ همدغه وزیراعلی له برتش بلوچستان څخه په تپلې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

توګه د انګرېز د تاکلي جرګې د غړو په ووټونو د اتلس په مقابل کي په شلو ووټونو باندي راوستل شوی وو، ځکه خو د چوپ پر مهال چي دغه سرکار د سیاسي ګوند "ورور پښتون" په ملاتړ د لوی شمېر پښتانه اولس غبرګون ولیدی، نو وار خطا شو او **خان شهید** چي په چوپ کي يې پښتانه په خپل حق خبرول، پوهول او را ویښول، نو دغه سرکار د پښتانه قام له را ویښولو، یووالي او په چوپ کي د خپل حق له غوښتلو (هر وګړی ته د ووټ حق) څخه د راګرځولو لپاره د هېواد د غداری په تور په لورالایي کي و نیوی او زندان ته يې واستاوه، نوموړی لیکوال شوکت ترین دا پېښه داسي راوړي:

"تاحال خان شہید عبدالصمد خان اچکزئی جنوبی پشتونخوا کے دورے کے دوسرے مرحلے میں لورالائی میں ہی تھے کہ ون یونٹ کے وزیراعلیٰ ڈاکٹر خان صاحب کے حکم سے ۲۵ اکتوبر ۱۹۵۵ء کو جلسہ عام سے خطاب کے بعد رات پونے آٹھ بجے گرفتار کرکے ڈسٹرکٹ جیل لورالائی میں ایک مہینے کے لئے قید کر لئے گئے۔ ڈاکٹر خان صاحب کی حکومت نے آپ پر بیرون ملک ایجنٹوں (بقول حکومت) محمد ایوب خان اچکزئی، مولوی غلام حیدر باغی اور ارباب عبدالقادر کاسی سے روابط جیسے الزامات لگائے گئے، مزید برآں ڈاکٹر خان صاحب کی حکومت نے یہ الزام لگایا، کہ عبدالصمد خان اچکزئی کی پارٹی انجمن وطن نے تقسیم ہند سے پہلے تقسیم ہند کی مخالفت کی تھی اور موجودہ پارٹی "ورور پشتون" غیر ممالک سے پیسے لیکر پاکستان توڑ کر پشتونستان بنانا چاہتی ہے اور عبدالصمد خان نے ایک غیر ملکی جھنڈے کو سلامی دی ہے۔" (۷۲)

د داسي ښځایه تورونو و شاته چي څه وو، په هغه باندي لوستونکي او په ځانګړي ډول پښتانه لوستونکي ځکه پوهېږي، چي د خپل قام او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وطن په چاپېریال باندې پر خبرتیا لرلو سربېره یې د قامي سیاست لورې ځورې هم څارلې او کتلې وې، هغه د پښتنو خبره چې "اوبو اخستې ځګ ته لاس اچوي" نو سرکار هم په ۱۹۳۸ز کال د جوړ شوي لومړي سیاسي ګوند (چې هغه وخت پاکستان جوړ شوی لا هم نه وو) د سیاسي چارو تورونه په ۱۹۵۵ز کال کې پر **خان شهید** لګوي او په داسي ډول د نومورې نیولو ته پلمې جوړوي، پر دې سربېره د خپل قام د حقوقو لپاره د تودې مبارزې له پلویانو سره د اړیکو تور هم وربانديې لګوي، له داسي بېځایه تورونو څخه باوري شي، چې سرکار ناوسه او په خپل واک نه وو، شا ته یې د نورو زورورو درانه لاسونه وو، چې په چوپ کې له تاکنو څخه نیولې د واکمنۍ تر چارو پورې ټول واک د هغوی په لاس کې وو، خو د **خان شهید** له خوا د لګول شوو تورونو په ښه توګه ځوابول او د سرکار له خوا د لګول شوو تورونو په ثبوت کې څه نه وړاندې کېدل، په اولس کې د نومورې د نیولو په ضد تاند غبرګون سرکار دې ته اړ کړ، چې له خپلو تورونو څخه پر شاشي او **خان شهید** دریې میاشتې وروسته د ۱۹۵۶ز د لومړۍ میاشتې په وروستۍ ورځ د کراچي هائي کورټ په حکم له زندانه را خوشې کېږي او یو ځل بیا د پورتنیو ارمانونو د پوره کولو لپاره د تاکل شوي سیاسي لارې په پاللو د انتې ون یونټ فرنټ د سلاکاري ډلې غونډې ته پېښور ته ځي او له زندان څخه تر را وتلو دوه ویشت ورځې وروسته په جوړه شوې غونډه کې د فرنټ د سلاکاري ډلې د غړې په توګه د نومورو سیاسي مخورو په ملتیا ګډون کوي، ورپسې د یادو قامونو سیندې، بلوڅ او سرائیکي د مخور سیاسي استازیتوب په ملتیا د پښتون وطن په بېلا بېلو سیمو کې و درنو اولسي غونډو ته ویناوې کوي او د ون یونټ له منځه وړلو، د ژبو او جغرافیه پر بنسټ له نوې سزه د صوبو جوړولو خپل درېځ/موقف

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یو ځل بیاورانديکوي، د سیاسي هلوځلو او درنو اولسي غونډو ته د مخورو سیاسي مخکښانو د ویناوو له کبله ورځ په ورځ اولسي شعور وده کوي، په ملاتړ یې مبارزه پیاوړتیا مومي، خو یو ځل بیا د ډاکټر خان صاحب سرکار د مخورو سیاسي مخکښانو د نیولو چاره تر سره کوي او دوارې پښتانه مخکښ مشران باچاخان او **خان شهید** نیول کېږي، یادونه یې ښاغلی شوکت ترین د خپلواکۍ د ترون لومړي جلد په حواله راوړي:

"آخر کار ڈاکٹر خان صاحب وزیراعلیٰ مغربی پاکستان نے دونوں رہنماؤں کو این ڈبلیو ایف پی پبلک سیفٹی ایکٹ کی دفعات ۱۷/۱۵ کے تحت پشاور، بنوں، کوہاٹ، بابڑہ وغیرہ میں تقریر کرنے کے تحت ۱۳ جون ۱۹۵۶ء کو گرفتار کر کے تعزیرات پاکستان دفعات ۱۲۳ الف ۱۲۴ الف اور ۱۵۳ الف کے تحت حکومت کے خلاف بغاوت اور پاکستانی عوام میں نفرت پھیلانے کے الزام میں مغربی پاکستان ہائی کورٹ کے جج جناب شبیر احمد عثمانی کی عدالت میں مقدمات چلائے اور دونوں رہنما لاہور جیل میں قید کر لئے گئے۔" (۷۳)

د نیولو، زنداني کولو، نظربندۍ دغه پرله پسې لړۍ د ښکېلاکګر انګرېز په وختونو کې د پولیسو او جرګو د تاکل شوو پښتنو غړو/ ممبرانو له لارې او د پاکستان تر جوړېدلو وروسته د دې ځای د ګومارل شوو واکمنو په ملاتړ ترسره کېده، په وار وار تر عدالتونو پورې درسولو او بیرته پرېښوولو په شالید کې که په ژوره توګه وکتل شي، نو درانه لاسونه یې وشاته ښکاري... یو لوری د قام خواله کوي او د قامي ودانۍ لپاره د اولس په استازیتوب د خپل وجدان/ ضمیر د ډاډمنتیا او اطمینان په توان خپلې هڅې تر سره کوي، هر ډول ستونزې او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کړ اوونه ګالي، خو بل لوری د امپریالیزم د بنکېلاک، د ځپښناک اود هغوی د سیاسي اهدافو لپاره په کار اچول کېږي، تر ځانې ګټو او شومو هیلو نه شي تېرېدلای، نو ژورلید لرونکي هغه لاملونه یا اسباب پامولای شي، چې داسي چاري په اقتصاد ځپلې او له علم او سیاست څخه په لېرې ټولنه کې تر سره کېږي، د هغوی له کمزورېو او ناپوهیو څخه پردې څوک کار اخستلای شي او لاسونه یې ورته را اوږدېږي، خو خپلواکي لرونکې ټولنه بیا په علم، پوهه او سیاست کولو د خپلې ودانۍ او سیالۍ لپاره خپلې شتمنۍ په کار اچوي او په خپل اقتصاد سره پر خپلو پښو درېږي، نورو ته د هیلو لاسونه نه اوږدوي، خپلواکي ټولنې له نورې نړۍ سره د سیالۍ پر بنسټ ژوند تېروي، هغوی که د اړتیاوو پر بنسټ له نورې نړۍ څخه څه غواړي، نو د سیالۍ پر بنسټ یې غواړي، خو کله که د اړتیا پر بنسټ له کوم بل هېواد څخه څه و غواړي، نو لږ تر لږه د بل بنېګړي د خپلو ارزښتونو او خپلواکۍ په بیعه نه غواړي، چې د ناسیالۍ او تېټتابه لامل یې وي.

د امپریالیزم او مقابلو قوتونو تر منځ د را بنکېل شوو ټولنو یا هېوادونو اولسونه په خپل منځ کې د شخړو هوارولو لپاره د خبرو اترو لاره هواره نه شي ساتلای، ولي یو لوری یې "که څه هم زورور وي، خو بېواکه وي، خپلواکي ورسره نه وي، ماناد بل په اشاره د بل ګټې پالونکی وي" او بل لوری غواړي، چې د هېواد، وطن او قامي ودانۍ لپاره د خپلواکۍ په تر لاسه کولو خپلې شتمنۍ یا وسایل په کار واچوي...

نو دلته هم داسي څه تر سره کېدل، چې د امپریالیزم په ګومارلو او ملاتړ یې ګوډاګیانو د مخکښانو د نیولو او زنداني کولو لړۍ ساتلې وه. د پښتنو د دواړو مخکښانو مشرانو تر نیولو وروسته په ټول وطن او په ځانګړي ډول په پښتنو کې د سرکار په ضد او د قامي، وطني ودانۍ په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ملاتړ مبارزه نوره هم ګړندی شوه او په بېلا بېلو بڼارونو کې لاریونونه او اولسي غونډې تر سره شوې، له هري غونډې او لاریون څخه په ګډه داولس له خوا داسي غبرګون ښکاره شو، چې زمونږ مشران دي ژر تر ژره را خوشي کړل شي او زمونږ قامي غوښتنې دي ومنل شي.

پوره اووه میاشتې یوولس ورځې د مقدمې تر پورته کېدلو وروسته د ۱۹۵۷ز کال د لومړی میاشتې پر څلیرویشتمه نېټه باندې عدالت د دواړو مخورو پښتنو ته سزا واوروله، سزا یې د همدغه ورځې د عدالت د ختمېدلو تر وخته پورې وتاکل شوه، ورسره یې نومورې مخکښ مشر **باچا خان** څوارلس زره کلداري او نومورې مبارز مشر **خان شهید** شپږ نیم زره کلداري ډنډ یا جرمانه کړ.

د پښتنو د ودانۍ او سیالۍ د مخنیوي لپاره د انګرېز سرکار زور زیاتوب وو، چې د پرله پسې هوالی یا تسلسل چاره یې د خان قیوم وزارت و پاللـه او ورپسې همدغه د زور زیاتوب لاره د ډاکټر خان وزارت تر سره کړه، چې و سیاسیانو ته تر لږ ساه او وار ورکولو وروسته بیا وار ایوب خان ته و رسېدی او هغه هم د زور زیاتوب دغه لاره په ښه توګه و پاللای شوله.

د لاهور له زندانه څخه د راوتلو سره سم د دواړو مشرانو په درناوي کې هم هلته د پاکستان نېشنل پارټۍ له خوا د ښه راغلې او یوې غونډې تابیا شوې وه، څرګنده دي وي، چې پاکستان نېشنل پارټۍ د نومورو مشرانو له زندان څخه تر راوتلو نژدې دوې میاشتې مخکې د ۱۹۵۶ز کال د دسامبر پر ۳/۲ نېټه په هېواد کې د ټولو جمهوریت خوښوونکو په ملاتړ جوړه شوې او ورور پښتون هم ورسره د ملتیا ژمنه کړې وه.

هېره دي نه وي، چې د دغه ګوند د جوړوونکو جمهوریت خوښوونکو په لړ کې "خدایي خدمتګار" "ورور پښتون" "سیند عوامي پارټۍ" "استمان ګل او "آزاد پاکستان پارټۍ" هم ګډون درلودلی وو، خو یادو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دوو مخکښانو یې که څه هم په زندان کې د پاتېدلو له کبله د جوړښت په غونډه کې ګډون نه وو کړی، خو د دواړو ګوندونو استازیتوب یې ارباب سکندر خان او محمد هاشم خان غلزي کړی وو.

د لاهور په جوړه شوې غونډه کې تر ویناګانو وروسته پښتانه مخور مشران عبدالغفار خان (**باچا خان**) خپلې سیمې پېښور او عبدالصمد خان (**خان شهید**) خپلې سیمې کوټې ته ستانه شول او د پښتانه اولس له تاریخي او نه هېر بدونکي درناوي سره مخامخ شول.

څرګنده ده، چې کله جمهوریت خوښوونکو په بېلتانه یا له یو بل څخه په جلا توګه سیاسي چاري تر سره کولې، نو د زور زیاتوب کوونکي سرکار په وړاندې دومره اغېزمنې نه وې، خو په ملګرتیا یې اولسي واک پر یو ځای او اغېزمن شو، چې د دوو درو نکاتو په ملتیا یې په ځانګړې ډول د ون یونټ د ختمولو لپاره یووالی تر سره شوی وو، نو په دې لړ کې یې هلې ځلې هم تاندې او پیاوړې شوې، په همدې لړ کې د ۱۹۵۷ د پنځمې میاشتې له ۱۷مې څخه تر ۱۹ مې نېټې په پېښور کې پر همدې سکالو (موضوع) یوه سیاسي او کلتوري غونډه وشوه. دغه غونډه بناغلی شوکت ترین د یوې ورځپاڼې په حوالہ داسې یادوي:

"کانفرنس میں سیاسی، ثقافتی، اجتماعی آزادی، زرعی نظام کی درستگی، پاکستان کے اندر لسانی، ثقافتی اور جغرافیائی بنیادوں پر صوبوں کی تشکیل جیسے موضوعات پر سیر حاصل تقاریر اور مباحثوں کے ساتھ ساتھ پشتو مشاعروں، ڈراموں اور قومی کھیلوں کا انعقاد ہوا۔ کانفرنس کے پہلے سیشن کی صدارت عبدالصمد خان اچکزئی نے کی۔ انہوں نے اپنے خطاب میں کہا، کہ دس سال کا عرصہ گزر چکا ہے، کہ انگریز ہمارا وطن چھوڑ چکے ہیں، مگر عوام تو درکنار ہمارے ہاں کسی فرد نے بھی آزادی کی فضا محسوس نہیں کی۔" (۷۴)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د جمهوریت غوښتونکو ملګرتیا او د یو شمېر درنو اولسي غونډو په څنګ کې د داسي علمي څېړنغونډو او کانفرنسونو تر سره کولو په هېوادني سیاست کې ډېري ښې پایلې / نتیجې ولرلې او په اولس کې یې د واکمنو د ناوړو په وړاندې سیاسي ږغ نور هم پیاوړی کړ، چې په همدې هیله د پېښور تر پورتنۍ یاد شوي کانفرنس دوې میاشتې وروسته د ختیځ پاکستان په باریسال ښار کې یو بل کنونشن تر سره شو او یاد کنونشن دغه سیاسي ملتیا نوره هم څکه پیاوړې کړه، چې دوو نورو سیاسي ډلو هم د خپلې ملګرتیا اعلان وکړ او همداسي یې د خپل ګوند پاکستان نېشنل پارټي په نوم کې د یوه توري په زیاتوالي سره د پاکستان نېشنل عوامي پارټي نوم غوره کړ او د یوې کارینده جرګې په ټاکلو سره یې د هېواد په دواړو برخو کې د دې ملتیا او ملګرتیالرې و خپلو مرامونو ته د رسېدلو لپاره د پیاوړو هڅو تر سره کولو ژمنه او اراده څرګنده کړه.

خان شهید و همدې کنونشن ته د وینا پر مهال د مولانا عبدالحمید بهاشاني او نورو د کردار په یادولو سره د ښو هیلو څرګندونه وکړه او د کنونشن له لارې یې د اولسواکۍ / جمهوریت لپاره د هېواد د دواړو برخو د اولسونو د استازیتوب ملتیا او ملګرتیا و بریا او مرام ته د رسېدلو په لاره کې په زړه پورې ګام و ګاڼه.

د نوي ګوند (پارټي) په تګلاره کې دغه ځانګړي ټاکونه / نکات وو، چې دوی ټولو سره منلي او د ملتیا ژمنه یې کړې وه، هغه دا چې د ون یونټ ماتېدل، د ژبې، کلتور پر بنسټ په هېواد کې و بنګالیانو، سیندیانو، پښتنو، پنجابیانو او بلوڅانو ته خپلواک ولایتونه (صوبې) ورکول او په بهرنیو چارو کې د پاکستان په بشپړه توګه څنګلېره (غیر جانبدار) پاتېدل، پر دې ټاکونو / نکاتو باندې د یووالي په څنګ کې د نوي ګوند

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پر مرکزي دفتر سربېره په ټول هېواد کي اووه دفترونه نور هم قانوني و منل شول، چې یادونه یې پوهاند غنو داسي کوي:

"نئی پارٹی کے مرکزی دفتر کے علاوہ تمام ملک میں ساتھ دیگر دفاتر قانونی طور پر تسلیم کر لئے گئے، جو ہر ایک بذات خود ایک پارٹی لیڈر اور ایکشن کمیٹی کا حامل تھا، گویا ایک دوسرے سے آزاد ہر دفتر اپنے علاقے میں ایک مکمل پارٹی تھا۔ مرکز دفاتر اس طرح تھے۔ ۱: بنگال ۲: کراچی (سندھ) ۳: لاہور (پنجاب) ۴: ملتان، بہاولپور (پنجاب) ۵: پشاور (صوبہ سرحد) ۶: کوئٹہ جنوبی پشتونخوا ۷: قلات (بلوچ علاقہ) بلوچستان۔" (۷۵)

د ډاکټر خان د وزارت د زور زیاتوب لړۍ روانه وه، چې پای د هېواد د دواړو برخو د اولسواکۍ / جمهوریت ملاتړ کوونکي سیاسي ډلې سره یو ځای شوې او اولسي ملاتړ یې هم ورځ په ورځ مخ پر زیاتېدلو وو، چې سرکار یې هم اندېښمن کړی وو او وروسته یې د هغه وخت د صدر سکندر مرزا په هڅو له سیاسي ډلو سره د خبرو (مذاکرات) لاره هواره کړل شوه او په هېواد کي درې سیاسي قوتونه لکه دولت (حکومت) پاکستان نېشنل عوامي ګوند او مسلم لیګ چې د سرکار له خوا درې او د نورو دوو ډلو له خوا څلور / څلور استازي د خبرو لپاره و ټاکل شول، دغه خبرې د مسلم لیګ په څنګلېره پاتېدلو دې پایلې یا نتیجې ته ورسېدې، چې سرکار به د نېپ غوښتنو ته پام راملرنه کوي او د همدې ژمنې په رونا کي د لوېدیځ پاکستان په پارلمان کي د دوی یونټ په ضد قرارداد په لوی شمېر رایو سره ومنل شو، یوازې یې د څلورو نورو رایې په مخالفت کي وې، پوره یو کال وروسته په سپتامبر ۱۹۵۸ز کي پارلمان د اولسي استازیتوب یا عوامي نمایندګۍ بل هم و

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مانه او د ۱۹۵۹ ز کال د فروري د میاشتي ښخلسمه نېټه د ټولټاکنو لپاره اعلان هم شوه.

په هېواد کي د سیاسي ډلو تر منځ د پورتنیو ټاکل شوو استازو له خبرو (مذاکراتو) څخه مسلم لیګ ځکه څنګلېره پاته شو، چي د هغوی غوښتني اولسي نه وې؛ بلکې په دولت کي د برخي لپاره وې او نه هغو واولس ته د واک ورکولو ذهن او زړه درلودی، همداسي ورو ورو خبره داولسواکۍ لوري ته وغځېدله، چي ورسره سم په هېواد کي د ټولټاکنو (چوڼ) هیلي او هم اولسي سیاسي هلي ځلي تاندي شوې..

خان شهید د لاهور له زندان څخه تر راوتلو وروسته تر پورتنیو یادو شوو کانفرنسونو پوري او تر کانفرنسونو په را وروسته موده کي له خپل پښتانه اولس سره د تماس ساتلو او له هغوی سره د خپلي خبري د شریکولو لپاره د سیاسي بهیر په ملاتړ بېلا بېلي اولسي غونډي وکړې.

دا چي تر دې وخته پوري د بوري (لورالای) او ږوب (فورټ سنډېمن) واولسونو ته د رایي (ووټ) واک نه وو ورکول شوی، نو **خان شهید** د خپلو مخکښو/ مخورو ملګرو په ملتیا په بېلا بېلو ځایونو لکه د ۱۹۵۷ کال د اګست د میاشتي پر ۲۴ مه ګلستان، د همدې کال د سپتامبر پر ۲۱ مه نېټه پښین او قلعه عبدالله خان، د اکتوبر پر څلورمه نېټه سنځاوۍ، پر پنځمه نېټه بوری (لورالای) شپږمه نېټه دکۍ او ورپسې پر اتمه/ نهمه نېټه ږوب (فورټ سنډېمن) پر لسمه نېټه قلعه سیف الله خان او بیا د هندوباغ (مسلم باغ) پر لار کوټي ته ستانه شول.

د سوهېلي پښتونخوا په یادو شوو ټولو ښارونو او شا او خوا سیمو کي **خان شهید** د مخورو په ملتیا و اولسي غونډو ته ویناوي وکړې، چي په هره سیمه کي به د ځایي استازیتوب د ویناوو ملاتړ هم ورسره وو...

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهید او مخورو ملګرو په خپلو ویناوو کې د واکمنو له خواد پښتانه قام سره د زور زیاتوب په ضد خبرې بنه په ډاګه کولې او د داسې زور زیاتوب د مخنیوي لپاره یې د سیاسي بهیر په ملتیاد سیاسي غړو کردار ستایه، هغوی د پښتنو ودانۍ، سیالۍ لپاره په هېواد کې د خپلې پوره مالکانه برخې غوښتونکي وو او دغه مرام یې د خپلې صوبې پښتونستان او خپلواکۍ په بڼه کې له واکمنو څخه غوښتی او په دې لاره کې یې د اولس ملګرتیا ځکه غوښته، چې هغوی د اولسواکۍ/ جمهوریت پلویان وو، ورسره یې د بوري او بروب د اولس لپاره د رایې/ ووټ د حق ورکولو ملاتړ او غوښتنه په ټینګار سره کوله، چې هلته یوازې د جرګې وغړو ته د رایې ورکولو واک ورکول شوی وو.

هېره دې نه وي، چې د دې ټولو غوښتنو په سر کې د ون یونټ له منځه وړل او د پښتنو د یووالي لپاره د ځانله صوبې و جوړولو ته لاره هموارول وه، ورپسې نوري قامي او قبیلوي کشالې وې، چې په خپلواکي تر لاسه کولو به یې د غم خوړلو هیلې درلودې... په هره اولسي غونډه کې به تر ویناګانو وروسته د پښتونستان او د **خان شهید** عبدالصمد خان د زنده باد (ژوندی دي وي) نارې وهل کېدلې او په همداسې ډول به د اولس له خوا د دې سیاسي بهیر د ملاتړ باور ورکول کېدی.

خان شهید په هره اولسي غونډه کې له پښتنو څخه د یووالي غوښتنه کوله او د پښتنو له بېلتانه څخه د ورپېښو تاوانونو په اړه به یې د خپلو اندېښنو څرګندونه ځکه کوله، چې د پښتنو ودانۍ او سیالۍ لاره یې یوازې او یوازې د پښتنو یووالی ګانه، ځکه یې له پښتنو څخه په خواست غوښتل، چې تر بګنۍ د ځان او قام په ګټه واړوئ. یو له بل سره کومک او ملاتړ شئ، په خپل منځ کې د دښمنۍ او بېلوالي خبرې پرېږدئ، دا دښمنان دي، چې موږ یې په بېلا بېلو قبیلو او ډلو سره

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وښلي یو، مور ته په کار ده، چې د پښتانه په نامه باندې ډغ وکړو او په داسې کولو د خوشحال بابا هغه ارمان پوره کړای شو، چې د نومورې اروا پرې نښاده شي او مور ته د ودانۍ او سیالۍ لاره پرانستل شي، خوشحال بابا به داسې ارمان کاوه، چې:

هره چار د پښتانه تر مغول نښه ده
اتفاق ورځنې نشته په ارمان
د بهلول او د شېرشاه خبرې اورم
چې په هیند کې پښتانه وو بادشاهان
شپږ اووه پېړۍ یې هسې بادشاهي وه
چې په دې پورې درست خلق وو حیران
یا هغه پښتانه نور وو دا څه نور شول
یاد خدای دی اوس دا هسې شان فرمان
که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زور خوشحال به دوباره شي په دا ځوان (۷۶)

خان شهید به همدغه احساس و پښتنو ته ورکاوه، چې پښتانه لوی قام دی، مېرنې او په خبره پوه خلک دي، خپل جذبات او پوهه دي د علم او سیاست له لارې د خپل اولس د ودانۍ لپاره په کار واچوي، مانا دا چې د قامي مبارزې شاته دي د سیاسي شعور ملاتړ و لري او د ودانۍ د همدې ارمان پوره کولو لپاره دي زمور سره ملګري او ملاتړ شي...

نومورې به له مهالنیو واکمنو څخه دا ګیله هم کوله، چې د انګرېز د زور زیاتوب پر پاللو سربېره یې د پښتنو په منځ کې د بې اتفاقۍ ساتلو لاره هم پاللې ده او د "ببل یې کړه؛ اېل یې کړه" لاره پالونکي دي، ځکه یې مور ته هیڅ ډول توپیر نه ښکاري، نو په کار ده، چې د پښتنو په یووالي سره د ودانۍ لپاره د انګرېزانو کښلي کرښې له منځه یووړل شي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نوموړي به د خپلو ملګرو او د خپل ژوند د تېرو شوو تجرباتو د ښلګې یا مثال په وړاندې کولو باوري کړه، چې کردارونه خبرې کوي، مانادا چې د دې لارې پالونکو د خپل وجدان د ډاډمنتیا او مطمین ساتلو لپاره د قامي خدمت او خسمانې هوډ کړی دی او موږ د هیڅ ډول مادي ګټو او چوکیو غوښتونکي نه یو، که مو د مادي ګټو غوښتنې لرلای، نو وخت به مو تر لاسه کړې وای، **خان شهید** به د خپل مشر ملګري باچاخان په نوم یادولو باوري کړه، چې دغه اویا کلن سړی به نور څه ګټو ته ګوري او څه قام به پلوري، چې ځان به پرې ودانوي، همدغه مخکښ او مخور دی، چې د ژوند هره شېبه یې د قام په نوم کړې ده او دا خپله خبره یې جوته/ ثابته کړې هم ده، چې په دې لاره کې یې ډېرې ستړې ستومانۍ/ کړاوونه او زندانونو ګاللي دي...

خان شهید د خپلو فکري مخورو ملګرو په ملتیا د سوهېلې پښتونخوا له اولس سره تر لیدلو او هغوی ته د خپلې خبرې تر رسولو وروسته د نوي جوړ شوي اولسي ګوند د مرکزي پېیوني (تنظیمي) کامېټې په غونډه کې د ګډون لپاره پېښور ته ځي او د ګوند په دویمه درې ورځنۍ غونډه کې ګډون کوونکي مخور استازي د هېواد د سیاسي او اولسي چاپېریال په اړه غور کوي، تر ژور غور کولو وروسته یو ځل بیا د دې خبرې پخلی کوي، چې د دون یونټ په ماتولو سره دي د یوه قام د ګټې لپاره د قامونو تر منځ د کرل شوي بېلتانه، کرکو او لېرېوالي د فکر ریښې وکښل شي او ژبې، کلتور او جغرافیه ته په کتلو دي له نوي سره د ولایتونو (صوبو) تر ټاکنه او جوړولو وروسته هغوی ته په خپلواکي ورکولو سره یو وفاق جوړ کړل شي.

د ۱۹۵۷ز کال د اکتوبر میاشتې پر ۲۶، ۲۷، ۲۸ نېټو باندې په دې تر سره شوې غونډه کې د را روانې غونډې په کراچي کې تر سره کولو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پرېکړه هم وشوه، تر پورتنۍ یاده شوې ګوندې غونډه وروسته د نومبر په لومړۍ لسیزه کې باچاخان او عبدالحمید بهاشاني د **خان شهید** په بلنه کوټې ته راځي او د دې ځای د سیاسي مخورو او اولسونو د لوی شمېر له ښه راغلي سره مخامخېږي او په درناوي کې یې یوه لویه اولسي غونډه جوړېږي، و جوړې شوي درنې اولسي غونډې ته د وینا یادونه یې ښاغلی لیکوال شوکت ترین د دې ورځپاڼې په حواله کوي:

"اگلے روز کوئٹہ میں ایک جلسہ عام سے خطاب کرتے ہوئے تینوں رہنماؤں نے کہا، کہ " ہم وفاقی پاکستان کے حامی ہیں اور پاکستانی عوام کے درمیان یکجہتی چاہتے ہیں، مگر کسی بھی صورت میں مغربی پاکستان کے ون یونٹ کے حق میں نہیں ہیں"

مولانا بھاشانی نے کہا کہ " ہم پشتونوں کے پاکستان کے قلمرو کے اندر متصل پشتون علاقوں پر مشتمل ایک ایسے صوبے جس کا نام پشتونستان ہو؛ کی پر زور حمایت کرتے ہیں " مولانا بھاشانی نے ایک مضبوط مرکز ساتھ ساتھ خومختار اکائیوں کے قیام کا بھی مطالبہ کیا۔ خان عبدالغفار خان نے کہا کہ "خطے کو ہماری جدوجہد کی بدولت آزادی ملی، مگر اقتدار ان لوگوں کے حوالے کیا گیا، جو جدجہد آزادی کے مخالف تھے۔"" (۷۷)

په بله ورځ له کوټې څخه د ریل ګاډي له لارې سکهر ته ځي او هلته و اولسي غونډې تر وینا کولو وروسته کراچي ته روانېږي، کراچي ته پر رسېدلو د لوی شمېر خلکو له درناوي او ښه راغلي سره مخامخېږي او دري واړه مخور مخکښان **باچا خان**، **خان شهید** او عبدالحمید بهاشاني د ۱۹۵۷ ز د نومبر پر لسمه نېټه په جهانګیر پارک کراچي کې یوې درنې اولسي غونډې ته ویناوي کوي، چې هلته یې هم په ډاګه د ون یونټ په ضد ډاګیزه خبري وکړلې او څرګنده یې کړه، چې داسي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

به دلته د اوسپدونکو قامونو تر منځ د کرکې او نفرتونو زنې وکړل شي، مخکښانو څرګنده کړه، چې دلته واک هغو خلکو ته وسپارل شو، چا چې د برتانوي واک ملاتړ کړی وو، چې اوس هم د هغوی لاره پالي.

د همدې میاشتې پر دوولسمه نېټه د لوستونکو ته په وینا کولو سره هغوی ټینګار وکړ، چې موږ یوازې او یوازې په علمي/ ساینسي او پوهنیزه وړتیا لرلو سره د خپلو قامونو د پرمختګ، ودانۍ او سیالۍ غم خوړلای شو، مشرانو وویل، چې د قام مخکښې/ رهنمایې به همدغه زدکړه وال ځوانان تر سره کوي، کوم قامونه چې علمي/ ساینسي وړتیا نه لري؛ هغوی نه خو خپله وطني شتمني په کار اچولای شي او نه له نورو پرمختللو قامونو سره سیالي کولای شي، ولي سیالي په علم او هنر ده، پرمختګ د علم او هنر په هینداره کې لیدل کېدلای شي...

په دا سباورځ "۱۳ نومبر ۱۹۵۷ز کال" په کراچي کې د نېپ د مرکزي پېیون (ګوند) د درنو مخکښانو مشرانو غونډه کېږي او د غوښتنو پر نګلار او کړنلاره باندې تر غور کولو وروسته یو لړ غوښتنې لکه دون یونټ له منځه وړل او په پاکستان کې او اوسپدونکو قامونو ته د برابرۍ ر بنسټ د حقوقو ورکول او داسې نور څه سرکار ته وړاندې کوي.

ر پورتنۍ غونډه وروسته مخورو مخکښانو په کراچي کې وبېلا بېلو ولسي غونډو ته ویناوې وکړې او له دولت/ حکومت څخه یې د خپلو اولسي غوښتنو په برخ کې د پیاوړتیا لپاره د اولس څخه د ملاتړ او ملتیا غوښتنه وکړه، پر دې سربېره یې و اولس ته د بنسټیزو اړتیاوو ور پوره کولو په څنګ کې د زدکړو/ تعلیم، روغتیا/ صحت او نورو اړتیاوو پوره ولو ته لوړې ته هم د سرکار او خلکو پام را واړواوه، چې اولس پر سرکار باندې دا حق لري، چې د ځان او مال پر ساتنه سربېره هغوی ته رتنې بنسټیز او بنیادي حقوق هم په نښه توګه ور ورسوي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د ۱۹۵۷ز کال په نومبر میاشت کې د کوټې، سکهر او کراچي تر بېلا بېلو اولسي او پېیوني غونډو وروسته د سرکار په ضد اولسي غبرګون ورځ په ورځ مخ پر زیاتېدلو وو، چې په دې وخت کې د ۱۹۵۸ز کال له پیلېدلو سره سم د ریپبلکن غړو تر منځ هم د څه ناڅه بېلتون او تاوتریخوالي ځوړه خوره شوه او د هېواد په ځینو برخو کې د را پورته شوي اولسي غبرګون په روپا کې له هغو ځایونو څخه د ټاکل شوو دولتي غړو له خوا هم د دوی یونټ د ماتولو څرګندوني وشولې...

په داسي چاپېریال کې **خان شهید** د ۱۹۵۸ز کال په پیل کې یو ځل بیا پېښور ته ولاړ او د **باچا خان** سره تر لیدلو وروسته یې د خبرې کانفرنس له لارې د دوی یونټ په لړ کې د ریپبلکن له استازیتوب سره د تر سره شوو خبرو غبرګون/ اعاده باوري کړ او څرګنده یې کړه، چې په دې لړ کې هغوی له موږ سره د ملاتړ او کومک ژمنه کړې ده...

له پېښوره تر راستنېدلو وروسته **خان شهید** د خپلو پېیوني/ تنظیمي چارو په څنګ کې د قامي او اولسي غوښتنو لپاره په سیاسي هلو ځلو د اولسي ملاتړ تر لاسه کولو لپاره له اولس سره د لیدلو کتلو او غونډو لاره نوره هم پیاوړې و ساتله او د همدې کال په پنځمه میاشت کې د نېپ د مرکزي کامېټې په غونډه کې د ګډون لپاره کراچي ته ولاړ، د همدې میاشتې په وروستۍ نېټه د غونډې له پیلېدلو سره سم په ختیځ پاکستان کې د عوامي لیګ د وزارت د ملاتړ په اړه د پوښتلو په غبرګون کې د غړو تر منځ توند مخالفت را سربېره شو، مانا دا چې د لوېدیځ پاکستان نېپ مخورو مشرانو د ختیځ پاکستان نېپ له مخورو څخه د سرمشر له خوا دوی یونټ پر ملاتړ سربېره د عوامي لیګ د وزارت د ملاتړ په اړه پوښتنه وکړه او په دې لړ کې یې په خپل غبرګون د ژوري خواشینۍ څرګندونه کړه، چې تر اوږدلو او پوهېدلو وروسته

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د ختیځ پاکستان نېپ ځینو غړو هم د لوېدیځ پاکستان نېپ د سیاسي مخورو د خبري ملاتړ څرګند کړ.

د همدې روانې غونډې په دویمه ورځ د یو ځای شوو ګوندونو تر منځ له مخنیو ژمنو/ معاهدو څخه په تېرېدلو د یو شمېر تاکونو/ نکاتونو کړنلاره و تاکل شوه، چې په هغوی کې د دې یونټ له منځه وړل، په دواړو برخو یا ولایتونو کې سیمه ایزه خپلواکي او ژر تر ژره ټولټاکنې تر سره کول او همداسي ځینې نورې غوښتنې وې، چې د غونډې له خوا ومنل شوې او له سرکار څخه یې د غوښتنو په لړ کې ملتیا وکړل شوه.

د پورتنۍ غونډې اختلافات او په پېیل شوي ګوند نېپ کې د ځینو ملګرو غړو او په ځانګړي ډول د ختیځ پاکستان د ډلې له لوري د ژمنې نه ساتلو له کبله پای د ۱۹۵۸ ز کال د نهمي میاشتې پر لسمه نېټه باندې د پښتنو او سیندیانو درانه استازیتوب **باچا خان**، **خان شهید**، جي ایم سید او مولانا عبدالمجید سیندي له نېپ څخه ځانونه ګوښه/ استعفا کړل، له نېپ څخه د نومورو مخورو مخکښانو د ګوښه کېدلو لامل بې له اړ او شرطه په ختیځ پاکستان کې د عوامي لیګ ملاتړ او د نېپ د مخورو له خوا د ون یونټ په ضد د سول نافرمانۍ و غورځنګ/ تحریک ته د **باچا خان** نه پرېښوول او داسي نوري چاري وې...

له نېپ څخه د ګوښه کېدلو له دې پېښې سره سم د خپلو قامي او ولسي غوښتنو په لړ کې د اولسي ملاتړ تر لاسه کولو لپاره د همدې میاشتې پر دیارلسمه نېټه باندې **باچا خان** د **خان شهید** په بلنه کوټې ته راغي او د خپل پښتون اولس د ملاتړ په باور غوښتنه کوي، چې د ورځو صوبو د لوی شمېر په غوښتنه دي مرکزي حکومت و هغې برخې ته له ون یونټ څخه د بېلېدلو او ځانله صوبې واک ور وسپاري...

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د دغه درنې غونښتنې په غبرګون کې د سرکار له خوا هم توند غبرګون راڅرګند شو او د لوړ دیځ پاکستان د وزیراعلی په حکم **باچا خان** په دې تور/ جرم ونیول شو، چې کوټې ښار ته د نوموړي پر راتګ باندې بندیز وو، نو دا چې د عدالت دغه حکم یې مات کړی دی، ځکه نیول کېږي او تر نیولو وروسته یې د هم هغه وزیراعلی د حکم په رونا کې پېښور ته له رسولو سره سم بیرته پرېښود...

د داسې چارو په غبرګون کې د همفکره سیاسي مخورو ملګرو له خوا پیاوړی غبرګون راڅرګند شو او دا اندېښنه یې څرګنده کړه، چې سرکار غواړي؛ د هېواد د اولسونو په منځ کې د کرکې او نفرت په خورولو ټولټاکنې/ انتخابات و ځنډوي او په داسې کولو سره خپل واک اوګټې خوندي و ساتي... په اولس کې د سیاسي مخورو په ملاتړ و اولسي غبرګون ته په کتلو سره پای جنرال ایوب خان د اکتوبر ۱۹۵۸ز پر اوومه نېټه د هغه وخت په صدر سکندر مرزا باندې په جبر مارشل لا پلي کړه او د ۱۹۵۶ز د آئین په ځنډولو/ معطل کولو، د مرکزي او ولایتي/ صوبایي حکومتونو په لېرې کولو یې پر سیاسي ګوندونو بندیز و لګاوه او همداسې د تېرو وختونو د زور زیاتوب د لړۍ په ساتلو سره په ټول هېواد کې تر ټولو مخکې د اکتوبر پر لسمه نېټه د یو شمېر ښځایه تورونو په لګولو **خان شهید** عبدالصمد خان و نیول شو او له نیولو سره سم یو ځل بیا هغه د سرکار هغه زړې بوخټې (هغه خوندي ساتل شوي تورونه/ الزامات چې په یوه اوونۍ کې دننه سره را ټول او زوروا کو ته وړاندې کړل شول) را سربېره او و پلټل شوې، چې په رونا کې یې د زوروا کانو عدالت تر نیولو وروسته په شل ورځې کې دننه د اولس هغه سپېڅلی استازی **خان شهید** یو ځل بیا د ځوارلس کاله په درنه سزا محکوم کړ، چې د قامي سیالۍ او ودانۍ لپاره یې د ژوندانه د هرې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هري شېبې کردار او سیاسي هلي ځلي ستاسو په مخ کې په سرسري او ځغلنده توګه وړاندې کړل شوې...

د مارشل لا پلي کېدل او د **خان شهید** د نیولو په اړه نوموړی لیکوال پوهاند عبدالغني خان غنو داسي لیکي:

"اسی طرح ۲۷ اکتوبر ۱۹۵۸ء کو عنان حکومت فوج نے سنبھال لیا اور تمام ملک میں مارشل لاء لگا دیا گیا۔ مارشل لاء لگنے کے فوراً بعد دیگر کئی سیاسی پارٹیوں کے لیڈروں کے ساتھ عبدالصمد خان بھی گرفتار کر لئے گئے اور چودہ سال قید کی سزا سنائی گئی، غالباً تمام ملک میں عبدالصمد خان تنہا سیاسی قیدی تھے، جنہوں نے ایوب خان کے مارشل لاء کے تمام دن جیل کی کوٹھڑیوں میں گزار دے۔" (۷۸)

څرګنده ده، چې د سرکار/ دولت/ زورواکو/ ټولواکو او د اولسونو لپاره د سیاسي شعور په توان د نیاومنتیا/ انصاف غوښتونکو (حزب اختلاف) تر منځ د وراشو/ مباحثو لړۍ تل روانه وي، خو د زورواکانو او خپلو ځانې ګټو د ساتونکو په وړاندې د اولس ږغ پورته کوونکي استازي تل له ځور او کړاو سره ځکه مخامخېږي، چې د وجدان/ ضمیر ډاډمنتیا د همدې کړاوونو په لاره کې شته وي.

همدا نېپ هغه سیاسي ډله وه، چې د اولس استازیتوب یې کاوه او د اولسونو د زړه ږغ به یې بې له وېرې د هر زورور او زیاتوب کوونکي په وړاندې په لوی زړه را سربېره کاوه او د محکومو ملاتړ به یې کاوه.

د مارشل لا پلي کېدل هم تل هغه وخت تر سره شوي دي، چې د زورواکانو/ ټولواکانو آله کاران او ګوډاګیان کله له ناکامۍ سره مخامخ شي، د اولس ږغ ډېر تاند او پیاوړی شي، نو بیا مارشل لا پلي کول د زورزو هغه وروستی وسیله او تکیه وي، چې په پلي کېدلو یې د زور

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زیاتوب و شاته پټ لاسونه له خپلې لارې څخه د خندونو لپرې کولو لپاره په را ښکاره کېدلو سره لاس په کار شي.

په ټول هېواد کې هم دغه نېپ سیاسي واک او قوت وو، چې د مقابل زورواکو او ټولواکو په مخ کې یې د درېدلو توان او زړه درلود، نو ځکه د هغوی له خوا هم د ډېر درانه غبرګون سره مخامخ شول او د مارشل لا له پلي کېدلو سره سم د نېپ ټول مخور مخکښان و نیول شول، **خان شهید** تر ټولو لومړی و نیول شو او تر ټولو وروسته څه چې د ایوب خان د مارشل لا ټول وخت په بېلا بېلو زندانونو کې په ډېر جبر و ساتل شو.

مولانا عبدالحمید بهاشاني د ۱۹۶۲ز کال په وروستیو میاشتو کې خوشي کړل شو او **باچا خان** په ۱۹۶۴ز کال له زندانه څخه راووت، تر خوشي کېدلو وروسته بهاشاني ورو ورو د صدر ایوب خان لوري ته اېل او له هغه سره یې لیدل کتل هم وکړل، چې د پېیل شوو ګوندونو د ګوند نېپ تر منځ یې روان بېلتانه ته لاره نوره هم پرانستله او اختلافات یې نور هم را و پاروول، همدغه کړکېچ یا اختلافات وو، چې وروسته د دې ملګرو ګوندونو تر منځ د بېلتانه لامل شول، لکه د هیند د وېش پر مهال چې د کانګریس او نورو ګوندونو تر منځ او په ځانګړي ډول د پښتنو له سیاسي بهیر سره چې کانګریس هغه وخت خپلې ګټې و پاللې او پښتانه یې یوازې کړل، دلته بیا هغه تېروتنه تکرار شوه، چې ګوندي یووالی و نه پالل شو، د اولسونو په بېل ساتلو سره پای د اولسونو تر منځ د کرکې او بېلتانه زنې و کړل شول، چې له کبله یې هېواد له ډېرې ناوړې پایلې سره په مخامخ کېدلو پر دوو برخو و وېشل شو..

همدا لامل وو، چې د ۱۹۶۴ز کال د صدارتي چوڼ پر مهال نېپ ګوند ځکه دومره اغېزمنه او سپینه خبره وَ نه کړای شوه، چې مشر بهاشاني یې د ایوب خان لوري ته اېل او د خپلو ګټو لوری کاوه، (هېره دي نه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وي، چې په همدې کال فروري میاشت کې بهاشاني د ګوند د مرکزي کامټې په غونډه کې (چې په ډهاکه کې تر سره شوه) مشر تاکل شوی وو) ولي تر ډېر تینګار وروسته نېپ د ۱۹۶۶ز کال په جون میاشت کې یو ځل بیا د ون یونټ ماتولو، د ژبو، کلتور او جغرافیه پر بنسټ د صوبو د جوړولو په اړه د خپلو غوښتنو غبرګون څرګند کړ، خو په دې لړ کې د ملګرتیا او ملتیا هغه برم لرونکی او اغېزمن غبرګون نه ښکارېدی، چې څه رنګه په کار وو او یا هم مخکې وو...

د ګوند د پورتنۍ یاد شوي کړکېچ او مخورو په منځ کې بې باوری ته په کتلو داسې ښکاري، چې واکمن یې تر منځ د بېلتانه د زنې په کرلو او وده پاللو بریالي شوي دي، پایله دا شوه، چې د ۱۹۶۸ز کال د جولایي په لومړۍ نېټه د نېپ د یو شمېر مخورو "چې په سر کې یې خان عبدالولي خان وو" په خوښه او هڅه په پېښور کې د نېشنل کونسل غونډه وشوه او په ګوندي چوپړ تر سره کولو خان عبدالولي خان مشر او محمودالحق عثماني ستر سکرتر و تاکل شول او د نېپ ګوند تر منځ د بېلتانه کرښه ښې څرګنده شوه.

په نېپ کې د بېلتانه هغه پېل چې د بهاشاني له خوا د خپلو ګټو په نظر کې د ساتلو له کبله و پوځي زورواکي جنرال محمد ایوب خان ته د اپلتابه/ میلان په بڼه شوی وو؛ دلته یې یوې بلې او ځانګړې نکتې ته لاره وه وهله، چې ورپسې یې نوري ریښې هم و غځولې او پایله یې د پښتنو او په ځانګړي ډول د سیاسي بهیر د بېلتانه د زیان/ تاوان په بڼه هم څرګنده شوه، ولي چې د پښتنو د بېلتانه غوښتونکي دښمنان د پښتنو د مخورو مشرانو لکه **باچا خان** او **خان شهید** په زندانونو کې د ساتلو له کبله تر ډېره ځایه بریالي شوي وو، چې مشران و خپل سیاسي بهیر ته پر لاربنوونه سربېره د مخکښې څخه هم لېرې و ساتي..

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په یاده شوې لس کلنه موده کې که څه هم د دې سیاسي بهیر هلو ځلو د تېرو شوو او زندانیانو مخکښانو مخورو د کردار خواږه د اولس په ښه په ملاتړ کې لرل، خو د تېرو شوو وختونو د سیاسي تجرباتو په رڼا کې د مخورو مشرانو له لارښوونې څخه بې برخې پاته وو، ځکه د لېریوالي او بېلتانه کړنې د وخت په څېړو کې اغېزمنه او موثره جوته شوه.

خان شهید یاده شوې ټوله موده په بېلا بېلو زندانونو کې د زورواکو له ځور/ جبر او کړاوونو سره مخامخ پاته وو او **باچا خان** هم د ژوند اتیاکلنې ته نژدې د سیاسي واک او اختیار په لړ کې یې د ځوانانو کردار ته د باور ذهن او زړه ښه کړی وو.

خان شهید په زندان کې تر پوره سزا تېرولو وروسته د ۱۹۶۸ز کال د ځلورمي میاشتې پر ۲۴مه نېټه له زندانه را پرېښوول کېږي، کله چې د همدې کال د پنځمې میاشتې پر ۴مه نېټه د کوټې هوایي ډګر ته را رسېږي، نو د اولسونو (پښتنو/ بلوڅو) له خوا د دومره درناوي سره مخامخېږي، چې د وخت سرکار یې د اولسونو په زړونو کې د دومره مینې په څرک او غبرګون لیدلو اند ښښمن شي او د بیا نیولو لپاره یې په لام/ تهیه تړلو د انسانیت او کلتوري سرېتوب او قانون ټول ارزښتونه تر پښو لاندې کوي، یوازې درې ورځې وروسته د مئي پر ۷مه نېټه بیا د بغاوت په مقدمه بېلا بېل تورونه/ الزامات ورباندې ترپي او د همدې میاشتې پر ۱۹مه نېټه بیرته زندان ته لېږل کېږي، د سیاسي هلو ځلو او غبرګون په همدې نښتو کې زورواکي وسلې ته لاس او د لوستونکو ځوانانو پر تاند بهیر/ سازمان باندې د پولیسو په ډزو کې د کوټې پوهنځي ځوان لوستونکی ظریف شهید وژل کېږي.

د دې یاد چاپېریال په اړه اروابنسا د استاد عطایي د پښتنو او بلوڅو په سیاسي کرونولوژي کې داسي لیکي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"د ۱۹۶۸ز د اپریل په ۲۵ عبدالصمد خان اچکزی پسله لس کاله بند څخه له جبله خلاص شو او کله چې د کوټې ښار ته ورسېد، په زرګونو خلکو هرکلی ورته وویایه، سره له دې چې ۱۴۴ تعزیري ماده قایمه وه، ولې خلکو د هغې پروا و نه ساتله، خان اچکزي پخپله لومړی ویناکي د ایوب خان پر اداره سخت انتقادونه وکړل او وې ویل، چې زه به سیاسي مبارزې ته ادامه ورکړم. د بلوچستان ګورنر جنرل موسی له دغه ویناڅخه دومره وار خطا شو، چې سمدستي یې دوباره عبدالصمد خان و نیوی او نظامي حکومت یې نور هم پسې سخت کړ." (۷۹)

نومورې لیکوال بل ځای دغه خبره همداسي کوي، چې:

"خان اچکزي په خپله لومړی ویناکي د جنوبي پښتونستان په ګډ شمېر خلکو کي د جنرال ایوب خان پر پروګرامونو او پلانونو په شدیدو الفاظو انتقادات وکړل او هغه یې د پښتونستان او نورو اولسونو لپاره د خطرناک نقب ګذاریو اساس وبالله، د مارشل لا نظام د اچکزي ویناوو دومره وار خطا کړ، چې سمدستي یې د ګرفتاری امر وکړ." (۸۰)

د همداسي چارو له جبره په سوهېلي پښتونخوا کي دېر توند اولسي غبرګون ښکاره او د هېواد په نورو سیمو کي هم د نومورو سیاسیانو له خوا په اولسي غونډو کي پر نظام نیوکي او غوښتني توندي شوې... د ایوب خاني اوږدې مارشل لا په غبرګون کي د را منځته شوي کړکېچ وشاته د څرګندو اولسي نفسیاتو په رونا کي زورواکان او د هغوی پلویان و دې ته اړ شول، چې له خپلو سیاسي حقوقو څخه بې برخې اولسونه په څه واک او اختیار ورکولو ست کړي، نو د هېوادنیو سیاسي ډلو استازي هم له سرکار سره خبرو ته زړه ښه کوي، چې یادونه یې پر نورو سرچینو سربېره پوهاند عبدالغني غنو هم داسي راوړې ده:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"۱۹۶۸ء کے دسمبر میں پاکستان کے سیاسی بحران کے گھمبیر صورت حال نے جب سامراج اور اس کے وطنی حمایتیوں کو اس بات پر مجبور کر دیا کہ پاکستان کے محروم بنگالی، سندھی، پشتون اور بلوچ کو سیاسی اختیار میں کچھ حصہ دیا جائے، تو حکمران طبقہ سیاسی جماعتوں کے ساتھ مذاکرات کرنے کی خاطر ایک گول میز کے گرد بیٹھنے پر آمادہ ہو گئے۔

گول میز کانفرنس کے مذاکرات کے نتیجے میں ایوب خان کی حکومت نے دیگر باتوں کے علاوہ یہ بات مان لی، کہ ون یونٹ کو توڑ دیا جائے گا اور پرانے صوبے پھر سے بحال کر دیئے جائیں گے۔" (۸۱)

خان شهید پوره نهه میاشتي او پنځه ورځي په زندان کي د زورواکانو د دښمنۍ په غبرګون سره هغه ستړي ستومانۍ او ځوروني ګالي، چي د نن خلک یې یوازي په اورېدلو له سیاسي ډګر څخه ترهېږي، خو ټولنپوهان او د زمان د ډیالیکټیکي پړاوونو په ارزښت پوهېدونکي باور لري، چي د مخکښانو او مخورو کردارونو له خوا په لوی زړه او هوډ د همدغه ګالل شوو کړاوونو او ځوروونو برکت دی، چي نن یې قامونه او په ځانګړي ډول قامي سیاسي بهیرونه د ژوند په ډګر کي د هوسا او څه ناڅه خپلواک تګ څښتنان دي او موږ د دې سترو مخورو کردارونو پوروړي یو... د نن لوستونکي، څارونکي، څېړونکي او ژور لید لرونکي ذهنونه هم له خپل مرام سره د داسي لوړ هوډ او مینه لرونکو کردارونو په لوست د هغو وَ شاتنیو پیاوړو نفسیاتو ته هېښ پاته شي، چي د داسي پیاوړو نفسیاتو شاته هغه څومره ژوره باوري مینه وه، چي داسي ځوروونو او کړاوونو هم له خپل مرامه څخه شاته نه کړای شوه.

پای د ۱۹۶۹ ز کال د دویمي میاشتي پر څلیرویشتمه نېټه **خان شهید** له زندانه هغه وخت را پرېښوول کېږي، چي ایوب خان نور وَ اولسي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

غبرګون ته د تم کېدلو وس له لاسه ورکړی وو، خو له اولس سره په خپله سپېڅلې مینه ډاډمن مخکښ یو ځل بیا تر خپله اولسه پوري ځان رسوي او د خپلي سیاسي لاري د پاللو په نیامت و اولسي غونډو ته د ویناوو او بیانونو له لاري د خپلو قامي غوښتنو په غبرګون د ون یونټ د ختمولو/ د ژبو، کلتور، جغرافیه او تاریخ په روڼا کي د ولایتونو (صوبو) له نوي سره د جوړولو او په پاکستان هېواد کي د مېشتو پښتنو لپاره د یووالي او ولایت (صوبې) غوښتنه کوي...

په همدې لړ کي **خان شهید** د هېواد وَ یو شمېر سیاسي مخورو ته لیکونه استوي او د خپلو اندېښنو په څرګندولو له هغو څخه غوښتنه کوي، چي د سوهېلي پښتونخوا پښتانه دي د شمالي پښتونخوا له پښتنو سره په یو ځای کولو په یوه ولایت پښتونستان کي ځای کړل شي او یا دي د سوهېلي پښتونخوا و پښتنو ته تر ون یونټ مخکي هغه د برټش ولایت یا صوبې مخنی ارزښت ورکول شي...

له اولس سره تر لیدلو او زړه خواله کولو وروسته **خان شهید** لاهور ته د همدغه کال د مارچ په میاشت کي ځي او هلته هم د خبري کانفرنس له لاري خپله خبره ډاګیزه (اعلانیه) کوي، چي د ون یونټ په ختمولو سره دي د ژبي، کلتور، جغرافیه او تاریخ پر بنسټ د ولایتونو جوړېدل تر سره شي، **خان شهید** د خپل دریځ وړاندي کولو پر مهال د تاریخ ټکی ځکه یاداوه، چي کله هم د سوهېلي پښتونخوا پښتانه د کوم بل چا د ولایت په چوکاټ کي نه دي پاته شوي، خو پر دې مهال نوموړي وَ چاپېریال ته په ژورلید اندېښنه لرله، نو ځکه یې په وار/ وار د خپلو سیاسي مخورو ملګرو، سرکار او اولس په وړاندي خپله خبره کوله...

په همدې لړ کي یې و ټولو نوموړو سیاسي مخکښانو ته پر لیکونو سربېره د بېلا بېلو خبري کانفرنسونو او په ورځپاڼو کي د بیانونو له

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لاري د سوهبلي پښتونخوا د پښتنو بڼ تر هر چا پوري و رساوه او آن چې له واکمن یحیی خان سره یې هم په دې لړ کې و لیدل او د هغه تر غوړه یې هم خپل دریځ و رساوه، چې نوموړي هم د ون یونټ د ماتولو په باور د وروسته چاپېریال په اړه د خپلو اندېښنو څرګندونه کړې وه.

ورپسې د همدې کال په اتمه میاشت کې **خان شهید** کراچي ته ځي او هلته هم د خبري کانفرنس له لاري د خپل دریځ په وړاندې کولو سره څرګندوي، چې سوهبلي پښتونخوا (مخنی برتش بلوچستان) سیمه دي د ون یونټ په ماتولو د شمالي پښتونخوا له پښتنو سره یو ځای کړل شي، چې یو قام، یوه ژبه، یو کلتور او هم د خپل ګډ تاریخ لرونکي دي او یادي هم د برتش پر هغه زاړه دول پاته شي او بلوچستان د بلوڅو سیمه دي ځان له صوبه جوړه کړل شي.

خان شهید په ۱۹۶۹ از کال د افغانستان دوره کوي:

خان شهید په کراچي کې تر سیاسي هلوځلو او د ۱۹۶۹ز کال د اګست پر پنځلسمه نېټه باندې تر خبري کانفرنس وروسته د پښتو ټولنې کابل په بلنه دهمدغه میاشتې پر دوه ویشتمه نېټه کابل ته رسېږي، چې د افغانستان صدر اعظم نور احمد اعتمادي د یو شمېر مخورو چارواکو په ملتیا ښه راغلی ورته وایي، د دې دورې په اړه ښاغلی لیکوال شوکت ترین د ډېلي پاکستان ټایمز راولپنډۍ په حواله لیکي:

"خان عبدالصمد خان اچکزئی پشتون ٹولنہ کی دعوت پر ۲۲ اگست ۱۹۶۹ء کو افغان دارالحکومت کابل پہنچ گئے، جہاں وزیراعظم نور احمد اعتمادی نے ان کا استقبال کیا۔ تقریباً ڈیڑھ مہینے پر مشتمل دورے کا مقصد اعلیٰ حکام، افغان بادشاہ ظاہر شاہ، سردار داود خان کے ساتھ ساتھ ممتاز افغان دانشوروں کے ساتھ مختلف سیاسی، علمی سیمیناروں میں شرکت اور تبادلہ خیال

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کیا، خان عبدالغفار خان، خان عبدالولی خان اور مزدور کسان پارٹی کے سربراہ افضل بنگش اور دیگر سیاستدان اور دانشور پہلے ہی سے کابل پہنچ گئے تھے۔ دورے کے دوران خان عبدالصمد خان اچکزئی نے تقریباً تمام افغان صوبوں کا دورہ کیا، پروفیسر محمد دین ژواک سرکاری طور پر ان کے میزبان کے فرائض انجام دیتے رہے۔" (۸۲)

خان شهید د ۱۹۶۹ز کال د اګست پر ۲۲مه نېټه کابل ته رسېږي او د همدې کال د ستمبر تر ۲۵مي نېټي پورې هلته پاتېږي، وروسته د غزني له لارې کندهار او بیاد سپین بولدک له لارې راستنېږي.

د همدې میاشتې اګست تر یو ۳۱ مي نېټي پورې د ببلا ببلو مخورو پوهانو، چارواکو، سیاست پوهانو، ادیبانو، شاعرانو، لوستونکو او نورو پېژندویه خلکو سره وینې، په ببلا ببلو غونډو کې پر ګډون سربېره د افغان پلازمېنې کابل تاریخي او ارزښت ور ځایونه وینې...

د اګست پر ۳۱ مه نېټه باندې چې د پښتونستان د ورځې په لړ کې د کابل په ملتیاد ټول هېواد په ولایتونو کې د جشن غونډې پیلېږي، د پښتون وطن له ببلا ببلو ځایونو څخه مرکز ته راغلي مېلمانه هم پر پښتونستان واټ سره یو ځای کېږي او د ټول هېواد په مخکښې سره دلته مرکزي غونډه پیلېږي، په اړه یې بناغلی پوهاند غنو داسې لیکي:

"یوم پشتونستان سنبلہ کے ۹ تاریخ کو مرکز اور ولایتوں میں خاص اہتمام کے ساتھ شروع ہوا۔ ایسے حال میں کہ پشتونستان چوک پر شہزادہ احمد شاہ، مارشال شاہ ولی خان، سردار محمد داود، سردار محمد نعیم، سردار عبدالولی، وزیر اعظم جناب نور احمد اعتمادی، اولسی جرگہ (قومی اسمبلی) کے رئیس (چیئرمین) ڈاکٹر عبدالظاہر، قاضی القضاۃ (چیف جسٹس) پروفیسر عبدالحکیم ضیائی، وزیر دربار جناب علی محمد، ایڈیشنل چیف سیکرٹری

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

عبداللہ یفتلی، کابینہ کے ارکان سپریم کورٹ کے جج، خان عبدالغفار خان، خان عبدالصمد خان اچکزئی، عبدالولی خان، محمد ایوب خان اچکزئی، مرکزی اور جنوبی محکوم پشتونستان کے لیڈر اور مصنفین اور کابل میں قیام پذیر بے شمار معززین اور شہری حاضر تھے۔" (۸۳)

وروسته د میوند واټ (روډ) له لارې غازي سټیډیم ته ځي او هلته د پښتونستان د ورځې په لړ کې د نندارتون/ مېلې پرانستنه کېږي او د غونډې پر مهال مخور مشران د پښتونستان و اولسونو ته د خپلې خوښې د واک ورکولو (حق خود ارادیت) پر ارزښت خبرې کوي...

په دویمه ورځ د سپتمبر په لومړۍ نېټه د پښتو ټولنې د مشر په ملتیا د کابل پوهنتون دوره کوي او د پوهنتون له رئیس سره لیدل کتل کوي، کتابتون او لیلیې/ هاسټل ته ورځي او د مېلمستیا لپاره پغمان ته ځي.

نومورۍ د سپتامبر پر ۲ مه نېټه د معارف (تعلیم) له وزیر سره وینې، چې د لوړو چارواکو په ملتیا یو شمېر ادیبانو هم ګډون درلود.

پر ۳ مه نېټه باندې په باغ بالا کې د پښتو ټولنې له خوا په مېلمستیا کې د معارف د وزیر محمد اکرم په ملتیا له یو شمېر لوړو چارواکو سره د لرو پښتنو د مخورو سیاست پوهانو په ملتیا ګډون کوي.

د پښتون وطن له بېلا بېلو ځایونو څخه راغلي مېلمانه د **خان شهید** په مشري کې له وزیر اعظم نور احمد اعتمادي سره وینې.

پر ۴ مه نېټه د قبایلو د مشر په مېلمستیا کې ګډون کوي او په دې مېلمستیا کې د لوړو وزارت د چارواکو په ملتیا ادیبان هم ګډون کوي.

پر ۵ مه نېټه د ادبیاتو د پوهنځي له خوا په مېلمستیا کې د قبایلي چارو د وزارت د چارواکو په ملتیا ګډون کوي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پر ۶ مه نېټه د پښتو ټولنې له خوا د غازي عبدالله خان اڅکزي پر قبر (زیارت/ مزار) باندې د مېلمنو ادیبانو په درناوي کې د **خان شهید** په مشري کې یوه درنه مشاعره تر سره کېږي او د نوموړي غازي پر قبر د **خان شهید** په مشر تابه کې و جوړه شوې مشاعره ته نوموړی لیکوال او شاعر پوهاند رازقي نړیوال دغه منظومه ویاړنه وړاندې کوي:

ملګرو! دلته په دې خاوره کې غیرت پروت دی
د پښتني تاریخ پیاوړی شخصیت پروت دی
دا سپېره خاوره نه ده، دا زموږ د پت ډوپه
د پښتنو د شهکاري او عظمت ډوپه
دا د پښتون د یو غښتلي قهرمان دېره ده
د آزادۍ په ژوند مین د یو انسان دېره ده
دا سپېړې خاوري نه دي دلته دي اورونه ویده
د زمانې وطن غوښتونکي قدرتونه ویده
دا خېرې خاوري دي د ننګ او د غیرت څلی
دا د پښتو پښتونولۍ او شهامت څلی
دلته د وخت یو لوی مېړه او پهلوان اوسي
د آزادۍ په مینه مست یو لوی افغان اوسي
دا موتی خاوره له سرشارو نهضتونو جوړه
د تحریکونو جنبشونو غورځنګونو جوړه
دلته د دې اولس برمونه پرتمونه پراته
د مېړنو د سترو تورو دي یادونه پراته
دا د دې خلکو مېړنو د یو ځوان دېره ده
د انقلاب او تندرونو او توپان دېره ده
دا سپېره خاوره د مېرویس د شجاعت نخښه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دا ېمل خان او دریا خان د لوړ همت نخښه
دا د شېرخان د سربازۍ او شهامت پته
دا د خوشال د مېړه توب او د غیرت پته
ملګرو! دلته د وطن د سترګو تور پروت دی
کم یې هیڅ مه ګڼی په خدای چي دلته اور پروت دی
اې په دې خاوره کي دېره اې د افغان بچیه!
د میرویس خان د خوشحال خان او د شېرخان بچیه!
سر کړه را پورته نن له خاوري نازولیه بابا!
د پښتونخوا هر یو پښتون ته ډېر منلیه بابا!
سلا یې واخله باچاخان او صمد خان راغلي
ګڼ نومیالي درته د ګران پښتونستان راغلي (۸۴)

په یاده مشاعره کي **خان شهید** د خپل قامي/ وطني تاریخ په اړه یوه غوړېدلې او عالمانه وینا کوي او د میرویس نیکه، احمد شاه بابا له دورو څخه نیولې د انګرېز په ځبېښاک کي د پیاوړو غازیانو لاړ وړاندي کوي او د انګرېز ښکېلاک او ځبېښاک په مخکي د غازي عبدالله خان کردار بنسټیز بولي او د خپلواکۍ په لړ کي د لومړیتوب ویاړ ورکوي.

پر ۷ مه نېټه باندي د افغان قومي بانک د شورا د مشر له خوا د **خان شهید** او نورو مېلمنو په درناوي کي مېلمستیا ته ځي او د قبایلي چارو د وزارت د مشر سید مسعود پوهنیار په ملتیا له بېلا بېلو چارواکو سره د ګلبهار نساجي فابریکې (ټیکسټایل ملز) بېلا بېلي برخي ګوري.

هېره دي نه وي، چي **خان شهید** د کابل د همدې دورې پر مهال له نورو سیاسي مخورو او ادیبانو سربېره پر لیدلو کتلو سربېره له خپل کورني، کلیوال همزولي او د خپل سیاسي بهیر له بنسټیز/ بنیادي ملګري تربور محمد ایوب خان اڅکزي سره هم ویني، چي تر بېلا بېلو ناستو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او مجالسو وروسته **خان شهید** ته د خدای په امانې پر مهال داسې پیغام ورکوي، کوم چې په ایوبیات نومې ناچاپ کتاب کې په دې سرلیک "**په کابل کې د وداع (خدای په امانې)پر موقع عبدالصمد خان ته دا لاندې وصیت نما پیغام ورکول سو**" ثبت دی. نومورې لیکي:

ګرانه وروره! د افغانستان دلکشه طبعي منظرې او مناظر دي هم و لیدل او د افغانستان او حکومت روایتي مهمانداري او مهمان نوازي هم... اوس چې د رخصتېدو او وداع په وخت انګېرنې حال کې ولاړ یو؛ زه د وصیت نما پیغام په صورت کې څه وړاندې کوم... ته اختیار لرې! په اور کې یې اچوي او که په جېب کې... بې معنا یې ګنې او که بامعنا...

ګرانه وروره! اوس چې له شلو کلونو بعد د افغانستان په برادرانه ماحول کې دوو بېقرارو زړونو سره و لیدل، زما متعلق ته د هر قسم تاثراتو سره چې روان یې؛ هغه ستا دي او ستا سره دي وي... او ستا متعلق زما تاثرات هم رشک آور دي او هم خوشحالوونکي.. رشک آور په دې چې د ځان او صورت په لحاظ دي هم روغ وینم او هم ماشاءالله. او خوشحالوونکي په دې چې د ذهن او دماغ په لحاظ دي هم جوړ وینم او هم هوسا...

وروره! هغه خلک چې پر لوړ ساحل ولاړ محض د دوبېدونکو تماشایې خپله محبوبه مشغله ګرځولې وي او د تماشا جوړېدو پر ځای د تماشابینۍ په تلاش کې وي، چې ګاهې یې نه په پښه اغزی تللی وي او نه پر لاري له پښې څخه اغزي کښونکي ته د همدردۍ د پاره او نه د تماشې د پاره درېدلی وي؛ له هغوی څخه د لوی کار کولو توقع قطعاً مه کوه، ولې چې هغه د حسېن سره یزید خو پیدا کوي؛ مګر د فرعون سره د موسی ګاهې روادار نه وي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وروره! دغه وجه ده، چې زه په تمام عمر کې صرف په دوو خبرو پوه سوی یم، چې د یوې تعلق له تا سره دی او د بلې له ما سره... ستا سره دا چې که نښه وې، نو تا لره بد ویونکي او بد رسوونکي همېشه ډېر وي... ولي چې که نښه یې، نو د نښو صفت هم دغه وي، چې خراج تر هر چا ډېر ځنې اخستل کېږي، مګر وایي؛ په خوله هیڅ هم نه... نو ځکه وروره نښه اوسه او د ددې پروا قطعاً مه کوه، چې څوک یې اعتراف کوي او که نه. ولي چې لمر باغ ته هم رونا ورکوي او شاړو ته هم. د اوبو کار بهېدل وي؛ سطحه صافه وي او که ناصافه او زما سره دا چې انسان خپل ځان په ډېرو خوبیو ښایسته کولای خو سي؛ لېکن په لېرې کولو د ځان له عیبونو څخه یو عیب هم نه سي لېرې کولای، نو ځکه تر څو چې زه پخپله خپل جستجو و نه سم؛ زما هیڅ سجده، هیڅ طاعت او هیڅ خدمت هم باید نه قابل د قبول وي او نه قابل د توجه، نو ځکه

سبحہ ہر رنگے کہ بستم خود پرستم

نښه وروره! په مخه دې نښه... دعا را له کوه؛ تر څو چې مې دا موجوده دردونه تر حد تېر پخپله یا دوا کړې او یا دعا...

سبحہ دیدار تو دل شاد اند با ہم دوستان تو

ترا ہم شادمان خواہم چون روئے دوستان بینی

ستا مهجور ملګری محمد ایوب خان اخګزی

۲۵م ستمبر ۱۹۶۹ ز کابل (۸۵)

دا کښت د میاشتې پر ۳۰ مه نېټه په کابل کې د پښتونستان د ورځې په لمانځونکو غونډو کې ګډون کوي او له سیاستپوهانو سره د پښتنو د شاته پاته او بې برخې ورځې په اړه پر سیاسي وراشو یا مباحثو سربېره له ژېپوهانو ادیبانو سره د پښتو ژبې د ودې او پرمختګ په لړ کې په زړه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پوري وراشي/ مباحث راسپړي او د ښه ټولنیز سباوون په هیله پر علمي سکالوو یا موضوعاتو باندې له یو بل سره د افکارو تبادله کوي.

د بېلا بېلو پوهنځیو لوی شمېر لوستونکي له **خان شهید** سره وینې او د پښتنو/ افغانانو د راتلونکي په اړه پوښتنې کوي، خو نوموړی ځوان کهول ته د ښه سباوون په هیلو د ټول پښتون/ افغان د یووالي لپاره د علمي هڅو او سیاسي هلو ځلو تر سره کولو په اړه ټینګار کوي.

په ځانګړي ډول د لرو (په پاکستان کې د مېشتو) پښتنو د یووالي په لړ کې د مخورو قامپالو سیاسیانو تر منځ و یو بل ته د کردار او تېروتنو په لړ کې ګیلې او سپیناوی کوي، د دغه ګیلو په اړه استاد عطایي وایي:

"په ۱۹۶۹ز چې د پښتونستان جشن ته عبدالغفار خان، عبدالصمد خان، ولي خان د بلوڅو زعماء او د مزدور کسان پارټۍ مشر افضل بنګش او داسي نور راغلي وه، زه د دوی په مجالسو کې د عبدالصمد خان د خوابدي لهجې شاهد وم، چې ولي خان یې په دې ملامتاوه، چې د لاهور په جرګه کې یې د بلوچستان د پښتنو د سرنوشت سره بې اعتنایي کړې ده، دغه جریانات د دې باعث شول، چې عبدالصمد خان په نېپ کې خپل فرکسیون د پښتونخوا نېشنل پارټۍ په نامه اعلان کړی." (۸۶)

نوموړی دا هم زیاتوي، چې کله په ۱۹۶۹ز کې د لاهور په کنفرانس کې د پخوانیو صوبو د بیاژوندۍ کولو په فیصله کې ولي خان د تائید مهر و لګاوه، نو عبدالصمد خان یو ځل بیا په بلوچستان کې د پښتنو د سرنوشت مسئله را پورته کړه...

مانا دا چې یو ځل بیا پښتانه او په ځانګړي ډول د سوهېلي پښتونخوا (برتېش بلوچستان) پښتانه د ځور او اذیت په سرنوشت اخته کېږي، یو ځل بیا ځکه وایو، چې مخکې هم پښتون قامپال سیاسي بهیر د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کانګریس په ملتیاکې د پنځه ویشت کلنې سیاسي مبارزې ښه پایله نه وه تر لاسه کړې او دا ځل بیاد پنځه ویشت کلنې سیاسي مبارزې د ځور او اذیت پایله وه، چې وښل شوي پښتانه په هم هغسي وښلي سرنوشت اخته پاته شول، هلته واک او استازیتوب له کانګریس سره وو او پښتانه یې په هېرولو د نورو/ پردیو لومو ته یوازې پرېښوول او دا ځل پر پردیو سربېره د خپلوانو په استازیتوب کې له هغسي سرنوشت سره مخامخ شول او بده لاځه چې ډېره بده پایله دا شوه، چې پخپله د پښتنو تر منځ د زړه بداوي اندېښنې او زړه ماتوونکی چاپېریال هم را منځته شو، پښتانه لکه څنګه چې د دښمن له خوا په کرښو وښل شوي وو، دا ځل یې د ګردې مېز د استازیتوب په پایله کې د سیاسي بهیر د بېلتانه په څنګ کې د فکري واک وېش/ تقسیم هم په برخه شو، د فکري واک وېش داسي چې مخکې په قامي بهیر او مسلم لیګ سره وښلي وو، اوس یې قامي بهیر هم ځله دوه ځایه شو...

د بهاشاني او فیلډ مارشل ایوب خان پر څه ناڅه ملتیا او د ذوالفقار علي بهټو په حکومت کې له فیلډ مارشل سره پر نهه کاله پاتېدلو سربېره په ګردې مېز کې له ګډون څخه د نټې یا انکار و شاته د امریکا او پوځ تر منځ د جوړ جاړې او د ایوب خان د لېرې کولو د پلان یا کړنلارې تر یادولو او بیاد ګردې مېز (د پورتنې یاد شوي ګردې مېز) د پرېکړو، د سیاسیانو د ناوسې، د سرکار او شیخ مجیب الرحمان د جوړ جاړې په اړه ګردې مېز ته د دوه ویشت صفحاتو وینا کولو، بیاد نوابزاده نصرالله خان په غوښتنه د عوامي نېشنل پارټۍ د مشر په توګه د خپلې وینا پر مهال په لاهور کې په ګډه د پرېکړو تر څرګندولو وروسته په ګردې مېز کې د نېپ ګوند او په ځانګړې ډول د ټول پښتانه استازی سیاست پوه خان عبدالولي خان د تر سره شوو پرېکړو په اړه داسي لیکي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"کله چې فیلډ مارشل صاحب په ریډیو تقریر وکړو، نو هم هغه زمونږ مطالبې ئې و منلې، زه چې د نوابزاده صاحب ځائی له راغلم، نو مخامخ هغه او مولانا صاحب مودودي ناست وو، خو دومره ګلونه ورته خلکو اچولي وو، چې د نوابزاده خو تشه رومي ټوپئ ښکارېده، دوئ د ګلونو دې انبارونو کښې پټ وو، د کارکنانو او قامي خلکو یو مخلوق ترې نه تاؤ ؤ او مبارکئ وې، د دوئ د تدبیر، پوهې، عقل، مېرانې، بهادرئ او اصول پرستئ قصیدې وې، چې څنګه ئې یو فیلډ مارشل ډیکټېټر د قام د مطالبو په منلو مجبور کړو، نوابزاده نصرالله خان چې زه ولیدلم، را تر غاړه وتو، راته ئې غلې غوږ کښې وویې، چې خانصاحب تاقام بچ کړو." (۸۷)

د نومورې سیاستپوه له دې پورتني لاسوند/ حوالې څخه بیا وروسته په کابل کې د مخورو مشرانو سیاست پوهانو تر منځ د ګیلو او اند پښتنو په اړه د استاد عطایي له یادونې څخه او بیا د ګردې مېز تر پرېکړو وروسته چاپېریال ته په کتلو او ژور لید دا خبره زړه ته لوېدونکې ده، چې د بلوچستان صوبې پوره کولو لپاره د دې سیمې پښتانه ورسره مل کړل شوي دي، کنې نو د پښتنو یاد جنوبي او شمالي پښتونخواد پښتنو تر منځ خو نه کوم بل قام شتون لري او نه د کوم بل قام محکه او جغرافیه، چې د واکمنو لپاره د پښتنو د وېشلو کوم دلیل و لري... بله خبره دا هم ده، چې ګیله له خپله او یا هم له سړې څخه کېږي، نو په کار وه او هم ده، چې داسې ګیلې، ارتیاوې او کله ناکله تېروتنې له یو بل سره په خبرو او لاسوندونو/ دلایلو هواري شوي وای او یا هم هواري کړل شي او بیا د داسې علم پلوه مشرانو مخکښانو تر منځ... "پر دې ټولو ګیلو او اند پښتنو سربېره په کار وو او بیا هم په کار ده، چې د قامي ودانۍ او سیالۍ لپاره د پښتنو د یووالي، ملتیا او ملګرتیا هڅې تر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سره شوي واى او هم تر سره کړل شي، ځکه پوه او هوښيار قامونه د دښمن په مخ کې د خپلې ودانۍ او سيالۍ په لاره کې يو د بل تر ډېرو تېروتنو او اړتياوو تېرېږي، آن چې په خوا او خاطر کې يې هم نه راوړي او بل دا چې د ودانۍ او سيالۍ بله لاره هم نه ښکاري..." آزاد

کنې نو خوشحال بابا خو نژدې څلور پېړۍ مخکې هم داسې ويلي وو:

کـــه توفيـــق د اتفـــاق پښـــتانه مـــومي
زور خوشحال به دوباره شي په دا ځوان (۸۸)

د ۱۹۶۹ز کال په اکتوبر کې يو ځل بيا **خان شهيد** د خپل دريځ غبرګون د خبرې کانفرنس له لارې وکړ او زياته يې کړه، چې زمونږ د سياسي هلوځلو مرام په دې هېواد کې د پښتنو يووالى او د هغوى ودانۍ او سيالي ده، مونږ غواړو، چې د پښتونستان په نوم په يوه چوکاټ کې پاته شو، چې دا د نورو هېوادوالو غوندې زمونږ حق هم جوړ ېږي...

څرګنده دي وي، چې د پښتنو او په ځانګړې ډول د دې يادې سيمې جنوبي پښتونخوا له نورو پښتنو سيمو څخه د بېلوالي لپاره ګڼ شمېر هڅې تر سره شوي دي، چې مرام يې هم هغه د انګرېزانو د تګلارې پالل او د پښتنو په واک وېشلو سره د هغو ناوسه او بې سبکه ساتل دي. م، ګلاب ننګرهاری په ۱۳۳۳ل ۱۹۵۴ز کې په دې اړه داسې ليکي:

"د جنوبي پښتونستان د محلي وطن نوم په استعماري اصطلاح بلوچستان دی، دا کلمه هم د پښتونستانيانو د ضعف او پراګندګۍ د پاره په پروګرام کې د ډېرې مودې نه شامله ده، دې دې نامه د رواج د پاره پخوا انګرېزانو او د څو کلونو را په دې خوا د پاکستان حکومت د دې نامه د خورولو کوشش کوي او دغه وجه ده، چې تر ډېره حده پورې دا نوم د خلکو په خولو کې هم لوېدلی دی." (۸۹)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د هېواد د نورو سیاسیانو ډلو په ملتیاد مخورو سیاستپوهانو پښتنود ډېرو درنو قربانیانو او پیاوړي مقاومت له کبله چې کله واکمن بهیر دې ته ست شو، چې وې یونټ مات کړي، نو د وې یونټ ماتولو سره اړینه وه، چې د صوبو تاکنه هم تر سره شي او په دې لړ کې واکمنود مخینو صوبو مانا بنګال، پنجاب، سیند او سرحد بیرته پر ځای کولو خبره هم منلې وه، خو د بلوچستان او په ځانګړي ډول د سوهلي پښتونخوا خبره واځانګړو ګوندیزو سیاسي ګټو ته په کتلو داسي هواره وګنل شوه، چې د سوهلي پښتونخوا له بلوچستان صوبې سره په پاتېدلو به یوې خوا ته د بلوچستان صوبه پوره کړل شي او بل دا چې د پښتنو په وېشلو سره به د هغوی واک او قوت پاشلی او بې سېکه کړل شي. په همدې شالید کې نوموړی لیکوال پوهاند عبدالغني غنو داسي لیکي:

"جس وقت جنرل یحیٰ نے ۱۹۷۰ء (یکم جولائی) میں ون یونٹ توڑ دیا اور جنوبی پشتونخوا کے پشتون نیشنل عوامی پارٹی کے لیڈروں کے فیصلے اور مرضی سے بلوچستان میں باندھ دیئے گئے، یہ ناچاقی واضح ہو گئی اور وہ عبدالصمد خان جیسے دشمن کی چالیس سال کی مسلسل سختیوں، مصایب، آزار رسانیوں اور قید و بند کی تکلیفیں شکست نہیں دے سکیں، اپنے قریبی اور پیارے ساتھیوں کی ناخبری اور بے جا غلطیوں کی وجہ سے اپنے قومی لشکر سے علیحدہ ہونے پر مجبور کر دیے گئے۔" (۹۰)

په قامي سیاسي بهیر کې د پښتنو د بېلوالي غوښتونکي که څه هم تر **خان** ډېره ځایه بریالي شوي وو، خو د هغوی مرام له سیاست څخه د **خان شهید** لهرې ساتل وو، هغوی باوري وو، چې په داسي منګ (عمر) کې به یې د بېلتانه دغه ژوره څپه زړه مات کړای شي، خو داسي نه وشول او د همداسي زړه ماتوونکي چاپېریال پایله دا شوه، چې د ۱۹۷۰ز په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اتمه میاشت/ اګست کې د پیاوړي هوډ او لوی زړه څښتن **خان شهید** په کوټه کې د یو شمېر ملګرو په ملتیا په یوه اولسي غونډه کې د نېشنل عوامي پارټۍ پښتونخوا په نوم د نوي ګوند بنسټ کښېښوو او له همدې لارې یې د پښتنو د یووالي، ودانۍ او سیالۍ لپاره سیاسي هلې ځلې په نور ګړندیتوب سره پیل کړې...

د یو شمېر پښتنو په ملتیا او ملګرتیا د کوټې په هنه اوړک نومي ناوه کې په لوی زړه او پیاوړي هوډ د سیاسي ګوند جوړولو ګام هغه خلک له نهیلۍ/ ناامیدۍ سره مخامخ کړل، چې د سیاست په ډګر کې یې د مزاحمت کولو بهیر له مخه ایستل غوښت...

د پاکستان تر جوړېدلو (۱۴ اګست ۱۹۴۷ز) وروسته د دغه هېواد د ژوندانه په نهم کال (۱۴ اکتوبر ۱۹۵۵ز) د چوهدري محمد علي له خوا پلي کړل شوی ون یونټ د محمد ایوب خان (۱۹۵۸ز/ ۲۰/ ۲۷ـ ۱۹۶۹ز/ ۰۳/ ۲۵) په اوږده مارشل لایي رژیم کې د نوموړو سیاسي بهیرونو په ځپلو او د هغوی د لوی شمېر مخکښو مشرانو په زندانولو/ کړولو او ځورولو سره وساتل شو، چې وروسته پر ۱۹۶۹ز/ ۰۳/ ۲۵ باندې واک تر لاسه کوونکي یحیی خان د ۱۹۷۰ز کال د جولایي پر لومړۍ نېټه باندې ون یونټ مات او د همدې کال د سپتامبر پر ۷ مه نېټه د قامي اوپر ۱۷ مه د ولایتي اسامبلیو ټولټاکنې تر سره شوې، په ټولټاکنو کې د ولایتي او مرکزي اسامبلیو ته د ټاکل شوو غړو په لړ کې د **خان شهید** نوم هم وو، چې د بلوچستان ایالتي اسامبلۍ ته د پښتون اولس په استازیتوب سره ورسېدی.

د ۱۹۷۱ز کال د دسامبر پر ۲۰ مه نېټه یحیی خان خدای په امانې وکړه او د صدر/ اولس مشر ځای ذوالفقار علي بوټو ونیو، چې د ۱۹۷۳ز کال د ۸ مې میاشتې تر ۱۳ مې نېټې پورې صدر پاتې شو او ورپسې د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۹۷۳ز کال د ۸ مې میاشتې له ۱۴ مې نېټې څخه د ۱۹۷۷ز کال د جولایې تر ۷ مې نېټې پورې وزیراعظم پاته شو...

د بلوچستان اسمبلۍ په غړیتوب تر لاسه کولو **خان شهید** د همدغه لومړۍ اسامبلۍ دلومړۍ غونډې "چې په اسمبلۍ (مخني تاون هال) کوټه کې د ۱۹۷۲ز د ۵ مې میاشتې پر دویمه نېټه د منګل/ سه شنبې په ورځ تر سره شوه" مشري/ صدارت وکړه...

په ولایت (صوبه) کې د دې لومړي پارلمان غړي د پر نومورې سیاست پوهان لکه نواب خیر بخش مري، سردار عطاالله خان مینګل، نواب محمد خان باروزۍ، جام غلام قادر، میر ګل خان نصیر، سیف الله پراچه او داسې یو شمېر نور...

د پارلمان له یادونې سره سم د **خان شهید** په اړه یوه شفاهي خاطره را په زړه شوه، د وړاندې کولو جسارت یې کوم، هغه داسې وه، چې زه ځوان او د مېلمنو په خدمت لګیا وم، خبره د سیاست په اړه روانه وه، زما (آزاد) نیکه مولانا آغا محمد (۱۹۸۲ــ۱۹۰۰ز) په مېلمستون کې و مېلمنو ته د خبرو پر مهال وویل:

"د عبدالصمد خان (**خان شهید**) په اړه مولوي حسن شاه (که څه هم په نظریه سره بېل وو) یو وخت را ته وویل، چې عبدالصمد خان (**خان شهید**) به څه وخت پارلمان ته دننه راغلی، نو تا به ویل، چې په اسمبلۍ روح را ننووت او کله چې به بیا وواتی، نو تا به ویل، چې له اسمبلۍ څخه روح وواتی..."

نومورې **خان شهید** په پارلمان کې د ټولنیز ژوندانه لپاره د قانون یا چوکاټ تاکنې په لړ کې په ښهډول خپل استازیتوب تر سره کړی، چې کردار ته یې دنیا هم په منلو باوري ده. هغه په دې هېواد کې د اولسي نیاومنتیا (انصاف) اقتصادي سیالۍ (برابرۍ) پر بنسټ باندې د یوه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خپلواک ریاست لپاره خپله پوهه په کار واچوله او په دې هېواد کې یې د اوسېدونکو قامونو لکه بلوڅ، سیندی، سرایکی او نورو استازیتوب ښه په لوی زړه او په ښه ډول تر سره کړ، په ځانګړې ډول یې د خپل قام پښتانه د ښې ورځې، پرمختګ او ودانۍ لپاره "یوازې او یوازې په دې تور/ الزام چې قام یې د خپلو حقوقو غوښتنې ته را ویښاوه" د ښکېلاکګرو او ځبېښناکګرو په ملتیاد هغوی د ګوډاګیانو له خوا هم د ژوندانه ډېره درنه او په زړه پورې برخه په زندانونو، کړاوونو او ستونزو کې تېره کړه. نوموړې د اولسواکۍ لپاره په توره تیاره کې د مشال ارزښت درلود او په دې لړ کې یې له زورور واکمنو څخه د اولس د سیالۍ لپاره ډېره درنه بریا راوړله، هغه دا چې د سیاسي مزاحمت په توان یې د ټولنې هر/ هر وګړې/ فرد ته د رایې ورکولو/ ووټ حق راوړی. نن چې زموږ په ټولنه کې هر وګړی د خپلې رایې په ورکولو سره د خپلې خوښې د استازې ټاکلو واک لري او یا کله همدغه استازې د رایو د غوښتنو لپاره د اولس دروازې ټکوي، نو دا د همدې مخکښ مشر د مزاحمت/ مقاومت او کړاوونو برکت او پایله ده..

خان شهید په پارلمان کې د وفاق/ مرکزیت په رونا کې د قومونو د حقوقو او خپلواکو ولایتونو (صوبو) لاره رونا کړې وه او په دې لړ کې یې هم تر ډېره ځایه پورې بریا تر لاسه کړې وه، چې د یوه قام له لاسبرتیا او د هغوی له یو ډول ځبېښناک څخه یې تر ډېره بریده پورې د قام د ژغورنې چاره تر سره کړې وه، لکه د ون یونټ په ماتولو کې چې یې د نورو مخکښانو په ملتیا هڅې تر سره کړې وې...

په پارلمان کې یې و اولسي چاپېریال ته په کتلو د اولس لپاره د عصري زدکړو، ورځنیو اړتیاوو او روزګار د لارو چارو پرانستلو، د مځکو د ودانیو او کرهنې په لړ کې د روزنې، اسانتیاوو او زدکړو په څنګ کې وَ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ورهنې (صنعت) او لاسي کارونو ته د لاري پرانستلو او د هغوی په ارزښت باندې د اولس د پوهولو هڅې ترسره کړي دي.

هغه د پښتون وطن د اوبو، ځنګلونو، مځکنې شتمنیو (معدنیاتو) په ځنګ کې د ځړ ځایونو او هم د بنارې او کلیوالو حقوقو په لاره کې د اولس تر ذهنیته پورې د هغوی د ارزښت خبره رسولې وه.

د قام لپاره یې د روغتیا لرونکي چاپېریال او د ټولنیز ژوند په ودانۍ او خپل برغ رسولو کې د رسنیو ارزښت هم په ګوته کړی وو.

نوموړي په پښتانه قام کې د هر ډګر، کور، کورنۍ، ټبر، توکم او قام په ژوندانه کې د چوکاټ ټاکلو او ساتلو لپاره د کار او زیار خبره کړې ده، ماناد آئین یا تګلارې په چوکاټ کې د اوسېدلو توصیه یې کړې ده او هم یې پخپله تګ وربانديې کړی دی... هغه فکر کاوه، چې قام په کار او زیار هوسا کېږي، نه په بېکارۍ، لکه زموږ ټولنیز نفسیات چې دي، **خان شهید** د همدې نفسیاتو د بدلون او تحول لپاره ورځ او شپه پر ځان یوه کړې وه او تر اولسه پورې یې د خپلې خبرې رسولو لپاره هلې ځلې ترسره کړې وې، سیاست یې د ودانۍ لاره پامولې، ځکه یې دې لاري ته په ډېرو ستړو ګالو هوسایي او اسانتیا راوړله...

نوموړي د ژوندانه په هره چاره کې په ځانګړي ډول د درغلیو/ اداري فسادد مخنیوي لپاره پر اولس سربېره بشپړ پارلمان او واکمن هڅولي وو، چې همدا درغلۍ او اداري فساد یې د ژوندانه په هر اړخ او پر هره ګچه باندې د ناکامۍ او شاته پاته کېدا بنسټیزه چاره بللې وه...

د بلوچستان اسمبلۍ د لومړۍ غونډې (۲ مئي ۱۹۷۲ز) څخه د ژوند تر پایه (۲ دسامبر ۱۹۷۳ز) پورې نوموړي مبارز **خان شهید** د پارلمان غړی پاته شو او له همدې لاري یې د اولسي/ قامي ستونزو د هوارولو پر هڅو سربېره تر اولسه پورې او په ځانګړي ډول پښتانه قام ته د خپل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ږغ رسولو او د هغوی د ویښتابه او سیاسي فکر د پیاوړتیا لپاره د ټول وطن په کلي کلي او ښارونو وګرځېدی، پر پښتون اولس سربېره یې له بېلا بېلو مخورو اولسي استازو سره د پښتنو د پرمختګ او ودانۍ په اړه لاري چاري و سنجولې، ورو ورو د پښتونخوا سیاسي بهیر دومره پیاوړی شو، چې د مخنیوي لپاره یې دښمنانو په پرله پسې ډول هره لاره چاره آزمویلې وه، خو ناکامه، نهیلي او نامراده وو، چې پای یې په وارخطایي سره د انسانیت د ټولو ارزښتونو په زیندۍ کولو د خپل آقاد خوشحالولو لپاره د خپل وجدان په ککړتیا د نوموړي پښتون مبارز سرخپل قامپال عبدالصمد خان (**خان شهید**) د مرګ تایه/ تهیه و ترله او همدا یې تر خپلو شومو هدفونو پورې د رسېدا یوازینۍ لاره و پامولې، چې د ۱۹۷۳ز کال د دسامبر پر ۲ مه نېټه یې پر جمال الدین افغاني څرک باندې په خپل کور کې د خوب پر مهال په بم ورغورځولو سره شهید کړ... اروا یې بنساده، جنتونه یې برخه او یاد یې تلپاته...

مرګ حق دی، یاد به یې ځکه تلپاتی وي، چې کردارونه نه مري، مانادا چې هر ستر او نوموړی کردار په وجودي توګه له منځه ځي، خو فکر او تګلاره یې په ټولنیز ژوند کې ودانه او بنهرازه پاته وي.

د ۱۹۷۳ز کال د دسامبر د میاشتې پر ۳ مه نېټه په خپل پلرني تاټوبي عنایت الله خان کاریز ګلستان کې له هري سیمې څخه د راغلو شپېته زره وګړو په وړاندې و خاورو ته وسپارل شو...

لحده نیسه یې کرار په غېږ کې
یو زهره چاودی او خوږ من در سپارو
چې یې زخمونه دي دستورو په شمېر
د کهکشان غوندې بدن در سپارو
د صداقت له ګلو ډکه چې وه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پاره پاره هغه لمن درسپارو (۹۱)

د شلمي پېړۍ په خپل زمان اومکان کي د لوی سیاست پوه او د پښتني ټولنې په استازیتوب د دغه ستر کردار **خان شهید** پر وجودي مړینه باندي د ببلا ببلو اولسونو په ملتیاد درې واړو هېوادونو افغانستان، پاکستان او هندوستان اولس مشرانو، وزیراعظمانو، وزیرانو، د اسامبلیو غړو، لوړو چارواکو او د یادو هېوادونو د مخورو په ملتیاد هېواد له ټولو ولایتونو څخه مخورو سیاست پوهانو او په ځانګړي ډول د سرحد (خیبر پښتونخوا) جنوبي پښتونخوا او بلوچستان د اولسونو په څنګ کي مخورو سیاسي مشرانو د پښتونخوا ملي عوامي ګوند له استازیتوب سره په خپل راتګ، تار، استازیتوب، پیغام او د رسنیو له لارې د خپلې ژورې خواشینۍ او غمرازۍ څرګندونه وکړه. د هندیانو خواشیني ته یې ملاعبدالسلام اشېزی په خپل شعر کي ځای ورکوي:

راغی مرګ عبدالصُمده؛ مجاهد بنده ابده
خپل خواخوږي خو پاتا اخوا بده
هندیان دي یادوي عبدالصمده
قاتلان ثقیل پیلان و ماته ایسي
جهنم حامیه برخه د خوني ده (۹۲)

د غمرازیو له غبرګونونو څخه یوازي او یوازي پر یوه پیغام بسنه کوو او هغه دا چي د دې درانه اتل، مخور سیاست پوه او ادیب عبدالصمد خان (**خان شهید** ۱۹۷۳-۱۹۰۷ز) "چي د پښتون قامي سیاست د دښمن بهیر له خوا د تېري پېړۍ د ۱۹۷۳ز په ۲م دسامبر د ولایت په مرکزي ښار کوټه کي په خپل کور کي د خوب پر مهال و خونه (کمره) ته په بم ورغورځولو بمي چاودنه شهید کړل شو" په اړه د نوموړي د شهادت په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اتمه ورځ د مخور ټولنپوه، سیاستپوه محمد ایوب خان اخګزي تاثرات چې په ناچاپ کتاب ایوبیات کې خوندي شوي دي؛ داسي دي:

وای صمد خانه!

آخر کار د قدرت نه بدلېدونکی هغه قانون چې د وخت د تقاضاوو پروا لري او نه د مصلحت؛ د ضرورتونو پر بنا... موږ د ګران عبدالصمد خان اخګزي په شهادت پر زړه داسي زخم و خوړ، چې هم ناقابل د تلافي دی او هم نا قابل د اندمال. زموږ د پاره د شهید عبدالصمد خان مرګ هم یوه موقعه وه او هم یو آزمایش. موقع په دې چې دا و دنیا ته و ښوولای سو، چې د مرحوم عبدالصمد خان د همېشه وطن دوستۍ او بې نظیرو قربانیو څخه موږ څه قدر تعلیم او هدایت حاصل کړی دی او آزمایش په دې چې و خلکو ته په سیاسي رسد او اجتماعي پختګي موږ څه څه نمونې وړاندې کولای سو...

ګرانو وروڼو! نن او سبا به په عبدالصمد خان پسې ډېرې سترګې په اوښکو ډکې او ډېر لاسونه به په ماتم مبتلا وي، لېکن موږ ته دې دا معلومه وي، چې د مرحوم د دغه لویې او عظمت راز په مرګ کې مضمر نه وو؛ بلکې د حیات په هغو بلندو اصولو کې، د ژوند په مسلسل ایثار او قرباني کې، د حیات په هغه بلند نظري او عالي رواداریو کې او په هغه عالیشانه هدف کې وو، کوم چې ده د پښتون د یووالي او وحدت، د پښتون د سرلوړۍ او سرفرازۍ د پاره قایم کړی او په انتهاي استقامت او عزم یې د ژوند تر آخري سلګۍ پورې قایم پاته وو.

د عبدالصمد خان د شخصیت هغه پهلو/ اړخ چې و ماته غیر معمولي او استثنایي معلومېدی؛ دا وو، چې پر عادي کار برآریو او مصروفیتونو هرګز نه قانع کېدلو. همېشه به یې د داسي مقصد تلاش جاري درلود، چې د مشغولیت سره یې د اضطراب په لمبو او د بې قراری په سکروټو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ځلبدلی و ساتل سي. همدغه وجه وه، چې تمام عمر يې د هري سلا سره د قید او بند د مصیبتونو باوجود دا آواز را و ووت، چې یو دي وي، خوشحال دي وي، آزاد دي وي پښتون... د ژوند هره خندا او هره ژړا، هره ناسته او هره ولاړه يې د پښتون د بیداري او اجتماعي نېکمرغۍ لپاره وقف کړې وه.

زما ګرانو وروڼو! د تعریفونو او مرثیو څخه بې نیازه د عبدالصمد خان شخصیت که د چا خوښ وي او که نه... آینده به تاریخ په خپلو زرینو اوراقو کې یقیناً اولین ځای ورکړي... نو ځکه راسی؛ په یوه آواز دا دعا وکړو، چې خدایه! د مرحوم و روح ته په سایه عاطفت کې ځای او پسماندګانو ته يې صبر جمیل او د پښتنو په سیاسي ژوند کې د ملحوظاتو د شیطنت پرورانه او بزدلانه حرکت په وجه چې کومه خلا پیدا سوه؛ د هغه د تلافی ژر تر ژره اسباب پیدا کړه او دغه رنګه موږ هم باید په یوه آواز دا عهد وکړو، چې هغه به کوو، هغه به اورو او هغه به وینو؛ د کوم د پاره چې عبدالصمد خان خپل ژوند وقف او شهادت حاصل کړ.

پروانه ے بے تاب کہ ہر سو تگ و پو کرد
بر شمع چنان سوخت کہ خود راہم او کرد

محمد ایوب خان اخګزی
۱۰ م دسمبر ۱۹۷۳ کابل (۹۳)

استاد همېش خلیل لیکي:

"د کوټې فضا نه یوازې دا چې غمناکه وه؛ بلکې دردناکه هم وه، خو زه چې پوښتنه پر پوښتنه په سید جمال الدین افغان واټ کې د خان شهید د کور هغه کوټې ته "چې دوی به په کې ملاسته کوله" ولاړم، نو د همدغې کوټې له یوه روښندان نه له باندې لوري نه پر دوی بم را

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اچول شوی وو، د کوټې له چارچاپېره د ډوالونو او هم یې له زمکې د وینو د اور لمبې روانې وې، چې د قومي وحدت هره سیمه یې روښانه کړې وه، نو پر همدغه مهال ما وویل:

دغه وینه چې تویېږي؛ دغه وینه چې بهېږي
پښتن خپمه د نوبهار ده؛ پسمنظر کې زرغونېږي
دغه وینه په تکل د جستجو ده؛ دغه وینه د آزاد ژوند دون آرزو ده
دغه پت دی هم ښکاره ده هم توره؛ د وفا د عظمتونو آرزو ده
دغه وینه امانت د خپل وطن وه؛ تحفظ له د وطن د حریت وه
دا افغان د تشخص علمبردار ده؛ چې امینه د پښتو او د غیرت وه
دغه وینه یوه لار د لوی نجات ده؛ ابادي او سوکالي د کاینات ده
چې مقصد د پاره تویه شي مقصد شي؛ سرمایه د ملتونو د حیات ده
دغه وینه دوطن د جبین خال دی؛ چې باعث یې د جمال او د جلال دی
د دې وینې حقیقیت به درته نمایم؛ دغه وینه استدلال د استقبال دی
دغه وینه د غازي په لاس علم دی؛ په جهان کې چې تر ټولو مقدم دی
له هر چا سره په هره ژبه پوهه؛ رحم ده مظلوم ظالم لره ستم دی
دغه وینه چې توده شي نوره سره شي؛ دوطن په کوه طور باندې لمبه شي
و جارح و ته دوزخ شي جهنم شي؛ هر کلیم لره له ورایه یو جلوه شي
دغه وینه چې دامن پیامبر دی؛ توري شپې د جهالت له سپین سحر دی
بهې خواوو لره فیض او برکت دی؛ بد خواهانو له برپا غوندې محشر دی
دغه وینه چې راسره په انتقام شي؛ هر غاصب لره صمصام شي بې نیام شي
د حریت خال د وطن په جبین کېږدي؛ تقدس د حریت لره پیغام شي
دغه وینه چې بلهېږي؛ دغه وینه چې خندېږي
پښتن خپمه د نوبهار ده؛ پس منظر کې زرغونېږي (۹۴)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دا وه؛ د پښتون وطن/ ملت او قومیت د پرمختګ، ودانۍ او سیالۍ لپاره د وطن او ملت و معنویاتو او ملي ارزښتونو ته ژمن او هم د پښتو ژبې، ادب او فرهنګ د ودي ارمانجن نه موړي مبارز **خان شهید** (عبدالصمد خان) قامي او سیاسي مبارز: چې پر پښتون افغان وطن باندي د بنکېلاکګرو، ځپېنباګګرو بلوسګرو په وړاندي د تودې یا جګړه ایزي او مطبوعاتي مبارزې د شالید (پس منظر) په روښاکي ستاسو په مخکي وړاندي کړل شوه.

هېره دي نه وي، چې د پورتنۍ لیکنې د څلورو واړو برخو په لوست سره لوستونکی ذهنیت کولای شي، چې د پښتون وطن د تودې او سړې مبارزې تر منځ د ټولنیز فکري اووښتون (انقلاب) لپاره کردار تر سره کوونکي سرلاري مبارزین او د هغوی هلي ځلي و پاموي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سرچینې:

۱: عطایي، کاندید اکادمسین محمدابراهیم، د پښتنو اوبلوڅو سیاسي کرونولوژي، خپروونکی، د نشراتو او فرهنګي چارو ریاست، چاپکال ۱۳۶۸ل ۱۹۸۹ز مخ ۱

۲: ځلمی، محمد ولي، زمور غازیان، خپروونکې، د افغاستان د علومو اکادمي، چاپکال ۱۳۶۸ل ۱۹۸۹ز مخ ۱

۳: برنیه، فرانسووا، د مغلو په دولت کي دوروستیو سیاسي کودتاوو تاریخ لومړی ټوک، ژباړن، ګل محمد نورزی، چاپکال ۱۳۵۲ل ۱۹۷۳ز ۳،۴ مخونه

۴: له خپل یادښت څخه

۵: ننګرهاری، محمد ګلاب، د خپلواکۍ ترون ۳ نومره، خپروونکی، دولتي مطبعه، چاپکال ۱۳۳۳ل ۱۹۵۴ز ۳۲، ۳۳ مخونه

۶: ځلمی، محمد ولي، زمور غازیان، خپروونکې، د افغاستان د علومو اکادمي، چاپکال ۱۳۶۸ل ۱۹۸۹ز مخ ۴

۷: م؛ ننګرهاری، د خپلواکۍ ترون ۱۰ لمبر، خپروونکې؛ دولتي مطبعه، چاپکال ۱۳۴۱ل کال مخ ۵۵

۸: تابان؛ ډاکټر لیاقت، د سهیلي پښتونخوا پښتو رسنۍ، خپروونکی؛ ملګري لیکوال کوټه، چاپکال ۲۰۰۸ز ۱۳۸۷ل مخ ۳۰

۹: م؛ ننګرهاری، د خپلواکۍ ترون ۱۰ لمبر، خپروونکې؛ دولتي مطبعه، چاپکال ۱۳۴۱ل کال مخ ۷۳

۱۰: تابان؛ ډاکټر لیاقت، د سهیلي پښتونخوا پښتو رسنۍ، خپروونکی؛ ملګري لیکوال کوټه، چاپکال ۲۰۰۸ز ۱۳۸۷ل ۳۱، ۳۲ مخونه

۱۱: ترین؛ شوکت، تحریک آزادی میں انجمن کا کردار، پبلشر، نیو کالج پبلیکیشنز کوئٹہ، سال اشاعت ۲۰۱۶، صفحہ ۲۸۹

۱۲: کهزاد؛ احمد علي، د افغانستان پخوانی تاریخ لومړی ټوک، خپروونکی؛ د تاریخ انجمن، چاپکال ۱۳۳۴ل مخ ۱۷

۱۳: اشپزی، ملا عبدالسلام، سوسن چمن، چاپکال ۱۳۵۴هـ ق کال، مخ ۳۲۶

۱۴: ګبرس؛ ګ، ف. د مېرني اولس ادبیات، خپروونکی: د قومونو او قبایلو وزارت، ژباړه؛ محمد اکبر معتمد شینواری، چاپکال ۱۳۶۴ل مخ ۱۰۳

۱۵: ربښتین؛ صدیق الله، نوی ژوند، خپروونکې؛ پښتو ټولنه کابل، چاپکال ۱۳۳۰ل مخ ۴۸

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۶: غنو؛ پوهاند عبدالغني خان، بابائے پشتون اور پشتو نحو اجلد اول. خپرووونکی؛ نادر تریډرز مستونګ، چاپکال ۱۹۹۰ز مخ ۴۴
۱۷: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون دویم ټوک، خپرووونکي؛ پښتونخوا خوروونی، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیزل کال مخ ۱۷
۱۸: د رحمان بابا دیوان، وډونکي؛ پروفیسر محمد الله خلیل او نیمروز قیس، خپرووونکي؛ پښتو اکیډمي کوته، چاپکال ۲۰۱۷ز مخ ۶۴۲
۱۹: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون، دویم ټوک، خپرووونکي؛ پښتونخوا خوروونی، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز کال مخ ۷۵
۲۰: آزاد؛ محمد نعیم، د خیال څو توري مزل، خپرووونکی؛ پښتو ادبي غورځنګ کوته، چاپکال ۲۰۱۶ز مخ ۱۴۰
۲۱: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون دویم ټوک، خپرووونکي؛ پښتونخوا خوروونی، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز کال ۱۰۸/ ۱۰۹ مخونه
۲۲: د رحمان بابا دیوان، وډونکي؛ پروفیسر محمد الله خلیل او نیمروز قیس، خپرووونکي؛ پښتو اکیډمي کوته، چاپکال ۲۰۱۷ز مخ ۶۷۱
۲۳: آزاد، محمد نعیم، د خیال څو توري مزل، خپرووونکی؛ پښتو ادبي غورځنګ، چاپکال، ۲۰۱۶ز مخ ۲۴
۲۴: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون دویم ټوک، خپرووونکي؛ پښتونخوا خوروونی، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز کال ۱۴۶
۲۵: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون دویم ټوک، خپرووونکي؛ پښتونخوا خوروونی، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز کال ۸۵/ ۱۲۱ مخونه
۲۶: ګپرس؛ ګ، ف. د مېرني اولس ادبیات، خپرووونکی: د قومونو او قبایلو وزارت، ژباړه؛ محمد اکبر معتمد شینواری، چاپکال ۱۳۶۴ل مخ ۱۰۷
۲۷: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون دویم ټوک، خپرووونکي؛ پښتونخوا خوروونی، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز کال ۱۹۶مخ
۲۸: م: ننګرهاری، د خپلواکی ترون، لسم نمبر، خپرووونکي؛ دولتي مطبعه، چاپکال، ۱۳۴۱ل مخ ۴۰
۲۹: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون دویم ټوک، خپرووونکي؛ پښتونخوا خوروونی، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز کال ۲۴۹ مخ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۳۰: م: تنګرهاری، د خپلواکۍ ترون، لسم نمبر، خپرونکي: دولتي مطبعه، چاپکال، ۱۳۴۱ل مخ ۴۰

۳۱: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون دویم ټوک، خپرونکي: پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز کال ۲۶۴، ۲۶۵ مخونه

۳۲: همدغه اثر ۲۸۸، ۲۸۹ مخونه

۳۳: همدغه اثر ۲۹۷، ۲۹۸ مخونه

(۳۴) اخګزی، عبدالصمد خان، زما ژوند او ژوندون، خپرونکی، پښتونخوا خوروونې، ۱۳۸۳ل ۲۰۰۴ز مخ ۲۸۳

۳۵: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون دویم ټوک، خپرونکي: پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز کال ۳۴۵ مخ

۳۶: همدغه اثر ۳۸۷ مخ

۳۷: آزاد، محمد نعیم، د خیال څو توري مزل، خپرونکي: پښتو ادبي غورځنګ، چاپکال ۲۰۱۶ز مخ ۴۰

۳۸: لالا؛ اکرم شاه، د خان شهید عبدالصمد خان اخګزي علمي او ادبي خدمات، خپرونکي: پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه، مشموله: څو خبري د خان شهید په اړه، چاپکال ۲۰۱۲ز مخ ۷۴

۳۹: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون دویم ټوک، خپرونکي: پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیزل کال ۴۵۴، ۴۵۵، ۴۵۶ مخونه

۴۰: همدغه پورتنی اثر ۴۵۶، ۴۵۷ مخونه

۴۱: همدغه پورتنی اثر ۴۳۰ مخ

۴۲: همدغه پورتنی اثر ۴۴۳ مخ

۴۳: خټک، عبدالقادر خان، د عبدالقادر خان دیوان، خپرونکی، د افغانستان د علومو اکاډمي، چاپکال ۱۳۶۸ل مخ ۱۶۵

۴۴: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون دریم ټوک، خپرونکي: پښتونخوا خوروونې، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیزل کال ۶۸، ۶۹ مخونه

۴۵: همدغه پورتنی اثر ۸۰ مخ

۴۶: همدا پورتنی اثر ۱۱۵ مخ

۴۷: همدا پورتنی اثر ۱۲۰ مخ

۴۸: همدا پورتنی اثر ۱۲۳، ۱۲۴ مخونه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۴۹: همدا پورتنی اثر ۱۹۲، ۱۹۳ مخونه
۵۰: همدا پورتنی اثر ۲۰۵مخ
۵۱: همدا پورتنی اثر ۲۱۵، ۲۱۶ مخونه
۵۲: همدا پورتنی اثر ۲۴۴مخ
۵۳: همدا پورتنی اثر ۲۸۱ مخ
۵۴: همدا پورتنی اثر ۳۰۶ مخ
۵۵: همدا پورتنی اثر ۲۷۸، ۲۷۹ مخونه
۵۶: همدا پورتنی اثر ۳۳۶ مخ
۵۷: همدا پورتنی اثر ۳۴۹ مخ
۵۸: لالا؛ اکرم شاه، د خان شهید عبدالصمد خان اخکزي علمي او ادبي خدمات، خپروونکي؛ پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه، مشموله؛ څو خبري د خان شهید په اړه، چاپکال ۲۰۱۲ز مخ ۷۴
۵۹: ګپرس؛ ګ، ف. د مېرني اولس ادبیات، خپروونکی: د قومونو او قبایلو وزارت، ژباړه؛ محمد اکبر معتمد شینواری، چاپکال ۱۳۶۴ل مخ ۱۰۷
۶۰: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړي ټوک، خپروونکي؛ پښتونخوا خوروونی، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ل یونیز لمریز کال مخ ۲۸۴
۶۱: وزیري؛ محمد اقبال، د نومیالي تاریخپوه ډاکټر محمد حسن کاکړ تاریخي، علمي، نیکات (میراث) ته کتنه، خپرندوی، پښتانه مترقي لیکوال، چاپکال ۲۰۲۱ز ۱۴۰۰ل مخ ۴۷۸
۶۲: ترین، شوکت، "دوردر پشتون" سیاست اور جمہوریت کا اہم سنگ میل، پبلشر نیو کالج پبلیکیشنز کوئٹہ، سال اشاعت ۲۰۱۷، نومبر صفحہ ۱۶
۶۳: اخګزی، عبدالصمد خان، د خپلواکي ترون ۵ نومره، لیکوال م، ګ، ننګرهاری خپروونکي، دولتي مطبعه، چاپکال ۱۳۳۵ل ۱۹۵۶ز د ۱۱۲ او ۱۱۳ مخونو تر منځ
۶۴: غوریا خپل، حسین خان، د خپلواکي ترون، لیکوانکی، عبدالمنان دردمند، خپروونکي، دولتي مطبعه، چاپکال ۱۳۴۶ل ۱۹۶۷ز مخ ۳۲
۶۵: اخګزی؛ عبدالصمد خان؛ زما ژوند او ژوندون لومړی ټوک، خپروونکي؛ پښتونخوا خوروونی، چاپکال ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳ یونیز لمریز کال مخ ۲۸۴
۶۶: ننګرهاری، محمد ګلاب، د خپلواکي ترون، دریم، چاپکال ۱۳۳۳ل مخ ۳

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۶۷: اپریدی، میا خان، د خپلواکی ترون، چاپکال ۱۳۵۱ل ۱۹۷۲ز مخ ۱۶۶
۶۸: ننگرهاری، محمد گلاب، دخپلواکی ترون، دریم، چاپکال ۱۳۳۳ل مخ ۴۲
۶۹: ترین، شوکت، ورور پشتون سیاست اور جمہوریت کا ایک اہم سنگ میل، پبلشر، نیو کالج پبلی کیشنز کوئٹہ، سال اشاعت ۲۰۱۷ء صفحہ ۳۷
۷۰: اپریدی، میا خان، د خپلواکی ترون، چاپکال ۱۳۵۱ل ۱۹۷۲ز مخ ۱۶۶
۷۱: همدغه اثر ۵۳ مخ
۷۲: ترین، شوکت، ورور پشتون سیاست اور جمہوریت کا ایک اہم سنگ میل، پبلشر، نیو کالج پبلی کیشنز کوئٹہ، سال اشاعت ۲۰۱۷ء صفحہ ۸۳
۷۳: همدغه پورتنی اثر ۱۰۱ مخ
۷۴: ترین، شوکت، نیشنل عوامی پارٹی میں خان عبدالصمد خان اچکزئی کا کردار، پبلشر، نیو کالج پبلی کیشنز کوئٹہ، سال اشاعت ۲۰۱۸ء صفحہ ۱۷
۷۵: عثمنو، پروفیسر عبدالغنی خان، بابائے پشتون اور پشتو نخوا جلد اول، پبلشرز، نادر ٹریڈرز مستونگ، سال اشاعت ۱۹۹۰ء، صفحہ ۱۱۰
۷۶: ختک، خوشحال خان، د خوشحال ختک دیوان، سریزه، سمون او ودون، حبیب الله رفیع، خپرووونکي، امان موسسه، چاپکال ۱۳۹۷ل ۲۰۱۸ز مخ ۳۷۹
۷۷: ترین، شوکت، نیشنل عوامی پارٹی میں خان عبدالصمد خان اچکزئی کا کردار، پبلشر، نیو کالج پبلی کیشنز کوئٹہ، سال اشاعت ۲۰۱۸ء صفحات ۸۱، ۸۲
۷۸: عثمنو، پروفیسر عبدالغنی خان، بابائے پشتون اور پشتو نخوا جلد اول، پبلشرز، نادر ٹریڈرز مستونگ، سال اشاعت ۱۹۹۰ء، صفحہ ۱۱۰
۷۹: عطایي، کاندید اکادمسین محمد ابراهیم، د پښتنو او بلوڅو سیاسي کرونولوژي، خپرووونکي، د نشراتو فرهنگي چارو ریاست، چاپکال ۱۳۶۸ل مخ ۲۵۲
۸۰: عطایي، محمد ابراهیم، د پښتونستان مسئله د حق خود ارادیت په رونا کي، خپرووونکي، د پوهنې مطبعه کابل، چاپکال ۱۳۴۸ل ۱۹۶۹ز مخ ۲۲۶
۸۱: عثمنو، پروفیسر عبدالغنی خان، بابائے پشتون اور پشتو نخوا جلد اول، پبلشرز، نادر ٹریڈرز مستونگ، سال اشاعت ۱۹۹۰ء، صفحہ ۱۱۱
۸۲: ترین، شوکت، نیشنل عوامی پارٹی میں خان عبدالصمد خان اچکزئی کا کردار، پبلشر، نیو کالج پبلی کیشنز کوئٹہ، سال اشاعت ۲۰۱۸ء صفحہ ۱۳۱

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۸۳: عنوان، پروفیسر عبدالغنی خان، بابائے پشتون اور پشتو نحوا جلد اول، پبلشرز، نادر ٹریڈرز سٹوڈنٹ، سال اشاعت ۱۹۹۰ء، صفحہ ۱۴۲
۸۴: نړیوال، پوهاند رازقي، د پوهي او خپلواکي لاروی، خپروونکی، د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، درفیع الله نیازي په زیار، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز مخ ۲۷۰، ۲۷۱
۸۵: اخکزی، محمد ایوب خان، ایوبیات، ببلا ببلي مقالې، ناچاپ ۱۴۰، ۱۴۱مخونه
۸۶: عطایي، محمد ابراهیم، د بلوڅو ملي آزادي بخښونکو جنبشونو ته یوه کتنه، خپروونکې، د علومو اکادمي کابل، چاپکال ۱۳۶۴ل ۱۹۸۶ز مخ ۶۷
۸۷: خان، عبدالولي خان، باچا خان او خدایي خدمتګاري، دویم ټوک، خپروونکی او تقسیم کار، ولي باغ (اشنغر) چارسده، چاپکال ۱۹۹۴ز جولایي، مخ ۴۶۵
۸۸: ختک، خوشحال خان، د خوشحال خان ختک دیوان، خپروونکې، امان کتاب خپرولو موسسه، سریزه، ترتیب حبیب الله رفیع، چاپکال ۱۳۹۷ل ۲۰۱۸ز مخ ۳۷۹
۸۹: ننګرهاری، محمد ګلاب، د خپلواکي ټرون دریم، خپروونکې، کابل عمومي مطبعه، چاپکال ۱۳۳۳ل ۱۹۵۴ز مخ ۱۰
۹۰: عنوان، پروفیسر عبدالغنی خان، بابائے پشتون اور پشتو نحوا جلد اول، پبلشرز، نادر ٹریڈرز سٹوڈنٹ، سال اشاعت ۱۹۹۰ء، صفحہ ۱۱۱
۹۱: درانی، عبیدالله دروېش، "ستوري په لمن کې" څلورم چاپ، خپروونکی، صحاف نشراتي موسسه، چاپکال ۲۰۱۱ز کال مخ ۲۶
۹۲: اخکزی، محمد ایوب خان، ایوبیات، ببلا ببلي مقالې، ناچاپ ۸۷۵، ۸۷۶مخونه
۹۳: اشپزی، ملا عبدالسلام، طلب مذهب، یونایتد پریس کوټه، ۱۹۹۷ز مخ ۸۹۴
۹۴: خلیل، استاد همبش، د پوهي او خپلواکي لاروی، خپروونکی، د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، درفیع الله نیازي په زیار، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز ۱۴۲، ۱۴۳، ۱۴۴مخونه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهید د "عدمِ تشدد" پلوي وو

«عدم تشدد یو طاقت دی، په خلکو کې محبت، همت او جرآت پیدا کوي، خو تشدد په خلکو کې نفرت وېره او بزدلي پیدا کوي» باچاخان

«تشدد د ناپوهۍ نخښه او عدمِ تشدد د پوهې نخښه ده»

"عَدم" د عربي توری او د نشته یا نشتوالي لپاره کارېږي او "تشدد" د توندوالي، زیاتوب، جبر او تېري په مانا دی، مانا دا چې تشدد د زیاتوب/ تېري او جبر تر سره کولو ته وایي او عدمِ تشدد د تشدد اپوټه (متضاد) او له زور، زیاتوب او جبر څخه د ژغور په مانا دی.

که داسې وویو، نښه به وي، چې تشدد د تاند و جذباتو او عدمِ تشدد د فکر، پوهې او دلیل ښکارندوی دی، که دا خبره لږ نوره هم وغوړوو، نو به وویو، چې عدمِ تشدد د تشدد په وړاندې د پوهې او دلیل په باور د مزاحمت او مقاومت رویه او مفکوره ده، چې د شعور او پوهې په رڼا کې د انساني فکر د مدللې رویې (چې په شالید کې یې ژوند پالونکې پوهه او ملاتړ له ورایه باوري برېښي) استازیتوب کوي او دا هم څرګندوي، چې د عدمِ تشدد پر او ته رسېدلي ټولنې او قامونه د پوهې او پرمختګ د پر او استازي بلل کېږي، د تهذیب او مدنیت استازیتوب کوي، ولې په مقابل کې یې تشدد د ناپوهۍ له لاسوند یا دلیل څخه د یې برخې او په شاته پاته پر او کې د اوسېدونکې ټولنې مانا له تهذیب او مدنیت څخه د لېرې او ناپوهې ټولنې، دلې او وګړیو استازیتوب کوي. په لنډو ټکو کې به خبره داسې سپینه شي، چې تشدد په زور، زیاتوب او جبر سره تر خپله مرامه پورې د رسېدلو لاره ده او عدمِ تشدد په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وړ تیا لرونکې پوهه او دلیل سره د تشدد په مخنیوي کولو او د ژوند د لاري په غوړولو سره تر خپله مرامه پوري د رسېدلو لاره ده.

د عدم تشدد لاره/ فکر پالونکې، ژوند پالونکې، هواره، سړه، اوړده او د سړې سینې لاره ده، خو تشدد د جذباتو په توندوالي د فکر، پوهې، دلیل او ژوندانه پر غاړه باندې په چاړه ایښوولو سره په زیاتوب، جبر او تېري کولو تر سره کېږي، چې د پښتني ټولنې د زړې زمانې په پاته شوي لیکلي او شفاهي ادب کې یې بې شمېره نښانې لیدلای شو، لکه دا چې "یا مړ یا مور" "تخت یا تخته" "یا به و خورې ککرۍ یا به کامران شې" او داسې نور افکار چې توندوالي ته لاره وهي.

تر دومره اوږده پیلامه وروسته پښتني ټولنې ته د خبرې را رسولو څخه مرام دا دی، چې لیکنه په پښتو او د پښتني ټولنې په اړه ده او دا هم په کار ده؛ و وایو، چې دغه دواړې لارې او مفکورې په انساني ژوند کې خپل ډیالیکټیکي پړاوونه لري او د شعور له ودې سره ورو/ ورو له منځه ځي، خو زمور ټولنه لا د تشدد او ناپوهۍ په پړاو کې ده او فکري روزنه یا شعور یې اوس اوس له داسې پوښتنو سره مخامخ شوی دی، چې ولې زمور ټولنیز ژوند له داسې تاو تریخوالي، ناویساتوب، بې باورۍ او جنګ جګړو سره مخامخ پاته دی، همدغه د "ولې ویلو" توان دی، چې ایله مو اوس له دې پړاوه څخه د وتلو او پرمختګ هیلو او ارمان په ټولنیز ذهن او زړه کې ځای نیولی دی، خو د هر ډیالیکټیکي پړاو د تېښز (تائید) په وړاندې د مقاومت او له هغه څخه د وتلو لپاره د نقادانه ذهنیت په ملاتړ او وده ګړندیتوب را منځته کېږي، چې مور همدغه کره کتونکي او نقادانه ذهنیت ته پوره او جدي اړتیا لرونکې ټولنه یو او د تشدد تر توندو پړاوونو په را تېرېدلو مو اوس ایله د فکر پړاو ته ستر ګي ور ښکاره کړي دي، د کره کتونکي او نقادانه ذهنیت په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وړاندې توند غبرګون ښوول هم تشدد دی او په سړه ذهن سره د اوږدلو په توان د کره کتونکي ځواب په دلیل ویل عدم تشدد دی.

د پښتني ټولنې د همدې تېسز "تشدد" په وړاندې د انټې تېسز "عدم تشدد" پیلامه او وده له شلمې پېړۍ ځخه را سربېره کېږي، چې د سر سړي یې هم دغه سیاسي مبارزین او مخور دي، د پیل ویاړ یې د نومورو مخکښانو باچاخان او **خان شهید** په برخه دی، چې نومورې مخکښ باچاخان (عبدالغفار خان) یې په سر کې ولاړ او سرلاری دی، چا چې د پلویانو ملګرو په ملتیاد ټولنیز ذهن او زړه له توند غبرګون سره پر مخامخېدا سربېره هم د دې مفکورې د پاللو ذهن او زړه لرلی دی او همداسي یې د مقاومت او مزاحمت په پاللو سره د خپلې ټولنې د پرمختګ او ودانۍ لاره غوړولې ده او هم یې په پیاوړي هوډ پاللې ده.

د عدم تشدد د لارې پلي کوونکی مخکښ مخور او په دې لاره کې د زورورو، ستمګرو او تشدد پالونکو د ځور، زندانونو او نورو ربړو ګالونکی ستر مبارز **خان شهید** چې کله په ځلیرویشت کلنۍ کې د هند دورې ته ځي او له ډېرو نومورو مخورو سره وینې او د سیاسي شعور غوړېدا یې ورځ په ورځ وده کوي، خو په دې وخت کې چې کله د مسلمانانو او هیندوانو تر منځ د ځینو شر خوښوونکو په لمسون د شخړې اندېښنه را ولاړېږي او د مسلمانانو په مقابل کې د ګاندي جي په لارښوونه د کانګریس ملتیا کوونکي هیندوان د عدم تشدد لاره خپلوي، نو د **خان شهید** پر ذهن او زړه ډېره ژوره اغېزه کوي او په دې لړ کې نومورې په ډېر سپېڅلي او رښتوني ډول دا خبرې لیکي:

"تر دغه وخته ماته هم لکه یوه ناخبره پښتانه ته/ د کانګریس زغم (صبر) او روغه جوړه (عدم تشدد شانتي) څه خوشي او خندنی کار وو او د ببرې او بې زړه توب نخښه ایسېدله، خو چې په دغو ورځو کې مي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د بېلو خلکو سره د ګاندي جي خبرې واورېدې، ستر ګي مي رونې سوې او په دې پوه سوم، چې دا لار خو د بې زړه توب نه/ د ډېرې اوچتې بهادرۍ او ګټمېرہ لار ده، په زياته د پښتنو لپاره چې ډېر بهادر خو خښم جن خلک دي او خپل ټول ځان ځاني (انفرادي) او قامي کارونه او ژوند يې هم په دغه بې درکه خښم برباد کړی دی، "دا د زغم لار که سړی خپل مونډېځ باور (ايمان) نه هم جوړوي، لکه ګاندي جي چې جوړه کړې وه" خو د ډلې جوړولو او قامي کار په سر کې ډېر ګټمېرہ کار دی، لکه څنګه چې نبي سردار (چار دې ښه وي) او ښاغلي موسی پيغامبر (چار دې ښه وي) چې کړی دی او هم دالته مي تر زړه و کښله، چې که نور نه وي، تر څو چې د پښتنو خپل قامي سرکار جوړېږي او هغه دا لار د ټول قام په خوښه پرېږدي، زما د ژوند لار به د زغم (صبر) وي او زه به ځان له داسي مله ګورم، چې په دې توګه را سره قامي کار کوي." (۱)

مورِ مخکې هم د دې څېړنيزې هڅې په لومړيو برخو کې دې خبرې ته نغوته يا اشاره کړې وه، چې په پښتني ټولنه کې د تودې او سړې مبارزې د بېلتانه ځانګړې پوله هم دلته ټاکل کېږي، همدغه قامي، سياسي مخکښان او مخور وو، چې په وسله بار لښکر لرونکي زورور او بنکېلاکګر دښمن په وړاندې يې اولس په فکري روزنه له دې اغېزمنې وسلې (عدمِ تشدد) څخه و کار اخستلو ته ست کړل، د نومورو قامي، سياسي مخکښانو په ملتياګن شمېر ملګرو په خپل فکري ټوان او پښتني هوډ د دښمن له زنداني ځور او د بېړيو، وېچکانو له کړنګاسره هم د خپلواکۍ او ودانۍ زېرې لرونکې سندره رمزمه کړه او د زغم لاره يې و پاللای شوه، آن چې د خدايي خدمتګارو بهېر خو د مرګ په ليدلو هم دغه د ژوند ستايونکې لاره نه پرېښوده.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د عدم تشدد په اړه دغه فکري بدلون د دغه سیاسي بهیر لیدونکو او د هغوی د لیکل شوو موادو لوستونکو تولو د ځ کړی او احساس کړی دی او په دې لړ کې د **خان شهید** د سیاسي بهیر ملګری بشاغلی مختیار خان یوسپزی دغه ټکي ته نغوته (اشاره) کوي او داسي لیکي:

"په آزاد افغانستان کښې د **امان الله خان** د ترقي غوښتونکي حکومت دخلکو په ګټه اصلاحات او د پر مخ تللي او ودان افغانستان په لور چټک ګامونو اخستلو په محکومه پښتونخوا او هیند باندې ژوري اغېزې وکړې، د هیند د آزادۍ تحریک په نوې مرحله کښې داخلېدو ته چمتو شو او د محکوم افغان د آزادۍ مبارزې خپل شکل بدل کړو، د پښتنو د آزادۍ مبارزه په لومړي سر کښې یوازې په وسله واله مزاحمت تکیه درلوده، د ۱۹۱۹ز نه وروسته خپل شکل په صلح ایزه او په عدم تشدد ولاړ سیاسي مبارزې ته بدل کړو." (۲)

عدم تشدد له انسانستان څخه سرچینه اخلي، ځکه خو نوموړي مخور مخکښ **باچا خان** (عبدالغفار خان) ویل، چې انسانان ټول د خدای مخلوق دی، دا ناپوهي او بدبختي ده، چې مسلمانان یوازې مسلمانان د خدای مخلوق پاموي او عېسویان یوازې عیسایان د خدای مخلوق بولي او یهودان یوازې یهودان او همداسي نور مذهبونه...

د عدم تشدد مفکورې له روان سیاسي بهیر څخه مخکې که د تېرو وختونو سیاسي تاریخ و څارل شي، نو ببلا ببلي مفکورې او نظریات دي، چې د مخکښانو او پوهانو له خوا وړاندې شوي او ملاتړ شوي دي، خو په ځانګړي ډول پښتني چاپېریال لکه په پورتنیو لیکنو کې چې د **خان شهید** د قامي، سیاسي مبارزې په شالید کې د تودې مبارزې چاپېریال وړاندې کړل شو، نو په مقابل کې یې د مخکښانو په نوښت او پوهنیزه وړتیا سره د سړې او عدم تشدد د مبارزې فکر را

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

منځته کړل شو او دغه ژوند خوښوونکی او پالونکی آفاقي ویاړ یې خپلې پښتني ټولنې ته ور په برخه کړی، کنې نو په نورو ټولنو کې د داسې نظر لرونکي هم شته، چې په ژوند اخستلو تر مرامه پورې ځان رسوي، د تشدد د داسې مفکورې په ځواب کې یو شاعر وایي، چې:

کـــه جنـــت تـــه لار د خلکـــو پـــر ســـر وځـــي
زه آزاد پـــر ســـر د مځکـــې روان ښـــه یـــم (۳)

مانا دا چې وړ مرام ته پر ناوړو لارو باندې د رسېدلو هڅه تشدد دی او په مقابل کې یې دا چې د ښه او وړ مرام ته د رسېدلو لاره هم په کار ده؛ ښه او وړ تیا لرونکې وي، چې دا د عدم تشدد او دلیل لاره ده.

پر ناوړو لارو باندې تر هر ډول ښه مرامه پورې رسېدل ښه مرام نه پاتېږي او داسې فکر ته د انسانیت، مذهب او پښتني فکر په درنه سترګه نه ګوري؛ بلکې داسې چارو ته د منافقت او دروهې په سترګه ګوري، چې نه یې د پښتانه کلتوري سرېتوب د زغم وس لري او نه د کوم لار ښوونکي مخکښ او سپېڅلی رهبر خویونه کېدلای شي، خو د ښکېلاک او ځپېښاک په کلتور او واکمنیزو نفسیاتو کې د داسې چارو هیلې لرونکی ذهنیت شتون لري، چې هغوی خپلو ګټو ته د رسېدلو لپاره د انسانیت د درناوي خیال نه ساتي او په داسې چارو سره پر مختللي قاموني او ټولنې خپله پوهه او باور تر پوښتنه لاندې کوي، د انسانیت درناوی نه ساتل تشدد او ساتل یې عدم تشدد دی.

خان شهید چې کله د هیند په سفر کې له لوی شمېر سیاسي مشرانو سره وینې او پر ځان باندې د هر ډول ځور او زور زیاتوب په وړاندې د زغم (عدم تشدد) پرېکړه کوي، خو کله چې وطن ته راستنېږي او په پښتنو کې د خپل کور، توکم او تربرو ژوندنی چاپېریال وینې، نو په زړه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کې ورګرځي، چې د زغم (عدم تشدد) په لړ کې به خپله ژمنه، بول، وعده و پاللای شم او که یه؟ په دې اړه لیکي:

"د ځان او خدای سره خو مي د زغم او بدلې نه اخستلو بول کړی وو، خو چې کله کله به مي د کانګریسي اولس زغم ته کاته، چې سرکاري پولیسو او خلکو به وهل، ټکول او دوی به نه تښتېده او نه به یې لاس خوځاوه، ما ته به شک را را ولوېده، چې ستا پښتني وینه به دا و مني که نه؟ د پښتانه خان زوی وم، د استادانو د وهلو پرته "چې په وړوکوالي مي لیدلي وو" بیا مي د چاسوک چپړه هم نه وو لیدلي، سوتی یا وسله خو پرېږده، خو په دغه کال مي آزموده هم وسوله، زغم مي و کاوه او ډاډه سوم، چې زغم کولای سم." (۴)

د دغه یادي شوي آزمودې په اړه وروسته کیسه کوي او د ښکار پر مهال له کورنیو ځوانانو تر بروسره په وتاک کې د نورو اخګزیو تر بروله خواد دوی سره جګړه پېښېدل او د تر بروپه منځ کې د داسي جګړې پر مهال له زغم او صبر څخه د کار اخستلو په ځور یوازې په پښتني چاپېریال کې اوسېدونکي پښتانه پوهېدلای شي، چې څومره زور غواړي، خو **خان شهید** په بریالیتوب سره خپله ژمنه او بول پالي، چې وروسته یې هم د دغه پېښې په روغولو او کرارولو کې دغه لاره او رَوپاللی دی، نه د تر بروله پېغوره کښېښتلی دی او نه د نورو له رویو څخه چې په پښتنو کې ښېخي ناوړه تراخه احساسات او بوږنوونکي جذبات لري.

خان شهید وایي، چې څو ورځې وروسته زما خواخوږی او زمور د سیاسي لاري ملګری بلوڅ سردار زما پوښتني ته راغلی، په لوی زړه او خواخوږي یې راته وویل، چې زه به خپل خاک را ولېږم او سعود خپلوانو په ملتیا به د هغو خلکو پر کلي یر غل وروړي، نو ما ورته و

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ویل، چې ولې موږ د زغم او بدل نه اخستلو (عدم تشدد) بول نه وو سره کړی، ده داسې را غبرګه کړه، چې:

"زما خو ګمان وو، چې هغه رَو به موږ د سرکار سره ساتو، د څه خبرو پس په خبره سره پوه سولو، چې د زغم رو تر سرکار خپل د قامه سره لا زیات په کار دی، همدغه ورانې او خرپامي (ناپوهي) د روهـ (خیبر پښتونخوا) په زیاتره خدایي خدمتګارانو کې سته، ځکه خود سرکاري زور زیاتي په وړاندي هر یو پوره او ناپښنه زغم کوي، خو په کورنۍ چارو کې له باچاخانه او ډبرو لږو نورو کسانو پرته یو هم د زغم (عدم تشدد) پر لار نه چلیږي او تل په کورنۍ او د نورو پښتنو سره په جنګ جګړو، وهلو، ډزو آن چې په مرګونو او بدو اخته وي." (۵)

پر خپل ځان باندي د داسې واکمنتیا او لاسبرتیا و شاته د درانه فکر او پوهې له ملتیا پرته هیڅ داسې څه نشته، چې د زغم توان دي ولري، ځکه عدم تشدد د داسې پوهې او فکر څرګندونه کوي.

عدم تشدد له انسانستان څخه سرچینه اخلي او د ژوندانه د غوړېدا، سوکالۍ، هوساینې، ودې او تلپاتیوالي باور ورکوي، چې یو دَراک ذهنیت د داسې لارې پالونکی پاتېدلای شي او دراک ذهنیت ته انساني ژوند پالنه تر هر څه ارزښت ورکوي او هغه هر څه د ژوند لپاره پاموي، انسان د ژوند لپاره او ژوند د انسان لپاره څومره خوږ ترون دی، چې په پوهه پالل کېږي او پوهه عدم تشدد دی...

جبر و استبداد تشدد دی او د جبر و استبداد له زور زیاتوب څخه د انسانیت ژغورونکې لاره پالل عدم تشدد دی...

تاوتریخوالی، نهیلی، بې باوري د تشدد پایلې دي، خوشالۍ، هیلې او باور د عدم تشدد پېرزویني دي...

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سوله ساتنه، امن خوښونه د انساني ژوند د ودي او پرمختګ په هڅو کې د ګډون نخښې دي او همدا عدم تشدد دی...

په نړۍ کې د پوهې او زور تر منځ مبارزه روانه ده او د انسان زړه منلې ده، چې پای به بریاد پوهې په برخه وي، د پوهې پلویان د عدم تشدد د لارې لارویان دي او زور پالونکي د تشدد لاروي او توندلاري دي...

د څه اورولو او ډېر اوږدلو وس او ذهنیت لرل دلیل ته لاره پرانیزي، دلیل پوهنیز استازی او علم پالونکی دی، دلیل ته باور ورکول او په ورین تندي منل عدم تشدد دی او پر خپله خبره زور کول تشدد دی.

د هر کلتوري سړیتابه او نظریاتي مرامونو لپاره ټولمنلې تله او ترازو د انساني ژوند او حقوقو درناوی ساتل دي، چې په همدې لاره پالل کېږي او د ستر مذهب د کتاب "انسانیت" (چې ټوله نړۍ اداره کوي) منځپانګه او محتوا هم د عدم تشدد نرخونه او نورمونه ستایي او تشدد نه خوښوي، د انسانانو تر منځ کرکه او بېلتون ته د تشدد نوم ورکوي.

د جبر و استبداد یا زور او زیاتوب په مخکې د بې واکه او بې وزلو په ملاتړ درېدل او تر زور زیاتوب د لاندې اولس په ذهني روزنه سره په هغو کې د "ولي ویلو" د مزاحمت او مقاومت توان را سربېره کول عدم تشدد دی او د ظالم، جابر او مظلوم، اړ، مجبور تر منځ په روانه مبارزه کې بې پرې پاتېدل او لاس تر زنې کښېنستل هم د تشدد ملاتړ دی.

د جبر و استبداد د ربړو، ځورونو، زور زیاتوب او زندانونو د ډوالونو په حصار کې د مزاحمت په توان د انساني ارزښتونو او حقوقو برغ ژوندی ساتل د مظلوم اولس و زړونو ته همداسې ژوند او خوند ور بخښي، لکه د ډوالونو په حصار کې د خپلو ریښو په زولنو د تړل شوي غوږ ېدلي ګلاب خوږ بوی چې خلک په خپل ژوند خبروي...

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

انسان ته د انسان په سترګه کتل د عدمِ تشدد ویاړ دی او همدغه چاره بسنه او کفایت کوي او د انسانپالنې تر ټولو ښه دلیل او لاسوند دی.

دلیل خوښول د علم استاز یتوب او ملاتړ دی، د علم خلک د قلم او کتاب خلک وي او هغوی داسي هیڅ نه خوښوي، چې د ژوند اخستلو لامل ګرځي، لکه توره توپک او یا هم وژونکې وسله. د قلم او کتاب لاره د عدمِ تشدد لاره ده او د توپک، توري لاره د تشدد..

کوم قامونه چې علمي/ ساینسي وړتیا و نه لري؛ هغوی نه خو خپلې وطني شتمنۍ په کار اچولای شي او نه له نورو پرمختللو قامونو سره سیالي کولای شي، ولي سیالي په علم او هنر ده، پرمختګ او ودانۍ د علم او هنر په هینداره کې لیدل کېدلای شي، علم او هنر د عدم تشدد پالونکي دي او بې علمه او بې هنره ورځ د تشدد څرګندویه ده...

بده لا دا چې په لوی شمېر ټولنو کې او په ځانګړې ډول زمونږ په ټولنه کې پوهنیزه وړتیا (قابلیت) یا علمي رسایي هم (په لږ او ډېره استثنا) دومره نه شي کولای، چې د هر ډول منصب تر لاسه کوونکو لکه ډاکټر، وکیل، انجنیئر او نور آن چې د استادانو په فکر کې هم د انسان له یو بل سره د برابرۍ او سیالۍ فکري تومنه ځان نه شي ځایولای او نه پښې ټینګولای شي، چې انسان ته د انسان په سترګه وکتل شي؛ لاملونه به یې ټولنپوهان سپړي او څرګندوي به یې، خو دا جوته ده، چې په طبقاتي چاپېریال کې پوهنیزه وړتیا یا علمي قابلیت هم د انسانانو تر منځ د توپیر له منځه وړلو او د برابرۍ و احساس ته ځای نه پرېږدي او دا هم د تشدد درنه ـ خو له سترګو څخه څه نه څه نهامه بڼه ده او د انسانانو تر منځ د برابرۍ او سیالۍ منل د عدم تشدد لاره ده...

څرګنده دي وي، چې په هر زمان او مکان کې او د هرې ټولنې د سړیتوب په چوکاټ کې علمي یا پوهنیزه وړتیا ارزښت لري.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په دې لړ کې د **خان شهید** له خوا اردو ته ژباړل شوی د ډایسن کتاب "آزادی کا افق" په کتلو ارزي، چې لوستونکي فکر او ذهن ته لاره روښوي. پای دا چې د جبر و استبداد پاللو لپاره د هر ډول وسایلو په وړاندې د خندې او ځنډې لاره په فکري مزاحمت او پوهنیزه وړتیا سره پالل او تر بریا پورې د مقاومت هوډ لرل د عدمِ تشدد لاره ده...

د پورتنیو اوږدو خبرو وړاندې کولو څخه مرام دا دی، چې د تودې او توندې مبارزې د ډېرې اوږدې زمانې په شالید لرونکې تولنه کې "چې اقتصاد یې ځپلی، جغرافیه او قلمرو یې د بشپړاک او ځپښناک تر څپو لاندې وي، په خپل منځنیو شخړو، بدیو او تربګنیو کې بشپړ پاته وي، د ځان ځانې (Individualism) په خم کې ننښتې وي" نو په داسې تولنیز چاپېریال کې سړې مبارزې ته زړه ښه کول او د داسې ځان ځانې فکر لرونکې تولنې ته د تولنیز فکر لوری روښول، د ځان ځانې کتپو پر ځای ورته د تولنیزو کتپو ارزښت ور په ګوته کول او په ذهني روزنه سره ست کول یوازې او یوازې د عدمِ تشدد په وړتیا تر سره کېدای شول، چې نومورو سیاسي، قامي مخکښانو په ژورلید سره په خپل زمان او مکان کې د تولنیز چاپېریال په څارلو د جبر و استبداد له منګولو څخه د ژغورلو او د تولنیزې ودانۍ او پرمختګ لپاره خوښه کړه او د هر ډول ستونزو، ربړو، زندانونو په ګالو یې د مزاحمت او مقاومت دغه اوږده لاره په نه ماتېدونکي هوډ سره و پالله، چې په سر کې یې درونده مخکښ باچاخان (عبدالغفار خان) او **خان شهید** (عبدالصمد خان) ولاړ او پالونکي وو او د عدم تشدد په اړه یې پورتنۍ وړاندې کړل شوي خبرې او لارې په خپل درانه کردار تر سره کولو سره زباتې او جوتې هم کړې.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تشدد زیاتوب او تېري ته وایي او دا د ژوند په هره لاره کې امکان لري، نو په کار ده، چې د انساني ژوند په علمي، مذهبي، سیاسي، کلتوري او نورو ژوندنیو لارو چارو او څانګو کې په ذهني او جسماني توګه له تشدد، زور او زیاتوب تر سره کولو څخه ځان وساتل شي.

مانا دا چې د هغوی په وینا او کړنو کې د نیوکې هیڅ داسې ځای نشته او نه به یې څوک په ګوته کړای شي، چې موږ ته دې یې د ذهنیت د نهیلۍ او له خپلې لارې څخه د بېزارۍ کومه نخښه را په زړه شي، نو ځکه خپل دور او زمانه د دوی په نوم شوه او تاریخ په خپله غېږه کې د مخکښانو ځای ور په برزو کړ، د همدغه یاد پیاوړي کردار په اړه استاد لیکوال اکادمسسین اروانباد سلېمان لایق داسې لیکي:

" **خان شهید** عبدالصمد خان د انګریزي استعمار ضد مبارزانو هغې برخې ته منسوب دی، چې په مبارزه کې یې صبر، تحمل، زغم او زړور توب غټ ځای درلود. د مبارزې دا سیاسي مکتب چې په رهبري کې یې د هند د نیمې وچې ستر سیاسي شخصیتونو "لکه مهاتما ګاندي، باچاخان، جواهر لال نهرو، مولانا ابوالکلام آزاد او نور شامل وو" **خان شهید** هم دغه مکتب ته منسوب دی او له همدغو رهبرانو سره یې په یوه لیکه کې د مبارزې جنډه وړله. دا مبارزین او رهبران چې په یوه وړاندنې نسل پورې اړه لري، د نړۍ یوه عظیم استعماري قدرت ته یې ماته ورکړې ده، نو ځکه په اولسونو کې د احترام او لمانځنې ځای لري." (۶)

د **خان شهید** په اړه د استاد اروانباد لایق وینا هلته نوره هم باوري شي، چې د نومورې ژوند لیک په ژور لید سره و پامول شي، نو باوري کېږي، چې د زغم په زړور تیا سره یې د یادو مخکښانو په څنګ کې خپله مبارزه په ډاډمن زړه او ذهن تر سره کړې ده. هغه هم د داسې تشدد په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وړاندې چې د ټولواکو او زورواکو له خورې کړې وېرې ترهې له کبله یې په ټولنه کې ذهني غلامۍ او مریېتوب ریښې نیولې او پیاوړې کړې وې، چا هم د زړه خبره په خوله نه شوای کولای، د لوی شمېر په خوله یې یوه او په زړه بله وه، په زړه نه د سرکار وو او نه د بادار، له هر چا سره یې تش په شاپون (چاپلوسي) د ژوند ټېرولو ذهن او زړه درلود، آن چې د مخورو او تش په نوم مشرانو واک یې هم د پردیو تر لاس لاندې وو، د ځان ځانۍ بلا پښې ټینګې کړې وې او هر چا په هر څه کې د ځان ګټه پاموله، خو **خان شهید** او ملتیاکوونکي یې پوهېدل، چې په ټولنه کې خواره شوي او پیاوړي فکري بندیزونه/ قیودات د ټولواکو او زورواکو له خوا د ځینو بالکیانو (لاسپوڅو/ ګوډاګیانو) په ملاتړ پالل کېږي او اولسونه په داسې ربړو او کړاوونو کې ساتل شوي دي، چې له ذهني خپلواکۍ څخه بې برخې پاته دي، چې دا د تشدد اوج او ببڅې څرګند انځور (تصویر) وړاندې کوي، ځکه یې د سیاست او پوهنیزې وړتیاد پلویانو په ملاتړ د دغه بندیزونه او قیوداتو ماتولو لپاره پر ځان د هر ډول ستونزو او کړاوونو په منلو و مزاحمت او مقاومت ته زړه ښه کړ.

زما په خیال د عدم تشدد د لارې پاللو لپاره به تر دې نور څومره باوري لاسوند او دلیل و لرو، چې **خان شهید** او ملګرو یې په خپل زمان او مکان کې په ټول ژوند نه کومه داسې ناوړه چاره تر سره کړې وه او نه یې تر کلتورې سرېتوب پښه اړولې وه، نه یې له مذهب سره داسې کوم تضاد درلود او نه یې خدای مه کړه؛ د چا زړه آزار کړی وو، اپوټه یې د قام پر مخټګ او ودانې غوښتله، ولې بیا یې هم د ژوند لویه برخه په زندانونو کې تېره کړه، نو ځکه دوی د خپل زمان او مکان مخکښان و نومول شول او د دوی په وړاندې د رېدونکي د جبر و استبداد استازي و نومول شول، چې پای یې ماته (شکست) هم په برخه شوه...

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په دې لړ کې یوه ډېره ساده خو ژوندۍ پوښتنه د اولسونو په ذهنونو کې ګرځي را ګرځي، چې په ټولنه کې تر ټاکلو نرخونو او نورمونو پښه اړوونکي ته سزا ورکول کېږي او یا هم لږ تر لږه خلک مخ ځنې اړوي، خو داسي څوک په سزا، ځور او کړاو رسول چې داسي هیڅ تور، پور وربانديي نه وي، په ټولنه کې یې د سړیتابه له کوم چوکاټ او نرخ څخه سرغړونه نه وي کړې، د ځان لپاره د کومې مادي ګټې ذهن او زړه هم نه لري او د خپلې پوهنیزې، علمي وړتیا په وس او توان د قام ښېګړه او ودانۍ، سیالي هم غواړي، له اولس سره ولاړ او ملاتړ وي، په لوی زړه د زور زیاتوب پالونکي په وړاندې د هرې ناوړې ردولو ذهن او زړه هم و لري، نو پوښتنه را منځ ته شي، چې د داسي فکر او ږغ مخنیوی د څه لپاره تر سره کېږي او څوک یې کوي؟ آیا! اولس یې کوي؟ زورور او زیاتوب پالونکي یې کوي؟ له داسي یو لړ پوښتنو سره چې کوم کردار د اولس ذهن مخامخ کړلای شي، دغه کردار د اولس د فکري روزنې توان لږونکی کردار وي، دغه کردار د زغم او عدم تشدد کردار وي، دغه کردار په اولس کې د سیاسي، قامي ودانۍ د ذهنیت غوړوونکی او تبارز کوونکی کردار وي، دغه کردار ټولنیز ذهن ته د پرمختګ/ ودې او پوهې د وَر پرانستونکی او لاربنود کردار وي، دغه کردار ژوندانه ته را بلونکی کردار وي او داسي پیاوړی او توانا کردار د اولس زړونه او ذهنونه په ځان پسې کولای شي، نو موږ د هرې ټولنې او په ځانګړې ډول په پښتنې ټولنه کې د داسي پیغامبرانه کردارونو پوروړي یو، چې موږ ته یې د زور زیاتوب په وړاندې دخپلواکۍ ذهن او زړه را کړی دی. څرګنده دي وي، چې د **خان شهید** د قامي مبارزې په لړ کې وړاندې هم دا خبره شوې ده او د پښتنې ټولنې د تودې/ توندې مبارزې تر اوږده چاپېریال وړاندې کولو وروسته د عدم تشدد په وس او توان له

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تودې او توندي مبارزې څخه د سړې مبارزې لوري ته د ټولنیز فکر د اووښتون او انقلاب چاره تر سره شوې ده او دغه مبارزه تر اوسه پورې د مزاحمت او مقاومت پالونکو ګوندونو له خوا د ټولنیز ژوند د ودانۍ او پرمختګ لپاره پلي کېږي، روانه ده او روانه به وي.

تمدن پر نړۍ مینه خوروي
نه چې وینه د وګړیو تویول دي
د ژوندون د پرمختګ مبارزه ده
توپ او ټانک په اور د مینې ویلول دي (۷)

سرچینې:

۱: اخکزی، عبدالصمد خان، زما ژوند او ژوندون، دویم ټوک، خپرووونکی؛ پښتونخوا خوروني، چاپکال ۱۳۸۴ل ۲۰۰۴ز، ۲۸۰، ۲۸۱ مخونه

۲: د خان شهید علمي او ادبي خدمات، خپرندوی، پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه، مشموله، د خان شهید د ژوند لنډه خلاصه، چاپکال ۲۰۱۲ز مخ ۲۹

۳: آزاد، محمد نعیم، ناچاپه شاعري، له یادښت څخه

۴: اخکزی، عبدالصمد خان، زما ژوند او ژوندون، دریم ټوک، خپرووونکی؛ پښتونخوا خوروني، چاپکال ۱۳۸۳ل ۲۰۰۴ز، مخ ۲۹

۵: همدا پورتنی نښیر (اثر) مخ ۴۴

۶: لایق؛ سلیمان. د خان شهید یاد، خپرووونکی؛ د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، مشموله، د لایق وینا، چاپکال، ۱۳۷۰ل ۱۹۹۱ز، ۳/۲ مخونه

۷: آزاد، محمد نعیم، له خپل یادښت او اولسي رسنۍ له پانې څخه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

«خان شهید (عبدالصمد خان) د خپل ژوند لیک په هینداره کې»

«دریم څپرکی»

۱: د خان شهید ادبي کردار (شخصیت) او هڅې ۳۲۳
۲: د پښتو او پښتنو لپاره د خان شهید د ژباړو ارزښت ۳۴۷
۳: د خان شهید د پښتو لیکدود په اړه ۳۵۸
۴: د خان شهید په اړه د پوهانو او لیکوالو نظرونه ۳۸۷
۵: د خان شهید په ژوند لیک کې د ځینو ځانګړو پښتو تورو ۴۲۲
۶: د خان شهید د لاهور عدالت بیان ۴۵۴

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

«د خان شهید ادبي کردار (شخصیت) او هڅې»

«پښتو ننګ او ننګ پښتو ده»

خان شهید (زما ژوند او ژوندون، دویم ټوک ۲۰۸ مخ)

درونډ استاد اروانباد عبدالحی حبیبي د خپل هېواد په اړه لیکي:

"زموږ ګران هېواد افغانستان هغه خاوره ده، چې تر تاریخ د مخه له لرغوني دورو څخه بیا تر اوسه د مدنیتو چینه، د فرهنګو د تېرېدو لاره او د انساني فکر او تهذیب ځانګوه او د تاریخ په لمنه کې له دې فرهنګ زېږوونکي خاوري څخه ښه غښتلي دولتونه را پاڅېدلي دي او هم د دې خاوري خلکو په تاریخي کشمکشو کې تل خپله آزادي او ملي بڼه ساتلې ده." (۱)

د انساني فکر او تهذیب په دغه ځانګو وطن کې، د مدنیتونو او فرهنګونو په غوړېدلې لاره کې، د ژوند او ادب د پنځوونکي وطن په غېږه کې د پوهنیزې وړتیا (علمي قابلیت) لرونکي یو شمېر شخصیات هم زېږېدلي، ځنګېدلي او را لوی شوي دي، چې د ژوند د ودانۍ او پرمختګ د نظریاتو پنځوونکي او را سرېږه کوونکي دي.

هره نظریه په خپل شالید کې د یوې ټولنیزې څپاندې فکري روحیې ملاتړ په برخه لري، چې په چاپېریال کې یې تومنه وي، خو د یوې پوهنیزې وړتیا (قابلیت) لرونکی څرک او ځیرک ذهن یې د خپل زمان او مکان په ټولنیز ذهن او زړه کې په ژور لید سره تر احساسولو وروسته د وړاندې کولو توان و لري، مانا دا چې تر ژور لید او احساسولو وروسته په ښه توګه د ټولنیزې غوښتنې را سرېږه کول او د هغې د پوره کېدا لپاره د کومې لارې تاکل د پوهنیزه یا علمي چاره ده،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې د ټولنیز ژوند و ژورو ته د رسېدلو لپاره کوم هڅاند ذهن ته تر ډېر منبود، تپ (ریاضت) او کړاوورووسته را څرګنده او انکشاف مومي، همداسي د ټولنیز پرمختګ لپاره په دې هڅانده او کړاوجنه لارکې و کړاوونو او ستړیاګالونکو ته په ټولنیز ذهنیت کې د ځان ځایولو وياړ ور په برخه کېږي او داسي څوک ټولنیز استازی و بلل شي، چې تاریخ یې هم په خپله غېږ کې د نوم په خوندي کولو او ساتلو سره د تلپاتیوالي وياړ ور پېرزو کوي.

ویلای شو، چې داسي وياړلي وګړي او کردارونه هر زمان او مکان ته په برخه شوي او په تاریخ کې ثبت پاته شوي دي، چې په ببلا ببلو پوهنیزو (علمي) لارو کې یې خپل هڅاند کردارونه تر سره کړي دي، چا په سیاست کې، چا په ادب، چا په فلسفه کې، چا په ساینسي نړۍ او چا په نورو لارو چارو کې... همدغه کردارونه په ټن کې هم لاربنود ارزښت ځکه په برخه لري، چې اولسونه له پرون څخه زدکړي کوي او په ټن کې د راتلونکو سباوون لپاره د ودانۍ په هیله هڅاند ګامونه اخلي.

په داسي ټولنیزو کردارونو کې یو شمېر داسي کردارونه او شخصیات هم وي، چې په ببلا ببلو اړخونو کې یې تر سره شوي چارې او هڅې د یادولو وړ وي...

خان شهید (عبدالصمد خان) هم له هغو ټولنیزو شخصیاتو څخه دی، چې مو ږ یې پر ببلا ببلو اړخونو باندې څېړنیزه هڅه تر سره کولای شو. د نوموړي د ګڼ اړخیز شخصیت په اړه سر محقق دروند استاد زلمی هېوادمل د خپلو خیالاتو څرګندونه داسي کوي، چې:

"زما په پوهه کله چې د **خان شهید** د ژوند پر ببلا ببلو ابعادو (اړخونو) د بحث موضوع را مخ ته کېږي، د ده د شخصیت ډېر متبارز ابعاد درې دي، د مشرۍ بعد، سیاسي بعد او فرهنګي بعد... خان د هند د نیمي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وچې تر وېش د مخه او وروسته د ولس (اولس) منافعو ته په پاملرنه اصولي مبارزه وکړه، بېلا بېل احزاب او تنظیمونه یې جوړ کړل او په دې لاره کې یې ډېر کړاوونه او زندانونه ولیدل او بیا په همدې سیاسي لاره کې قرباني شو او د شهادت جام یې وچینښ." (۲)

د پورتنۍ خبرې په باور ویلای شو، چې هر ټولنیز شخصیت متبارز اړخ یا اړخونه لري، چې په ټولنه کې یې تبارز کړی وي او د ټولنیز ژوندانه د سمون او پرمختګ په لاره کې (چې وس او توان یې چېرې هم رسېدلی وي) خپلې هڅې یې تر سره کړي وي. د **خان شهید** پوهنیزې وړتیا (قابلیت) هم د هغه په اندامونو کې دومره توان او وس اچولی وو، چې د اولسي خدمت پر اډانه (بنیاد) باندې یې د سیاسي او ادبي (فرهنګي) کردار لاره ځان ته ټاکلې او په ټاکلو لارو کې یې پخپله ځیرکتیا، هوډ او اولسي مینه د ټولنیز پرمختګ او سمون په لاره کې دومره پیاوړی، غوړېدلی او ځلنده کردار لرلی دی، چې د اولسونو غبرګون، د پوهانو منل او ارزول یې او مور ته په پېړۍ پېړۍ د تلپاتیوالي باور راکوي، خو د ټاکلي سرلیک په رونا کې په کار دی، چې د **خان شهید** په ادبي هڅو وړاندې کولو سره د نوموړي ادبي او فرهنګي شخصیت و لوستونکو ته وړاندې کړو.

تر ټولو مخکې به د نوموړي شخصیت د ادبي چاپېریال په اړه دا و وایو، چې د **خان شهید** ذهنیت د ځوانۍ په کلونو (۱۹۲۵-۱۹۴۰ز) کې مخ پر غوړېدو وو، ورځ په ورځ یې ذهني کېنوس ته پراختیا په برخه کېدله او پر پښتني چاپېریال سربېره یې له نورې نړۍ سره د پښتني ټولنې د اړیکو، رویو، خوی بوی په خبرتیا تر لاسه کولو ذهن غوړېدی، د فکر پر دښته یې د سیاسي ذهنیت نیالګي ښه پوره ریښې نیولې وې، فکري غوړېدا یې د باور او رشد په پړاو کې وه او له همدې فکري غوړېدا او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

رشد سره سم یې د اولسونو ویښتابه او بیداری هم په ملتیا او ملاتړ همکاري کوله، چې ورسره ورسره د پښتو ادبیاتو په تګلوري کې هم بدلون را سربېره شوی وو او د ریالیستیک میلان لوري ته یې ګامونه اخستې وو، ورځ په ورځ یې پرمختګ ته چټکتیا او ګړندیتوب په برخه کېده، مانا دا چې سیاسي ودي او فعالیت یې په کلتور او ادب کې د غوړېدلي ذهنیت، مزاحمت او مقاومت توان را منځته کړی وو، نوي نوي لاري پرانستل کېدلې او نوو ژانرونو پښتو ادب ته لاره کوله، د پښتو ادب د غوړېدا او کشف د دې دورې په اړه روسی لیکوال اروانبلاد ګ، ف، ګیرس داسي لیکي:

"د رواني پېړۍ دېرشم کلونه د پښتو ادبیاتو د انکشاف د دوه اساسي مرحلو په منځ کې یو مهم سرحد ګڼل کېږي، یوه ماضي مرحله ده، چې پر کلاسیکو عنعنو بنا ده او بله عصري مرحله ده، چې د شخصي اسلوبونو او سبکونو تنوع او غنایي خاصه ده او مختلف آثار او رنګارنګ سبکونه لري، چې دا بیا د نوو ادبي جریانونو د تشکیل لپاره شرایط برابروي، خاص په هغه وخت کې د ریالیستي واقعیت او ورځنۍ ژوند څرک و لیدل شو او د خلکو د اضطراب او آرزوګانو د ترسیم خواته د لیکوالو قاطع تمایل او بدلون منځ ته راغی..." (۳)

له پورتنیو خبرو څخه باوري کېږي، چې دغه دوره د پښتني ټولنې د ذهنیت د غوړېدا او پرمختګ دوره ده، خو ورسره دا خبره هم ټول ځلې او جوته ده، چې د داسي پرمختګیزو چارو په مخکې په هر زمان او مکان کې جمود خوښوونکي را پورته شوي او درېدلي دي، د پرمختګ په لاره کې یې د ځنډ او خنډ را منځته کولو هڅې کړي دي او د خپلو شومو هیلو او ځاني ګټو د ساتنې لپاره یې ښکېلاګګرو او ځبښناګګرو له ملاتړ او کومک څخه هم مخ نه دی اړولی...

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دلته هم که د پښتني ټولنې د برمختګ او ذهني غوړېدا چاپېریال په ژورلید سره وځارل شي، نو ځارونکي لیدلای شي، چې کورنۍ ژرکوسیان د خپلو ځانې ګټو تر لاسه کولو او ساتلو لپاره د ځېښناکګر او ښکېلاکګر ذهنیت له ملاتړ او ملتیا څخه هم نه دي راګرځېدلي او دغه ناوړه چاره ته یې هم په مړو سترګو ذهن او زړه ښه کړی دی او هغوی هم په دم/ درم او قدم د خپلو مرامونو او اهدافو لپاره خپل ګوډاګیان پر ملا تپولي، دادلي او ساتلي دي...

موږ وینو، چې د پښتنې ټولنې د دې یاد شوي پرمختګ او غوړېدا په مخکې هم د جمود خوښوونکو ذهنیت را پارول شوی دی، د خندې او ځندې را منځته کولو لپاره یې لېښې را غرلي دي او په دې لړ کې یې هر ډول وړ او ناوړه چارې تر سره کړي دي، آن چې د نړیوال منل شوي ښکېلاکګر او ځېښناکګر له ملاتړ او ملتیا څخه یې هم مخ نه دی اړولی، ځکه هغوی په ملتیا او ملګرتیا غوښتل، چې د خپلو شومو هدفونو او مرامونو په لاره کې د خندې او ځندې لامل جوړېدونکی ژوندی بڼ مخکې تر دې "چې د اولسي ملاتړ په تر لاسه کولو سره د دوی مخنیوی وکړای شي" خپه او زیندی کړي، ځو په داسې توګه یې ګټو ته زیان و نه رسېږي، همداسې د دوو فکرې لوړیو تر منځ د ښه او بد، وړ او ناوړه، پر ځای او بېځایه تر منځ د جګړې ډګر له ذهنونو څخه ټولنیز مځکنې چاپېریال ته را ځرګند او ښکاره شي، یوه ډله په لاسو او دلیل وړاندې کولو سره د خپلواکۍ او اختیار غوښتونکې شي، چې د عدم تشدد مانا د دلیل او لاسوند پلویان وي او بله ډله د خپلو شومو هیلو او ګټو لپاره د زور او چل د لارې په خپلولو د زور زیاتوب او جبر لاره خپلوي، چې د تشدد او زیاتوب پلویان وي، د دې دوو ډلو تر منځ جګړه په هر زمان او مکان کې روانه پاته شوې ده، چې کله تونده او کله

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سړه بڼه خپلوي، خو په ژوندي تاریخ کې د دې دواړو ذهنیتونو تر منځ ترسره شوو جګړو جوته کړې ده، چې د مستبد او زورواکی ذهنیت شومي هیلي او هدفونه تلپاتیوالی ځکه نه لري، چې په وړاندې یې ژوند ساتونکو هره مبارزه د ژوند په اوږدو کې تر سره کړې او ګټلې ده.

د پښتني ټولنې د یادي شوي دورې مهال که په ژورلید سره وڅارل شي، نو په کلتوري، سیاسي او پوهنیزه یا علمي توګه د ذهني غوړېدا په مخکې یې د خپلو او پردیو په وس او ملاتړ خورا ډېر خنډونه را منځته شوي او را پورته کړل شوي دي، خو دا چې د مستبد او زورواکي ذهنیت له خوا ځومره هم زور زیاتوب زیات شوی دی؛ هومره یې په وړاندې د قامي وینښتابه او بیداري بهیر پیاوړتیا موندلې ده. د دوو ذهنیتونو تر منځ دغه یاده شوې جګړه که هر ځومره تونده شوې، مستبد یا زورواکي ذهنیت که هره ناوړه لاره خپله کړې او هره وسیله ته یې لاس اچولی دی، په مقابل کې یې ولاړ او مبارز ذهنیت هم هر ځای په لوی زړه او واز کومي و ناوړو ته په ناوړه ویلي او د مبارزې په دې ویاړ منه لاره کې یې خپل وس نه دی سپمولی، آن چې په هر ډګر او هره لاره کې یې د زړه بڼ په خپله وینه هم ثبت کړی، رسولی او انځور کړی دی، چې نړیوال تاریخ یې ډېري ببلګي وړاندې کوي.

له انتقادي ریالیزم څخه و ټولنیز (اجتماعي) ریالیزم یا رښتیا خوښوونکي ټولنیز ذهنیت ته لاره وهل، له ناوړه (دردې) او جادویي یا مېجیکل څپې څخه په ځان ژغورلو له غلامانه ذهنیت څخه د پرمختګ خوښوونکي، سپېڅلي خپلواک او سوکاله چاپېریال ته د ټولنیز ذهنیت ایستلو په مبارزه کې ډېري لوړې ځوړې راځي، د مبارزې په دې ستونزمن پړاو کې د تر سره کېدونکو سیاسي، کلتوري او علمي هلو ځلو و شاته د ادبي یا فرهنګي ذهنیت روزنیز ملاتړ او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مرسته جوته وي، چي له بېلا بېلو وسیلو څخه په کار اخستلو تر سره کېږي. پښتني ټولني هم په خپل ټولنیز چاپېریال کي د پرمختګ خوښوونکي ذهنیت په را ټولولو کي د خدایي خدمتګار غورځنګ ۱۹۳۰ز پیلیزه تومنه او د انجمنِ وطن ۱۹۳۸ز ملاتړ او ملتیا درلوده.

د پښتني چاپېریال تېري زمانې هم که و څارل شي، نو د تاریخ په اوږدو کي موږ وینو، چي د فکري ډګر په ټولنیزه مبارزه کي سیاست او ادب خپله ملتیا ساتلې او یو د بل مرستیال پاته شوي دي، د پښتني ټولني د اولسي برم څرک د امیر کروړ په ویاړنه کي هم لیدل کېږي، د بایزید روښان مبارزه هم ادبي او سیاسي دواړه اړخونه لري او په اولسي فکري روزنه کي یې د روحیې ساتني په ملاتړ د روښانیانو د دورې ادیبان ولاړ ښکاري، ورسره یې د مذهبي میني تومنه هم تانده او ملګرې وه. د درانه خوشحال بابا د سیاسي مبارزې شاته هم د یوه بشپړ بهیر ادبي ملاتړ لاس لرلی دی، د میرویس نیکه په دوره کي ادبي دربار خورا پیاوړی او ادیبانو یې د قامي او سیاسي تشخص ساتني په لړ کي پوره زیار ایستلی دی او ډېر څه یې تر سره کړي دي. د درانه احمد شاه بابا د سیاسي برم او بریاوو آزانګې تر نن ورځي پوري اورېدل کېږي او د پښتنو/ افغانانو د تاریخ یو ویاړمن څپرکی (باب) جوړوي، چي ورسره یې په دیوان کي د وطني میني آزانګې هم ملتیا کوي او نن یې هم په شعري ویناګانو باندي پر هرسیاسي دریځ د وطني میني باور او پخلی تر سره کېږي او داسي نور... نور

که هر څو مي د دنیا ملکونه ډېر سي
زما به هېر نه سي دا ستا ښکلي باغونه
د ډیلي تخت هېرومه چي را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه (۴)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په اوسنۍ دوره کي که موږ د شلمي زېږدیزي پېړۍ زمانه و څارو، نو د ادب او سیاست داسي ملتیا او ملاتړ په ښه ډول تر سترګو کېږي، چي یوې خوا ته یې د ملا عبدالسلام اشېزي (۱۳۰۰-۱۳۹۴ هـ ق) غوندي شاعرانو ملاتړ په برخه دی او بلي خوا ته یې د خدایي خدمتګارانو ادبي لړۍ په سر کي ولاړه او د پښتون اولس په هر اړخیزه فکري روزنه سره یې د فکري مبارزې ډګر تود ساتلی دی او د خپلواکۍ تر بریده پوري یې بریا هم په برخه شوې ده. د همدې غوړېدونکي او نوو میلاناتو ته د لاري وهونکي ادبي دورې په سر کي په سلګونو نوموړي ادبي مبارزین ولاړ وو، چي د سر لارو مخکښانو ویاړ یې و درنو مشرانو باچاخان (عبدالغفار خان) او **خان شهید** (عبدالصمد خان) ته په برخه وو، چا چي د ادبي ذهنیت په لاره ټاکنه کي په زړه پوري کردار لرلی دی، "د مېړني اولس ادبیات" نومي کتاب کي ګ، ف، ګېرس د **خان شهید** د کردار په اړه داسي لیکي:

"لا په هم هغه کلونو کي ډېرو ادیبانو او لیکوالو هغه مهمه لیکنه تصدیق او لاس لیک کړه، چي ستر اجتماعي شخصیت خان عبدالصمد خان اڅګزي وړاندي کړې وه، د ده په عقیده ادب لکه سیاست د جنګ د ډګر حیثیت لري، چي زوروري مبارزې پکي کېدای شي، دی وایي (لیکوال باید سپاهي وي او قلم یې د توري او چړې غوندي کار وکړي، که ادب یوازي د ساتېري وسیله شي او ژوند ته یې مخه نه وي، په دې صورت کي ادب حتی د هېواد د انکشاف او تمامیت په لاره کي خنډ واقع کېږي او د ګټي نه به یې ضرر زیات وي او په دې تقدیر د لیکوالو شمېر کېدای شي؛ لږ شي.)"(۵)

په دغه یاده شوې دوره کي "لکه مخکي چي هم یادونه وشوه" د ټولنیز ذهنیت د غوړېدا لپاره په زړه پوري کار شوی دی او موږ یې د سیاست

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او ادب د ملتیا او ملګرتیا زرین دور بللای شو، په ځانګړي ډول پښتو ادب په دې زمانه کې ښه وغوړېدی، خپله پاملرنه یې په ډېر ګړندیتوب سره د ژوند لوري ته واړوله او ښه پوره پرمختګ یې په برخه شو، په پښتون اولس کې یې تبارز ځکه وکړ، چې په منځپانګه کې یې د اولس د زړه ډغ ته ځای ورکړل شو او له خیالي دنیا څخه یې ځان د ژوند ډګر ته راوَ یوست، څه چې په نن کې ربښتیا او واقعیت وو، هغه یې وړاندې کړل او د رانه سباوون لپاره یې د خلکو په زړونو کې د خپلواک او غوړېدلي ژوند هیلي را و توکولې...

مطبوعات که څه هم مخکې راغلي وو، خو د وسیلې په توګه یې دقامي ودانۍ لپاره په کار اچولو ذهن او زړه هم په دې دور کې را منځ ته شو او تر اولسه پورې د خپل ډغ رسېدلو لپاره پښتنو له دې وسیلې څخه کار اخستل پیل کړل، ورو/ ورو د مجلو او جرایدو لړۍ پیل شوه، باوري سرچینې یادوي، چې په ۱۹۲۱- ۱۹۲۲ز کې شپږ ویشت چاپخونې وې، چې اوولس چاپخونې یې یوازې په پېښور کې وې او په دې دور کې یوه ورځپاڼه "پېښور ډیلي نیوز" د ۱۱۵۰ په تیراژ خپرېدله، خو تر دې مخکې یو اخبار "افغان" له پېښوره په ۱۹۱۰- ۱۹۱۱ز کې خپرېدی، چې راحت زاخېل یې د پښتو برخې وډونکی او وروسته یې چلوونکی شو، په آزادو قبایلو کې لومړنی اخبار "المجاهد" په ۱۹۲۲ز کال په چمرکنډ کې تاسیس او په میاشت کې دوه ځله خپرېدی، چې د پښتنو د خپلواکۍ د غورځنګ ملاتړ وو، په ۱۹۲۵ز کې "سرحد" او "رساله افغان" له مردان څخه خپرېدل، "سرفروش" د عبدالرحیم پوپلزي، "همدرد افغان" د خان میر هلالي او پښتو میاشتنۍ مجله "ستړی مه شې" په ۱۹۲۸ز کې پښتون مجله د درانه مخکښ مشر **باچا خان** له خوا تاسیس شوه، چې لومړی په اتمانزو او بیا په سردریاب

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کې خپرېدله، په ۱۹۳۰- ۱۹۳۱ز کې د نوموړي لیکوال راحت زاخېلي، او "سیلاب" صاحبزاده محمد اسلم ۱۹۳۱ز ایسته، ورپسې د ۱۹۳۲ز "انګار" چې په اولس کې یې د لیکوالو او شاعرانو په ملاتړ د ملي شعور او خپلواکۍ روحیه خپروله... په ۱۹۳۲ز کې په غازي آباد کې پښتو مجله "شعله" د ترنګزو د حاجي صاحب په ملاتړ او په ۱۹۳۷ز کې مولوي عبدالحي "لمبه" مجله تاسیس کړه، په ۱۹۳۸ز کال کې **خان شهید** استقلال خپراوه او په همدې کال محمد نواز خټک اوونیزه "وطن" جریده و ایسته او داسي نوري مجلې او ورځپاڼې وې، چې د خپلواکۍ، پرمختګ، ودانۍ او زدکړو په لړ کې یې د اولس د زړونو بوغ په ښه توګه خپراوه، تومنه یې له پرمختللیو ادبیاتو څخه واخسته او پښتو ادب ته نوو نوو ژانرونو لاره وکړه، چې منځپانګه یې ژوندنیو ستونزو او سبانیو هیلو ته ځانګړې وه، انجمن اصلاحِ افاغنه، انجمن وطن، خدایي خدمتګار تحریک (غورځنګ) او نورو پیښونونو د سیاسي او ادبي هڅو په رونا کې له ځان ځانې څخه ټولنیز فکر یا اجتماعیت ته لاره وو وهله او د لیکوالو له خوا د ځانله کتابونو چاپولو په څنګ کې د خلکو د اذهانو د غوړېدا او تنویر لپاره د مجلو د خپرېدا لاره خپله کړل شوه، چې د ستر مخکښ **باچا خان** (عبدالغفار خان) له "پښتون" ۱۹۲۸ز مجلې څخه دغه لړۍ په خپله سیمه کې د **خان شهید** (عبدالصمد خان) تر بنسټیز ارزښت لرونکي "استقلال" پورې را ورسېده له، چې دواړه کله له ځنډ او کله له خنډ سره مخامخ شوي دي او وروسته د زورواکانو له خوا بند کړل شوي هم دي، د خپلواکۍ غوښتونکو او پرمختګ خوښوونکو له خوا د خپلې ژبې د ودې او پرمختګ لپاره هڅې د قامي ویښتابه، او تشخص ساتنې لپاره تر سره کېدلې او د زورواکانو له خوا یې مخنیوی ځکه تر سره کېدې، چې د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ځېښناکګرو ګټې ورسره اند ښمنې کېدلې، د دې ټولو هڅو پایله دا وه، چې ایله د نولسمې پېړۍ د دېرشمو کلونو په پای ۱۹۳۹ز کې پښتو ژبه پیلیزو ښوونځیو ته ور ننوتله، په دې دوره کې چې کله صاحبزاده عبدالقیوم ماتېږي او واک کانګریس ته رسېږي او د لومړي وزیر په حیث ډاکټر خان صاحب ټاکل کېږي، خو بیا هم چاپېریال داسې وي، نومورې لیکوال ګیرس لیکي:

"کومه فیصله چې به د ډاکټر خان صاحب کابینې وکړه، هغه به تر هغې پورې د اعتماد وړ نه وه، تر څو به چې په پښتون کې انګلیسي ګورنر جارج کننګهم تصدیق نه کړه، مثلاً په ډېر تکلیف سره د پوهنې وزیر قاضي عطاءالله خان و کولای شول، چې انګلیسي حکومت ته قناعت ورکړي، چې د صوبه سرحد په ابتدایي مکتبونو کې د پښتو ژبې داخلول ضروري او ګټور کار دی، په اېبټ اباد غونډه کې نر سختو نیوکو وروسته نتیجه دا شوه، چې د صوبه سرحد په ځینو ابتدایي مکتبونو کې پښتو ژبه په تدریسي پروګرام کې و نیول شوه." (۶)

د مورنۍ ژبې په اړه همدغسې هڅه او پرېږ (تجویز) د **خان شهید** په ګومارلو د بلوچستان د ټول پښتون، بلوڅ په استازیتوب د ۱۹۳۲ز کال د جېکب اباد په لومړۍ سیاسي، قامي غونډه کې عبدالرحیم حساس وړاندې کړی وو "چې ښوونه یا تعلیم دې په پښتو ژبه شي" تر وراشو یا مباحثو وروسته قرارداد منل شوی وو او ټول دې ته جوړ شول، چې د هر چا وړو ته دې په مورنۍ ژبه ښوونه کېږي، خو **خان شهید** لیکي:

"په غونډه کې د دوی دا ګومان وو، چې بلوڅي ژبه لا د دې جوګه او وړ نه ده، ګومان مې دی، چې په پای کې مو دا سره و منله، چې د پښتنو بچیانو ته دې لومړۍ ښوونه په پښتو وي. دا هغه تخم وو، چې د ډېرو قامي جنګو او پښتني غورځو پرځو پس په دېرش کاله کې نن په مټې د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بناغلي جرنېل ایوب خان په مشري کې تر مارشل لا لاندې ایوبي سرکار غاړه ورته کښېښوولە...." (۷)

وروسته بیا دا لړۍ په غځېدلو سره تر نورو مجلو او ورځپاڼو پورې رسېدلې ده، چې د خپل وخت په زړه پورې استازیتوب یې تر سره کړی او خپله لاره یې تر خپله وسه پورې پاللې ده. لکه:

"جمهور اسلام" ۱۹۵۱ز "اباسین" ۱۹۵۲ز "پښتو" ۱۹۵۶ز "لار پېښور" ۱۹۶۱-۱۹۵۶ز مارشل لا بنده کړه "رهبر پېښور" ۱۹۵۷-۱۹۶۱ز مارشل لا بنده کړه "جمهوریت پېښور" ۱۹۵۷-۱۹۶۱ز مارشل لا بنده کړه "گلستان پېښور" ۱۹۵۷-۱۹۶۰ز د نېستۍ له جوړې بنده شوه "دوران پېښور" ۱۹۵۸-۱۹۶۱ز مارشل لا بنده کړه "ژوند پېښور" ۱۹۵۸-۱۹۶۱ز مارشل لا بنده کړه "ظفر اسلام" ۱۹۵۹-۱۹۶۱ز مارشل لا بنده کړه "غونچه" ۱۹۶۰-۱۹۶۱ز (۸)

داسې نورې مجلې او ورځپاڼې وې، چې دغه بهیر یې ګړندی او پیاوړی وساته او د اولس په ذهنونو کې یې ژوندانه ته په پام را اړولو او فکري روزنه تر سره کولو تبارز وکړی او د خپلواکۍ، پرمختګ او غوړېدلي سباوون هیله یې د غرنیو او هوارو مځکو تر پښتنو پورې په ډېره ښه توګه ورسوله.

د ادبي خپرونو دغه لړۍ یا لیکلي (تحریري) ادب او یادو مجلو پښتون اولس ته د نقد او کره کتنې روحیه هم ورکړه او پرمختګ خوښوونکو به د خپل زړه ږغ په کره کولو یا نقدولو سره تر اولسه پورې رساوه او د تولنیز ذهن او زړه په ویښتابه سره یې هغوی له ځان سره بیول غوښتل، د دغه هڅو پایله ډېره په زړه پورې وه، چې د اولس له ویښتابه سره سره یې د سلګونو په شمېر استازو ذهنونو ته د نورې غوړېدا لاره هواره کړله او پښتو ژبې او ادب ته یې په سلګونو استازي شاعران او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ادیبان ورکړای شول، د دغه دور د کره کتنې او نقد په اړه معتمد شینواری د استاد قیام الدین حواله را اخلي او لیکي:

"په ادب کې سوچه، سپېځلې، ښکاره او څرګنده مبارزه خو د نقد او کره کتنې لاره ده، چې درنو مبارزینو پاللې ده، ولې چې استاد قیام الدین خادم لیکي: (کومه لیکوالي چې انتقاد نه لري، نو هغه مګر د خوشامند ګرو ادب دی)" (۹)

څرګنده دي وي، چې تر اولسه پورې د بڼغ رسولو او د هغوی په ذهن او زړه کې د پرمختګ او غوړېدا د ارمانونو را ټوکولو دغه لاره دومره هواره نه وه، لکه په لیک کې چې وړاندې شي، بلکې په دې لاره کې ډېرې ستونزې، ربړې او ستومانۍ ګالل شوي دي، مخکښانو یې د ژوند ډېرې درنې برخې په زندانونو کې تېرې کړې دي او د مستبد زورواکانو له خوا یې داسې سترې ځوروني او ستومانۍ وړې دي، چې د انسان ژبه او زړه یې د بیانولو او وړاندې کولو توان او وس نه لري.

هغه څکه چې د اولسي ویښتابه د داسې هلو ځلو او پرمختګ خوښوونکي فکري بهیر په وړاندې د خنډ او ځنډ را منځ ته کولو او مخنیوي لپاره زورواکان هم لاس تر زنې ناست نه وو؛ بلکې د هغوی هڅې هم پر هر ګام او هر وله باندې توندې، ځوروونکي او سترې کوونکي وې، آن چې د لیک په لاره کې یې د مجلو، جریدو او ورځپاڼو وسایل هم په پوره توګه په کار اچول، چې یوه بېلګه یا نمونه یې "خیبر مېل" ۱۹۳۲ز وو، چې د خپلواکۍ د غورځنګ په بهیر او استازو پسې به یې په ډاګیزه توګه پروپاګند او ښځایه، دروغجن تهمتونه او تورونه ویل، هغوی غوښتل، چې د خپلو شومو هیلو او ګټو ساتلو لپاره په هره توګه د دې بهیر په مخنیوي سره خپله بریا و ساتي، خو مبارزینو په لوی زړه، پیاوړي هوډ باندې په مزاحمت او مقاومت کولو خپله مبارزه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تـوده، تانـده اوپیـاوړې سـاتلې وه او د زورواکـانو لـه خـوا ځـوروني، ستړیاوي او ستومانۍ یې په ورین تندي ځغملي او ګاللي وې، په همدې مزاحم او مقاوم بهیر کي **خان شهید** (عبدالصمد خان) سرلاری یاد کردار او نوم لري، چي په همدې لاره کي یې د ژوندانه ډېره درنه برخه په زندانونو او ستړیاوو، ځورونو او ستومانیو کي تېره کړې ده، آن چي د مزاحمت خپل دغه ایښوول شوی نیالګی یې پای په خپلو وینو هم خړوب کړی، چي په خپل کور کي د دښمن له خوا د شپې د خوب پر مهال په بم ور غورځولو په شهادت (۲دسامبر ۱۹۷۳ز) ورسېد. (اروا یې ښاده/ جنتونه یې برخه)

دا چي لیکنه د **خان شهید** ادبي هڅو او فرهنګي هلو ځلو ته ځانګړې ده، نو د خپل زمان او مکان په ادبي چاپېریال کي د یاد شوي کردار او هڅو په څنګ کي یوازي دا نه چي نوموړي خپل قلم په کار اچولی او تانـد سـاتلی دی؛ بلکـې پـه دې لاره کښـي د مزاحمتـي او مقـاومتي غورځنګ د سرخېل ویاړ هم په برخه لري. د نوموړي ستر سیاسي مبارز شخصیت د ادبي کردار په اړه به له ځینو سرچینو څخه څه ناڅه را واخلو او خپله خبره به نوره هم کره او باوري کړو، د پښتو ادب په لړ کي د **خان شهید** د تر سره شوي کردار په لړ کي د دې سیمي نوموړی تذکره لیکوال ارواښاد حافظ خان محمد داسي لیکي:

"عبدالصمد خان عربي، فارسي، اردو، انګریزي، بروهي ښه وایي، دی د بلوچستان اول سړی دی، چي د انګرېز سامراج په مخ کښي یې د خپلو حقوقو د غوښتلو آواز پورته کړی دی او په دې وطن کښي د بیدارۍ سیاسي موسس دی." (۱۰)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

همداسي د سوهبلي پښتونخوا په استازیتوب پیاوړی لیکوال او شاعر اروانباد صاحبزاده حمید الله په اردو تذکره "پشتو ادب بلوچستان میں" کي د **خان شهید** په اړه خپل نظر وړاندي کوي او لیکي، چي:

"خان عبدالصمد خان عظیم سیاسی شخصیت تھے، مگر پشتو ادب کو بہت کچھ دیا، نہایت ذہین حساس اور جبری تھے، بہت مستقل مزاج تھے، آپ نے شروع ہی سے پشتو زبان لکھنے پڑھنے کی اہمیت پر زور دیا، آپ واحد سیاسی رہنما تھے، جنہوں نے سب سے زیادہ پشتو کتب اور وہ بھی قید و بند میں لکھیں" (۱۱)

داوسني پښتو ادب په ګړندي بهیر کي ځوان استاد او د کوټي پوهنتون د پښتو څانګي مشر بناغلی پوهاند ډاکټر نصیب الله سیماب د کوټي پوهنتون په څېړنغونډه کي د وړاندي شوي لیکنې (مقالې) پر مهال داسي وایي:

"د پښتو ژبي د جدید ادب بنیاد د شلمي پېړۍ په لومړي سر کښې اینبوول کېږي، چي د آزادۍ سره تړلي خلک دا بنیاد ږدي، **خان شهید** په سهبلي پښتونخوا کښې د مزاحمتي تحریک د سرخیل په توګه نه دا چي سیاست بلکې و صحافت او ادب ته پوره توجه ورکړې وه." (۱۲)

خان شهید چي کله هم د وخت زورواکانو د سیاسي مبارزې له هلو ځلو څخه د راګرځولو لپاره د زندانونو تورو بېرکانو او کوټو ته رسولی او زنداني کړی دی، نو نومورې د سیاسي هلو ځلو په څنګ کي عصري زدکړو او په ځانګړي ډول فرهنګي هلو ځلو ته وخت ورکړی دی او په دې لړ کي یې یو شمېر بېخي مغتنمي ژباړي او لیکنې تر سره کړي دي، چي لاندي به یې د ژباړو په اړه لوستونکو ته څه وړاندي کړو.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

له نورو ژبو څخه د خان شهید ژباړل شوي نښیرونه (آثار)

"۱: د شیخ سعدي "**گلستان**" نومي کتاب يې له فارسي څخه پښتو ته د مچ په زندان کي را و ژباړه، چي نظم يې په نظم او نثر يې په نثر ژباړلی دی، په دوو کاپيانو او يوه رجسټر کي خوندي شوی دی، چي لومړی کاپي يې ۱۸۳ مخونه دويمه يې ۱۴۹ او رجسټر يې ۱۴۰ مخونه لري، چي د گرانو تورو سپرنه يې په لمن ليکونو کي ورسره مله ده.

څرګنده دي وي، چي دغه کتاب اوس په ۲۰۲۰ز ۱۳۹۹ل کال پر ۳۶۸ مخونو د پوهاند عبدالغني غنو په چاپ زيار تر چاپه رسېدلی دی.

۲: په همدې جهل کي يې د مولانا ابوالکلام آزاد د "**ترجمان القرآن**" ژباړه د ۱۹۴۸ز کال د اکتوبر د مياشتي پر نهه ويشتمه نېټه پيل کړې او په دوو رجسټرانو کي خوندي شوې ده، چي لومړی يې ۲۸۴ او دويم يې ۳۰۴ مخونه لري.

۳: د امام غزالي د "کيمیائے سعادت" ژباړه يې په يوه کاپي ۲۰۷ مخونه او يوه رجسټر ۲۵۲ مخونو کي خوندي کړې ده.

۴: د **سيرت النبي** له لومړي توک څخه يې يوازي ۵۴ مخونه ژباړه خوندي شوې ده." (۱۳)

د **خان شهید** له خوا د يو شمېر مذهبي يا تولنيزو اخلاقياتو په اړه د کتابونو ژباړل او په ځانګړې ډول د قرآن پاک د ژباړې په لړ کي يوه خبره باوري ده، چي دغه ژباړي اتفاقي نه وې، لکه موږ مخکي هم په دې اړه يادونه کړې ده، چي د خپلواکۍ د ددې مبارزې و شاته د قامي او مذهبي تومني ملتيا وه، ولي چي د خپلواکۍ د يادي مبارزې مخور مخکښان د تولنيز چاپېريال په ځارلو او ژورليد سره په دې باوري وو، چي له زورور ځپښناکګر څخه د خپلواکۍ اخستلو لپاره اړينه ده، چي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د ټولنیزې قامي او مذهبي مینې په توان دا چاره تر سره کړل شي. په دې اړه نوموړی لیکوال ګ، ف، ګډرس لیکي:

"خان عبدالصمد خان هم هغه لاره طی کړه، په کومه چې خان عبدالغفار خان او د آزادۍ د غورځنګ نور پیاوړي مشران روان وو، دی د برتانوي هند د مسلمانانو د پان اسلامیزم پلوي هم وو او دا اتفاقي نه وه، چې ده د اردو څخه په پښتو د قرآن ترجمه وکړه، له دې ترجمې سره ګډوري تبصرې هم وې، چې ډېخې یې د ورځنیو مسایلو سره اړخ لګاوه، د دغه تفسیر ژبه روانه او ادبي وه او په پښتني ټولنو کې یې ښه انعکاس پیدا کړ..." (۱۴)

۵: "**د آزادۍ پای**" د نوموړي انګریز چارلټ ډایسن کارټر د تالیف (THE FUTURE OF FREEDOM) پښتو ژباړه ده، چې د کاپي پر ۹۶ مخونو باندې خوندي شوې خو نیمګړې ده.

۶: **د فیوچر اف فریډم** (THE FUTURE OF FREEDOM) اردو ژباړه یې د (آزادۍ کا افق) په نوم کړې ده، چې له لاهور څخه چاپ شوې ده او په بیا بیا ځلي چاپ شوې او تر خلکو پورې رسېدلې ده." (۱۵)

اوس به د هغو نښیرونو یا آثارو په اړه د ځینو سرچینو په باور و لیکو، چې **خان شهید** یې پخپله لیکوال، څېړونکی او یا هم مولف دی.

د خان شهید خپل نښیرونه (آثار)

۱: "**پښتو ډکشنري**" پښتو قاموس (PASHTO DICTIONARY) چې په شپږو لویو لویو کاپیانو کې خوندي کړل شوې ده.

۲: "**زما ژوند**" چې په څلورو کاپیانو کې ۱: ۲۶۰. ۲: ۲۶۰. ۳: ۱۸۲. ۴: ۸۸ مخونو کې لیکل شوی او خوندي شوی وو، چې په ۲۰۰۴ز ۱۳۸۳المریز کال کې د "زما ژوند او ژوندون" په نوم په درې ټوکه کې چاپ شوی او تر پښتنو پورې رسېدلی دی.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۳: "**پښتو ژبه او لیکدود**" په لومړي ځل په ۱۹۵۶ز کال کې چاپ شوی او تر اوسه پورې رسېدلی دی، چې په بیا بیا چاپ شوی دی، څلوېښت مخونه یې پاخه مواد او څلور مخونه د یوه خواست په ملتیا درې مخه سمونپاڼه لري." (۱۶)

څرګنده دي وي، چې "**پښتو ژبه او لیکدود**" د "**زما ژوند او ژوندون**" په لومړي ټوک کې هم چاپ شوی دی او په بېل ډول هم چاپ شوی دی. دلته د دې خبرې سپیناوی اړین بولم، چې د **خان شهید** ژوند لیک (خود نوشت) چې د نومورې پوهاند ولي محمد خان سیال کاکړ په یاده شوې څېړنه کې د "**زما ژوند**" په نوم یاد شوی دی، خو وروسته په ۱۳۷۳ یونیځ لمریز ۲۰۰۴ز کال کې په لومړي ځل د "**زما ژوند او ژوندون**" په نوم په درې ټوکه کې "چې لومړی ټوک ۳۹۲ مخونه. دویم ټوک ۵۴۸ مخونه او دریم ټوک ۴۳۲ مخونو لري" باندې چاپ شوی دی. څرګنده دي وي، چې نومورې سیال کاکړ د خپلې نومورې تذکرې "**د کسې د لمنې پښتانه لیکوال**" دویم ټوک په اړه ما "نعیم آزاد" ته ویلي وو، چې: د دې تذکرې د لیکلو پیل ما په ۱۹۷۵ز کال کې کړی وو او لږ لږ به مې استاد کاتب راز محمد راز ته د کښلو یا کتابت لپاره ور سپارله" خو نژدې ۷۵۰ مخونه لرونکې دا تذکره چې تر چاپه پورې رسېدله، نو ۱۹۸۳ز کال وو. نومورې سیال کاکړ د **خان شهید** و آثارو ته د رسېدلو په لړ کې داسې څرګندونه او مننه کوي، چې:

"د شهید ملت د نازولي فرزند او د ځوان سیاستمدار بښاغلي محمود خان اچکزي څخه یو جهان تشکر... ګران محمود خان و ماته د خپل نومیالي پلار ټوله ادبي آثاثه سپارلې او ما د خپلې لیکنې لپاره په زړه پورې استفاده څنې کړې ده" (۱۷)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

له دې یادونې څخه مرام د ژوند لیک لپاره د تاکل شوي نوم "**زما ژوند**" او وروسته د "**زما ژوند او ژوندون**" په نوم د چاپ شوي نامه تو پیر سپیناوی کول دي "چې کېدای شي" څوک ورته ګوته و نیسي...

له پورتني لیک څخه جوته ده، چې د **خان شهید** د ژوند لیک یا خود نوشت نوم پخپله **خان شهید** "**زما ژوند**" تاکلی دی، چې د ژوند او په ژوند کې د تر سره شوي کردار لپاره بسنه یا کفایت کوي، خو د ژوندون زیاتوالی وروسته ځکه ورسره شوی دی، چې و چاپ زیار کښونکي ته زما په خیال "**ژوند**" د عمر یا منګ په مانا او "**ژوندون**" ورته په ژوند کې د تر سره شوي کردار په مانا ایسېدلی او برېښېدلی دی، نو ځکه یې په دې نیت د ژوندون توری ورسره زیات کړی برېښي، چې په داسي ډول به د ژوند لیک نښه استازیتوب وکړل شي، کنې نو د ژوند لیک لپاره "**زما ژوند**" پوره او نښه استازیتوب کوي، خو زما په خیال دا خبره د دې پر اختلاف او شربلو وړ هم نه ده، ځکه چې "**زما ژوند او ژوندون**" هم د لوستونکي ذهن په منګ یا عمر کې د تر سره شوي کردار لوري ته بیایي او دا نوم دومره اوږد یا له مانا لېرې کوونکی هم نه برېښي، چې د دې لپاره نیوکې او سپیناوي وړ دي وي او یا دي د لوستونکي پر غوږونو باندې درومد پرېوځي.

هېره دي نه وي، چې پر دې وړاندې شوو کتابونو سربېره د **خان شهید** د یوه بل کتاب یادونه د نومورې لیکوال څېړنوال عبدالله بختاني خدمتګار په لیکنه کې "چې د نومورې د ژوندانه تر ادبي او سیاسي کرونولوژي سر لیک لاندې یې تر سره کړې ده" داسي کوي:

"بل کتاب یې "زما ژوند" نومېږي، چې د خپل ژوند پېښې بیانوي. "زما ژوند ته یوه کتنه" یې د خپل ژوند په اړه بل اثر دی." (۱۸)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د ادب او فرهنګ د هڅو او خدماتو په لړ کې د **خان شهید** په اړه د ګڼ شمېر پوهانو د ملاتړ او ستاینې نظرونه شته، خو یو دبانديني لیکوال او د ختیځو ژبو پوهاند نیکولای دوریانکوف د نوموړي په اړه لیکي:

"د بلوچستان د سیاسي پارټۍ مشر او موسس خان عبدالصمد خان اڅکزی له خپلې ژبې پښتو سره طبعي مینه لري او ډېر خدمت ورته کوي، ده په دې لار کې ډېر کار کړی دی، ډېر آثار یې لیکلي دي او ډېر آثار یې ترجمه کړي او پښتو یې ورباندې غني کړې ده، ده پښتو ته مخصوصه الفبا وضع کړې ده او د خپل مخصوص لیکدود چې ده منځ ته راوړی دی، کلک پلوي یې دی او ټینګار ورباندې کوي." (۱۹)

یو بل علمي، ادبي اړخ چې د خپلې مورنۍ ژبې د لیکدود په لړ کې د **خان شهید** له خوا کار ورباندې شوی او ژبپوهانو ته یې د خپلې ژبې د تورو لپاره د پوره او کره اداینې په لاره کې د پوره چوکاټ لرلو او تاکلو په نیامت کومه تګلاره او وړاندیز کړی وو، هغه ځانله لیکنه غواړي او زما په خیال دا د پښتو ژبې یوه علمي او په زړه پورې هڅه ده، نو په کار ده، چې په دې لړ کې د لوړو پوهنیزو/ علمي ادارو ژبنۍ ځانګې د یو لړ ژبپوهانو په پوهنیز ټوان د پرمختګ ګامونه واخلي او د ژبې د لوستونکو او ویونکو لپاره دغه یاده شوې پېچلې لاره هواره کړای شي. **خان شهید** د ژبې پر سوچه والي سربېره د لیکدود په اړه د وړاندیزیا تجویز په بڼه خپل کار د ژبپوهانو مخ ته اینبی دی، زه فکر کوم، چې تر اوسه پورې په کومه پوهنیزه وړتیا یاد ژبپوهانو په عامي ټوان د پښتو لیکدود په اړه د **خان شهید** د زیار او کار ځواب نه ده ویل شوی. په دې لړ کې دا یادونه ماته بېځایه نه ښکاري، چې د **خان شهید** د زده ژبو په اړه وکړل شي، ولي ځوک په دې اړه په پوره باور نه یادونه کوي او نه ویلای شي، چې دا ژبه مې زده ده، نو په ژوند لیک کې هم داسې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ښکاره او نېغه یادونه که څه هم نشته، خو لوستونکي بیا هم تر ډېره ځایه پوهېدلای شي، چي د ځیره ژبو د زدکړو یادونه شوې ده. د ستر مبارز شخصیت " **خان شهید** " د زده ژبو په اړه د **خان شهید** کشر زوی ښاغلی حامد خان اڅګزی د کوټي د څېړنغونډي پر مهال وایي، چي:

"د **خان شهید** تازي (عربي) ژبه زده وه، د خدای پاک د پاړکي (قرآن) تفاسیر یې په تازي، اردو، پښتو، پارسي او انګرېزي ژبه لوستي وو، نو دا زموږ په یاد دي، چي د خدای پاک د کلام ژباړه به یې په پښتو کښې کوله، څه یې په جېل کښې ژباړلی وو. د دا پورته ژبو پرته یې بلوڅي، براهوي، سیندي، پنجابي، هیندکو او ګجراتي ژبي ویلای، لوستلای او کښلای (لیکلای) شوې." (۲۰)

د همدې پورتنۍ خبري باور د **خان شهید** د سیاست او تګلاري نوموړی پلوي ښاغلی اکرم شاه لالا هم کوي او لیکي:

"دا د **خان شهید** عظمت وو، پر پښتو، اردو، فارسي، انګرېزي، عربي ژبو یې دومره عبور درلود، چي د عربي څخه پښتو، له انګرېزي څخه پښتو، له انګرېزي څخه اردو پر دې ټولو مروجه ژبو ده دومره علم درلود، چي ډېر په اساني سره یې لیک هم پکښې کولای شو او ژباړه یې هم کولای شوه." (۲۱)

د ادبي هڅو په اړه د وړاندي کړل شوي لیکني په منځپانګه کي چي پورته د یاد سیاسي، قامي کردار " **خان شهید** " د لیکلو او ژباړل شوو (چاپ/ ناچاپ) نښیرونه (آثارو) یادونه وشوه، نو ماته په زړه پوري ښکاري، چي دلته د **خان شهید** د لیکونو (خطونه/ ختونه) په اړه هم یادونه وکړل شي، چي د ژوند په بېلا بېلو وختونو کي یې له زندانه، کوره او یا هم نورو ځایونو څخه و درنو مخورو سیاسي، ادبي او د ژوند له بېلا بېلو څانګو سره اړه لرونکو ته استولي دي او څه شمېر هغه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لیکونه هم پکښې دي، چې **خان شهید** ته د لیکونو په ځواب کې د نورو مخورو له خوا را استول شوي دي او پر دې سربېره له لومړي او دویم ټوک سره د پښتو لیکدود په اړه د **خان شهید** نظر هم چاپ ته سپارل شوی دی، لیکونه په درې ټوکه کې لومړی ټوک ۳۲۰ مخونه. دویم ټوک ۳۷۲ مخونه او دریم ټوک پر ۲۸۸ مخونو باندې په ۱۳۸۳ل ۲۰۰۴ز کال د نومورې لیکوال پوهاند عبدالغني خان غنو په زیار د ځینو لیکونو په ژباړه او د کتاب د منځپانګې له ویې پانګې سره د چاپ په ګټه پسولل شوي او د اولس تر لاسونو پورې رسېدلي دي.

زه فکر کوم، چې د **خان شهید** د ژوند لیک "زما ژوند" په څنګ کې د نومورې استول شوي او ورته را استول شوي لیکونه هم دومره وړتیا او ارزښت لري، چې څېړونکي ته دې د نومورې د بشپړه ژوند سیاسي، قامي، وطني مینه او فکري لوری رون او څرګند کاندي او ورسره دا هم په کار ده، چې د **خان شهید** پر لیکونو باندې د یوه سکالر له خوا ځانله څېړنه او سپړنه تر سره کړل شي.

هېره دي نه وي، چې د نومورې د ادبي هڅو په لړ کې یوه بله یادونه هم په کار ده؛ چې دلته وکړل شي، هغه دا چې نومورې د سیاسي پېښون او ګوند له لارې د قامي سیالۍ او پرمختګ په څنګ کې د خپلې مورنۍ ژبې پښتو د سیالولو لپاره هم د یوې پېښون لرونکي اداړې په بنسټ کې پوره پوره ونډه لرلې او هڅې یې تر سره کړې دي، د نومورې د دې هڅې او خدمت په لړ کې استاد بختانی داسې لیکي:

"خان عبدالصمد خان له علمي او ادبي کارونو سره هم مینه درلوده، ځینې ادبي مضامین یې کابل ته د چاپ لپاره را لېږل، د **خان شهید** یو لیک د زهري جریدې د ۱۹۷۱ز کال- ۱۳۵۰ل کال په ۲۷ ګڼه کې خپور شوی دی، په بلوچستان کې د پښتو اکاډمۍ په افتتاح کې خان

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

عبدالصمد خان اڅکزي ګډون کړی وو، د بلوچستان اکاډمۍ پر ۱۹۷۱ز کال د اکتوبر پر نولسمه نېټه د پښتون کمشنر نصر من الله په لاس پرانستل شوه." (۲۲)

دا وې؛ زموږ په نظر او لاسرسي کې د **خان شهید** هغه ادبي هڅې چې دلته په ځغلنده او سرسري توګه وړاندې کړل شوې، کېدای شي؛ په را روان وخت کې یې څېړونکي په ژورلید سره څېړنه او سپړنه تر سره او وړاندې کړي او دا هم چې پاته آثار به یې د چاپ په ګېنه و پسولل شي.

سرچینې:

۱: حبیبي؛ عبدالحی، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړونکی؛ عبدالرووف بېنوا، خپروونکې؛ صدیقي خپرندویه ټولنه کوټه، چاپکال ۱۳۹۲ل مخ ۱۷

۲: هېوادمل؛ زلمی، د ننګ او فرهنګ اتل، خپروونکی؛ د افغانستان د سیمه ییزو او مطالعاتو مرکز، مشموله؛ سریزه، چاپکال ۱۳۷۸ل ۲۰۰۸ز ه/و/ح مخونه

۳: ګیرس، ګ، ف، د مېرنې اولس ادبیات، ژباړن؛ معتمد شینواری، خپروونکی؛ د قومونو او قبایلو وزارت/ د نشراتو او تبلیغاتو ریاست، چاپکال ۱۳۶۴ل ۱۹۸۵ز ۱۱۴، ۱۱۵ مخونه

۴: بابا؛ احمد شاه. د لوی احمد شاه بابا دیوان، خپروونکې؛ صحاف نشراتي موسسه کوټه، چاپکال ۱۳۸۸ل ۲۰۰۹ز مخ ۱۳۱

۵: ګیرس، ګ، ف، د مېرنې اولس ادبیات، ژباړن؛ معتمد شینواری، خپروونکی؛ د قومونو او قبایلو وزارت/ د نشراتو او تبلیغاتو ریاست، چاپکال ۱۹۸۵ز مخ ۱۱۶

۶: پورتنۍ یاد شوی اثر، د معتمد سریزه مخ د

۷: اڅکزی؛ عبدالصمد خان، زما ژوند او ژوندون دویم ټوک، خپروونکی؛ پښتونخوا خوروني، چاپکال ۱۳۸۳ل ۲۰۰۴ز مخ ۳۹۲

۸: ګیرس، ګ، ف، د مېرنې اولس ادبیات، ژباړن؛ معتمد شینواری، خپروونکی؛ د قومونو او قبایلو وزارت/ د نشراتو او تبلیغاتو ریاست، چاپکال ۱۹۸۵ز ۱۰۹، ۱۱۰ مخ

۹: همدغه اثر د معتمد سریزه مخ ل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۰: حافظ، خان محمد کاکړ، د کسې ګلان، خپرووونکې؛ بلوچستان بک ډپو کوټه، چاپکال ۱۹۸۹ز ۱۴۰۹هـ مخ ۱۱۰

۱۱: صاحبزاده، حمید الله "پشتو ادب بلوچستان میں" خپرووونکی، پښتو ادبي بورډ بلوچستان، چاپکال ۲۰۰۶ز ۱۵۲۷هـ ق ۶۶، ۶۷ مخونه

۱۲: سیماب، ډاکټر نصیب الله، د خان شهید عبدالصمد خان علمي او ادبي خدمات، خپرووونکې؛ پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه، مشموله، په سوهېلي پښتونخوا کې مزاحمتي ادب او د خان شهید کردار، چاپکال ۲۰۱۲ز ۱۱۴، ۱۱۵ مخونه

۱۳: کاکړ؛ سیال، د کسې د لمني پښتانه لیکوال دویم ټوک، خپرووونکی؛ بولان بک کارپوریشن، چاپکال ۱۹۸۳ز کال، ۲۵۲، ۳۵۴، ۳۵۵ مخونه

۱۴: ګیرس، ګ، ف، د مېرني اولس ادبیات، ژباړن؛ معتمد شینواری، خپرووونکی؛ د قومونو او قبایلو وزارت/ د نشراتو ریاست، چاپکال ۱۳۶۴ل ۱۹۸۵ز ۱۰۶، ۱۰۷ مخ

۱۵: کاکړ؛ سیال، د کسې د لمني پښتانه لیکوال دویم ټوک، خپرووونکی؛ بولان بک کارپوریشن، چاپکال ۱۹۸۳ز کال، ۳۵۶، ۳۵۷ مخونه

۱۶: همدغه اثر: ۳۵۸، ۳۶۰، ۳۶۷ مخونه

۱۷: همدغه اثر ۳۵۱ مخ

۱۸: خدمتګار، څېړنوال عبدالله بختاني، د پوهې او خپلواکۍ لاروی، د مقالو ټولګه، خپرووونکی، د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، چاپکال ۱۳۹۰ل ۲۰۱۲ز مخ ۵۷

۱۹: همدغه پورتنی اثر ۱۳۸ مخ

۲۰: اخګزی، حامد خان، د خان شهید علمي او ادبي خدمات، خپرندوی، پښتو څانګه کوټه پوهنتون، مشموله، خان شهید پلار په حیث، چاپکال ۲۰۱۲ز مخ ۹

۲۱: لالا، اکرم شاه، د خان شهید علمي او ادبي خدمات، خپرندوی، پښتو څانګه کوټه پوهنتون، مشموله، څو خبري د خان شهید په اړه، چاپکال ۲۰۱۲ز مخ ۷۸

۲۲: خدمتګار، څېړنوال عبدالله بختاني، د پوهې او خپلواکۍ لاروی، د مقالو ټولګه، خپرووونکی، د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، چاپکال ۱۳۹۰ل ۲۰۱۲ز مخ ۵۹

پام: د مجلو او جریدو د یادونې او نښتو په برخه کې سرچینه "د مېرني اولس ادبیات" نومي کتاب پېلا پېلي پاڼي دي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د پښتو او پښتنو لپاره
د خان شهید د ژباړو ارزښت

دا خبره باوري ښکاري او بشر پوهان یې هم مني، چې د نړۍ پر مخ د وګړنیز ژوند تر پیل (که څه هم په ببلا ببلو ځایونو کې به شوی وي) وروسته ورو ورو د اړتیاوو پر بنسټ د وګړو تر منځ ښلتون تر سره شوی دی، هغه ځکه "چې په کوم ځای کې به دوی اوسېدل" له هغه ځایه به د ځینو لاملونو لکه توپانونه، د اوبه خور کمبوت، د موسمونو بدلون او یا داسې نورو اړتیاوو له کبله بل ځای لټېدلو/کوچېدلو ته اړ شول او په داسې ډول به له یو بل څخه لېرې او تر منځ به یې د ښلتانه واټنونه را منځته شول، همداسې یې په ببلا ببله جغرافیه او موسمونو کې د مودو مودو اوسېدلو په اغېز د ځرمن په رنګ او خویونو کې پر لږ او ډېر بدلون سربېره له یو بل سره د پوهېدا په وسیلو ماناژبو او خویونو کې هم توپیرونه را منځته شو، که څه هم د وخت په تېرېدلو سره د ښلتانه له کبله د وګړو تر منځ د ژبو، خویونو او د ځرمن په رنګ کې لږ او ډېر توپیر لیدل کېږي، خو بیا یې هم د څه شمېر بنسټیزو او فطري خویونو یووالی تر اوسه پورې پاللی شوی او تلپاتیوالې بڼه لري، لکه د خوښۍ او غم پر وخت چې مور د خندا او ژړا خویونه وینو...

ماشومان که د مشرق که د مغرب دي
د خندا او د ژړا انداز یې یو دی(۱)

که څه هم د خندا او ژړا ببلا ببل ډولونه (اقسام) شته، خو په ټولیزه توګه خندا د خوښۍ او ژړا د غم استازیتوب کوي، چې همداسې څه نور بنسټیز او فطري خویونه هم په ژور لید سره پامېدلای شي، د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خوښۍ او غم څرګندوني لپاره د اشتراکي یا ټولنیز دور وګړنیز خویونه ژور څېړونکی نوموړی لیکوال مقبول طارق داسې یادوي:

"په اشتراکي ټولنیز دور کې که غم وو او که خوشالي وه، د ټولو په ګډه وه، تر ټولو پوري د خوشالۍ د خبرتیا رسولو لپاره به چیغې جوړېدې او چې څوک به هم خبر شو؛ چیغې به یې جوړې کړې او هغه وخت به هم چیغې جوړې شوې، چې یو ستر ښکار به په لاس ورتلی. دغه جذبات د خوشالۍ سره تړل شوي دي، چې څومره خوشالي وي؛ هغومره به جګ جګ غوږ ځېدل وي او هغومره به یې جذباتي څرنګوالی وي، مور له پورته غوږ ځېدا پرته له خوشالۍ خوند نه شو اخستلای. دا رنګه له خوشالۍ سره جګ جګ غوږ ځېدل په فطري توګه تړلي وو." (۲)

دا هم زړه ته لوېدونکې ده، چې د خوشالۍ لپاره د اوسني اتن او نڅا مونډ او ریښې هم له تېرو زمانو څخه را پاته دي...

د وګړنیزو یا پورتنیو وړاندي شوو انساني فطري خویونو پر یووالي سربېره د زمان په اوږدو کې له شعوري ودې سره سم د وګړنیز ژوند د سمون او خوندي کیدا لپاره د وګړپالنې یا انسانیت په نوم په ټاکل شوي چوکاټ کې یو شمېر منل شوي نرخونه او نورمونه را منځته شوي او پالل کېږي، چې د وګړو یا انسانانو تر منځ د افکارو په بدلون سره نوره پراختیا او پیاوړتیا هم مومي او په همدې ډول ټول وګړي یو ځل بیا د یووالي او په بله ماناد پراخ او ویړ انسانیت لوري ته ګامونه اخلي. په همدې وړاندي شوي شالید کې یو شمېر ژبپوهان د ټولو وګړو یا انسانانو د پوهولو را پوهولو وسیله "ژبه" (چې له یو شمېر ږغونو څخه جوړه شوې ده) هم یوه :ولي او په نړۍ کې ویل کېدونکې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ببلا ببلي ژبي د همدې برغیزي / اندامي او هم بنستیزي ژبي ببلا ببل ګړدودونه (لهجې) پاموي.

له دومره اوږدې پیلامې یا پیلیزو خبرو څخه مرام دا دی، چې ژبه یوه ګډه وګړنیزه پدیده او د وګړو تر منځ د پوهولو را پوهولو وسیله ده، مانا دا چې ژبه د ټولو وګړو یا انسانانو ګډ میراث او د ژبې پر شتمني باندې هم د ټولو وګړو حق جوت دی، نو په ببلا ببلو ژبو یا په بله مانا د بنستیزي انساني ژبې په ببلا ببلو ګړدودونو باندې ځان پوهول، زده کول او له هغوی څخه د ژبارې له لارې د علمي شتمنیو یا ګډ میراث و یو بل ته د رسولو او د یو بل په افکارو باندې د ناخبرو اولسونو د خبرتیا او پوهولو دنده (فریضه) تر سره کول د ټول انسانیت د یووالي په لاره کې لوړ خدمت او د خپلو ژبنیو قامونو د پرمختګ لاره هموارول دي.

د قامونو دغه یاد شوی پرمختګ او شاته پاتیوالی هم د وړاندې یاد شوي ببلتانه له کبله ځکه را منځته شوی دی، چې څه برخه انسانانو د وخت له غوښتنو سره د مخامخېدا ذهن او زړه لرلی دی او پر خپل وخت باندې د ډېرو ستونزو په هوارولو د ژوند په هوساینه بریالي شوي دي، چې نن په نړۍ کې پرمختللي اولسونه ګڼل کېږي او څه برخه یې داسې هم وو، چې پر خپل وخت باندې یې له غوښتنو څخه مخ وړاوه او شاته پاته شول، لکه پښتانه او داسې نور قامونه.. ځکه خو نن په شاته پاته قامونو او ټولنو کې د پرمختللو ټولنو و ژوند ته په کتلو سره په سیاسي، ادبي او علمي ډګرونو کې هڅې تر سره کېږي، چې له نورو قامونو او ټولنو سره خپله سیالي پر ځای کاندي.

د پښتانه قام د ټولنیز ژوند د پرمختګ، ودانۍ او سیالۍ لپاره هم په خپل زمان او مکان کې ژوندي کردارونه پاته شوي دي، خو موږ دلته د شلمې زېږدیزې پېړۍ د زمان او مکان د تاکلي سیاسي او قامي کردار

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهید پر ژوند او کردار خبره کوو، چې د سیاسي/ قامي کردار په څنګ کې یې لوړ ادبي کردار هم لرلی دی او د نوموړي په فرهنګي کردار کې ژباړه پوره ونډه لري. دا باوري ده، چې نوموړي کردار پښتو ژبې او پښتانه قام ته د هغوی د ودانۍ، سیالۍ او پرمختګ لپاره د نورو ژبو له علمي او فرهنګي شتمنیو څخه د ژباړې له لارې ډېر څه لوروړل په پام کې وو، ځکه هغه غوښتل، چې پښتانه قام ته د علم او پوهې لارې پرانستلای شي او په داسي توګه د خپل قام د ځوان زېرد (نسل) ذهنیت غوړېدلی، روښانه او د پرمختګ لوري ته و هڅوي.

ولې چې نوموړی پوهېدی او باوري وو، چې د ملتونو، قامونو او آن چې د وګړو تر منځ هم د پرمختګ او شاته پاتې والي پرتلیز جاج د علم او پوهې په تله/ ترازو باندې تر سره کېږي، مانا دا چې په قامونو کې پوهنیز یا علمي ارزښت او باور د پرمختګ نخښه پاموړ کېږي...

هغه پوهېدی، چې په وګړو نیزه یا انساني نړۍ کې د علم او پوهې له لارې د نړۍ پرمختللو قامونو د پرمختګ ډېر پراوونه وهلي او د ژوند د ښېګړې لپاره یې ډېرې پتې ګوښې روښانې کړي دي.

نوموړی د پوهې په ارزښت خبر څوک وو او په خپله دغه ذمه داري هم خبر وو، چې خپله پوهه او وس/ توان د خپلې ټولنې د ودانۍ، سیالۍ او پرمختګ لپاره په کار واچوي.

خان شهید پوهېدی، چې خپله ټولنه یا پښتون قام یې د مدنیت او یا پرمختګ له بهیر څخه په ډېرو شاته پاتې پراوونو کې ژوند کوي او په دې لړ کې نوموړي د باباګانو او نیکونو په نوم د نازېدا او ویاړ خوی پرې اینبی وو او دا یې هم غوښتل، چې قام یې هم ورسره په تېرو زمانو کې د تېرو شوو باباګانو او نیکونو په کارنامو باندې د ببڼایه ویاړ پر ځای پخپله کردار ادا کولو ته ذهن او زړه و لري.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نومورې په دې پوه وو، چې پخپل زمان او مکان کې د کردار ذهن او زړه نه لرونکي ټولنې تل د تېرو وختونو په ګوښو کې ځان ته د کرار او تسکین لټولو هڅې کوې او غواړي، چې د بابا ګانو په کردارونو کې په بېځایه ویاړ کولو سره خپله ناوسې پټه کاندي او همداسې د خیالونو په دنیا کې و اوسېږي، په دې لړ کې علي عباس جلال پوري داسې لیکي: "له کاره د لوېدلو بوډا ګانو په څېر لوېدونکي قامونه هم د اسدالله خان غالب په ژبه د مړو په ستاینه بوخت پاته وي، د تېرو شوو بابا ګانو سوبې شمېرل کېږي، د هغوی پر علمي، هنري او د مدنیت پر لوړتیاوو او وړتیاوو شخوند وهل کېږي، تاریخي پېښې د خپلې خوښې په رڼا کې په وړاندې کولو سره د نړۍ پر ټولو قامونو باندې خپله لوړتیا او درنښت جوتول غواړي، لکه څنګه چې د بوډا ګانو په خپل مهال کې زړه نه غواړي او هر وخت له خپل سباوون څخه په وېره وي؛ همداسې لوېدلي قامونه هم د وخت له غوښتنو څخه مخ اړوي او د راتلونکي وخت سره په مېړانه له مخامخ بدلو ډډه کوي. پایله یې په هره بڼه دا فکر را منځته کوي، و کوم ته چې د "پخواني وختونه لا ښه دي" نوم ورکول شوی دی." (۳)

خان شهید په خپل ژور لید او پوهنیزه وړتیا سره د خپل ټولنیز ژوند او ذهنیت په څارلو پوهېدی او څرک کړې یې وه، چې پښتون قام د ژوند او پرمختګ لپاره د خپلې ناخبرتیا او ناپوهې له کبله د کردار تر سره کولو غوړېدلی ذهنیت او زړه نه لري، د وخت له غوښتنو څخه په مخ اړولو تش په خبرو د ژوندانه تېرولو خوی یې خپل کړی دی.

نومورې غوښتل، چې ټولنه او قام یې پر داسې تشو خبرو او ویاړونو باندې د بېځایه باور کولو پر ځای په خپل زمان او مکان کې د ټولنیز کردار تر سره کولو لپاره ذهن او زړه و لري، هغه غوښتل، چې پښتانه د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وخت له غوښتنو څخه د مخ اړولو په خوی پرېښوولو سره د وخت له غوښتنو سره د مخامخېدا او هوارولو ذهن او زړه و لري، مانادا چې د خیال له باغونو یا رومانتیزم څخه په راوتلو د حقیقت خوښونې یا ریالیزم خوی خپل کړای شي...

هغه غوښتل، چې پښتانه د بېځایه ویاړونو، کرکو، کړنو او انګېرنو، کوډو او نورو توټکو څخه په راوتلو د پوهې او عقل لاره خپله کړي، نو ځکه یې له پیل څخه د عصري علومو د لاري پرانستلو پر هڅو سربیره د کتاب د لاري پاللو او له نورو ژبو څخه د علمي شتمنیو د راوړلو هڅې پیل کړې وې او داسې یې قام هم د روښادې لوري ته هڅاوه.

نوموړی پوهېدی، چې د قام شاته پاتېدل باوري لاسوند او دلیل وي، چې ژبه یې له پوهنیزې وړتیا یا علمي لیاقت څخه بې برخې پاته شوې ژبه ده، ولې د ژبې له پوهنیزې وړتیا تر لاسه کولو سره سم قام او ټولنه هم د پرمختګ ګامونه اخلي.

خان شهید په همدې نیامت د ټولنیز ذهنیت په غوړېدلو کې پر ېپلا ېپلو هڅو سربېره له نورو ژبو څخه خپلې ژبې یا ټولنې لره د علمي شتمنیو را ژباړلو ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، دغه ځانګړې پاملرنه یې هم یو شمېر لاملونه لري، ولې چې **خان شهید** د قامي ودانۍ او سیالۍ په لاره کې سیاست تر نورو ارخونو لومړی او مقدم ګڼلی وو، ځکه یې ډېره پاملرنه او وخت سیاست ته ځانګړی وو او بل دا چې په سیاسي هلو ځلو کې د سر لاري مزاحمت/ مقاومت او زورور دښمن یا مقابل لوري دومره وار نه ورکاوه، چې خپلواک او له زندانه دې خوشې پاته شي، نو ځکه یې د تر سره کړو ژباړو ډېره لویه برخه په زندان کې او یا هم د نظربندۍ پر مهال تر سره کړې ده. هغه ته که د زندان او نظربندۍ له کبله نوري لاري نه وې پرانستې، نو د ژباړې په ارزښت خبر څوک وو،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ځکه یې دغه وسیله خپله کړې ده. د ژباړې د ارزښت او د همدې وسیلې له لارې یو بل ته د پوهنیزې وړتیا لېږدولو په اړه بناغلی لیکوال صالح محمد صالح له رشاد مجلې څخه د نوموړي لیکوال حبیب الله رفیع د لیکنې حواله را اخلي او لیکي:

"ژباړه د علم د عامېدلو او د فکر د خورېدو یوه داسې وسیله ده، چې علم او پوهه نړیواله کوي، فکر او فن د انسانانو تر منځ شریکوي، له همدې امله ژباړې د لیک له پیدایښت سره خپل ارزښت جوت کړی او د زرګونو کلونو وړاندې داسې ډېر لیکونه شته، چې هماغه د لیک په وخت کې په نورو ژبو ژباړل شوي او څو ژبې متنونه راپاتې دي." (۴)

خان شهید هم د دې ارزښت په پاملو سره چې کله هم زورواکانو د سیاسي مبارزې له هلو ځلو څخه د راګرځولو لپاره د زندانونو تورو بېرکانو او کوټو ته رسولی دی، نو نوموړي د سیاسي هلو ځلو په څنګ کې علمي او فرهنګي اړخونو ته پوره پاملرنه کړې ده او په دې لړ کې یې یو شمېر ښې مغتنمې ژباړې او لیکنې تر سره کړې دي، دا ځکه چې د نوموړي هڅاند ذهنیت د وخت په ارزښت پوه او هیڅ یوه شېبه یې هم بېځایه تېرولو ته نه ورکوله، د همدې خبرې په باور د **خان شهید** له خوا د چارلټ، ډایسن کارټر (THE FUTURE OF FREEDOM) د ژباړلي کتاب (آزادی کا افق) خپروونکی عبدالرووف ملک لیکي، چې:

"قیام پاکستان کے بعد بھی عبدالصمد خان اچکزئی ان سیاسی رہنماؤں میں سے تھے، جو آزادی کے بعد حالات سے مطمئن نہ تھے، چنانچہ اس وجہ سے انہیں پھر جیل میں جانا پڑا، آخر میں مارشل لا کے نفاذ کے بعد ۱۹ اکتوبر ۱۹۵۸ کو گرفتار کیا گیا اور بلوچستان سے پنجاب کے جیلوں میں منتقل کر دیئے گئے۔ اس مرتبہ انہیں دس سال تک قید میں

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

رہنا پڑا، یہ سیاسی رہنما اس بزرگ نسل سے تعلق رکھتے ہیں، جن کے ہاں جہل انگازی گناہ ہے، وہ زندگی کے ہر لمحہ کو انفرادی اور اجتماعی جدوجہد سمجھتے ہیں۔ قید کے طویل دس سال کے دوران انہوں نے بی اے کا امتحان دیا، انہوں نے کل آٹھ امتحان دیئے، پہلے ادیب پشتو پھر عالم پشتو پھر فارسی کے تینوں امتحان میٹرک کیا، پھر ایف اے، بی اے انگریزی میں پاس کیا، پچاس سال کی عمر میں تعلیم کے حصول کی لگن بہت کم دیکھنے یا سننے میں آتی ہے۔"(۵)

دا خبره نن هم هر چا ته څه ناشوني غوندي برېښي او ما يې د کتاب په پيل کي هم يادونه کړې ده، چې پر زنداني کړاوونو او ځوروونو سربېره هم له خپل مرام او هوډ سره د اتصال کړی، رغېدلې ساتل يوازي او يوازي د زمان او مکان کوم تاکلی کردار تر سره کولای شي، نوموړي په لومړي ځل د مچ په زندان کي د شيخ سعدي "**گلستان**" نومي کتاب له فارسي څخه پښتو ته راوژباړه، چې نظم يې په نظم او نثر يې په نثر را واړاوه او په داسي ډول ژباړه تر سره کولو سره **خان شهيد** په پښتو ژبه کي د همداسي ژباړي د بنسټګر ابو محمد هاشم بن زيد سرواني پر روايت ژوندي ساتلو سربېره د خپلي پوهنيزي وړتيا په څنګ کي د ناظم يا شاعر پاتېدلو خبره هم د اولس په وړاندي جوته کړې ده.

د ژباړل شوي ګلستان نومي کتاب څخه "چې اوس چاپ شوی دی" د نظم يوه نمونه لوستونکو ته وړاندي کوم، هغه دا چې:

چې مغزی په لويي و غځوي لوړ
پر مغزي به سي ايله وستری پر ځور
سعدي مخ له دی بې وسه سپين زړګی
و بې وسه ته څوک نه اخلي لرګی (۶)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په ګلستان نومي کتاب کې د پښتو د سوچه تورو یو جهان پروت دی.
نوموړي په همدې جهل کې د مولانا ابوالکلام آزاد د "**ترجمان القرآن**" ژباړه د ۱۹۴۸ز کال د اکتوبر د میاشتې پر نهه ویشتمه نېټه پیل کړې او د امام غزالي د "کیمیائے سعادت" ژباړه یې هم تر سره کړې ده.
د **سیرت النبي** له لومړي ټوک څخه یوازې ۵۴ مخونه ژباړه را پاته ده.
د **خان شهید** له خوا د یو شمېر مذهبي یا ټولنیزو اخلاقیاتو په اړه د کتابونو ژباړل او په ځانګړې ډول د قرآن پاک د ژباړې په لړ کې یوه خبره باوري ده، چې دغه ژباړې اتفاقي نه وې، لکه موږ مخکې هم په دې اړه یادونه کړې ده، چې د خپلواکۍ د دې مبارزې و شاته د قامي او مذهبي ټومني ملتیا وه، ولې د خپلواکۍ د مبارزې مخکښان په ژورلید سره د ټولنیز چاپېریال په ځار لو په دې پوهېدل او باوري وو، چې له زورور ځېښناکګر څخه د ځان ژغورلو لپاره دا اړینه ده، چې د قامي او مذهبي مینې په ملتیا خپلواکي واخستل شي. په دې لړ کې به د نوموړی لیکوال ګ. ف. ګېرس حواله یو ځل بیا راوړو:
"خان عبدالصمد خان هم هغه لاره طی کړه، په کومه چې خان عبدالغفار خان او د آزادۍ د غورځنګ نور پیاوړي مشران روان وو، دی د برتانوي هند د مسلمانانو د پان اسلامیزم پلوي هم وو او دا اتفاقي نه وه، چې ده د اردو څخه په پښتو د قرآن ترجمه وکړه، له دې ترجمې سره ګټوري تبصرې هم وې، چې ښکي یې د ورځنیو مسایلو سره اړخ لګاوه، د دغه تفسیر ژبه روانه او ادبي وه او په پښتني ټولنو کې یې ښه انعکاس پیدا کړ..." (۷)
خان شهید د نوموړي انګریز چارلټ ډایسن کار تر د نوموړي تالیف (THE FUTURE OF FREEDOM) پښتو ژباړه "**د آزادۍ پای**" په نوم کړې خو نیمګړې ده، البت د همدغه کتاب ژباړه یې په اردو ژبه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هم د (آزادی کا افق) په نوم کړې ده، چې له لاهور او کوټې څخه د چاپ په ګټنه پسولل شوې او تر خلکو پورې رسېدلې ده.

د نوموړې د تر سره شوو ژباړو په لړ کې مو مخکې هم دا خبره کړې وه، چې د ژباړو درنه برخه یې په زندان کې تر سره شوې ده، پورتنی یاد شوی کتاب هم **خان شهید** په زندان کې ژباړلی دی، په اړه یې لیکي:

"مجھے کینیڈا کے اس مشہور ادیب میاں بیوی چارلسٹ اور ڈائی سن کارٹر کی تصنیف فیوچر آف فریڈم ملی، جب میں انسان کی سب سے پہلی ضرورت آزادی سے محروم تھا، یعنی اپنی جائے پیدائش سے دور اور پنجاب کے جیلوں میں قید کاٹ رہا تھا۔" (۸)

د خپلواکۍ دغه مین او د زوکړې له ټاټوبي څخه لېرې په پردیو ولاتونو کې زنداني مخکښ **خان شهید** د وګړنیزې یا انساني خپلواکۍ په اړه دغه کتاب ځکه ژباړې، چې د خپلواکۍ په لړ کې د خپلو ارمانونو په زړه پورې انځور پکښې وینې، دغه کتاب د نوموړې په خیال د قامي خپلواکۍ، سیالۍ، ودانۍ او پرمختګ په زړه پورې استازیتوب لري. ولې چې په یاد کتاب (THE FUTURE OF FREEDOM) کې د ټولنیز ژوندانه د هر اړخیزې خپلواکۍ یادونه په مدلله توګه شوې ده او د یوې داسې ټولنې انځور پکښې وړاندې شوی دی، چې د روزګار په لړلو له بېروزګارۍ څخه خپلواکه وي، د لاس غځولو/ خیرات غوښتلو څخه یې په خپلواک اقتصاد ژغورلی ذهن په برخه وي، د انسانیت تر منځ د ټاکلې چوکاټ په ساتلو د خپلې رایې او خوښې خپلواکي ورسره وي، د خوشالۍ لپاره د کړنلارې ټاکلو خپلواک ذهنیت یې په برخه وي، د ناروغۍ په مخنیوي سره د روغتیا خپلواکي لرونکې وي، د برابرۍ، مینه ناک ارزښت، د ښځینه زدکړو او کارنده خپلواکي، د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زدکړو، د پنځ یا تخلیق خپلواک ذهن، له جرمونو ژغورېدلی چاپېریال، د تش په نوم ځان ښکاره کولو له ذهنیت څخه خپلواکي، د رسنیو خپلواکي او د مځکي په آبادولو سره د سیالۍ او ودانۍ خپلواکي او همداسي هوسا ژوند... همدا هغه څه دي، چي **خان شهید** د خپلي ټولني لپاره غوښتل او په همدې تور یې د ژوندانه ډېره درنه برخه د زندان په تورتمونو، کړاوونو او ځوروونو کي تېره کړې وه.

سرچینې:

۱: له خپل یادښت څخه د رحمت شاه سایل شعر دی...

۲: طارق؛ ډاکټر مقبول (سنگین فکری مغالطے) ژوري فکري تېروتني، ژباړونکی، محمد نعیم ازاد، خپروونکی، پښتو ادبي غورځنگ، چاپکال ۲۰۱۶ز مخ ۴۵۰

۳: جلال پوري، علي عباس، (عام فکری مغالطے) اولسي فکري تېروتني، ژباړن، محمد نعیم آزاد، خپروونکی، پښتو ادبي غورځنگ، چاپکال ۲۰۱۴ز ۴۰، ۴۱ مخونه

۴: صالح، صالح محمد، پښتو او د ژباړي اړتیا، خپرندوی، بېنوا فرهنگي ټولنه، چاپکال ۱۳۸۳ل مخ ۱

۵: چارلټ، ډایسن، (THE FUTURE OF FREEDOM) (آزادی کا افق) اردو ژباړه، عبدالصمد خان اڅگزی، مشموله، آخري بات، د عبدالرووف ملک لیکنه، خپروونکی، گوشه ادب جناح روډ کوټه، دویم چاپکال ۲۰۱۳ز مخ ۱۵۱

۶: سعدي، شیخ، گلستان، ژباړه، عبدالصمد خان اڅگزی، وړاندي کوونکی، پروفېسر عبدالغني خان غنو، چاپکال ۱۳۹۹ل ۲۰۲۰ز مخ ۳۹

۷: گیرس، گ، ف، د مېړني اولس ادبیات، ژباړن؛ معتمد شینواری، خپروونکی؛ د قومونو او قبایلو وزارت/ د نشراتو ریاست، چاپکال ۱۳۶۴ل ۱۹۸۵ز ۱۰۶، ۱۰۷ مخ

۸: چارلټ، ډایسن، (THE FUTURE OF FREEDOM) (آزادی کا افق) اردو ژباړه، عبدالصمد خان اڅگزی، مشموله، آخري بات، د عبدالرووف ملک لیکنه، خپروونکی، گوشه ادب جناح روډ کوټه، دویم چاپکال ۲۰۱۳ز مخ ۱۵۱

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خان شهید پښتو لیکدود ته
یوه سرسري یا اجمالي کتنه

دا سپیناوی اړین بولم، چې د ژبې د ګړدود او لیکدود په اړه به کومه کره او پخه لیکنه د ژبپوهنې (لسانیاتو Philology) په وړتیا (قابلیت) لرلو سره کوم ژبپوه (Philologist) او یا لږ تر لږه د ژبې کوم استاد (Language master/Linguist) تر سره کوي او بیا په ځانګړي ډول د یوې ځانګړي ژبې "پښتو" په اړه دغه چاره په ښه توګه هغه څوک تر سره کولای شي، چې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ښې پوره او ژوري کتنې یا مطالعې تومنه ولري، ولې ما ځکه دا کار ته زړه ښه کړ، چې د قامي، سیاسي شخصیت "**خان شهید**" د کردار په اړه په یوه لیکل شوي کتاب کې یې یوازې څه نا څه یادونه راته اړینه (ضروري) وایسپدله.

ژبه یوه ژوندۍ پدیده او د قام مونډیز (بنیادي) ارزښت دی، چې قام پرې پېژندل کېږي، د ژبې پر مختګ د قامي پر مختګ څرګندویه وي. د ژبې وجودي مانې پر دوو توکو لکه ګړدود او لیکدود باندې ولاړه او بنیاد لري، دا هغه مونډیزي ریښې دي، چې د ژبې ونه (درخته) د خپل وجود خړوبولو لپاره له ټولنیز ذهن څخه خپله تومنه (غذا) تر لاسه کوي، د پورتنۍ سرلیک په روښانه کې په کار ده، چې د لیکدود په اړه خبره وکړل شي، خو اړینه (ضروري) ده، چې تر لیکدود مخکې په ګړدود ځان و پوهوو او بیا د لیکدود په اړه پوهه تر لاسه کړل شي، ولې چې ګړدود د ژبې په پیدایښت کې تر لیکدود لومړی او لیکدود وروسته را منځته شوی دی، یعنې انسان لومړی ګړېدلی او خبرې یې کړې دي، وروسته یې دا ړتیا پر بنسټ لیک په کار اچولی دی.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ګړدود او لیکدود د ژبنۍ مانۍ دوې ستنې دي، چې د "ګړ" مصدر ګړېدل، د خبرو کولو په مانا او د "دود" مصدر دودول د پلي کېدلو، ټاکلي لاري، ټاکلي چوکاټ او یا هم قانون په مانا دی، چې په یو ځای کېدلو "ګړدود" د خبرو کولو و ډول ته ویل کېږي او همداسي لیکدود دی، چې د "لیک" مصدر لیکل او "دود" مخکې هم وړاندې شو، چې په یو ځای کېدلو "لیکدود" یې د لیکلو و ډول ته ویل کېږي.

دا باوري ده، چې هر څه د اړتیا پوره کولو لپاره تر سره کېږي، انسان له یو بل سره د پوهولو را پوهولو د اړتیا پوره کولو لپاره په ګړېدا یا خبرو پیل وکړ، چې وروسته یې په همداسي اړتیاد لیک لاره خپله کړې ده. پوهان باوري دي، چې د انسانانو تر منځ د پوهولو او را پوهولو د لیک لومړۍ بڼه انځوریزه یا تصویري وه، ماناد مزري، پسه او یا هم بل څه لپاره به یې د هغه بڼه یا شکل جوړاوه او یو بل ته به یې ښوده، چې د لرغونو مدنیتونو په پاتیشونو او آثارو کې یې نخښې نښانې موندل کېږي، خو له پرمختګ سره سم د خلکو شعور ورو/ ورو وده وکړه او د انسانانو له خولو څخه وایستل کېدونکو ږغونو یا مخرج ته ورته نخښې نښانې یې په لیک کې پیل کړې، لکه ږغونو ته ورته توري چې سماعي بلل کېږي، همداسي یې مخرجونو ته د ورته نخښو نښانو د ټاکنو هڅه وشوه، چې ورته مېخي لیک یا مېخي خط ځکه وویل شو، چې مېخ ته ورته وو، وروسته یې ورو/ ورو په وده کولو تر دې ځایه پورې ځان را رسولی دی. د اوسني لیک دود په لړ کې اروانباد استاد عبدالحلیم اثر د بابل در عهد قدیم د ۶/۵ مخونو په حواله لیکي:

"د یونان د زور لاتیني خط نه د یورپ موجوده خطونه او بل خوا د زور رسم خط نه د مشرقي ملکونو لکه عرب، تیونس، مصر. سودان،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مراکش، عراق، پارس، افغانستان، پاکستان او هندوستان خطونه را وتلي دي."(۱)

تر مېخي لیک را وروسته د پښتو د لیکدود په اړه څېړونکی استاد عبدالحلیم اثر یوه بله حواله داسي را اخلي:

"د پېښور د محمد یونس خان تالیف "د پښتنو تاریخ" نه یو روایت چي ماته را رسېدلی دی، وایي: چي د جاپان د شهنشاه مېکاډو په کتب خانه کښې د مهاتمابدهـ د مذهب یو کتاب دی، رسم الخط یې پالي یعني خروشتي دی او ژبه یې پښتو ده، غالباً د بلخ په شا او خوا کښې لیکل شوی دی." (۲)

خو د اروابناد "اثر" له دې وړاندي شوي نظر سره اروابناد استاد علامه عبدالشکور رشاد داسي اختلاف څرګندوي، چي پالي یوه ژبه ده، خو خروشتي رښتیا هم د یوه لیک نوم دی، اروابناد علامه رشاد لیکي:

"د ښاغلي اثر په دغه لیکنه کي د لیک د یوه سسټم په توګه د پالي ذکر ماته د تامل وړ ښکاري، ځکه چي پالي (Pali) د یوې خاصي هندو آریایي ژبي نوم دی، د نوموړي "اثر" دَ را اخستل سوي وینا دا برخه چي "تر اسلام پخوا د پښتو خط خروشتي وو" څه اړخ لګوي، خروشتي رښتیا هم د یوه خط نوم دی." (۳)

استاد علامه د سدهیشور وَرما د تالیف ۵۵ مخ په یادونه سره زیاتوي، چي په لغت کي "پالي" د کتاب متن ته وایي، وروسته وروسته دغه کلمه د متن د ژبي په مانا باب سوې ده.

د خروشتي لیکدود په اړه دروند استاد اروابناد علامه رشاد د یو شمېر ماخذونو "A Hand Book of Gallery in The Peshawar Museum The Inscriptions" رهنمائے ٹیکسلا" او "تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان" یوسفزی افغان" Ashoka د Smith

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تالیف"د پښتون د کتیبو رهنما مقدمه" د بېلا بېلو مخونو په باور دا خبره داسي ورپسې څرګندوي او لیکي، چې:

"په پښتونخوا کې د آمو له غاړې را نیولې تر سیستان، کندهار، ژوب، کورمي، پښور، تیکسلا، سوات، امب، باجوړ، هډه (ننګرهار) او وردګو پورې په هر ځای کې په دغه خروشتي لیک سره کنبل سوي سیکې، لوښي او کتیبې پیدا سوي دي، چې د لندن په برتش میوزیم کې د جولیان (A۱۵) لمبر ستوپې لیکنې، د پښور په میوزیم کې ۱۱، ۲۱۲۴، ۲۸ لمبر کتیبې چې له جمال ګړي، خدوخېل او چارسدې څخه لاس ته راغلي دي، د خروشتي خط غوره نمونې شمېرلې کېږي، د پښور په شهبیاز ګړهـ او د هزارې په مانسهره کې د راجا آشوکا کتیبې هم په دغه لیک کنبلي دي." (۴)

خو د اوسني لیکدود په اړه اروانباد استاد اثر د مرآت الانساب په حواله زیاتوي، چې د پښتو ژبې اوسنی لیکدود (رسم خط) د عربي ژبې پر نسخ لیک باندې جوړ دی او جوړوونکی یې د محمود غزنوي باچا وزیر حسن میمندي ګڼل کېږي، چې ورپسې لوی شمېر څېړونکو و دغه نظر ته د منلو ذهن او زړه لرلی دی، خو د "یوسفزي افغان" کتاب د مؤلف الله بخش یوسفي اختلاف اروانباد علامه بابا داسي رابنیي:

"د یوسفزي افغان د کتاب مولف بناغلی الله بخش یوسفي غزنوي د خپل دغه کتاب د ۱۴۸ مخ په حاشیه کې د پښتو الفبې د مبدا پهجاب له احتیاطه کار اخستی دی او کنبلي یې دي:

"ویل کېږي، د پښتو دغه اوسنی اصلاح سوی رسم الخط د سلطان محمود غزنوي په زمانه کې شیخ ابوالفتح را ایستلی دی." (۵)

د پښتو په لیکدودي پراوونو کې وروسته د پیر روښان (بایزید اورمړ) له خوا د څه تورو د رغوني (جوړښت) او یا هم زیاتوالي خبره شوې ده

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او ورپسې د خوشال بابا د زنځیري لیک خبره راځي او ورپسې بیا د اروابناد محمد ګل خان مومند او را وروسته یې د "**خان شهید**" عبدالصمد خان د پښتو ژبي د لیکدود په اړه وړاندیزونه دي.

څرګنده دي وي، چي له "پښتو ټولني کابل" څخه تر اوسه پوري نورو بېلا بېلو ادبي ټولنو هم په دې لړ کي د ځینو څېړنغونډو تر سره کولو هڅي او وَس کړی دی او د ژبپوهانو په ملاتړ سره یې څه پرېکړي کړي دي، چي تر لویه بریده پوري پلي شوي هم دي، خو یووالي ته اوس هم خبره نه ده رسېدلې او لا هم مزل پاتي دی...

د لیکدود په لړ کي د پورته یادو شوو وروستیو نومونو یادونه ښاغلی پوهاند عبدالغني خان غنو هم کوي او داسي لیکي:

"د پښتو د لیکدود موږ ویلای شو، چي په دې لړ کي په کړکېښ (تاریخ) کښې پنځه نومونه دي، چي پښتو ته یې خپل لیکدود ورکړی دی او یا یې په هغه کښې سمون راوړی دی، هغه پنځه ښاغلي دا دي: حسن میوندي، بایزید روښان، خوشحال خان بابا، محمد ګل خان مومند، بابائ پښتون **خان شهید**." (۶)

هېره دي نه وي، چي اروابناد قلندر مومند هم د پښتو لیکدود په لړ کي پر یوه ځانګړي ځای د داسي "هـ" پر کارولو ټینګار کړی دی، خو دا یادونه او سپیناوی هم اړین (ضروري) دی، چي په لیکدود کي د دې "هـ" په چرګۍ هې یادولو او د لیکدود د ستونزو هوارولو لپاره لومړی پرېڼ (وړاندیز/ تجویز) هم **خان شهید** په ۱۹۵۶ز کال کي کړی دی.

د لیکدود او په ځانګړي ډول د پښتو لیکدود د زماني پړاوونو په اړه د پوهانو لیکوالانو تر وراشو او مباحثو وړاندي کولو وروسته به راشو، د خپل سر لیک (د **خان شهید** پښتو لیکدود ته یوه اجمالي یا سرسري کتنه) لوري ته چي نوموړي د لیکدود په اړه و ژبپوهانو ته د وړاندیزونو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په توګه څرګند کړي دي، خو په دې لړ کې تر اوسه پورې د کوم ژبپوه له خوا (چې د ژبې په بېلا بېلو څانګو کې لکه فونولوژي یا د ږغونو د جوړښت سرېښته او نظام. مورفولوژي یا ویې پوهنه او یا هم د پښویې (ګرامر) سرېښته او نظام او یا داسې کومه بلې علمي وړتیا ولري) په لیکلي ډول داسې ډاډمنوونکی ځواب مانه دی لیدلی، چې ورکول شوی دي وي، په کار ده، د ژبپوهانو له خوا دا وراشې و څېړل شي.

د ژبې په اړه او په ځانګړي ډول د پښتو ژبې د لیکدود په اړه د **خان شهید** کار او زیار زه د وړاندیز په توګه ځکه یادوم او پاموم، چې دا یوه پوهنیزه او علمي رویه ده او **خان شهید** یې پخپله هم یادونه کړې ده، چې ژبپوهان به په دې لړ کې نوره هم پاملرنه تر سره کړي، ولې په هره څانګه کې هیڅ کله یو پوه او عالم څوک تر هغو پورې پرېکنده خبره نه کوي، تر څو چې یې یوه کوتلې او ساینسي پایله نه وي لرلې، نو د پښتو ژبې د لیکدود په اړه د **خان شهید** نظر د وړاندیز په توګه دی...

وړاندیز دا چې زه (آزاد) اوس د همدې لیکنې له لارې د ژبپوهانو به مخ کې دا وړاندیز کښېږدم، چې کوم توری د تګ، خوځښت په اړه و ویل شي او یا هم د تګ او خوځون استازیتوب کوي، نو په کار ده، چې په پښتو ژبه کې داسې توري په "ځ" و لیکل شي، نه په "ز" لکه ځانګو په زانګو. ځوږ په زوږ. ځګ په زګ. لړځېدل په لړزېدل. ګرځېدل په ګرزېدل او داسې نور... نو د داسې وړاندیز په اړه په کار ده، چې د ژبپوهانو له خوا څېړنه او سپړنه تر سره شي او تر کره کېدا وروسته بیا یوه کلیه و پاموله شي، همداسې په کار ده، چې د ژبې په لړ کې د **خان شهید** زیار او کار په ژبپوهنیزه وړتیا او علمي وس د ژبپوهانو له خوا په څېړنه او سپړنه تر سره کولو سره کره او یا هم ځواب کړل شي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هېره دي نه وي، چې په دې لړ کې د شلمې پېړۍ د پنځوس په لسیزه کې څه نا څه وراشې (مباحث) پیل شوي وې او د **خان شهید** له خوا د لیکدودي وړاندیزونو په غبرګون کې په "ګلستان" مجله کوتې کې د مولوي عبدالخالق تارن، سلطان محمد صابر، ضیاؤالدین لاجوري او محمد نواز خټک له خوا او په "اباسین" "لار" "رهبر" "جمهوریت" پېښور مجلو کې د پښتو د لیکدود او ګړدود په اړه د محمد اکبر خان، طاهر بخاري، قلندر مومند او فضل حق شیدا له خوا څه نا څه غبرګون ښودل شوی وو، چې د **خان شهید** له خوا یې ځوابونه هم وویل شول او چاپ شوي هم دي، خو د څه لاملونو له کبله دغه لړۍ پرله پسې نه ده پالل شوې، کنې نو اختلافِ نظر او بیا د اختلاف پر تکي باندې د خپلې پوهې تر بریده پورې بې لَه بند و باره، بې له توندوالي د لاسوندونو یا دلایلو په رونا کې په غوږ پدلي ذهن او زړه د وراشو (Discussions) تر سره کېدل د پرمختګ پوهنیزه او علمي لاره پرانیزي، که چېرې دغه لړۍ همداسې د ژبپوهانو تر منځ پالل شوې وای او یا هم اوس و پالل شي، نو د ژبې د پرمختګ او ودې لارې یې څوک هم نه شي نیولای، په دې لړ کې د ځانله ژبپوهانو له لورې ډېر په زړه پورې کار شوی دی، لکه د ډاکټر پوهاند زیار، ډاکټر پالوال او نورو هو! د **خان شهید** د لیکدود په اړه تر پورتنیو یادو شوو وراشو یا مباحثو وروسته په اولس کې یوازې څه نا څه ګنګوسې شته، چې د ځینو داسې لوستونکو له خوا (چې مورنۍ ژبه یې پښتو، د مذهب او مذهبي لوست ژبه یې عربي، پارسي او د عصري زدکړو ژبه یې اردو او انګرېزي وي) د غبرګون په توګه اوربدل کېږي او غبرګون هم داسې چې دغه لیکدود ګران او مورِ یې نه شو ویلای یا لوستلای، له همداسې خلکو څخه د پښتو ژبې په اړه هم دا خبره اوربدل کېږي،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې پښتو ژبه ګرانه ده او موږ یې نه شو لوستلای، ولې په دې لړ کې په همدې یادو پښتنو کې داسې ډېر لږ شمېر کسان شته، چې و اولس ته د خپلې ژبې د ګرانښت د لاملونو او خنډونو په اړه هم فکر وکړي او په هڅو (کوښښ) تر سره کولو سره یې د هوارولو لام و تړي.

څرګنده دي وي، چې د نړۍ هیڅ یوه ژبه داسې نشته، چې ټولمنلی او یا هم په ټولیزه توګه دي د لیکدود د یووالي ارزښت په برخه و لري، البته د یووالي لوري ته یې لږ او ډېر پرمختګ کړی دی او دا هم ویل کېږي، چې د انګرېزي ژبې مخور لیکوال برنارډ شا خپله ټوله شتمني د همدې لپاره ځانګړې کړې ده، چې د ژبې دغه ورټیا پر ځای کړي.

داسې ښکاري چې ډېري پرمختللي ژبې یوه، دوې، درې به د لیکدود یووالي ته څه نا څه ور نژدې شوي وي، خو دا هغه ژبې کېدلای شي، چې قام یې تر ټولا ټیټو پوهنیزو پړاوونو په وتلو یا تېرېدلو سره د علم او پوهې و داسې اوج ته رسېدلی وي او د ژبې یې دومره پوهنیزه/ علمي ورټیا او ارزښت په برخه شوی وي، چې د خپلو ټولنیزو هر اړخیزه اړتیاوو پر پوره کولو سربېره د نورو ټولنو د اړتیاوو د پوره کولو وړ هم وي، د پنځ/ ایجاد/ اختراع پر وزرونو باندې یې د نړۍ هري ګوښې ته ځان رسولی وي او اولسونه یې ویلو، لوستلو ته اړ او مجبور پاته وي، لکه په اوس مهال کې انګریزي او داسې نورې پرمختللې ژبې چې د طب، ساینس، ټکنالوژي او نورو علومو ژبې دي.

د داسې پرمختللو ژبو و شاته پوهنیزه ورټیا لرونکي قاموسونه ولاړ وي، چې ژبه یې په خپل زمان او مکان کې پر خپل وخت د قامي ژوند او پرمختګ لپاره بنسټیز ارزښت پاملې وي، د ژبې په علمي کولو او پوهنیزه ورټیا تر لاسه کولو یې د کورنیو او بهرنیو (داخلي او خارجي)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ارزښتونو په پاللو سره تر داسي پراوونو پوري لاره وهلې او د پرمختګ اوج ته رسېدلي وي او لا هم لګیادي، چې مخ ته ولاړ شي.

د کورنیو او بهرنیو ارزښتونو په باور ویلای شو، چې په کورنیو ارزښتونو کې ژبه د قام مونډیز (بنیادي) ارزښت دی، د ژبې ودانېدل قام ودانوي. د ببلګې په توګه د یوې ونې (درختي) ریښې "چې څومره پیاوړې وي" هومره به ونه پیاوړې وي. نو ژبه هم د قام لپاره داسي وړتیا لرونکې پدیده ده، ژبه چې څومره علمي او پوهنیزه وړتیاو لري؛ هغومره به یې قام پر پښو ولاړ او پیاوړی وي، خو داسي قامونو ژبې (په ځانګړي ډول پښتانه) "چې د ژوندانه په لومړیو پراوونو کې پاته وي" د خپل قام ژوندنی اړتیاوي نه شي پوره کولای، ولي چې هغوی ژبې ته د مونډیز ارزښت په سترګه نه وي کتلي او نه په دې ست وي، چې د ژبې په علمي کېدا او وړتیاسره ټولنه ودانېږي، د ژبنې پرمختګ هڅې یې په ببلا ببلو پلمو له ځنډ او خنډ سره مخامخ وي، اولس یې د ژبې په ارزښت ناخبره وي، د خپلې ژبې ارزښت یې په اولس کې د مذهبي ژبې په وړاندې ټیټ وي، د علمي ژبې په وړاندې یې دارزښت لوړېدا ته لاري نه پرانستل کېږي، د قبیلوي ګړدودونو (لهجو) په دام کې بنکېل پاته وي او ګړدودونه یې د ژبې په اړتیا پوره کولو سره د غوړېدا پر ځای د کرکو او نفرتونو لامل وي، آن چې له ادب سره تړاو لرونکي داسي لیکوال هم لري، چې د ژبې ادبي شتمني "ببلا ببل ژانرونه" هم د قبیلو له نومونو سره تړل غواړي او په داسي کولو یې ذهن او زړه قرار مومي، ژبه یې د ګاونډیو او نړیوالو علمي وړتیا لرونکو ژبو د بریدونو او تهاجم تر څپو لاندې وي او پردې ټولو بې غوړیو سربېره یې ټولنه د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره مقابل ژبې اړتیا هم و لري او د هغوی له خوا په ګوابنلو د مرګ له اندېښنې سره مخامخ وي،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ماناډا چې علمي وړتیانه ولري، د طب ژبه نه وي، د ساینس او ټیکنالوژي ژبه نه وي، د ټولنیزو ستونزو د هوارولو لپاره د خپلو وسایلو او شتمنیو په کار اچول یې په وس کې نه وي، ذهنونه یې فلج او ګوزن پاته وي، د پنځ/ ایجاد یا اختراع تصور هم نه شي کولای او د پرمختګ له هر ساینسي پنځ/ ایجاد لکه ریډیو، ملفون او نورو سره لس، شل کاله بېځایه د عقیدې ساتلو په پلمه د مزاحمت کولو ذهنیت هم وي، د عصري زدکړو په لاره کې یې عقیده، غربت، زیاتوب لکه غرولاړ وي او داسي نور نور...

نو د داسي قامونو د ژبو ګړدودي او لیکدودي یووالي ته ډېر لوی مزل او پراوونه پاته وي، چې له قبیلویت څخه په وتلو به قومیت ته لاره وهي او له ګړدودونو څخه به د ژبې لپاره په وړ کار اخستلو د امتزاج او یووالي لوري ته مزل کوي، په علمي او منطقي روزنه سره به د یادو خنډونو د هوارولو ټولنیز ذهن او زړه را منځته کېږي او وروسته به د علمي ذهن او زړه په لرلو سره د ژبې پوهنیز ارزښت تر لاسه کوي...

د کورنیو یا داخلي ارزښتونو په څنګ کې به د قام سیاسي واک او پوهه د خپلې جغرافیه، شتمنیو، کانونو، اوبو او نورو وسایلو په اړه پوره خبرتیا او پوهه لري او په همدې ارزښت به د نړیوال چاپېریال په شالید او یا تناظر کې د بهرنیو یا خارجي ارزښتونو په ساتلو د خپل تشخص، قامي ګټو په ساتنه کې بریا په برخه لري او له هغوی سره به د پوهې او غوړېدلي ذهن په توان د ګډو ګټو د ساتلو تومني د اولس په ذهنونو کې تبارز او ځای نیولی وي، جذبات به یې د قامي ودانۍ لپاره چمتو وي او دا هر څه د رناوی په علم/ پوهه او سیاسي واک سره تر سره کېږي، چې د همداسي ارمان په لرلو سره **خان شهید** او نورو مخورو د خپلې قامي ژبې "پښتو" او قام "پښتانه" د علمي توان تر لاسه کولو او په علم او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پوهه سره د تولني د هر ډول اړتياوو پوره کولو ذهن او زړه درلودی او د همدې وړتيا تر لاسه کولو او د قامي ودانۍ د ارمان پوره کولو لپاره يې علمي او سياسي هلي ځلي تر سره کړي دي.

مخکې مو هم يادونه کړې وه، چې اړتياوې لاړې پرانيزي او هر څه د اړتيا پر بنسټ تر سره کېږي، **خان شهید** د خپلې تولني او ژبې و اړتياوو ته په کتلو سره د خپل تر سره شوي کردار ذهن او زړه لرلی دی.

خبره له خپلې سکالو (موضوع) "د ژبې ليکدود" څخه پر تولنيز فکر باندې د نيوکې او سياست ډګر ته و وتله، خو د خپل سر ليک لوري ته به راشو... مخکې مو هم يادونه وکړه، چې **خان شهید** د ليکدود په اړه دغه اړتيا پاملې يا احساس کړې ده، نو يې خپله هڅه او وړاندیزونه را منځ ته کړي او وړاندې کړي دي.

پوښتنه را منځته کېږي، چې آيا! زمونږ ابېتې / ابېڅې (حروف تهجي) اوس هم زمونږ د تلفظ د اداينې اړتياوې پوره کولای شي او که نه...؟ څرګنده ده، چې غبرګون يا ځواب به يې په "نه" سره وي، نو ځکه له ژبې او قامي پرمختګ سره مينه لرونکي پوهان پر خپل وخت د دغه موندېزې اړتيا د هوارولو هڅاند ذهن او زړه لري، مانا دا چې مخ نه ځنې اړوي، د ليک دارزښت په اړه ژبپوه استاد پوهاند ډاکټر مجاور احمد زيار داسې ليکي:

"په نړيوال کلتوري ډګر کې يوازې هم هغه ژبې بريالۍ شوي دي، چې يا يې مخکې له مخکې يو غوره بنسټ راوړل شوی دی. د يوه لکه ترکي غوندې وروسته بدلون او سمون راوړل شوی دی. د يوه غوره او منطقي ليکنې سسټم ځانګړتياوې دا دي، چې د اړوندې ژبې د ببلا ببلو سمبولونو "غږونو / ږغونو" لپاره ببلا ببل سمبولونه "توري" ولري او د توپير او نه ګډون پر بنسټ او آر و لاړ وي، چې داسې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یو لیکنی یا الفبایي سستم ته فونیمیک یا غږیز لیک ویل کېږي، یو په زړه پوري فونیمیک لیک بیا دا دی، چې تر وسي پوري ساده او لیکل او یو له بله یو ځای کول، یادول او زده کول یې آسان وي، آن د ټایپ/ چاپ او نورو تخنیکي وسیلو په پام کې له نیولو سره..." (۷)

د لیکدود په اړه د ژبپوه پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار پورتنۍ خبرې او د لیکدود په اړه د **خان شهید** وړاندیزونه ښې ورته والی لري، خو دومره توپیر شته، چې د پوهاند زیار وړاندیز دا دی، چې دغه ستونزه او ژبنۍ ربړې په ربنتینې توګه په لاتین لیکدود هوارېدلای شي او **خان شهید** په همدې عربي لیکدود کې د سمون په نیامت د هڅو تر سره کولو ذهن او زړه لرلی دی، خو **خان شهید** پر دې سربېره دا هم ویلي دي، چې کـه تـول قـام لوسـتی شـي او د ژبـې پـه ارزښـت او وړتیـا وپوهېږي، نو بیا هم هر ډول بدلون تر سره کېدلای شي.

همدا د هڅو هغه پرله پسې والی او تسلسل دی، چې تر هوارېدلو پورې به له ژبې او قامي پرمختګ سره د مینې لرونکو په ذهنونو کې ځای لري. د پښتو د ودې او پرمختګ په لړ کې استاد زیار په باوري توګه وایي، چې پښتو یوازې په یوازینۍ ښه پرمختګ کولای شي، مانا دا چې تر څو یې لیکنې ښه یو ډول شوې نه وي، تر هغو پورې به یې د پرمختګ په لاره کې خنډ او ځنډ پاته وي، په دې لړ کې یو ځای لیکي: "د پښتو د پرمختګ لپاره تولې هلې ځلې تر هغه وخته بې ګټې او ناکامې دي، چې تر څو یې یوه ګډه (لیکنې) معیاري ښه په ځانګبړي او ټرونې ډول تاکل شوې او را منځته شوې نه وي، تر هغې به یې نه روزنه او وده سنباله شي، نه به یې پراختیا او دودتیا کېدون و لري، نه به یې د سپېڅلي پاتېدو ډاډ تر لاسه شي، نه به یې د سپېڅلتیا (سمي او ناسمي) پوله او برید جوت شي، نه به په منلې توګه بشپړتیا او پیاوړتیا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

و مومي، نه به يې د الفبايي او ليکني سمون هڅه او هاند کوم ځای ته و رسي او تر ټولو وروسته نه به يې د علمي کېدنې او کلتوري کېدنې ستره هيله تر سره شي." (۸)

د ژبې د پوهنيزې وړتيا تر لاسه کولو او يا هم علمي کېدا په لړ کې که موږ د **خان شهید** وړانديز په ژور ليد سره و څارو، نو پوهېږو، چې **خان شهید** همدغه پوهنيز او علمي نظر درلودی، د يوه ليکدود په ارزښت باندې خبر ځوک وو او په دې اړه يې د ويړ او پراخ نظر په لرلو هيله درلوده، چې تر څه پرا وونو په ورتېر بدلو به پښتانه لاسرسی ورته و لري، خو وخت به نيسي، نوموړی داسي ليکي:

"زما په ګمان دا کار نن د سره کېدای نه سي، د تيرا يو اپريدی چې نه يې کندهار ليدلی دی او نه سوات، هغه د هغو په ژبه څنګه ږغېدای سي او څه راز څه پکښې ليکلای سي؟ دا جوړه خو هله کېدای سي، چې د پښتونستان خپل واکه ولات (صوبه) جوړ سي او پښتو سرکاري ژبه سي، د ولات (صوبې) په ټولو بنووڼځو (مدارس) کې د پښتو زدکړه په ټرون (لازمي) سي، نو د لوستو د پاړکو (کتب) د جوړولو پر وخت به سرکار د ټولې پښتونخوا د ژبپوهانو (ادیبانو) يوه لويه جرګه را غواړي او په ټولو به د يوې تپې ژبه خوښوي، چې په ټول ولات کې لوست يو شان ته او ډېر سي، چې داسي وخت راسي او هيله ده، ژر به راسي، چې پښتون قام خپل د ژبې ولات (صوبه) او بنووني (تعليم) واک پيدا کړي، نو به د زدکړې او ليک ژبه يوه کېږي." (۹)

استاد زيار د ژبې د ودي او پرمختګ دارمان په اړه زياتوي، چې دا هغه ژبنی اړتيا او غوښتنه ده، چې موند يې موږ د غلام محی الدين افغان په هڅتابه (ادبي پيلامه/ کوښښ) کې وينو، چې تر پېړۍ زيات وخت مخکې يې د دې اړتيا پاملې او په دې لړ کې يې د هڅو پيل کړی وو.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لومړی په کار دی؛ د لیکدود په اړه د **خان شهید** وړاندیزونه (تجاویز) و پاموو او وړاندیزونه یې ځکه بولو، چې **خان شهید** پخپله هم د علمي تګلاري (اصول) په پاللو سره وایي، چې د پښتو په اړه چې مې کومې خبرې له ډېره وخته پر زړه ګرځېدې؛ هغه به ستاسي و مخ ته وړاندې کړم، ګوندې په تاسي کې ځینې داسې شاځلمي او پوهان پیدا سي، چې د ژبې د ودې تر دې نوري زیاتې ګټمېړه لارې پیدا کړي.

او دا هم زیاتوي، چې ګوندې په دې ګټمېړه کار کې د پښتون قام د سبا (مستقبل) و کار ته او د راتلونکو پېړو پښتو شاګردانو و اسانې ته د ښاغلو پوهانو او غښتلو زلمو څه نور زیات پام سي...

یادا چې نومورې د پوهانو پام دې ته را اړولی دی، چې په پښتو کې د دې بَندو (خندونو) تاوان او ګراني و وړو او نوو شاګردانو ته پېښېږي، ښاغلي پوهان دې د هغو په سترګه ورته و ګوري، نه چې د اوسنو لوستو په سترګه چې په سلو کې یو یا دوه تنه دي او د خواږیو وخت باندې تېر سوی دی، دوی دې خپل وړوکوالی او د ښوونځي شپې ور په یاد کړي، د دې خبرو و شاته د **خان شهید** د زړه ارمان دا وو، چې:

"دا د یوې غونډې کار نه دی، د دې د پاره به هر پښتون ځان او په نورو اولسي ډلو کې کار کوي، زیار به کاږي، نو هله به و سر ته رسېږي، دلته مور خالي دا کولای سو، چې خپله ژبه داسې سپېځلې او اسانه جوړه کړو، چې هر کله چې هغه وخت راسي، نو ژبه د هرې خوا د دې وړ وي، چې هغه د یو خپلواکه اولس د سرکار، اخبار، ښوونځو، (سکولز) پوهنځو (کالجز) او پوهنتون (یونیورسټي) ژبه سي." (۱۰)

خان شهید په پښتو لیکدود کې په وړاندیز کولو سره غوښتنه کړې ده، چې یوه داسې تګلاره و تاکل شي، چې په هغه کې د پښتو لوستونکو لپاره اسانې وي او په لیکلې پښتو باندې و پوهېږي، څرګنده ده، چې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په لیکلې پښتو کې داسې ستونزې شته، چې د لوستونکو لپاره د خندې او نه پوهېدا لامل کېږي، لکه مور مخکې هم یادونه وکړه، هغه داسې چې لوی شمېر سره ورته (ملتبس) او په یوه جامه توري شته، چې مور یې توپیر نه شو کولای، آن چې په جملو کې یې هم کله ناکله توپیر نه شي کېدلای، **خان شهید** هم دغه ستونزو ته په پاملرنه د پښتو لیک لپاره خپل وړاندیزونه داسې کړي دي، چې:

"په دې نوي خت (خط) کې نوي ټکي (حروف) دا دي:

پېښې: (ضمه) لکې لرونکی ـو. لکه د لور – تول – نور (رونا) لپاره

اوږد واو: (واو مجهول) غږوندی لرونکی وـ د لوړ، تول، نور لپاره

اوږده ے (یایې مجهول) ـ غږوندی لرونکې ے لکه دې، ځې، وې لپاره

زور: د "ز" په ساکن (فتحه) ـ ه لکه تېره، کوټه، پټه لپاره

هـ د غږوندي لرونکي ے په ګډون لیکل کېږي (ها) ـ هـ د تېرهـ، کوټهـ، پټهـ لپاره" (۱۱)

لومړی د اوږد "و" او پېښې (ضمه) په کارېدونکو ځایونو کې چې **خان شهید** د توپیر کولو لپاره کومې نخښې خوښې کړي دي، چې اوږد "و" ته یې لاندې غږوندی/ وړغندی ور اچولی دی او د "کور" "لور" "زور" "مور" غوندې توري په بېه ډاډمنه توګه و لوستونکي ته څرګندوي، ورپسې د پېښې لپاره په "و" کې د "واو" په لاندې برخه کې د بنځینه "ی" د بېلتون لپاره د ور اچول شوي لکې په ځېر کرښه ور اچوي، چې د لوړ، (دختر) سور (رنګ) چور (غلا) غوندې یو شمېر توري له اوږد "و" لرونکو تورو څخه په بېه ډول بېلوي، زه فکر کوم، توري چې په پښتو لیکدړه یا کې بورډ کې د دې شتون (موجودګي) بېخې اړین (ضروري) دی، چې په لیک کې به د ورته یا ملتبس تورو د بېلتانه لپاره و هر پښتو لیکونکي ته ګټمن او په زړه پورې و ایسېږي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په پښتو لیکدود کې د "واو" پر ارزښت د **خان شهید** پر وړاندې شوې وړاندیز/ بحث سربیره یو شمېر نورو څېړونکو او ژبپوهانو هم یاده کړې او څېړلې ده، چې په هغوی کې په ځانګړې ډول د "واوونو" او معدوله واوو په لړ کې یوه څېړنه ښاغلي څېړونکي استاد حبیب الله رفیع تر سره کړې او د پوره کتاب په بڼه یې وړاندې کړې ده، نوموړی څېړونکی په پښتو کې د "واو" ډولونه څلور یادوي او داسې یې را ښیي:

"د "و" مورفیم په ژبپوهنه کې له ډېرو اړخونو څېړل کېږي، د الوفونو له مخې واو څلور ډولونه لري: ۱: بې واکه واو. ۲: مجهول واو. ۳: معروف واو. ۴: معدوله واو." (۱۲)

وروسته را ښیي، چې بې واکه واو د نورو بې واکه ږغونو/ غږونو غوندې د خپلواکو ږغونو/ غږونو په مرسته لکه په ولور، وار، لو، واوره، یو او... د مجهول یا اوږد "واو" او معروف یا پښښ لرونکي "واو" په اړه مخکې یادونه وشوه، لکه اوږد "واو" په لور، تول، نور کې او پښښ لرونکی "واو" په لور- تول- نور (رونا) تورو کې څرګند دی او معدوله "واو" په خوښ، خوند، خواړه، خواږه، پښتونخوا، ځانخوښي او داسې نورو تورو کې چې نوموړي یې پوره قاموس وړاندې کړی دی، د معدوله واو په همدې څېړنه کې ښاغلی څېړونکی استاد رفیع داسې لیکي:

"دا هم د یادولو ده، چې مجهول واو ته یو وخت د ویرګول/ کامې (،) نخښه ورکول کېده، خان عبدالصمد خان (**خان شهید**) د "و" (د پای په برخه کې غږوندی/ وړغندی لرونکې بڼه) لیکه او په پښښور کې یې یوه تولنه د (ۆ) په بڼه لیکي، همدا راز معروف واو ته په پښښور کې د پاسه پښښ ورکول کېږي، چې د باړه ګلي په وروستیو پرېکړو کې یې هم یادونه شوې ده، چې معروف واو ته پښښ ورکړل شي." (۱۳)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د ژبپوهنې په لړ کې لیکوال استاد حبیب الله رفیع د **خان شهید** نوم اخلي او په اړه یې خپل نظر داسې وړاندې کړی دی، چې:

"اروانباد خان عبدالصمد خان اڅکزي ګڼ اړخیز شخصیت درلود، دی پر یوه وخت د اولس خان، د خلکو رهبر او سیاسي لیډر وو او ورسره د پښتو او اردو ژبو لیکوال، پیاوړی ژباړن، د پښتو ژبې او لیکدود تیوریسن او نوښتګر وو، د دې تر څنګ ښه ژورنالست او د ملي ژورنالیزم هڅوونکی او پالونکی وو." (۱۴)

تیوریسن د استادانه نظر لرونکي په مانا چې **خان شهید** د پښتو ژبې او لیکدود په اړه یو نظر استادانه درلود او هم یې وړاندې کړی دی، همدې ته ورته نظر د نوموړي لیکوال اروانباد استاد ابراهیم عطایي دی، چې د **خان شهید** د پوهنیزې وړتیا (علمي قابلیت) په اړه لیکي:

" **خان شهید** یو د زړه ډک، بامقاومت، روک ګویه (ربنتیا ویونکی) سیاسي رهبر وو، دی نه یوازې د سیاست په سیر او پودینه آګاه وو؛ بلکې په عین زمان کې یو عالم او ژبپوه پوهاند هم وو، د ده څخه نه یوازې په سیاسي صحنه کې د ربنتیانې رهبري د لارښوونې تعلیمات په میراث پاته دي؛ بلکې د علمي څېړنو آثار او علمي ترجمې یې هم په میراث پرې ایښي دي." (۱۵)

دویم وړاندیز د اوږدې "ې" دی، چې **خان شهید** د مخکینۍ دوه ے په وروستۍ برخه کې د غږوندې/ وړغندې زیاتوالی پسې کوي او په داسې بڼه لیکل کېږي، چې قلم به روان او له چغدې ښکاغذ څخه د پورته کېدلو اړتیا نه لري، خو اوس په داسې بڼه "ې" لیکل کېږي او دا بڼه یې د **خان شهید** تر وړاندیز وروسته تاکل شوې ده، له دې څخه هم جوتېږي، چې په لیک کې یې د تاکنې اړتیا مخکې هم وه، چې نوموړي یې وړاندیز کړی وو، خو داوسنۍ تاد، بڼې او د **خان شهید** د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تاکل شوي بڼې توپیر دا دی، چې په دې تاکل شوې بڼه کې به د دوو لوړ او ځوړ تکو ور کولو لپاره قلم پورته کېږي او د **خان شهید** په تاکلې بڼه کې دا اسانې وه، چې قلم به روان پاتېدی... او په دې کې یوه بله ستونزه هم هوارېدلای شوه، لکه نن چې هم شتون لري او د بر لیکوال یې د "جمع" په دلیل وړاندې کولو سره اوږده "ې" لیکي، خو د لوېدیځ لیکوال یې په څرګنده یا معروفه ي سره لیکي، لکه بښځې/ بښځي او یا هم داسې نور نور... مانادا چې په پښتو لیکدود کې د اوږدې "ې" پر دوه ځایه کارېدلو له کبله اوس هم بېلتون شته.

په لیکدود کې د **خان شهید** بل وړاندیز د زور (فتحه) دی، چې دا هم د تورود ورته والي (التباس) د بېلتانه لپاره بېخي اړین (ضروري) برېښي، ولې موږ (له پښتو لیک سره آشنا خلک) پوهېږو، چې دغه ورته والی یا التباس لوستونکي تېر ایستلای شي، لکه په کوټه (د پښتنو د ځلورم منځې/ مرکز - ښار کوټه) او کوټه (د مېلمنو د ناستې خونه/ مېلمستون) او یا تېره او تېره چې موږ وایو، هغه (بښځه) تېره شوه او هغه (چاړه) تېره شوه، نو که دواړې یو ډول و لیکل شي، ورته والی یا التباس یې لوستونکي تېر ایستلای شي او د واړه (کوشنې/ کوچنې) لوستونکي په ذهن کې خو بېخي ګډوډي را منځته کوي.

نو په دې اړه هم ژبپوهان لیکوال او په ځانګړې ډول د ژبې په ږغیزه (فونیمیک) برخه کې پوهنیزه وړتیا (قابلیت/ مهارت) لرونکي کولای شي، چې د لیک په لیکدړه (کې بورډ) کې یې د شتون وړاندیز وکړي او کېدای شي، چې په داسې راتلونکي وخت کې یې اړتیا نوره هم زیاته شي، هغه د **خان شهید** دارمان خبره "چې پښتو د پښتنو د هر اړخیزه اړتیاوو پوره کولو واکمنه ژبه شي."

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د لیکدود یو کولو په اړه که مور د **خان شهید** د تر سره شوو هڅو و شاته د هغه نفسیات په ژور لید سره و څارو، نو تر هغو ارمانونو پورې خان رسولای شو، چې د دې تر سره شوو هڅو و شاته کارینده او نومورې ته یې داسې ذهن او زړه ورکړی وو، نومورې وایي، په کار ده، چې:

"زمور ژبه او د ژبې لیکدود دومره وینځلی او اسانه وي، چې په هغه کې د لیک چاپ (لېتهو) تایپ (پرنټنګ) او تاپ (تایپ رایټر) هغه ټولې اسانۍ وي، چې د نن ورځې د یوه اولس او سرکار د کار د پاره په کار وي او ګمان مي دی، چې د تپې (تایپ) او لیک چاپ (لېتهو) په هکله به دوې لارې د هیڅا په زړه کې نه وي، ولې دا څرګنده خبره ده، چې د نن سبا د لوستو او لیکلو کار بې تپې په بل څه پوره کیدلای نه سي او د پښتو خط اوس هم و تپه ته ډېر نژدې دی، نو و مور ته به دا څیز نابلده هم ایسي، هسې هم د کابل پښتو ټولنې په تېرو څو کلو کې د پښتو یوه لویه برخه د تپې د لوستو سره ولده کړې ده. (۱۶)

زه نه غواړم، چې په دې لړ کې خبره نوره ورپسې اوږده کړم، ولې چې پورتنۍ سکالو (موضوع) که چېرې په بشپړه ډول او یا لږ تر لږه په پوره یادونه سره هم و څېړل شي، نو یو خو به زما تر وس وځي او بل د ژبې سکالو داسې اسانه او د کتابونو په را ټولولو، لوستلو او له هغوی څخه د سرچینو په موندلو د تر سره کېدلو هم نه ده، ځکه چې د ژبې سکالو او په ژبه کې د هر اړخیزه پوهنیزې وړتیا خبره ما مخکې هم کړې وه، چې د ډېره پېچلې او د کتابونو په ټوکونو ټوکونو لیک ته اړتیا لري او په پښتو کې هم په دې لړ کې (په تېره سل کلنه دوره کې) په سلګونو کتابونه و دې سکالو ته ځانګړې شوي او نومورو ژبپوهانو استادانو کار ورباندې کړی دی او تر دې مخکې هم د پښتو د پښویي یا ګرایمر په لړ کې بهرنیو/ پردیو لیکوالانو هم د کار کولو پوره وس کړی دی، چې د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ټولو تر سره شوی کار او د نومونو یادونه یې د دې لیکنې تر وس وتلې خبره ده، خو د پښتو لیکدود په لړ کې به دومره وویم، چې نن که نه وي، د سبا ژبپوهان کېدای شي، د "واو" او "هـ" د نخښو په لړ کې د **خان شهید** و ټاکلو نخښو ته زړه ښه کړي او په لیکدړه کې یې د ځایولو ملاتړ او توصیه وکړي.

د لیکدود په برخه کې د **خان شهید** یو بل وړاندیز دا وو، چې څه رنګه وایو، هغسې په کار دی ولیکو، مانا دا چې د توري اداینه (Pronunciation) څنګه کوو، هغسې یې باید ولیکو، له **خان شهید** سره تر ټولو زیات اختلاف په دې برخه کې شوی دی او په دې لړ کې لوی شمېر پښتنو لیکوالو **خان شهید** ته ځواب لیکلی / څه ناڅه اختلاف یې ورسره ایښی او څرګند کړی دی، په همدې لړ کې د شلمې پېړۍ د پنځوس په لسیزه کې ښاغلي لیکوال محمد اکبر خپل نظر داسې څرګند کړی وو، چې د ښلو ښلو ټپو ویناوي پر ښوول په کار دي او په دوی کې یوه ویناد لوستو او لیک د پاره غوره کول په کار ده، زما (آزاد) په خیال له وینا څخه مراد ګرځدود دی او د لیکوال له دې نظر ورکولو څخه مراد دا دی، چې د یوې ټپې / څنډې یا قبیلې ګرځدود دي د لوست او لیک لپاره خپل کړل شي، د داسې نظر په لوستلو سره زه له دې اند ښبنې سره مخامخ شوم، چې په داسې توګه که ښلا ښلې قبیلې نه وي، نو د لوبدیځ (کندهاري) او ختیځ (پښتوري) او هم منځنې ګرځدود تر منځ خو به هرو مرو د ښلتانه کرښې را کښل کېږي او هر ګرځدود ویونکي به د خپل ګرځدود د ورتیا او معیاري کېدا بابولائي وایي او دا به د پښتو او پښتنو تر منځ د ښلتانه لامل ګرځي. بله اند ښبنه دا چې په داسې توګه به ژبه په ګرځدودونو (لهجو) پسې شي او د ګرځدودونو ژبه به وي، ګرځدودونه به د ژبې نه وي. نو ګرځدودونه خو د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اوسونو په خولو کې وي او د اولسونو په خولو کې خوژبه نه سمبږي، نه خپل ګړدود څوک پرېښوولای شي، ټولمنلې خبره خو داده (چې ګړدودونه یا لهجې د ژبې شتمني (مال) وي او هره ژبه ببلا ببل ګړدودونه لري، چې هم یې د بنایست او رنګارنګۍ لامل وي او هم په ببلا ببلو ګړدودونو کې د ژبې ډېره درنه شتمني خوندي وي، چې د ژبې اړتیاوي پوره کولای شي، ځکه خو مخنیو ژبپوهانو استادانو لکه استاد علامه حبیبي، استاد علامه رشاد او نورو به دا ټینګار کاوه، چې تاسو لومړی پر ګړدودونو باندې کار وکړی او را ټول یې کړی، که بیا هم ژبې اړتیا درلودله، نو یې د نوو تورو (نیولوجیزم) په وړتیا پوره کړی او یا بیاد نورو ژبو توري په کار واچوی. د هرې ژبې د لیک ژبه یوه وي او یا یووالي ته لاره وهي، پښتو هم د نورو ژبو په څېر یوازې او یوازې په لیک کې یووالي ته لاره و هلای شي او دا کار کېدونی هم دی، بلکې لیک هم په ګړدود پسې نه ځي، ګړدود په لیک پسې ځي، خو **خان شهید** دا خبره په هغه وخت کې داسې ځواب کړې ده، لیکي:

"زما په ګومان دا کار نن د سره کېدای نه سي، د تیراه یو اپریدی چې نه یې کندهار لیدلی دی او نه سوات، هغه د هغو په ژبه څنګه ږغېدای سي او څه راز څه پکښې لیکلای سي؟ دا جوړه خو هله کېدای سي، چې د پښتونستان خپلواکه ولات جوړ سي او پښتو سرکاري ژبه سي، د ټول ولات (صوبو) په ټولو ښوونځو (مدارس) کې د پښتو زدکړه په ترون لازمي سي، نو د لوستو د پاړکو (کتب) جوړولو پر وخت به سرکار د ټولې پښتونخوا د ژبپوهانو (ادیبانو) یوه لویه جرګه راغواړي او په ټولو به د یوې تپې ژبه خوښوي، چې په ټول ولات (صوبه) کې به لوست یو شان او ډېر سي." (۱۷)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د لیکدود په اړه داسي یو شمېر نور وړاندیزونه دي، چي **خان شهید** په ښه ډاډه او پوړه (ډاډمن) زړه ورباندي ږغېدلی دی او تر خپله وسه او پوهي پوري یې نژدې د ابېتې یا ابېڅې پر لوی شمېر ټکو باندي په بېلا بېلو بېلګو وړاندي کولو سره د زړه خبره د ژبپوهانو په وړاندي ایښې ده، چي دغه لیکنه یې د هر اړخیزه وراشو یا مباحثو څېړلو توان نه لري، نو ځکه د پښتو لیکدود په اړه پر همدومره وړاندیزونو باندي بسنه کوو او تر نورو برخو یې تېرېږو، څرګنده دي وي، چي په دې لړ کي له دې سرسري یادوني څخه مرام هم یوازي د څېړونکو پاملرنه وه، چي په سرلیک کي یې هم یادونه شوې ده. خو د لیکدود په څنګ کي چي د پښتو ژبي د سوچه توب په اړه **خان شهید** کوم نظر او وړاندیزونه کړي دي، د هغه په غبرګون کي هم لوی شمېر لیکوالانو د خپلو نظرونو په وړاندي کولو سره غبرګون ورکړی دی او په همدې لیکنه کي یې د ځینو سرچینو یا منابعو یادونه مخکي هم شوې ده، لکه "ګلستان" مجله کوټه "لار" "رهبر" "اباسین" مجلې پېښور او داسي نوري سرچینې چي ځینو یې وړاندیزونه او تګلاره ستایلې ده او ځینو ورسره اختلاف هم کړی دی، ولي چي د **خان شهید** دریځ دا وو، چي هغه تازي (عربي) توري چي پښتانه یې نه سي لوستلای، د هغو پرېښوول په کار دي، یادونه به یې ځکه وکړو، چي پر لیکدود سربېره له ګړدوده سره هم اړه لري او د **خان شهید** نظر په دې لړ کي داسي وو:

"تازي خلک سیګار ته سیجار وایي او لیکي یې، ځکه چي "ګ" نه سي لوستلای، بلوڅ بلوس لیکي، دا نه کوي، چي خپل په ژبه کي نور ټکي "ګ" او "چ" زیات کړي، هم دا شان که موږ "عرب" ارب او "عراق" ایراک و لیکو، یا لکه په انګرېزي کي چي ستار او صمد دواړه په یوه ایس (S) یا "س" لیکل کېږي، که موږ هم عبدالستار او عبدالصمد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دواړه اودول ستار او اودل سمد و لیکو، څنګه چې یې لولو، نو زموږ د ټکو (ابښې) څخه به هغه تازي (عربي) ټکي کم سي، چې موږ یې نه سو لوستلای، لکه ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق، ء، دا شان به زموږ زدکړي (تعلیم) لوست، لیک او تاپه، تایپ (ټپه) پرنټنګ ډېر اسانه سي."(۱۸)

ورپسې **خان شهید** په لیکلو کې له تازي یا عربي تورو څخه د ډډې کولو پر ټینګار سربېره غواړي، چې موږ د ژبې د سوچه توب لپاره بې ځایه د نورو ژبو توري وانخلو او د پښتنو له خوا د اخستل شوو تورو بې شمېره بېلګې وړاندې کوي، لکه د پور پر ځای "قرض" د کوتار پر ځای "قصاب" د خت، رېبون او کنده پر لرلو سربېره "قمیص" د زور، زیاتوب، ناورین پر ځای "ظلم" د ناروغۍ، رنځ، ناجوړۍ پر ځای "مرض" او د زغم، ګالل پر ځای "صبر" او داسې نور نور...

د خپلې ژبې د سوچه توب په اړه د **خان شهید** د دې وړاندې شوې نظر او وړاندیزونو په غبرګون کې چې د یو شمېر نیوکو او اختلاف یادونه شوې ده، په کار دی، د هغوی یادونه هم وکړل شي، چې لوستونکي یې په اړه خبر تیا و لري، هغه داسې دي، چې **خان شهید** یې یادوي:

"تر کومه چې زه خبر یم، پر دې خبره اوسني پوهان درې نیوکې لري، یوه دا چې په دې شان لیکلو د توري هغه مراد (مانا) نه پاتېږي، کوم چې په هغه پردۍ ژبه کې وي، بل دا چې د تازي ژبې سره زموږ د دین سرون دی او د دین له کبله موږ ځینې ټکي را اخستي دي او که موږ دا ري د تازي خط او ټکو څخه چپ بل راز و لیکو، نو موږ به د دینه ووځو، دریمه دا چې ډېر پردي توري د "معرب" په شان موږ عربي ي دي او لګیا یو، کوو یې او په دې شان زموږ ژبه وده کوي او د دې په ښوولو او بندولو به ژبه لنډه تنګه سي." (۱۹)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په دې لړ کې **خان شهید** تر ډېره ژوره او ویړه کتنه یا مطالعه وروسته په ډېرو باوري لاسوندونو او دلایلو سره دومره ویړ او مفصل ځوابونه ویلي دي، چې دلته یې د راوړلو پر ځای یوازې دا ویلای شو، چې د پښتو ژبې او لیکدود په اړه زدکړه کوونکي دي هغه پوښتنې او ځوابونه د **خان شهید** په نښیرونو یا آثارو کې و لولي، چې د هر لوستونکي ذهن او زړه ته خبره په پوره ډول و رسېږي او په ست کېدلو ورته د منلو سر و ښوروي او که داسې نه وي، نو د وراشو یا مباحثو لاره به په پرانستل شي چې په داسې ډول به پښتو اسانه او د ودي لاره به یې هم و غوړول شي. د پښتو ژبې د سوچه توب په لړ کې که **خان شهید** د نورو ژبو د تورو په هم هغه بڼه د لیکلو ملاتړ کوي، چې څه رنګه یې پښتون اولس ویلای شي او یا یې وایي، خو له نورو ژبو څخه د تورو د اخستلو او په هغوی د خپلې ژبې د اړتیا پوره کولو ملاتړ هم کوي، خو په داسې بڼه، چې:

"زه هم د پردیو تورو د اخستلو دا ړی او ګټې څخه ناګاره نه یم، زه خو بې اړی اخستل او ورسره د هغو د ژبو د ټکو په خط لیکل ګټمېره نه منم، تاوانې کار یې ګڼم. دا منم، چې تازې، انګریزي لا د نړی هرې ژبې د نورو ژبو څخه توري اخستې دي او هم یې اوس اخلي، خو دا شان هیڅ پخې ژبې نه دي کړې، چې بې اړې دي یې د بل توري اخستې وي." (۲۰)

له پورتنیو خبرو څخه څرګنده ېږي، چې د ژبو په لړ کې **خان شهید** د نړیوالې تګلارې او اصولو پلوي دی، خو دغه لاسوند او دلیل د هر چا لپاره د منلو وړ ښکاري، چې زه د یوې ژبې څېښتن یم او د هغې ژبې د آر "اصل" تورو پر ځای نور توري کاروم، نو دا خبره به زما په خیال د هیڅ یوې ژبې د قام او ویونکو لپاره د منلو او زغم وړ نه وي، کنې نو پر داسې چارو باندې خو په اوسمهال کې هم د ځینو قامونو او ملتونو په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پارلمانونو کې د پردیو ژبو پر داسې تورو باندې بندیز لګول شوی دی، چې هغوی یې پخپله ژبه کې و لري، یا یې پخپله ژبه کې بدیل وي.
د ژبې د سوچه توب او یو ډول لیک لرلو په اړه د پورتنۍ وړاندې شوې وړاشې یا بحث په اړه نور نظرونه هم د **خان شهید** د نظر ملاتړ کوي او په دې لړ کې ژبپوه استاد پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار داسې لیکي:
"یوه پښتو مانادا چې ګړدودي (لهجوي) او لیکدودي توپیرونه په لیکنې او خپرنې برخه کې له منځه ولاړ شي او دیوې یوازینۍ پښتو په توګه د کنډهاري، ننګرهاري او غلجي درانې له خوا په یو راز و کارول شي او سوچه په دې مانا چې تر وسې وسې یې خپله پانګه په کار واچول شي، که دا پانګه له بېلا بېلو ګړدودو (لهجو) څخه وي، که له بېلا بېلو زړو ادبي متونو او یا له نویو جوړونو څخه وي او هله به بیا پکې عربي او غربي وارداتونو ته ځای ورکول کېږي، په بله وینا په سلو کې به (۷۵) نګه پښتو وي او (۲۵) به عربي او غربي." (۲۱)
د پوهاند استاد له پورتنې نظر څخه د ژبو په لړ کې یوه ټاکلې تګلاره را څرګندېږي، چې ژبه په کار ده؛ د اړتیا پر بنسټ په سل کې (۲۵) له خپلو ګړدودونو څخه تر لاسه کړي او (۲۵) سلنه د خپلې ژبې له زړو متونو څخه او دریمه برخه (۲۵) د نوي جوړونې یا نیولوجیزم له لارې او پاته (۲۵) له نورو ژبو څخه په کار دي، چې واخستل شي، خو **خان شهید** په دې لړ کې د دغه پورتنۍ تګلارې په اړه داسې نظر لري، چې پښتو یوه پخه او کره ژبه بولي او د یوې پخې/ کره او لرغوني شالید لرونکې ژبې لپاره تر کوتلي، ویر/ پراخ مبحث او وراشو سپړلو وروسته په خپل وړاندیز باوري کېږي او وایي، چې د وړاندې کړل شوي تګلارې په خپلولو سره به موږ یوازي او یوازي پنځه سلنه اړتیا و لرو او هغه هم د نویو تورو د جوړولو یا نیولوجیزم اړتیا... **خان شهید** د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ژبې په همدې لړ کې د خپل وړاندیز یا تاکلي تګلارې په باور د یوه لیکوال په ځواب کې لیکي:

"زما په ګمان هغه دا کېدلای سي، چې د کوم شي د پاره پښتو توری وي، د هري تپې د نالوستو وګړو چې وي، د هغه د پاره به پردي کورټ (قطعاً) نه اخست کېږي، نه غټ، نه ووړ، نه دیني او نه دنیایي، لکه زړو پښتنو چې الصلوا نموځ او الصوم روژه کړل، د پښتو دغه زاړه دودونه هر څه چې وو، کټ مټ (هو بهو) د اسلام "الصلوا" او "الصوم" خو نه سو کېدلای، هو! و هغه ته ورته (مماثل) د لمانځنې (عبادت) چل به وو، ځکه خو دا خپله زړه لار نیول په کار ده، چې موږ دا خبره سره و منو او باندې روان سو، نو ژبه به مو زما په اندازه په سلو کې پنځه نیوي (۹۵) سوچه سي، پاته سو، هغه پنځه چې موږ یې نه لرو، هغه به یا کټ مټ واخلو، که مود تازي دا خوښ وو، که د بلې ارین ژبې دا او یا به یې نوي جوړ کړو." (۲۲)

دا وه، هغه سرسري یا اجمالي او ځغلنده کتنه چې د پښتو ژبې او پښتو لیکدود په اړه د **خان شهید** د وړاندې کړل شوو وړاندیزونو او تګلارې په اړه ستاسو په مخکې کښېښوول شوه، خو زه په لوی زړه دا خبره کوم، چې په دې لړ کې دې ژبپوهان دوس او واک لرونکو په ملتیا کوتلي ګامونه واخلي او د بېلا بېلو څېړنغونډو او ځانله هڅو په تر سره کولو سره دې د ژبې و داسې پېچلیو او علمي ستونزو ته د هوارولو لپاره ذهن او زړه ښه کړي.

د ژبې او لیکدود په اړه به په داسې ډول د ژبپوهانو نظرونه وړاندې کړل شي، په دې لړ کې به د افکارو تبادله او غبرګون سره تر سره شي او مقابل لوري به د یو بل په مخکې خپلې علمي تګلارې او نظریات بې له کومو جذباتو او یا هم احساساتو او بندیزونو/ خنډونو پرته وړاندې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کړای شي او د کره لاسوندونو/ دلیلونو په رونا کې به وراشي او مباحث تر سره شي، چې په همداسې پوهنیزه وړتیا له سیمه ایزو توپیرونو او نورو سمتي او یا هم قبیلوي بندیزونو/ خنډونو، تورونو/ تهمتونو او کرکو څخه په مینځلو ذهنونو او زړونو له بهلاري کوونکو جذباتو څخه پرته یو علمي او پوهنیز بحث (Scientific Discussion) تر سره کړل شي، نو به په دې لړ کې نوي نوي اړخونه را سر بېره او بنکاره کړای شي او د ژبې د لیکدود په اړه دغه شتون لرونکي ربړي/ ستونزې به هواري کړل شي او داسې به په اولس کې له خپل قام او ژبې سره د مینې او ترون دغه فکر نور هم مزی او پیاوړی شي...

د پورتنیو اند ښښنو څرګندونه (کېدای شي؛ ترخه هم وي) مې ځکه وکړه، چې زه د خپلې ټولنې د څه برخې په ذهنیت او کردار څارلو سره دا منم، چې زموږ د وراشو یا مباحثو هر اختلاف "هغه که سیاسي وي، ادبي وي او که په کوم بل اړخ کې وي" ځاني/ ذاتي اختلافاتو ته ځان رسوي، چې همدا د یوې ناپوهه او له علمه د لېرې ټولنې نخښه ده.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سرچینې:

۱: اثر، عبدالحلیم، پښتو ادب، خپرووونکی؛ اداره اشاعت سرحد قصه خوانی بازار پښور، چاپکال ۱۳۷۰هـ ق مخ ۳۸
۲: اثر، عبدالحلیم، پښتو ادب، خپرووونکی؛ اداره اشاعت سرحد قصه خوانی بازار پښور، چاپکال ۱۳۷۰هـ ق مخ ۳۹
۳: رشاد، پوهاند عبدالشکور، د پښتو پخوانی الفبې، خپرووونکی؛علامه رشاد اکاډمي، چاپکال ۱۳۸۷ل ۲۰۰۹ز ۸، ۱۰ مخونه
۴: رشاد، پوهاند عبدالشکور، د پښتو پخوانی الفبې، خپرووونکی؛علامه رشاد اکاډمي، چاپکال ۱۳۸۷ل ۲۰۰۹ز مخ
۵: رشاد، پوهاند عبدالشکور، د پښتو پخوانی الفبې، خپرووونکی؛علامه رشاد اکاډمي، چاپکال ۱۳۸۷ل ۲۰۰۹ز ۱۶، ۱۷ مخونه
۶: اخګزی، عبدالصمد خان، زما ژوند او ژوندون، دویم ټوک، خپرووونکی؛ پښتونخوا خوروني، چاپکال ۱۳۸۳ل ۲۰۰۴ز، ۹۷، ۹۸ مخونه
۷: زیار؛ پوهاند ډاکټر مجاور احمد، پښتو لیکلار، خپرووونکی؛ ننګرهار پوهنتون د ښووني او روزني پوهنځی، چاپکال ۱۳۶۰ل مخ ۱۵
۸: همدا پورتنی اثر ۱۰ مخ
۹: اخګزی، عبدالصمد خان، پښتو ژبه او لیکدود، خپرووونکی، دوست پبلشر کوټه، چاپکال ۱۳۸۵ل ۲۰۰۶ز ۴۹، ۵۰، ۵۱ مخونه
۱۰: اخګزی، عبدالصمد خان، د بابای پښتون ختونه،لومړی ټوک، خپرووونکی، پښتونخوا خوروني، چاپکال ۱۳۸۳ل ۲۰۰۶ز مخ ۱۲
۱۱: پورته یاد شوی نښیر (اثر) مخ ۷۷
۱۲: رفیع، حبیب الله، په پښتو کې معدوله واو، خپرووونکې، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز، چاپکال ۱۳۸۸ل ۲۰۱۰ز مخ ۲۷، ۲۸ مخونه
۱۳: همدا پورتنی یاد اثر مخ ۲۸
۱۴: رفیع؛ حبیب الله، د ننګ او فرهنګ اتل، خپرووونکی؛ د افغانستان د سیمه ییزو او مطالعاتو مرکز، چاپکال ۱۳۷۸ل ۲۰۰۸ز ۱۳۰. مخ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۵: عطایي؛ محمد ابراهیم. د خان شهید یاد، خپرووونکی؛ د سرحدونو او قبایلو وزارت، مشموله، د خان شهید لنډ ژوند لیک، چاپکال، ۱۳۷۰ل ۱۹۹۱ز، ۳۹ مخ

۱۶: اخګزی، عبدالصمد خان، د بابای پښتون ختونه، لومړی ټوک، خپرووونکی، پښتونخوا خوروني، چاپکال ۱۳۸۳ل ۲۰۰۶ز ۱۲، ۱۳ مخونه

۱۷: اخګزی، عبدالصمد خان، پښتو ژبه او لیکدود، خپرووونکی، دوست پبلشر کوټه، چاپکال ۱۳۸۵ل ۲۰۰۶ز ۴۹، ۵۰ مخونه

۱۸: اخګزی، عبدالصمد خان، د بابای پښتون ختونه، لومړی ټوک، خپرووونکی، پښتونخوا خوروني، چاپکال ۱۳۸۳ل ۲۰۰۶ز ۱۵ مخ

۱۹: اخګزی، عبدالصمد خان، د بابای پښتون ختونه، لومړی ټوک، خپرووونکی، پښتونخوا خوروني، چاپکال ۱۳۸۳ل ۲۰۰۶ز ۱۵، ۱۶ مخونه

۲۰: همدا پورتنی یاد اثر مخ ۱۸

۲۱: زیار؛ پوهاند ډاکټر مجاور احمد، پښتو لیکلار، خپرووونکی؛ ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی، چاپکال ۱۳۶۰ل مخ ۸

۲۲: اخګزی، عبدالصمد خان، پښتو ژبه او لیکدود، خپرووونکی، دوست پبلشر کوټه، چاپکال ۱۳۸۵ل ۲۰۰۶ز ۱۰۰، ۱۰۱، ۱۰۲ مخونه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهید د نومورو
مخورو/ لیکوالو او پوهانو په نظر کښې

خوشحال خان خټک وایي:

مېړنـــــي دي چـــــي يـــــادېږي
پـــــه ســـــندرو هـــــم پـــــه ويـــــر(۱)

د تاریخ په اوږدو پراوونو کې و انساني کردارونو ته په ژور لید سره جوتېږي، چې انسان خپل ارزښت د شعور او پوهې په ښه توګه کارولو سره تر لاسه کړی دی، همدغه لامل دی، چې انسان نن تر هره چاره مخکـې د فکـر کولـو او ری وهلـو (Daydreaming – Meditation) خوی او وړتیالري او د هري چاري او کړه (فعل) تر پیلولو مخکې یې د پایلې (نتیجې) په اړه ری وهي، سوچ او فکر کوي.

د همدې پوهې او شعور په توان داخبره ورته کړه/ جوته او ټولمنلې ده، چې پرون نه بدلېدونکی دی، خو له پرون څخه په زدکړو تر لاسه کولو په نن کې د روښانه سباوون لپاره هلې ځلې تر سره کېدلای شي. له پرون څخه زدکړې مورږ د پرونیو کردارونو په ارزښت تر لاسه کوو، چې تاریخ پخپله ویړه غبرګه کې ځای ورکړی او خوندي کړي یې دي، د تاریخ په غبرګ کې خوندي کېدل په دې مانا دي، چې یا خو د داسې کردارونو څه نخښې نښانې د ژوندنۍ کړې پر مخ پاته وي او یا یې هم د لیک په بڼه د کارنامو یادونه او ستاینه له مورږ سره خوندي پاته وي. د ژوندانه په ویړه/ ارته او ناپایه غبرګه کې د یادونې کردار لرونکو شمېر تر اند د پاسه دی، خو زمورږ رسایي یوازې تر هغو نومورو کردارونو پورې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کېدلای شي، چې په اړه يې د پوهانو، نقادانو او تاريخي فلاسفه وو څه لیک او يادوني را پاته وي.

له پورتنۍ يادوني څخه دا هم جوتېږي، چې د داسي کردارونو ارزول او تلل د وختنيو پوهانو په هغه پوهنيزو غبرګونونو او تاله سره کېږي، چې د وخت د اولسونو په استازيتوب يې د ياد کردار په اړه ليکلي وي، مورږ هم د پښتني ټولني په استازيتوب سره د دې ټولني د ګوتو په شمېر اتلانو کې د نومورې اتل او بې ساري کردار **خان شهید** (عبدالصمد خان) د شخصيت او کردار د ارزولو او تللو لپاره همدغه لاره په زړه پوري پاموو او د مهالنيو پوهانو د يادوني په تاله کې يې و لوستونکو ته د کردار او شخصيت د وړاندي کولو هڅه تر سره کوو.

د **خان شهید** په اړه د بشپړې ليکنې لومړی ویاړ د ښاغلي پوهاند ولي محمد خان سيال کاکړ په برخه ځکه رسېدلی دی، چې د **خان شهید** تر ليکل شوو ټولو قلمي نښيرونو يا آثارو پوري يې رسايي شوې او وروسته يې په پوره ژورليد سره ليکنه تر سره کړې ده او بل ویاړ يې دا چې له **خان شهید** سره يې په وارو وارو ليدلي او د هغوی کردار يې و مخ ته پروت پاته شوی دی، ښاغلی پوهاند سيال کاکړ داسي ليکي:

"خان بابا د سهېلي پښتونخوا د سياست او ادب پر اسمان باندې هغه وخت ستوری و ځلېد، چې پښتانه له هره اعتباره پاته وو، بابا د وينې او مينې د ټرون پر اساس د پښتنو هر اړخيزه مسايلو ته خپله جدي پاملرنه را و ګرځوله، دا يې ارمان وو، چې شو پتو پښتانه د ملي شعور خاوندان او د لوی وحدت تښتنان سي." (۲)

درانه ليکوال د **خان شهید** په اړه جوته کړې ده، چې نومورې په داسي وخت کې د سياست او ادب په ډګرونو کې په زړه پوري کردار تر سره کړ، چې ټولنيز چاپېريال د بېسوادۍ، ناپوهۍ او نورو ناوړو په غېږه کې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ښکېل پاته وو، نو ویلای شو، چې د **خان شهید** کردار په خپل چاپېریال کې د لارښود ارزښت په برخه لري، هغه ځکه چې دغه ویاړ ببخي د ګوتو په شمېر کردارونو ته په برخه وي، چې د ناخبره او ناپوهه ټولنیز ذهن او زړه د ست کولو وس او توان یې لرلی وي او دا هم جوته ده، چې داسي زیار او کار پرله پسې او د پوره ژوند زړه چاودون غواړي.

د نوموړي لیکوال سیال کاکړ په پورتنۍ یادونه کې د سهېلي پښتونخوا (جنوبي پښتونخوا) د حوزې یادونه په ځانګړي ډول شوې ده، زه فکر کوم، چې د پښتني ټولنې له دې حوزې یا برخې څخه په سیاسي وېښتابه د څلورم منځي (مرکز) جوړولو ویاړ هم د **خان شهید** په برخه رسېدلی دی، ځکه یې د نوموړي مبارز ملا عبدالسلام په اند او هنر نومي څېړنه کې داسي ځای نیولی او لیکوال یې داسي یادوي، چې:

"د بشپړ پښتون قام د سیاسي شعور په وده کې پر درنه برخه لرلو سربېره د پښتون وطن د څلورم منځي (مرکز) په سیاسي شعور را سربېره کولو او جوړښت کې نوموړی سیاسي مخکښ "**خان شهید**" بنسټیز ارزښت او لومړی ځای په برخه لري." (۳)

پورتنۍ وړاندي شوې خبره باوري کوي، چې د یوې ټولنیزې برخې په وېښتابه سره د هغوی یوې مرکزې ته را ټولول او ورسره دا هم چې د قامي وجود وَ نورو برخو یا مرکزونو ته په سیاسي، ادبي او نورو ډګرونو کې خپله برخه ځواب ویل څومره زړه چاودون غواړي، دا هر اړخیزه کردار موږ د **خان شهید** په شخصیت کې لیدلای او جوتولای شو.

د پښتني ټولنې د هر اړخیزه څارنې او ارزونې پوهنیزه وړتیا او ژور لید لرونکی استاد لیکوال "چې د پښتنو د حقِ خود ارادیت سره آشنا وو، د هغوی د خپلواکۍ په ټولنیز درد او اړتیاوو پوه وو، همدغه لاره یې د قامي ودانۍ او پرمختګ لاره بلله، د پښتنو د نرخونو او نورمونو په اړه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یې استادانه ارزښت په برخه وو او په دې ویړه سیمه کې یې د پښتنو او بلوڅو د سیاسي کرونولوژي په اړه درنه پوهه لرله" اروانښاد محمد ابراهیم عطایي د **خان شهید** د شخصیت او کردار په اړه داسي لیکي:

" **خان شهید** یو د زړه ډک، بامقاومت، روک ګویه (رښتیا ویونکی) سیاسي رهبر وو، دی نه یوازي د سیاست په سیر او پودینه آګاه وو؛ بلکې په عین زمان کي یو عالم او ژبپوه پوهاند هم وو، د ده څخه نه یوازي په سیاسي صحنه کي د رښتیانۍ رهبري د لارښووني تعلیمات په میراث پاته دي؛ بلکې د علمي څېړنو آثار او علمي ترجمې یې هم په میراث پرې ایښي دي." (۴)

پوهنیز او علمي اوج همدا وي، چي ژبه دومره جامعیت او بشپړتابه ته لاره ووهي، چي ډېر څه په لږو خبرو کي د بیانولو توان او وس و مومي، د **خان شهید** په اړه د نوموړي استاد عطایي په خبرو کي دغه جامعیت او بشپړتیا تر سترګو کېږي. زه فکر کوم، چي د **خان شهید** د ژوند لیک تر ویلو وروسته که کوم څرک او ځیرک لوستونکی د استاد دغه نظر ولولي، نو زړه ته به یې ولوېږي، چي د **خان شهید** کردار او شخصیت یې په څومره هنر په څو جملو کي را ټول کړی او ځای کړی دی او پر دې سربېره یې د **خان شهید** د ژبپوهني او ژباړو په لړ کي هم پوره او باوري یادونه کړې ده.

له پښتون/ افغان قامي سیاست سره آشنا او په دې لړ کي د سیاسي شعور او پوهه لرونکو استازو او مخکښو استادانو کې په لاړ کي یاد نوم د نوموړي استاد اروانښاد سلېمان لایق دی، چي نژدې پوره پېړۍ یې دلته ژوند کړی او د پښتني سیاست د کړۀ وړۀ او ادب دغه ټول بهیر یې څارلی دی، نوموړي اروانښاد لایق د خان **شهید** په اړه داسي نظر وړاندي کړی دی:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"**خان شهید** عبدالصمد خان د انګریزي استعمار ضد مبارزانو هغې برخې ته منسوب دی، چې په مبارزه کې یې صبر، تحمل، زغم او زړورتوب غټ ځای درلود. د مبارزې دا سیاسي مکتب چې په رهبري کې یې د هند د نیمې وچې ستر سیاسي شخصیتونو "لکه مهاتما ګاندي، باچاخان، جواهر لال نهرو، مولانا ابوالکلام آزاد او نور شامل وو" **خان شهید** هم دغه مکتب ته منسوب دی او له همدغو رهبرانو سره یې په یوه لیکه کې د مبارزې جنډه وړله. دا مبارزین او رهبران چې په یوه وړاندې نسل پورې اړه لري، د نړۍ یوه عظیم استعماري قدرت ته یې ماته ورکړې ده، نو ځکه په اولسونو کې د احترام او لمانځنې ځای لري." (۵)

په وړاندې شوي نظر کې نومورې لیکوال اړوانښاد لایق د دې سیمې (کوشنۍ وچې) د سیاسي بهیر په زمان ځانګړه او ژورلید سره هغه ځانګړې ټکې ته پام کړی دی، چې مورږ یې د تودې او سړې مبارزې تر منځ وینو او ویلای شو، چې دغه یاد شوي نومورې کردارونه د سړې مبارزې هغه مخکښان دي، چې د تودې مبارزې اولسي ذهنیت یې په خپل فکري توان او هڅو د سړې مبارزې لوري ته واړاوه او **خان شهید** یې په ملتیا او ملګرتیا د خپلې برخې استازی وو.

نومورې اکادمیسین لایق یوبل ځای هم د نومورې سیاسي او ادبي شخصیت په اړه د لیکنې پر مهال داسي لیکي:

"د ملتونو او نړۍ په تاریخ کې هغه شخصیتونه "چې د ځمکې د سلامتیا او انساني کرامت پالنې د اصولو په رعایت کې خپل ځانتنې امکانات او فرصتونه قربانوي" هغو تلپاتو ځلېدونکو ستورو ته ورته دي، چې د میاشتو کلونو او پېړیو په سمندر کې نه ډوبېږي، پر بادبانونو باندې خپل فکرونه، ارمانونه او پیغامونه راتلونکو نسلونو ته

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لږ دوي او د تاریخ په حافظه کي یې کري... خان عبدالصمد خان اچکزی د همدې لړ یو ځلېدونکی ستوری دی، چې د افغان کهول د اوچتي شملې په نومیالیو کې ستر نوم او ملي عزت ته رسېدلی او د آزادۍ د لاري د مبارزانو د مشرتابه او معنوي پلارولۍ مقام یې ګټلی دی." (۶)

د همدغه سیاسي بهیر په څارونکو لیکوالو کي یو نوم د ښاغلي منوهر سنګهه بتره دی، چې نوموړي مبارزین **باچا خان** او **خان شهید** د سړې مبارزې په ډګر کي د ګاندي مل او ملګري بولي او د سوله ایزې یا سړې مبارزې د بهیر (کاروان) ویاړ یې بولي او لیکي:

"دا د هند د نیمي قارې نېکمرغي وه، چې د آزادۍ په سوله ناک جنګ کي فخر افغان عبدالغفار خان او **خان شهید** عبدالصمد خان اچکزی د ګاندي جي سره وږه په وږه کار پیل کړ، د آزادۍ د مجادلې د ګډ مقصد د تر لاسه کولو لپاره چې دغو دریو زعیمانو د نورو مشرانو سره یو ځای کوښښونه کول، تر دې ورځې پورې د هند خلک دغه دواړه مشران په لوی احترام او ژوره مینه په همداسي توګه در یادوي." (۷)

دلته موږ وینو، چې د کوشنۍ وچې اولسونه په خپل استازیتوب و یادو دوو نومورو کردارونو باچاخان او **خان شهید** ته په څومره درناوي او ارزښت منونکي دي او لیکوال یې هم له ځېښناکګرو او ښکېلاکګرو څخه د سیمې د خپلواکۍ په مبارزه کې د لومړیو درې مبارزینو مخکښانو په لړ کي یادوي او موږ ته یې ارزښت را په ګوته کوي.

د سیاسي وینښتابه لپاره مبارزه د فرهنګ په غوړېدلي او ویړ ذهنیت تر سره کېږي او د مبارزې هدفونو ته رسایي د پوهنیزې وړتیا په وس او ملاتړ سره رونا کېږي، خو استاد زیار ژوره خبره کوي او وایي، چې په بې امانه مبارزه کي د انساني ارزښتونو چوکاټ پالنه ډېره اوږدې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زمانې او زړه چاودون غواړي، مانا دغه زغم/ تحمل یا برداشت د غوړېدلي ذهنیت دوس او توان خبره ده، چې نوموړي **خان شهید** ته له نیکونو او مشرانو څخه په میراث پاته وه، ربنتیا هم د ذهنیت رغېدا یوه اوږده مخینه/ سابقه غواړي او بیاداسي ذهنیت چې په زمان کې د کردار رغوني توان لرونکی پاتېږي، استاد زیار لیکي:

"خان عبدالصمد خان اڅکزي له خپل شپږ شپېته کلنې ژوند څخه ځلور ځلوېښت کلونه د پښتني اولس د سیاسي وینښتیا او فرهنګي روښانتیا لپاره په پرله پسې او نه ستړې کېدونکې مبارزه تېر کړي دي. د پښتنو او پښتونستان د آزادۍ په لار کې د انګریزانو او د هغو ځایناستو ګوډاګي پاکستانیانو د بنکېلاک او ځپېښناک پر ضد د ده بې امانه مبارزې له کومې سملاسي ځانګړي انګېزې څخه سرچینه نه وه اخستې؛ بلکې له نیکونو/ نیکونو څخه ورته په میراث پاتې وه." (۸)

استاد زیار د نوموړي مبارز د دورې و مبارزه ته د بې امانه مبارزې نوم ځکه ورکوي، چې د ژوند باور پکښې نشته او مقابل لوری دومره جارح او زیاتوب کوونکی دی، چې د خپلو ګټو او ځپېښناک ساتنې په لاره کې د انسانیت تر نرخونو او نورمونو هم پښې اړوي او غواړي، چې د انسانانو پر سرونو باندې هم خپل هدف ته ځان و رسوي، نو ځکه په داسي یوه دوره کې د مبارزې تر سره کول پر نورو ستړو او ستونزو ګالو سربېره د سر بایللو اندېښنه هم لري، نو په داسي مرګونې او بې باوره چاپېریال کې د مبارزې مخکښې تر ځان په تېرېدلو سره کېږي.

د افغانستان مخنې اولسمشر ښاغلي حامد کرزي هم د **خان شهید** د ځلوېښتم تلین د لمانځنې ۱۳۹۰ل په یاد غونډه کې ګډون کړی وو او د خپلې وینا پر مهال یې د نوموړي پر ژوند باندې د ځغلنده نظر په ترڅ کې د **خان شهید** له مهاتما ګاندي، خان عبدالغفار خان (باچاخان)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

غازي **امان الله خان**، مولانا آزاد، جواهر لال نهرو او نورو سره د لیدنو پر یادولو سربېره پر سیمه ایز سیاست باندې د نوموړي د ژورلید په اړه " چې و نوموړي خدایي خدمتګار شاعر ته یې د پښتو او پارسي پاللو توصیه کړې وه" په اړه خپل نظر داسي وړاندې کړی دی، چې:

"د **خان شهید** له ادبیاتو سره هم ډېره مینه وه او له فارسي ژبې سره یې ډېره مینه وه، د پښتو شاعر فضل الرحیم ساقي د خان په اړه یو ډېر ښکلی شعر لري، دی وایي:

اخکزی خان وایي شعرونه په پښتو جوړوه
مه عربي ورګډوه، مه یې هندکو جوړوه
د انګرېزي له تورو خپله ژبه پاکه لره
فارسي ملګرې د پښتو سره بې باکه لره

دا موږ ته د سیمې د دوو ژبو د فارسي او پښتو د تاریخي یووالي، زېرېدنې او تکامل ریښې را ښیي، چیرته چې د دې سیمې مشران دي، په ځانګړي ډول "چې په دې سیمه کې اوسېدلي او ژوند یې کړی" په دغو دواړو ژبو یې خبرې کړې، د دواړو ژبو عزت یې کړی او یو له بل سره یې پاللي دي."(۹)

د پښتون قامي تشخص، ادبیاتو او زدکړو په لړ کې د ښه نامه څېړنې او د یوې علمي کورنۍ درونده استازی او د باچاخان پوهنتون وایس چانسلر پاته شوی پوهاند ډاکټر فضل الرحیم مروت د **خان شهید** په اړه د تاریخي شالید په وړاندې کولو سره داسي وایي:

"غازی امان اللہ خان کے افغانستان چھوڑنے پر انگریز سامراج اور ان کے حامی کافی مطمئن ہوئے، کہ شاید افغانستان/پشتونوں کی ترقی اور اتحاد کی آخری امید کو بھی ختم کر دیا گیا۔ لیکن ان کو تاہ اندیشوں کو یہ ادراک نہیں تھا، کہ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

محکوم پشتونستان کے شمال سے افغان نیشنلزم کا علم (جھنڈا) خان عبدالغفار خان عرف باچا خان اور کچھ عرصہ بعد جنوب سے خان عبدالصمد خان اچکزئی شہید نے بلند کیا اور ان دونوں نے اپنی ہمت اور مسلسل جدوجہد سے ثابت کر دکھایا، کہ یہ علم آخری افغان/ پشتون تک بلند رہے گا۔" (۱۰)

بناغلی پوهاند مروت په تاریخي شالید کي ژوره او په زړه پوري خبره را سربېره کړې ده، لکه څنګه چې د افغان انګرېز تر لومړۍ جګړه وروسته د شاه شجاع په کښېنولو انګرېز ډاډمن شوی وو او وروسته يې غازي عبدالله خان اچکزي او ملګرو پتمنو افغانانو دغه ډاډ بیرته له نهیلۍ سره مخامخ کړی وو، ویل کېږي، چې د دغه تاریخي ماتي لوست تر اوسه پوري د برتانيې په نصابونو کي ځای لري او انګرېز هم په غبرګون کي د پرله پسې دښمنۍ په ساتلو سره د پښتون وطن ډېره درنه برخه له خپل وجود څخه را پرې کړه او هڅي يې وکړې، چې له پښتون تشخص څخه يې ذهنیت هم پرېدی و ساتي، چې وروسته يې همداسي ډاډ او اطمینان له خپل وطن څخه د غازي **امان الله خان** په ایستلو او د حبیب الله کلکاني (بچه سقه) په کښېنولو درلود، خو کله چې د اولسي مقاومت په څنګ کي په جلا کړل شوو سیمو کي د سړې او سیاسي مبارزې پیل د نومورو مخورو مخکښانو سیاست پوهانو په مشري کي پیاوړی شو، نو دوی هم ارشول، چې له دې ځایه څخه پښې سپکي کړي...

د ننګ او فرهنګ د اتل شخصیت په اړه سرلاری لیکوال بناغلی حبیب الله رفیع د نومورې هر اړخیزه شخصیت په پام کي لري او د خپل نظر په وړاندي کولو سره د **خان شهید** ګڼ اړخونه رابنیي او داسي لیکي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"اروانښاد خان عبدالصمد خان اڅکزي ګڼ اړخیز شخصیت درلود، دی پر یوه وخت د اولس خان، د خلکو رهبر او سیاسي لیډر وو او ورسره د پښتو او اردو ژبو لیکوال، پیاوړی ژباړن، د پښتو ژبې او لیکدود تیوریسن او نوښتګر وو، ډډې تر څنګ ښه ژورنالست اود ملي ژورنالیزم هڅوونکی او پالونکی وو." (۱۱)

استاد رفیع د **خان شهید** په اړه یو بل ځای داسي لیکي:

"خان ژور ملي احساس درلود او ملي درک او ورسره له انګړیزي ښکېلاک سره ژوره کرکه او بنسټیزه دښمني. خان صاحب د سیاسي ملي مبارزې د اغېزمنتوب لپاره فرهنګي فعالیتونه د هر اغېزمن او اړین بلل، له همدې کبله یې هم د مبارزې پر مهال د فرهنګ پالنه کوله اود خپل ګران هېواد "استقلال" یې د خپل "استقلال" په پانو کې تمثیلاوه او هم یې د زندان په سختو شپو او شېبو کې د درنو درنو فرهنګي چارو تر سره کولو ته اوږه ورکوله. ده مطالعه هم د ملي مبارزې او هم د ملي فرهنګ دودي او پېژندګلوی وسیله بلله اود پښتونخوا پر ټولو خپرونو به یې نظر ساته او هم به یې د هندوستان ملي او انقلابي خپروني پیدا کولې او لوستلې." (۱۲)

مانا دا چې **خان شهید** په نړیوال ژوندني چاپېریال باندې د ځان خبر ساتلو لپاره د رسنیو په ارزښت خبر او هم یې د نړیوال چاپېریال په شالید کې د خپل قام او هېواد ژوند ځاره او د پرمختګ فکر یې کاوه.

د نوموړي یاد او ستر ملي، ادبي شخصیت په اړه د کابل پوهنتون د هغه وخت رئیس (چانسلر) پوهاند حمیدالله امین داسي لیکي، چې:

"خان د یوې ځانګړې تګلارې په درلودو یو سیاسي شخصیت اود عالي فکر او موخې [illegible]، دا موخه د اولسونو، آزادي، خپلواکي، پرمختګ، په پښتنو کې اولسي ټولنې، د رسمونو او رواجونو اصلاح،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د تعلیم او زده کړې دودېدل، د بې علمۍ او ناپوهۍ ختمول او د پښتنو د سیاسي شعور وده او پوخوالی وو، **خان شهید** د آزادۍ، پرمختګ او د دې سیمې د خلکو د یووالي او پیوستون لپاره نه هېرېدونکي هڅې کړې دي، د لیکوالۍ، ژورنالیزم، ژباړې، ژبپوهنې او دیني علومو په برخه کې یې کارونه د ستایلو وړ دي." (۱۳)

نومورې پوهاند د خپل نظر په ورکولو د مبارز شخصیت د هر اړخیزه پوهاوي باور ورکوي او تر سره شوي چارې یې د ستاینې وړ بولي.

د قامپالنې په تور د زندانونو ګالونکی نومورې لیکوال همېش خلیل د یوې یادغوندې پر مهال د نومورې په اړه خپل نظر داسي ورکوي:

"د خپلې خاورې او ملت د بقا او خوندي کېدو لپاره د مختلفو زندانونو په تیارو کې د خپل ژوند د یوې اوږدې مودې تېرولو له برکته **خان شهید** د زندان عظمت او حقیقت د عزت او حرمت هغه نکته ګڼله، چې تیارې یې د ذهن افق ته داسي روښانه ورکوي، چې حرارت یې د تحریک یو لازوال قوت شي او د ځمکې پر مخ د یو انقلاب راوستو لامل ګرځي." (۱۴)

له وړاندې شوي نظر څخه د پوهانو هغه خبره نوره هم باوري شي، چې وجود زنداني کېدلای شي، خو فکرونه نه زنداني کېږي، لکه د ګلاب خوږ بوی که څه هم د ګل وجود خو په ګلبوټي پورې تړلی وي، ولې خوږبوی آزاد او د اولسونو ذهنونه معطر ساتي...

په ټولنه کې هر وګړی د خپل زمان او مکان څه نا څه شعور خو لري، ولې په ښه توګه د خپل زړه د خبرې یا مافی الضمیر د اظهار ژبه یې دومره غوړېدلې نه وي، چې په ښه توګه یې د وړاندې کولو زړه و لري، خو لیکوال ته دغه ځانګړتیا په برخه وي، چې د اولس د زړه ږغ په را غونډولو سره په ښه توګه وړاندې کړي، نو په همداسي کولو سره یې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اولس د خپل استاز یتوب ویاړ ور په برخه کوي، پرمختګ خوښوونکی لیکوال او سیاسي مبارز اروانباد سلیم راز د **خان شهید** په کردار کې د اولسي استاز یتوب او اوږدې تجربې تومنه وینې، ځکه لیکي:

"د دې پا اثر حامل او د ژوند د خوشګواره لمحو او د مهمو فکري او سیاسي مکالمو د تاریخي نوعیت د تجربو حاصل وو، یقیناً هم داسي وو، ځکه چې **خان شهید** زړور هم وو او ستر ګور هم او بیا په ذهني او فکري لحاظ په خپل موقف دومره واضح او کلک چې هیڅ پېچ یا کږ لېچ په کې نه محسوسېدو، کله کله به یې چې خندا په قهقهه کې بدله شوه، نو کړنګار به یې د ماحول زړه په درزا کړو او ژوند به یې له خوبه را بیدار کړو، په نورو ټکو کې په زړه، ذهن، نظر او ضمیر درست، تندرست او په حقیقي معنو کې د روح او وجود د ربښتیني رشتې دا ژوندی شخصیت به هر طرف نه د دنیا مرکز وو." (۱۵)

د شعور د څښتنانو همدا غبرګون وي، چې د یوه تولنیز کردار په اړه د وروستیو باور ګټي، د **خان شهید** کردار هم دومره ژوندی او توانا پاته شوی دی، چې د شعور څښتنانو ورته د منلو سر بسورولی دی او د خپل باور په ورکولو یې لمانځلی دی.

د کابل د علومو اکادمۍ غړی درویند لیکوال عبدالباري راشد د نومورې **خان شهید** او د هغه د کورنۍ شالید په اړه داسي وایي:

"خان عبدالصمد خان اچکزائ فرزانه فرزند از بزرگان لوی کندهار و خدمتگار قوم افغان و زعیم ملی، سیاسی پشتون و بلوچ این منطقه سلحشور و آزادی خواه بود. خان شهید بابا چهل و چهار سال مبارزات پیهم علمی و مخلصانه ناپذیرشان در راه بیداری سیاسی، فرهنگی و آزادی پشتون ها و پشتونستان عشق خود را نسبت به وطن، قوم، آزادی و انسانیت ثابت ساخت." (۱۶)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مانادا چې لیکوال د **خان شهید** د کردار په شالید کې د هغه د ملي کورنۍ او مخکښانو د کردار خبره کوي او باوري دی، چې د هغوی د هواري کړي زمینې په باور سره **خان شهید** بابا خپل څلور څلوېښت کلن ژوند د قامي وینښتابه، سیاسي او فرهنګي چوپړ او خپلواکۍ لپاره د ځانګړي کولو ذهن او زړه و درلود او په داسي کولو یې د دنیا په مخکې له خپل قام او وطن سره خپله بېساري مینه جوته کړه.

نومورې لیکوال او شاعر دروېش درانی دښمنانو ته د هغوی ناوسي ور په ګوته کوي او د یاد ستر سیاسي مبارز د شهادت په یادونه وژونکو ته پېغور ورکوي او ورته وایي، چې کردارونه نه مري، ځکه لیکي:

"دوی عبدالصمد خان شهید کړ، خو ځان یې ترې بیا هم خلاص نه شو کړای، چې د دوی په دغه وژنه عبدالصمد خان مړ نه شو، بلکې بیا وزوکېدی، په دې دویمه زوکړه کې د صمد خان پر ځای **خان شهید** نوم ورباندې کښېښوول شو او هغه اوس په دغه نامه لګیادی، په خلکو کې کار کوي." (۱۷)

د کوتې پوهنتون د لومړیو زمانو د پښتو په استادانو کې نښه ځای لرونکی او د **خان شهید** سره ناست ولاړ پاته شوی او هم د نومورې له سیاست او پوهې سره په زړه پورې ملتیا او مینه لرونکی لیکوال ښاغلی نظر محمد خان پانیزی د مبارز شخصیت او پوهې په اړه داسي لیکي:

" **خان شهید** په ظاهره چې چا هم لیدلی وو، یو ساده پښتون، ورین تندی، له خندا ډکه خوله، زمونږ په مینځ کښې به ناست وو او ډېرې سوکه سوکه خبرې به یې کولې، کله به چې په جلسه کښې ولاړ شو، نو هم مجلس یې ډېر په ساده کولی، خو خبرې به نه وې، تا به ویل، چې ملغلرې دي، همدا خبرې او فکر وو، چې د وخت استبداد له دې ښاغلي څخه په وېره کښې وو او زولنو ته یې اړ کړی وو." (۱۸)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د **خان شهید** د سیاست او تګلاري پلوي/ لاروی ښاغلی اکرم شاه لالا د نوموړي هر اړخیزه ځانګړ تیاوي داسي را ښیي:

"نو **خان شهید** دغه ځانګړ تیاوي لري، چي دی د یوه مذهبي سکالر په حیث، د یو نقاد په حیث، د یو صحافي په حیث، یعني دومره اړخونه همه ګیر او په دغه کښې د ده خپل اسلوب، د ده خپل تخلیق، خپله حیات او بیا د پښتو ژبي په حواله نو دومره زیات اړخونه دي، چي په دې باندي زما دا یقین دی، چي زموږ موجوده عالمان "لکه ما چي عرض وکړو" له اقتصادیاتو نیولې تر مذهبیاتو پوري او بیا تر سیاسیاتو پوري خپلي څېړني وکړي." (۱۹)

د پورتنیو خبرو په شالید کي ما ته د همدې څېړنیزي هڅي په سریزه کي خپله خبره را په زړه شي، چي د یوه نابغه شخصیت د هر اړخیزه پوهي او کردار را ټولول او وړاندي کول د کوم وګړي (فرد) پر ځای د پوهنیزو یا علمي ادارو کار وي، چي په دې لړکي کوټلي ګامونه واخلي او داسي کردارونه د اولسي ذهنیت د غوړېدا لپاره را وسپړي.

د **خان شهید** د سیاسي بهیر یو بل نوموړی او مخور ښاغلی مختیار خان یوسپزی داسي وایي، چي:

" **خان شهید** د پښتنو په ډېره وروستو پاتي علاقه یعني جنوبي پښتونخوا کښې پیدا شوی او لوی شوی وو، کومه علاقه چي د نوري پښتونخوا په پرتله هم ډېره قبایلي پسمانده او توهم پرسته وه، د دې نه وړاندي د هیڅ قسم اجتماعي شعور وجود نه لرلو، مګر **خان شهید** ته دا کمال په برخه وو، چي په دغه پسمانده ټولنه کښي یې د عصري تقاضو سره سم د نوي زمانې د سیاسي او اجتماعي تنظیم بنیادونه کېښودل او په خلکو کښي یې د شعور وړانګې خورې کړې." (۲۰)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د قام او ژبې په پالونکي بهیر کې په ښه کردار او نامه ویاړمن لیکوال پوهنمل بریالی باجوړی د **خان شهید** په اړه لیکي:

"**خان شهید** وروسته له دې د پښتو ژبې په عامولو او دفتري کولو کې ډېر زیار ایسته، هغه به ویل، چې تر څو پورې پښتو ژبه د دفتر او ښوونځي ژبه نه شي؛ ترقي نه شي کولای او پښتنو ته به یې توصیه کوله، چې د ژوند په ټولو چارو کې پښتو ژبه وکاروئ، پښتو ولوئ، پښتو لیکئ او پښتو وایئ." (۲۱)

د نوموړي ستر مبارز "**خان شهید**" پر علمي او ادبي خدماتو باندې له کوټې (بلوچستان) پوهنتون څخه د پي ایچ ډي تېسز لیکونکی سکالر ډاکټر عثمان توبه وال د نوموړي په اړه داسې وایي:

"په نړۍ کښې دا ډول شخصیات ډېر کم پیدا کېږي، چې د خپلو ذاتي مفاداتو څخه پرته د ټولنې او قامي ګټې د پاره مبارزه وکړي، د **خان شهید** شمېر هم د نړۍ په دا سترو قائدینو او مشرانو کښې کېږي، چې د خپل وطن او د مظلومو او محکومو قامونو د پاره یې مبارزه کړې وي. **خان شهید** د پښتانه او د مظلوم او محکوم قام د تاریخ او د آزادۍ د مبارزې پر افق باندې هغه روښان لمر دی، چې رونا یې زمونږ په تېر تاریخ، روان تاریخ او را روان تاریخ باندې غورځېدلې ده." (۲۲)

د سیاست د ډګر نوموړی شاهسوار ډاکټر حیدر لاشاري د **خان شهید** په اړه د خپلې لیکنې پیل داسې کوي:

"خان عبدالصمد خان اچکزی چې خلک یې د عزت او احترام په خاطر د **خان شهید** او د بلوچستان د ګاندي په نامه هم یادوي، د څو اړخیز شخصیت خاوند وو.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هسې خو د ده د شخصیت ډېر اړخونه دي، خو دلته موږ د بلوچستان د ژورنالیزم د بابا، یوه غښتلي مصنف یا لیکوال، ملتپال رهبر او د عدم تشدد د امام په توګه د ده پر شخصیت لنډه رونا اچوو. " (۲۳)

د اوسني سیاسي چاپېریال په اړه ژورلید لرونکی ځوان لیکوال او شاعر ښاغلی عبدالغفور لېوال د **خان شهید** په اړه داسې لیکي:

" **خان شهید** له خپلو لومړنیو فکري ملګرو، خپل ورور عبدالسلام خان او تربور خان محمد ایوب خان اچکزي سره په ګډه د هند سیاسي پېښې په پوره پام څارلې. دوی د آل انډیا کانګرس ګوند د فعالیتونو په اړه خبر وو او د مهاتما ګاندي له مبارزو څخه یې ځانونه خبرول، آن له خپلو یادو شویو ملګرو او محمد عیسی خان سره یې د دهلي سفر ته ملا و تړله او د کانګرس په غونډو او جلسو کې یې په خپل ګډون سره عملاً سیاسي حرکت پیل کړ، ده په سهېلي پښتونخوا او بلوچستان کې د داسې یوه سیاسي جوړښت بنسټ کېښود، چې د خپلواکۍ غوښتنې په ګډه مبارزه کې له خپلو نورو ملګرو سره همږغی شي.

خان شهید ته د بلوچستان د ژورنالیزم پلار هم ویل شوي دي، ده پر هغه مهال د خپل ولس د عامه شعور لپاره د استقلال اخبار خپرېدل پیل کړل او د پښتو مجله یې تاسیس کړه، **خان شهید** د عزیز پریس بنسټ ایښودونکی دی. " (۲۴)

د خبرنې په لړ کې پر **خان شهید** باندې تر ټولو زیات او هر اړخیزه کار کوونکی لیکوال پوهاند عبدالغني خان غنود **خان شهید** په اړه لیکي:

" برصغیر کی سیاست اور سیاستدانوں میں بابائے پشتون کا ایک منفرد مقام ہے اور پھر جنوبی پشتونخوا میں تو اس عظیم ہستی کے سوا کوئی دوسرا نظر ہی نہیں آرہا۔ یہ پوری صدی بابائے پشتون کی ہے اور آئندہ بھی اگر کوئی پیدا ہوگا، تو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اس پر بابا کا سایہ فگن ہوگا، البتہ صدیوں پھر ان جیسی ہستی کا پیدا ہونا بہت مشکل ہے۔ پھر تا بے فلک برسوں، پھر خاک کے پردے سے انسان نکلتا ہے۔"(۲۵)

د **خان شهید** په اړه دغه وړاندي شوې خبره "چې نوموړی د وخت پېرزوینه وه" د تاریخ په اوږدو کې هم ځای او باور لري، ځکه ډاکټر مبارک علي په تاریخ او سیاست نومي کتاب کې لیکي، چې:

"له پنځلسمي عېسوي پېړۍ څخه چې کله په یورپي ټولنه کې بدلونونه پیل شول، نو په هغه چاپېریال کې د تجارت لپاره د اوبو د لارو لټون پیل شو، چې د اړتیاوو پر بنسټ واسکوډې ګاما او کولمبس د نوو لارو او نوو هېوادونو موندنه تر سره کړله. که چېرې دوی نه وای؛ د دغه لارو موندنه به بیا هم ځکه تر سره شوې وای، چې د چاپېریال غوښتنه او د وخت اړتیاوه. چاپېریال غوښتنې چې دوی دغه لټون ته وګومارل؛ نور یې هم ګومارلای شوای." (۲۶)

د **خان شهید** د نوموړي کردار په اړه د همدغه وړاندي شوي تاریخي او علمي اړخ لرونکي خبرې پخلی / تصدیق وروسته نوموړی سیاست پوه، پښتو ادیب او شاعر هم داسې کوي:

"حالات کا یہی تقاضا تھا کہ ایک مایہ ناز شخصیت ہو کر آئیں، یہ کون ہوگا؟ محض ایک اتفاق تھا، کیونکہ ایک عظیم انسان اس وقت وارد ہو کر آتا ہے، جس کے لئے حالات سازگار ہوں اور وقت کا تقاضا ہو، لہذا کسی خاص حالات میں کسی خاص یا ایک عظیم انسان کی آمد اتفاقی امر ہوتی ہے، اگر ایک نہ ہو، تو کوئی دوسرا ہو کر آئے گا۔ لہذا محکوم پشتو نخوا کے تاریخی تقاضوں کے مد نظر مشرقی پشتو نخوا میں باچا خان، صنوبر حسین مومند (کاکا)، اور

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جنوبی پشتونخوا میں یہی ممتاز شخصیت خان عبدالصمد خان شہید تھے، قدرت نے ان پشتونوں کی خدمت کے لئے مامور کیا تھا۔"(۲۷)

له پورتنۍ خبرې څخه مراد دا چې را منځ ته کېدونکی هر تولنیز کردار په خپل شالید (پسِ منظر) کې داسې څه لري، چې د مخ لید (پیش منظر) لپاره تومنه ځنې اخلي، مانادا چې له پرون څخه په تومنه اخستلو په نن کې د سبا لپاره کردار تر سره کوي، د زمان دغه تړاو ته په کتلو سره داسې کردارونه د وخت او مهال پېرزوینه ګڼلای شو، لکه موږ چې مخکې هم د **خان شهید** د مبارزې په شالید کې د تودې او مطبوعاتي مبارزې چاپېریال وړاندې کړی دی.

خان شهید چې کله د پښتو تولنې کابل په بلنه په ۱۹۶۹ز کال په اتمه میاشت کې کابل ته ځي او نژدې یوه نیمه میاشت هلته تېروي، په یو شمېر سیاسي او ادبي غونډو کې پر ګډون سربېره له خپلو درنو سیاسي ملګرو سره وینې او د ببلا ببلو ولایتونو په سفر کې له پښتنو/ افغانانو اولسونو سره وینې، د هغوی د مینې او ښه راغلې پر لورېنو سربېره د نوموړې مېلمه پال استاد لیکوال محمد دین ژواک وي، چې د ټولې دورې پر مهال له **خان شهید** سره مل او ملګری وي، له **خان شهید** سره د دورې پر مهال هغه څه ډول اغېزمن شوی دی، تاثرات یې داسې دي، چې د "رمز او راز" نومې خپل کتاب انتساب ورته کوي:

"اهداء: د مبارز شهید خان عبدالصمد خان پاکې اروا ته چې د پښتنو خدمتګار او د پښتو خواخوږی وو، په ټوله مینه، ژواک." (۲۸)

د **خان شهید** په اړه د سیاسي چاپېریال او په ځانګړې ډول د پښتانه قام د سیاسي مبارزې د چاپېریال څارونکی او شنونکی نوموړی لیکوال اروانباد محمد ولي ځلمی داسې لیکي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"له بند څخه تر خوشي کېدلو وروسته يې په جنوبي پښتونخوا کې د سياسي مرکز په جوړولو (۱۹۳۲ز) لاس پوري کړ، د همدغه کال په دسمبر کې د سيند او جنوبي پښتونخوا په پوله يعقوب آباد (جېکب اباد ځکه يعقوب اباد يادشوی دی، چې عرب جېکب اباد په يعقوب اباد وايي) کې د عبدالصمد خان تر مشري لاندې د (انجمن وطن) د ملي تحريک اساس کښېښوول سو، چې د هند کانګريس او خدايي خدمتګارانو په رسميت وپېژاند، خان عبدالصمد خان اخګزې د پښتنو او بلوڅو د ملي خود ارادیت په حاصلولو کې زيات تکليفونه ليدلي دي." (۲۹)

د انجمن وطن په اړه د دې پورتنۍ سرچينې راوړې نېټه او کال د تامل وړ برېښي، ولې چې نوري سرچينې يې د تاسيس کال ۱۹۳۸ز يادوي او د ۱۳۵۱ل کال د خپلواکۍ ترون يې پر ۱۵۹ مخ باندې ۱۹۲۸ز کال يادوي، کېدای شي، چې د کتابت د تېروتنې له کبله د ۱۹۳۸ز پر ځای ۱۹۲۸ز ليکل شوی وي، خو دا باوري ده، چې د انجمن تاسيس په ۱۹۳۸ز کال کې شوی دی.

د ننګ او فرهنګ داتل، د پوهې او خپلواکۍ د نوموړي ستر مبارز په اړه درونده څېړونکی او نوموړی شاعر سيد خبر محمد عارف ليکي:

"**خان شهید** يو داسې طرز او لهجه خپله کړې ده، چې تر خپله وسه يې نګه، پسته او خوږه پښتو کارولې ده، د پردیو ژبو د الفاظو له کارونې څخه يې د شونتيا تر بريده ډډه کړې، خو د دې خبرې مطلب دا هم نه دی، چې بابا د نوي دور د ساينسي ايجاداتو له تورو څخه سرغړونه کوله؛ بلکې آره موخه او مرام يې دا وو، چې د کومو کلماتو او الفاظو لپاره موږ خپل توري لرو، نو هلته بايد د پردیو ژبو توري و نه کارول شي او که موږ د پردۍ ژبې کليمې ته کوم مناسب نوم تاکلی شو، نو بايد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وي ټاکو. که څه هم د **خان شهید** له دغه دریځ سره د هر ولیکوالو اختلاف درلود، خو هغه پر خپل دریځ نه صرف ولاړ بلکې دلایل یې هم درلودل او د خپلې سپېڅلې پښتو یو لفظ ورباندې د بل تر درستې (پوره) ژبې ګران وو." (۳۰)

د **خان شهید** د څلوېښتم تلین د لمانځلو په لړ کې په کابل کې وجوړه شوې یادغونډه ته د لیکنې اوړولو پر مهال پوهنمل سرور ماموند وایي: "د پاکستان له مختلفو مارشالاګانو سره د مقابلې لپاره یې د مظلوموا و محکوموا اولسونو له مبارزینو سره یو ځای مبارزه کوله او د جابرانه تسلط پر خلاف تر پایه وجنګېد.

له خپلو اصولو څخه منحرف نه شو، نه یې د خپلو اوږدو لسیزو له قربانیو پر ډکې مبارزې سودا وکړه او نه یې هم د دولتي اقتدار فکر درلود... د جومات او حجرې له مبلغ څخه واخله؛ د سیاسي او ادبي محافلو تر منځ یې یو ځلانده نقش او کردار درلود او د ډیلي، کراچي، لاهور، اسلام اباد او کابل په سترو سیاسي لیدنو کتنو کې یې د خپل اولس لپاره همېشه پرېکنده نظر وړاندې کاوه، د وخت نزاکتونه یې په ښه توګه درک کړي وو، نو خپل شعار یې هم د وخت د چیغې په توګه د اولس اکثریت ته ورساوه." (۳۱)

د سیاست دلارې لاروی او نوموړی لیکوال ښاغلی خورشید کاکاجي د **خان شهید** په اړه په خپله لیکنه کې د نوموړي څوارلس ځانګړتیاوې بنوولې دي، خو موږ یې د نمونې په توګه یوازې یوه ځانګړتیا راوړو: "د خان شهید لومړی مهمه ځانګړتیا داده، چې ده د خپلې سیاسي مبارزې بنسټونه د پښتونخوا په یوه داسې سیمه کې کېښودل، چې په ټولنیز ډول ډېره وروسته پاتې سیمه وه، هیلوي حصارونه یې ډېر مضبوط دي، تعلیم د نشت برابر دی، توهم پرستي ډېر زورونو ده او په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تېرو دورونو کې د بهرنیو یرغلګرو پر خلاف له وسله والو جګړو پرته یې نور هیڅ ډول پرامنه سیاسي هلې ځلې او تنظیم کاري نه درلوده، دا هغه وخت دی، چې د ګران وطن جنوبي برج یعني جنوبي پښتونخوا په سیاسي او نظامي ډول د فرنګي استعمار تر تسلط لاندې وه، نو په داسي حالاتو او چاپېریال کې په دغه سیمه کې د وسله والو جګړو پر ځای د پرامنه سیاسي جدوجهد او تنظیم سازۍ بانې او رهنما خان شهید دی." (۳۲)

د **خان شهید** او **باچاخان** د سیاسي مبارزې پر ارزښت باندې په خبره کولو سره ښاغلی لیکوال څېړندوی محمد نبي صلاحي لیکي:

" د **خان شهید** او **باچاخان** په مبارزه کې اضافي شیان نه وو، یوازې د دوی جدوجهد، ملي فکر، عام اولس او مورنۍ خاورې ته وفاداري، له پښتو ژبې سره بې کچه مینه او په عملي ډول د هغې پالنه، له استعمار نه ابدي کرکه، له هغوی سره دغړي وهل او د پاک ضمیر غږ ته لبیک ویل وو، د دوی په سیاسي مبارزه، ویناوو او لیکنو کې عوام فریبي نشته، پر افغانستان باندې د استعمار د دغو دوو لویو دښمنانو هیڅ کله بد نه لورېدل، تل یې د دې خاورې د اولسونو ننګه او ملاتړ کړی او د دې تاریخي هېواد ګران افغانستان ریښتیني خواخوږي او ننګیالي مدافعین پاتې شوي دي." (۳۳)

ښاغلی لیکوال انجنیئر ملک اسد خان ترین د پښتون قام په تاریخي شالید کې د قام غوښتونکي فکر اډانه او بنیاد له درانه خوشال خان بابا څخه را پیلوي او لیکي، چې:

"آج بھی اگر غور کیا جائے، تو پشتون نیشنلزم کا بانی خوشحال خان خٹک ہے، لیکن جب انگریزوں نے اپنی مفاد کی خاطر پشتون افغان وطن کو مختلف حصوں

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

میں بانٹ دیا، تو اس دوران خدائے کریم نے پشتونوں میں خان شہید جیسی شخصیت پیدا کی، جس نے پشتون نیشنلزم کی بنیاد رکھتے ہوئے سب سے پہلے خطے میں پشتو سماج کی سمت درست کرنے کے لئے انجمن وطن کی بنیاد ڈالی، استقلال اخبار کا اجراء کیا اور ساتھ ہی فلاحی اور سماجی تحریک کا آغاز کیا۔" (۳۴)

د **خان شهید** عبدالصمد خان اڅکزي پر شخصیت، علمي او ادبي خدماتو باندي د کوتي له پوهنتون څخه دایم فل ډګري اخستونکی پوهاند فیض الله خان پانیزی د خپلي خبري پیل داسي کوي:

"خان عبدالصمد خان اچکزئی شہید جنہیں تمام پشتون اور غیر پشتون "خان بابا" "خان شہید" اور "بابائے پشتون" کے نام سے جانتے ہیں، تحریک آزادی برصغیر پاک وہند کے صف اول کے سپہ سالاروں میں شامل تھے۔ وہ ایک عظیم اور نڈر رہنما تھے، انہوں نے نہ صرف سیاست کے میدان میں اپنی صلاحیتوں اور خلوص کو منوایا، بلکہ وہ صحافت، ادب، علم اور خدمتِ مذہب کے میدان کے بھی شاہ سوار تھے۔" (۳۵)

د یادي شوي سیمي کوشنۍ وچي (برصغیر) د خپلواکۍ په غورځنګ کي او په ځانګړي ډول د پښتني ټولني، وطن او ژبي په لړ کي د **خان شهید** هر اړخیزه خدمات د پوهاند فیض الله خان له پورتنۍ خبري څخه جوتیږي او ورسره د مذهبي خدماتو خبره ځکه مله شوې ده، چي په دې لړ کي هم **خان شهید** د مذهبي عالمانو په ملتیا ډېر څه تر سره کړي دي او په دې لړ کي یې د مذهب او اخلاقیاتو پر کتابونو ژباړلو سربېره د قرآن پاک ژباړل تر ټولو ستر او لوی خدمت دی.

په کابل کي د **خان شهید** د څلوېښتم تلین په یاد غونډه کي برخه وال ژورنالست ښاغلی اجمل عالمزی د نومورې په اړه داسي نظر ورکوي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"**خان شهید** د آزادۍ لپاره د خپلو ارمانونو د خپرولو او د اولس د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د مطبوعاتو ارزښت درک کړی وو او د دغې چارې د غښتلتیا، روزنې او پرمختګ لپاره یې خاصه پاملرنه درلوده.

خان شهید د آزادۍ د لارې د سیاسي مبارزې او فرهنګي هلوځلو په پایله کې نه یوازې دا چې لوی اولس را ویښ کړ؛ بلکې په علمي او فرهنګي ډګر کې یې هم ډېرې لاسته راوړنې پښتو ژبې او ادب ته پر ځای پرې ایښې دي." (۳۶)

د **خان شهید** عبدالصمد خان اچکزي پر سیاسي ژوند باندې له باچاخان پوهنتون چارسدې څخه دایم فل سکالر ښاغلی ملک هارون اډووکېټ د نوموړي په اړه خپل نظر داسي وړاندې کوي:

"عبدالصمد خان اچکزی هم د تېر تاریخ د تسلسل یوه کړۍ ده، کومه لار چې پښتنو د پاره بایزید، خوشحال خان، میرویس خان، احمد شاه بابا پرې ایښې وه، صمد خان د تېر تاریخ د مشرانو لار په نوي رنګ کې روانه کړله، د قام او د وطن د دفاع د پاره یې په هر سنګر سیاسي مبارزه وکړه او خپل وطن یې د یلغارګرو نه وساتلو." (۳۷)

ښاغلي څېړونکي ملک هارون اډووکېټ هم هغه ټکی په ګوته کړی دی، چې د تاریخ په اوږدو کې د قام او وطن د خپلواکۍ، ودانۍ او پرمختګ لپاره د تر سره شوي مبارزې په لړ کې د یادو نوموړو مبارزینو په نوښت یا ابتکار سره دلته را څرګندېږي او د مبارزې بڼه په بدلون او تحول سره نوې بڼه خپلوي.

خان شهید د هر زیاتوب او تېري کوونکي په وړاندې د مزاحمت او مقاومت پلوي او ملاتړ کوونکی وو، دا چې د [illegible] سیاسي بهیر د مبارزې په لاره کې د انقلاب راوړونکی وو او د نوډې مبارزې څخه یې سړې یا جمهوري/ پارلیماني مبارزې ته لاره وهله. چې پښتانه یې د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جرګې په بڼه له مودو څخه ویاړ په برخه لري او د دلیل او پوهې ملتیا کوونکي خلک دي، که څه هم د دې لارې د پامولو او خپلولو تومنه یې په ټولنیز سربنټ کې وه، خو دوی یې د خپلولو ویاړ په برخه لري.

دا خبره د **خان شهید** په اړه د یو شمېر سیاستپوهانو، ادیبانو او د ژوند له نورو څانګو سره د اړه لرونکو مخورو د غبرګونونو په لوست او ژورلید سره جوتېږي او لوستونکي کولای شي، چې د **خان شهید** د کردار/ شخصیت په ارزښت ځان و پوهوي او تګلاره یې د ژوند لارې د مشال په توګه د خپل ذهن په کور کې ورسره خوندي او وپالي.

د همدې خبرې په باور سره د سیند ایالت نوموړی سیاست پوه لیکوال ښاغلی منصور قادر جونیجو د **خان شهید** په اړه لیکي:

"خان عبدالصمد خان صرف بلوچستان کے پشتونوں ہی کے رہنما نہیں تھے۔ بلکہ وہ پورے برصغیر کے عظیم رہنما اور ہیرو تھے، ان کے کارنامے اور قربانیاں آج بھی ہم اور ہمارے آنے والی نسلوں کے لئے مشعل راہ ہیں۔ خان عبدالصمد خان اچکزئی تاریخ کے وہ ہیرو تھے، جنہوں نے انگریزوں کے دور سے لیکر ون یونٹ اور بھٹو دور کے مظالم تک مسلسل جدوجہد کی، قید و بند کے مصائب برداشت کئے اور تکالیف جھیلیں، ان کی زندگی کا زیادہ عرصہ جیلوں میں گزرا ان کا جرم صرف یہ تھا، کہ وہ اپنی قوم اور خطے کی آزادی، ترقی اور خوشحالی کے خواہاں تھے۔"(۳۸)

د نوموړي منصور جونیجو پر پورتنۍ خبره باندې رښتیا هم ټول ژور لید لرونکي پوهان په یوه خوله دي، چې **خان شهید** له زورورو بشپړاکګرو او څېښناکګرو څخه د کوشنۍ وچې (برصغیر) په ژغورلو او خپلواکۍ تر لاسه کولو کې د اتلولۍ کردار لرلی دی او تر خپلواکۍ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وروسته یې د پښتانه قام او وطن د ودانۍ او پرمختګ لپاره ډېري ځوروني، ستړي ستومانۍ او زندانونه وړي دي.

د پوهانو د یادوني په دې لړ کي به د یوه ژورلید لرونکي لیکوال او کالم نګار محمود شام یادوَنه را واخلو، چي په خپل ژورلید سره یې د **خان شهید** د سیاسي هڅو پر کړۀ وړۀ سربېره د هغه وجودي کړه وړۀ هم په پام کي نیولي دي او د یوه قیافه شناس په توګه یې د نوموړي داسي انځور په دومره زړه وړونکي او راکښونکي ډول سره وړاندي کړی دی، چي د ژورلید لرونکي لوستونکي لپاره بېخي هر اړخیزه بسنه کوي:

"شبنمی بال، سفید خشخشی داڑھی، سرخ رنگت، بلند قامت، صحت مند جسم، پیشانی کی جھریاں ماضی کی حکایتیں کہتی ہوئیں، آنکھیں قید و بند کی ہزاروں کہانیاں سناتی ہوئیں، گہرا رنگ شلوار قمیص انگریز دشمنی کی تصویر پیش کرتی ہوئی بلوچستان کے سنگلاخ علاقے کا سپوت ہونے کے باوجود اردو حسرت انگیز حد تک بہتر، قیام پاکستان کے بعد زیادہ تر عرصہ جیل میں کاٹنے کے باوجود پاکستان کو درپیش مسایل پر گہری نظر، اپنے خیالات کا بیباکانہ اظہار، اپنوں کے ہاتھوں سختیاں سہنے کے باوجود صبر و شکر کی کیفیت، سابق بلوچستان کے رہنما اور خان عبدالغفار خان کے قریبی رفیق خان عبدالصمد خان سے ملاقات کے بعد یہ ایک خاکہ ہے، جو ذہن میں تشکیل پاتا ہے۔" (۳۹)

نوموړي لیکوال چي په څه ډول په ادبي پوښ کي د تورو (الفاظو) په وډون د نوموړي مبارز **خان شهید** انځور وړاندي کړی دی؛ کولای شو، چي د پښتنو په سوګړ / کره خبره او باوري لاسوند یې وارزوو، چي دریاب یې په کوزه کي بند کړی دی، ځکه چي په لوست یې د لوستونکي تنده ماته شي، څېړونکي ته ډېر مواد په لاس ورکړي او د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ژور لید لرونکي لپاره بسنه (کفایت) کوي، خو په ځانګړي ډول د قامپالو پښتنو لپاره د ویاړ وړ ګرځي او په زړونو کې یې د ارمان په را سربېره کولو سره د ژوند او کردار تومنه را پنځوي "چې موږ هم څه نا څه کړي وای" رښتیا هم په یوه وجود کې دومره وړتیاوي د تلپاتي کردار لپاره اړیني وي او هم پوره بسنه یا کفایت کوي.

دا هم باوري ده، چې داسي کردار هغه څوک لرلای شي، چې د ژوند شېبه/ شېبه په کار واچوي، هغه د رحمان بابا شعر دی، چې:

دلتـــــه دم او قـــــدم دواړه پـــــه حســـــاب دي
پـــل غلـــط لـــه لاري مـــه ږده بـــې حســـابه (۴۰)

نادا چې کوم وګړی د ژوندانه دم او قدم په حساب او په پام واخلي، نو ېدای شي، چې د داسي نامه څښتن او یو شاهکار کار تر سره کړي.

خان شهید د کاروان ملګری او د نوموړي له ادبي افکارو سره ډېر نژدې ته شوی ځوان لیکوال بناغلی قیاس افغان د نوموړي ستر مبارز، یب او د پوهې، خپلواکۍ د لاري اتل په اړه داسي وایي، چې:

د تاریخ ادبي اصول همدغه دي، چې یو شخصیت او د هغه د کردار په سمه او ساینسي څېړنه د هغه له مرګ نه ډېره موده پس هم کېدای ي او نن چې موږ ۳۸ کاله پس د **خان شهید** د شخصیت، کردار او یاسي موقف تنقیدي جاج اخلو، نو دا خبره څرګنده شي، چې **خان شهید** د خپل ګن اړخیز شخصیت او د یو ریښتیني سیاستوال په توګه حکومي پښتونخوا پر اسمان د سهار د تازه لمر په شان راختلی او دا مر به له دې پس نور هم راخېژي، چې کله زموږ له محکومي خاوري څه کرار کرار د تعصب، جاهلیت او مفاد پرستۍ دا تیارې هم پورته شي، انتظار وکړئ، لا هغه وخت پاته دی، چې دا لمر به لا نور هم خېژي او باور لرم، چې داسي وخت به راشي، چې د پښتونخوا پر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سیاسي اسمان باندې به د خان شهید ریښتونی شخصیت د یوازینې لمر په شان ولاړ ځلیږي." (۴۱)

د **خان شهید** د کاروان ملګری ځوان سیاست وال ښاغلی نصرالله خان زېړی هم د جونیجو په دې را ټول شوي کتاب کې د خپل لیک پر مهال د خپل مخکښ قرباني ستایي او د خپل رهبر په اړه لیکي، چې:

"اگر انسانی سماج کی تاریخ میں ایسے عظیم اور قربانی دینے والے افراد موجود نہ ہوتے، تو خود انسانیت ہی اپنا وجود کھو دیتی۔ خان عبدالصمد خان اچکزئی برصغیر اوپشتونخوا کی تحریک آزادی کے ان اولین رہنماوں میں سے تھے، جن میں، باچاخان، کاکا صنوبر حسین مومند اور ان جیسے دیگر عظیم رہنما شامل تھے۔" (۴۲)

د **خان شهید** د سیاسي لاري پیاوړي لاروي ښاغلي نصرالله خان زېړي د انساني ټولنې و تاریخ ته په پاملرنه سره کره خبره کړې ده او په دې لړ کې پورته یادونه هم شوې ده، چې زمان د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره د وړتیا لرونکو او پر ځای کردارونو ټاکنه په هر وخت کې کړې ده، پر ځای مي ځکه وویل، چې د وخت ټاکل شوو کردارونو په ډېر ستروالي او عظمت سره خپله لاره وهلې او تر سره کړې ده، نو ځکه نوموړی د **خان شهید** په کردار کې هغه درنښت او اتلولي وینې، چې له ښکېلاکګرو او ځبېښناکګرو څخه یې د کوشنۍ وچې او پښتونخوا د خپلواکۍ په اخستلو کې د مخکښانو په لړ کې باوري کردار یادوي.

د **خان شهید** د شخصیت یادوونکو او ارزوونکو په لړ کې یو بل نوم د ښاغلي اختر علي خان بلوڅ هم دی، چې په ډېره ساده ډېرایه کې یې د نوموړي شخصیت او کردار ستایلی دی او د خپل پراخ او غوړېدلي ذهن په څرګندونه سره یې لومړی د خپل وخت د لوړو سیاست پوهانو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یادونه کړې ده، چې پر اختلاف سربېره یې هم د **خان شهید** د لیدلوا وله هغه څخه د څه اوربدلو ذهن او زړه درلود، خو ځان یې د **خان شهید** په هغو لوی شمېر مینه ناکو کې ښوولی دی، چې په ټولنه کې یې شمېر ببخي ډېر وو، نومورې داسې یادونه کوي:

"خان عبدالصمد خان اچکزئی کے ساتھیوں میں سردار محمد امین کھوسہ، ملک فیض محمد یوسف زئی، محمد ہاشم غلزئی، غوث بخش بزنجو، گل خان نصیر، عبدالقادر کاسی، محمد حسین عنقا، عبدالکریم شورش، عبدالصمد درانی اور فضل احمد غازی خاص طور پر قابل ذکر ہیں، کہ جو اپنے اپنے فکری حالات اور حالات کے جبر کے باوجود خان عبدالصمد اچکزئی سے دلی محبت کرتے تھے اور ان سے ملنے کا بہانہ ڈھونڈتے تھے اور ہم جیسے بے مایہ ارادت مند (اس وقت کے) نوجوان تو بے شمار تھے۔" (۴۳)

د نومورې لیکوال اختر علي خان بلوڅ تر یادونه وروسته په دې لړ کې د **خان شهید** په اړه د پښتو د نومورې لیکوال بناغلي ډاکټر لیاقت تابان یادونه او پېرزوینه څه په نوې بڼه را اخلو، هغه داسې چې بناغلی ډاکټر لیکوال یې د تګلارې پلوي او د سهېلي پښتونخوا د پښتو رسنیو په اړه یې څېړنیز نښیر / کتاب یې د لومړیتوب ویاړ هم په برخه لري، بناغلی لیکوال د همدغه کتاب تړون د "**خان شهید**" په نوم داسې کوي، چې:

"چا چې د دې ایالت د پریس د لومړي ایکټ پلي کولو لپاره خپل ټوله زیار په یوه سر و ګالی، چا چې د دې ایالت تر ټولو لوی لېتهو الیکټرک پریس بنسټ کښېښودی، چا چې د دې ایالت لومړی ورځپاڼه استقلال خپره کړه، چا چې د ژورنالستانو لومړی بشپړه ډله وروزله، چا چې لومړی پښتو مجله خپره کړه... هو! **خان شهید** عبدالصمد خان اچکزی چا ته چې د دې ایالت د ژورنالیزم پلار ویل کېږي" (۴۴)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هېره دي نه وي، چې "استقلال" اوونیزه (Weekly) وو، څرګنده دي وي، چې د دې لومړیو ارزښتونو په څنګ کې **خان شهید** په یاده سیمه کې د قامي سیاست د بنسټګر او لومړیتوب ویاړ هم په برخه لري او نومورې په ۱۹۳۲ز کال د سیند او پنجاب د خلکو په ګډون د بلوچستان په استازیتوب د لومړۍ باقاعده قامي غونډې مشري هم تر سره کړې ده او د قامي / سیاسي هڅو لارې پرانستې وه.

وړاندي مو هم د دې یادي غونډې په لاره کې د سرکار له خوا د خنډونو اچولو خبره کړې وه، چې سرکار د دې کار لپاره خپل مامورین ګومارلي وو، خو د دې شاتني نفسیات دا وو، چې په ټولیزه توګه یې د اولس د ویښتابه لپاره جوړ شوی دغه بهیر او خوځښت له سره خوښ نه وو او دا یې د ځان د ګټو په وړاندي خنډ ګانه، نو د دې بهیر په وړاندي یې په بېلا بېلو چلونو او طریقو سره د خنډونو اچولو هڅې تر سره کولې، ځکه ښاغلی لیکوال جوهر میر ورته اشاره کوي او لیکي:

"خان عبدالصمد خان اچکزئی بنیادی طور پر ایک قوم پرست لیڈر تھے، برصغیر کی آزادی اور ہندوستان میں فرنگی سامراج کے خلاف جس دور میں انہوں نے قربانیوں کی سبیل لگائی تھی، بلوچستان کے سرداروں اور وڈیروں کی ایک بہت بڑی تعداد ان دنوں اپنے سرکاری خطابات اور مرتبے کے تحفظ کے لئے کوشاں تھی۔" (۴۵)

د **خان شهید** د ستر مبارز شخصیت په اړه د پښتو، اردو لیکوال "چې د **خان شهید** په اړه تر سره شوی کار یې د سند په توګه یادېږي" ښاغلی شوکت ترین د کوټې پوهنتون له خوا په جوړه شوې څېړنغونډه ۲۰۱۱ز کال کې خپله لیکنه داسې پیلوي:

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

" **خان شهید** عبدالصمد خان اچکزی (۷ جولایي ۱۹۰۷ز - ۲ دسامبر ۱۹۷۳ز) په دې ټوله خطه کي هغه یوازینی شخصیت دی، چي په پښتني بلوچستان (برتانوي بلوچستان یعني جنوبي پښتونخوا) او بلوڅي یا قلاتي بلوچستان دواړو کښي یې په اولس کي هغه سیاسي شعور او پوهه را وزېرولە، چي د لومړي قدم په توګه یې د مبارزې په نتیجه کښي د انګرېز سامراج کمبله د دې ځای څخه ټوله کړله او ورسره په هندوستان او پاکستان کښي ننني جمهوریت هم د دغه مبارزې څخه سرچینه اخلي." (۴۶)

په هندوستان او پاکستان کي د اوسني جمهوریت تر بریده پوري پورتنی نظر ښکاري باوري دی، خو ځینو سیاست پوهانو لیکوالانو د **خان شهید** او ملګرو مخورو سترو سیاسي مخکښانو لکه ګاندي جي، باچاخان او نورو د تر سره شوي سیاست په اړه دا خبره هم کړې وه، چي د دوی د تر سره شوي سیاسي کردار په رونا کي د زمان سیاسي بهیرونو په تومنه اخستلو له زورورو بنکېلاکګرو او ځښتناکګرو څخه د نړۍ نورو هېوادونو هم خپلواکي واخستله، چي د نومورو د سیاست د پیلامې پر مهال د خپلواکو هېوادونو شمېر نژدې پنځوس وو او اوس یې شمېر دوه سوه ته رسېدونکی دی.

خو په دې لړ کي که چېرې د زمان تاریخي پراوونه و څارو، نو ویلای شو، چي سیاست او سیاسي هڅو ډېري لوړې ځوړې او اوږدې زمانې لیدلي دي او موږ یې په سرسري توګه د امریکا له اووښتون یا انقلاب څخه را نیولې د فرانسې تر اووښتونه پورې او بیا د روسیې او چین تر اووښتون پورې یادولای او څارلای شو.

ښاغلی لیکوال احسان الله کاکړ هم د **خان شهید** د سیاسي کردار په اړه خپل نظر د پوهاند عبدالغني خان غنو د بابایې پښتون او پښتونخواد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لوست په رونا کې وړاندې کوي او د پورتنیو لیکوالو، پوهانو د وړاندې شوو نظرونو ملاتړ کوي، چې له زورورو ښکېلاکګرو او ځبېښناکګرو څخه یې د وطن د خپلواکۍ لپاره خپل ژوند ځانګړی کړی وو او په دې لړ کې یې د یو شمېر زندانونو یادونه هم کړې ده، چې **خان شهید** پکښې د ژوندانه ډېره درنه برخه د جبر و استبداد د ځورونو/ اذیت او سترو په ګاللو تېره کړې ده. ښاغلی احسان الله کاکړ داسې لیکي:

"عبدالصمد خان اچکزئی نے برطانوی سامراج سے وطن کی آزادی کے لئے اپنی زندگی وقف کردی۔ خان شہید نے پشاور جیل، مچھ جیل، ہری پور، لاہور کا شاہی قلعہ، ملتان، منٹگمری، مالٹا اور جزائر انڈمان کالے پانی کی صعوبتیں بہادری اور جرآت سے برداشت کیں۔" (۴۷)

د پورتنۍ حوالې/ لاسوند راوړل ځکه ماته اړین (ضروري) وایسېدل، چې په اړه یې سپیناوی/ وضاحت هم وکړل شي، خو په دې لاسوند کې د ځینو ځایونو لکه "مالټا، جزائر د جبلونو او انډمان د تورو اوبو یادونه چې شوې ده" دا ماته د تامل وړ برېښي او په دې لړ کې مې د تولمنلي مشر **محمود خان** او نورو مخکښانو څخه هم پوښتلي دي، خو هغوی د دې ځایونو د زندانونو خبره ښه ځایه بللې ده.

دا وو، د یو شمېر پوهانو، لیکوالانو نظرونه "چې د شلمې پېړۍ د ستر مبارز سیاسي، ادبي شخصیت او کردار **خان شهید** (عبدالصمد خان) په اړه ستاسو په مخ کې وړاندې کړل شول، ولې دا به هم وویو، چې په دې لړ کې به داسې ډېر نظرونه پاته هم وي، چې موږ دلته وړاندې نه کړای شول، نو په کار دی، چې لوستونکي یې زموږ نه لاسرسی او کمزورې و پاموي او دمګړی له همدې وړاندې شوو نظرونو څخه د نومورې د شخصیت او کردار په اړه د خپلې رایې لپاره ذهن او زړه و

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لري، بله خبره دا ده، چې په دې وړاندې کړل شوو نظرونو کې د عمر او یا هم الفبایي ابجد په ارزښت هغه وډون یا ترتیب نه دی ساتل شوی، کېدای شي: د پورته کښته په اړه یې د لوستونکو ذهن داسې څه ناڅه احساس کړي، نو په دې لړ کې به هم زما عذرو مني.

سرچینې:

۱: خټک؛ خوشحال خان، د خوشحال خان خټک دیوان، خپروونکی: د امان کتاب خپرولو موسسه، چاپکال ۱۳۹۷ل ۲۰۱۸ز ۲۵۰/ ۲۵۱ مخونه

۲: کاکړ، پوهاند ولي محمد خان سیال، د کسې د لمني پښتانه لیکوال دویم ټوک، خپروونکی: بولان بک کارپوریشن، چاپکال ۱۹۸۳ز مخ ۳۴۸

۳: آزاد؛ محمد نعیم، د مبارز او سرلاري شاعر ملا عبدالسلام اشېزي اند او هنر، خپروونکی: پښتو ادبي غورځنګ، چاپکال ۲۰۱۵ز مخ ۱۶۸

۴: عطایي؛ محمد ابراهیم. د خان شهید یاد، خپروونکی؛ د سرحدونو او قبایلو وزارت، مشموله، د خان شهید لنډ ژوند لیک، چاپکال، ۱۳۷۰ل ۱۹۹۱ز، ۳۹ مخ

۵: لایق؛ سلیمان. د خان شهید یاد، خپروونکی؛ د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، مشموله، د لایق وینا، چاپکال، ۱۳۷۰ل ۱۹۹۱ز، ۳/۲ مخونه

۶: لایق، سلیمان، د پوهي او خپلواکۍ لاروی، خپروونکی. د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د رفیع نیازي په زیار، مشموله، خان عبدالصمد خان د پښتنو د ملي ارادې د لښکر یو مشر، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز ۹۷، ۹۸ مخونه

۷: بتره؛ منوهر سنګه. د خان شهید یاد، خپروونکی؛ د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، مشموله، خان شهید عبدالصمد خان، چاپکال، ۱۳۷۰ل ۱۹۹۱ز، ۴۳ مخ

۸: زیار؛ مجاور احمد. د خان شهید یاد، خپروونکی؛ د سرحدونو او قبایلو وزارت، مشموله، عبدالصمد خان اڅکزی او افغانستان، چاپکال، ۱۳۷۰ل ۱۹۹۱ز، ۸۴ مخ

۹: کرزي، حامد، د پوهي او خپلواکۍ لاروی، خپروونکی. د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د رفیع نیازي، په زیار، مشموله، د اولسمشر حامد کرزي د وینا متن، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز ۱۰ مخ

۱۰: مروت، عبدالرحیم، بابای پشتونستان خان عبدالصمد خان اچکزئی، ناشر: خان شهید لائبریري، سال اشاعت ۲۰۱۶ء، مشمول مقدمه صفحه ۷

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۱: رفیع، حبیب الله، د ننګ او فرهنګ اتل، خپرووونکی: د افغانستان د سیمه ییزو او مطالعاتو مرکز، چاپکال ۱۳۷۸ل ۲۰۰۸ز، ۱۳۰ مخ
۱۲: رفیع، حبیب الله، د پوهې او خپلواکۍ لاروی، خپرووونکی: د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د رفیع نیازي په زیار، مشموله: د ګلستان استوګن د تلپاتې ګلستان څښتن، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز، ۸۰ مخ
۱۳: همدغه پورتنۍ اثر، ۳۰، ۳۱ مخونه
۱۴: همدغه پورتنۍ اثر، ۱۴۳، ۱۴۴ مخونه
۱۵: راز، سلیم، د ننګ او فرهنګ اتل، خپرووونکی: د افغانستان د سیمه ییزو او مطالعاتو مرکز، چاپکال ۱۳۷۸ل ۲۰۰۸ز، ۱۲۴ مخ
۱۶: همدغه اثر، مشموله راشد، عبدالباري، افتتاحیه بیانیه اکادمي، چاپکال ۱۳۷۸ل ۲۰۰۸ز، ۴ مخ
۱۷: درانی، درویش، د پوهې او خپلواکۍ لاروی، خپرووونکی: د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د رفیع نیازي په زیار، مشموله، تر خپلو همزولو مشر، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز، ۱۵۲ مخ
۱۸: پانیزی، پوهاند نظر محمد، د خان شهید عبدالصمد خان اخکزي علمي او ادبي خدمات، خپرووونکی: پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه، مشموله، خان شهید په حیث د یوه مفکر، چاپکال ۲۰۱۲ز، ۸۱ مخ
۱۹: پورتنۍ یاد شوی اثر، ۸۷، ۸۸ مخونه
۲۰: همدا پورتنۍ اثر، د اکرم شاه لالا لیکنه، ۶۳، ۶۴ مخونه
۲۱: باجوړی، پوهنمل بریالی، د پوهې او خپلواکۍ لاروی، خپرووونکی: د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د رفیع نیازي په زیار، مشموله، خان شهید او پښتو ژبه، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز، ۱۵۶
۲۲: سیماب، ډاکټر نصیب الله، د خان شهید عبدالصمد خان اخکزي علمي او ادبي خدمات، خپرووونکی: پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه، مشموله، خان شهید په حیث د یوه مفکر، چاپکال ۲۰۱۲ز، ۱۲۲ مخ
۲۳: لاشاري، ډاکټر حیدر، د پوهې او خپلواکۍ لاروی، خپرووونکی: د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د رفیع نیازي په زیار، مشموله، د خان شهید د شخصیت څېړنیز ارخونه، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز، ۱۶۵ مخ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۲۴: لېوال؛ عبدالغفور، د ننګ او فرهنګ اتل، خپرووونکی؛ د افغانستان د سیمه ییزو او مطالعاتو مرکز، مشموله؛ د خان شهید ژوند لیک؛ لیکنه، لېوال، چاپکال ۱۳۷۸ل ۲۰۰۸ز ۲۱/۱۲ مخونه

۲۵: غنو؛ پوهاند عبدالغني خان، بابائے پشتون اور پشتو نحو اجلد دوم خپرووونکی؛ نادر تریډرز مستونګ، چاپکال ۱۹۹۰ز ۸، ۹ مخونه

۲۶: ډاکټر؛ مبارک علي، تاریخ او سیاست، ژباړن؛ محمد نعیم آزاد، ناچاپ، مخ ۱۴

۲۷: باچا؛ شیر علي، خان شهید عبدالصمد خان اچکزئی شخصیت اور علمی وادبی خدمات، از پوهاند فیض الله پانیزی، چاپکال ۲۰۰۹ز ۱۶۵، ۱۶۶ مخونه

۲۸: ژواک، څېړنمل محمد دین، رمز او راز، خپرووونکی، پخپله، چاپکال ۱۳۷۳ز ۱۹۹۴ز، د کتاب داهداء مخ

۲۹: ځلمی؛ محمد ولي، د استبداد او مطلقیت په مقابل کي د ځینو افغانانو ملي مبارزې، خپرووونکي؛ میوند خپرووونکي ټولنه، چاپکال ۱۳۸۲ل مخ ۳۸۹

۳۰: عارف، سید خیر محمد، د پوهي او خپلواکي لاروی، خپرووونکی. د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د رفیع نیازي په زیار، مشموله، د خان شهید د نثر اسلوب، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز ۱۷۳ مخ

۳۱: ماموند، پوهنمل سرور، د پوهي او خپلواکي لاروی، خپرووونکی. د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د رفیع نیازي په زیار، مشموله، د هند نیمه وچه اود خان شهید قرباني، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز ۱۸۴، ۱۸۵ مخونه

۳۲: همدغه پورتنی اثر د خورشید کاکاجي لیکنه، مشموله، د خان شهید بابا څانګړتیاوي، مخ ۲۵۳

۳۳: همدغه پورتنی اثر، د څېړندوی محمد نبي صلاحي لیکنه، مشموله، د پښتنو ستر مشر او فکري لارښود عبدالصمد خان، مخ ۲۵۰

۳۴: ترین، ملک اسد خان، بابائے پشتونستان خان عبدالصمد خان اچکزئی، ناشر؛ خان شہید لائبریری، سال اشاعت ۲۰۱۶ء، صفحہ ۵۱

۳۵: پانیزی؛ فیض الله خان، خان شهید عبدالصمد خان اچکزئی شخصیت اور علمی وادبی خدمات، خپرووونکي؛ پښتو ډیپارټمنټ کوټه پوهنتون، چاپکال ۲۰۰۹ز مخ ۱

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۳۶: عالمزی، اجمل، د پوهې او خپلواکی لاروی، خپرووونکی. د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د رفیع نیازي په زیار، مشموله، د خان شهید ژورنالستیک ژوند ته لنډه کتنه، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز ۲۶۳، ۲۶۷ مخ

۳۷: اډووکیټ؛ ملک هارون، د خان شهید عبدالصمد خان اچکزي سیاسي ژوند، خپرووونکی؛ کتاب کور پبنور، چاپکال ۲۰۲۰ز مخ ۱۸

۳۸: جونیجو؛ منصور قادر، خان عبدالصمد خان اچکزئی شخصیت، جدوجہد اور افکار، ناشر؛ دھرتی پبلیکیشن حیدرآباد سندھ، سال اشاعت ۲۰۰۸، صفحات ۱۱،۱۰

۳۹: پانیزی؛ فیض الله خان، خان شهید عبدالصمد خان اچکزئی شخصیت اور علمی وادبی خدمات، خپرووونکې؛ پښتو ډیپارټمنټ کوټه پوهنتون، چاپکال ۲۰۰۹ز مخ ۱۷۵

۴۰: د رحمان بابا دیوان، وډونکي؛ پروفیسر محمد الله خلیل او نیمروز قیس، خپرووونکې؛ پښتو اکېډمي کوټه، چاپکال ۲۰۱۷ز مخ ۶۴۲

۴۱: افغان، عبدالوهاب قیاس، د پوهې او خپلواکی لاروی، خپرووونکی. د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د رفیع نیازي په زیار، مشموله، د خان شهید ګڼ اړخیز شخصیت او بې ساري مبارزه، چاپکال ۱۳۹۱ل ۲۰۱۲ز ۲۴۸ مخ

۴۲: جونیجو؛ منصور قادر، خان عبدالصمد خان اچکزئی شخصیت، جدوجہد اور افکار، ناشر؛ دھرتی پبلیکیشن سندھ، مشمولہ، نصراللہ زیری، سالار قافلہ آزادی، اشاعت ۲۰۰۸، صفحہ ۴۰

۴۳: پورتنی اثر، د اختر علی بلوچ لیکنه، خان عبدالصمد خان اچکزی، مخ ۲۵

۴۴: تابان؛ ډاکټر لیاقت، د سهیلي پښتونخوا پښتو رسنی، خپرووونکی؛ ملګري لیکوال کوټه، چاپکال ۲۰۰۸ز ۱۳۸۷ل مخ ۳ ترون

۴۵: جونیجو؛ منصور قادر، خان عبدالصمد خان اچکزئی شخصیت، جدوجہد اور افکار، ناشر؛ دھرتی پبلیکیشن حیدرآباد، مشمولہ؛ جوہر میر، ملاقات خان شہید اشاعت ۲۰۰۸، صفحہ ۴۷

۴۶: توبه وال، ډاکټر عثمان، د خان شهید عبدالصمد خان اچکزي علمي او ادبي خدمات، خپرندوی؛ پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه، مشموله، انجمن وطن یوه علمي او سیاسي څېړنه؛ چاپکال ۲۰۱۲ز مخ ۱۳۶

۴۷: جونیجو؛ منصور قادر، خان عبدالصمد خان اچکزئی شخصیت، جدوجہد اور افکار، ناشر؛ دھرتی پبلیکیشن سندھ، مشمولہ، احسان کاکڑ، تحریک آزادی کے رہنما، سال اشاعت ۲۰۰۸، صفحات ۱۴،۱۲

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خان شهید په ژوند لیک کې
د ځینو ځانګړو پښتو تورو کارول

اباسي: د کاږه د اوبو د وېش یو تاکلی مقدار / شپږ منټه اوبه

اپوزی: فورټ سنډیمن / د جنوبي پښتونخوا د نومورې ښار ډوب کلی

اتل پتل: انقلاب

اټکل: اندازه / ګومان / تصور / قیاس / **خان شهید** یو ځای د منطق لپاره هم کارولی دی.

اټکلي شمېر: الجبرا

اجاره: ټپکه / باړه / مځکه، ګور، باغ یا کوم بل کاروبار چې د تاکلي وخت لپاره په تاکلو پیسو چاته ورکول شي، نووایي؛ په اجاره یې ورکړی دی.

اډانه: بنسټ / بنیاد / کالبوت / چوکاټ

ارت: ویر / پراخ / لوی

اړ: مجبور / ضرورت مند

اړتیا: ضرورت / مجبوري

اړخیز: څانګیز / ضمني

اړیکه: تماس / تعلق / ترون / تړاو. جمع یې اړیکي یا اړیکي دي.

اړیکی: د شخړې او خندا چولو په مانا

آزموینه: امتحان / تجربه / آزموینښت / ازمېښت

ازوغه: د لارې څوری / د سفر خواړه

اشخار: یو دول د غرنیو بوټو تخم توکی دی، چې په درملنه او خوراکي شیانو کې کارېږي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اشر: ګډ کار/ په ګډه کار/ د کوم اړتیا لرونکي په کار کې په ګډه کومک.

اکا: تره- د ت په ساکن/ جمع: اکاګان/ ترونه

اکړه: هندسه، د شمېرنې په اړه، لکه یو، دوه، درې ۱، ۲، ۳

الباش: خبرتیا/ څرک کول/ متنبه کول

امبار: د خشاکو کوټه/ د خاشاکو ډېرۍ/ زېرمه/ ذخیره

انا: نیا، د پلار مور، د مور مور، د نیکه مېرمن

انځور: نقش/ تصویر، انځور ګر: نقاش/ مصور/ آرټسټ

اند پوهه: اخلاق/ اند د فکر، خیال او وس په مانا هم کارېږي

انګېرل: ګڼل/ ګمان کول

انیز: یو انیز، د کلداري شپاړسمه برخه/ یوه انه/ دوې انې

اوبوسه: نمجنه مځکه/ زیم لرونکې مځکه

اوبه خور: آبپاشي/ د خوړو او څښلو په ګډه مانا هم کارېږي

اوپاری: دیانت دار/ ښه ساتونکی

اوپره: پرېدی/ پردی/ له بل ولاته راغلی څوک

اوجاغی: خانداني/ کورنی/ د خپل توکم/ د خپل قام له ښځې زوکړی

اوڅار: نوموړی/ مشهوره/ ښه څرګند

اورلګیت: باکس/ ماچس

اوږدکی: مستطیل (Rectangle)

اوسبری: بر د مېوې په مانا/ د کال لپاره د بڼ (باغ) مېوه را نیول

اوستاکار: پښ/ له اوسپنو څخه د اوزارو جوړوونکی/ پخلی کوونکی

اوستری: وروسته/ شاته/ اخري

اوکره: پوره شپه/ اوکره شپه/ کرې شپه/ ټوله یا درسته شپه

اوکر: اکر/ حالات

اوګره: له غنمو څخه پخېدونکي خواړه/ دلیا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اولجه: غنیمت/ بدیل/ په جنګ کې تر لاسه شوې شتمني/ ولجه
اولسواکي: جمهوریت/ د ټولواکۍ او زوروالۍ ضد
اولسي غونډه: عوامي جلسه/ د ګڼ شمېر اولسي خلکو یو ځای کېدل
اوږجه: مځکه/ ځمکه/ ولکه/ ملک/ خاوره. سیمه. وطن. وږجه
ایزګی: (پیزې) په تورو لوست/ سپیلنګ ډوله زدکړه/ په تورو
ایله جار: پخپله خوښه کار کوونکی/ رضاکار
ایله: یوازې/ فقط/ دومره/ څه/ پَمتې. ۲: آزاد. ۳: طلاق
اډه: بنسټ/ بنیاد/ مونډ
آن: وخت/ شېبه
آوازه: افواه
باد پرنګ: آتشک/ سوزک/ د متیازو سوځېدل او خاڅکی خاڅکی
تویېدل/ سیفلیس. د اوسنۍ ناروغۍ "اېډز" لپاره هم کارېدلای شي.
بادوبی: اب و هوا
بار: شوق/ مینه. بارجن: شوقین
بارګه: کرایه
بالکی: ایجنټ/ خدمتګار/ چوپړې/ ګوډاګی
بانډه: چم/ څنډه/ محله او د وړوکي کلي په مانا
بانډښی: کلیوال/ څنګلوری/ همسایه
ببوزی: پرپرکی/ پنکها/ په دوبي د باد جوړولو لپاره لاسي آله
بج: لرګی/ هغه ځانګړی لرګی چې جګړه په کېږي/ څوبارۍ
بدودی: بداوو/ بدخویه/ جګړه مار/ چې بد یې عادت یا ځوی وي
بډای: شتمن/ پانګوال/ مور/ غني/ دولتمن
بډې: موک/ رشوت

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بډۍ: بِجل/ د پسه د شا په پښو کې یو وړوکی هډ راځي، چې ځینې پښتانه بیلا بیلې لوبې په کوي.

برخه: ونډه/ ونډۍ/ حصه.

برخلیک: قسمت/ برخه لیک

بربنډ: برمنډ/ لوڅ/ لڅ

برید: اغېز/ پوله/ وار/ حمله/ اثر

بَره: بالا/ لوړ

بری: بریا/ بریالیتوب/ کامیابي

برېښنا: بجلي/ برق. جمع: برېښناوي

بسپن: بسپنه/ چنده/ شلاون/ شلاوند

بگۍ: ټانګه/ تانګه/ د پخوانیو سواري چې په اس یا اسانو به کښېدله

بگړۍ: پگړۍ/ لونګۍ/ لنګوټه/ دستار. بګ اوس هم په پښتنو کې و لوی سړي ته وایي/ د لویوالي نخښه/ د سړیتوب نخښه

بوخاری: داور بلولو ځای/ انګښتی

بوکونه: پېرزویني/ وظیفه

بودری: تاوان

بودهـ: نکل/ کیسه/ بودَه: کیسه/ نکل

بودَهـ: د شودَه په وزن څاروي/ حیوان ته ویل کېږي

بوګری: هغه برخه مځکه چې یوازې د کروندې لپاره چا ته د مرستې په توګه ورکول شي او یا ور وتاکل شي/ د درم/ درمند اخستلو پر مهال په غنمو کې څه پېرزویني ته هم ځای ځای ویل کېږي.

بهاګور: لوړ بیه/ قیمتي

بیجلکي: بډۍ/ د پښې په پل کې دواړو خواوو ته وتلي برخې

بیښبه: د کرک ښځینه/ د مړز ښځینه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بېتي: مَردکي/ په رنګ آبي شنې او د سترګو تور غوندي ګردۍ وي، نو کله کله د سترګو او په ځانګړي ډول د شنو سترګو لپاره هم کارېږي.

بېړۍ: زولنې/ اوسپنیزي کړۍ چي د بندیانو په پښو کي اچول کېږي

بیړه: چټکتیا/ ګړندیتوب/ تلوار

پاپېچي: په ژمي کي تر ورَنو پوري د پښو پټولو لپاره وودل شوې جامه

پاتی: له دال څخه پخېدونکي یو ډول خواړه چي دال یې بېخي لږ او اوبه یې ډېري وي. په پښتنو کي داسي خواړه مېلمه ته د ځواب په مانا اوڅار یا مشهور دي او وایي: د مېلمه ځواب پاتی دی.

پاره: ګزمه/ څارنه/ څوکۍ/ پِهره

پاری: ګټنور/ بریالی/ پیاوړی

پازه: لامل/ سبب/ وجه. ۲: پازه: اغېز/ اثر

پاړکنځی: کتابتون/ لایبرېري

پاړکوټی: پمفلټ

پاړکی: کتاب/ ځیني لیکوال یې د وړوکي کتاب او پمفلټ په مانا اخلي

پاسوال: پالونکی/ ذمه دار/ حساس/ لوروونکی/ پامته دار

پانډي: جوالي/ هغه مزدور چي پر خپله شا بوج وړي/ قلي

پاڼه: ورق/ کاغذ/ مخ. ۲: د هري شنېزۍ او ونو پاڼي هم دي

پتاری: جنازه/ تر هدیرې پوري د مړي د وړلو لپاره جوړه شوې تخته

پتون: ورون/ اودوم. جمع: پتونونه/ ورنونه/ اودومونه

پتیره: د وړو له اخښلو سره سم چي کله دوډۍ پخه شي؛ پتیره ډوډۍ ورته وایي، تر څه وخت ایښوولو وروسته چي پر له واړول شي؛ هغه ته اغږل او بیا څه شېبه وروسته خمیر شي، نو ترې خمیره پخېږي.

پټوني: پهاړې/ ټېبلز (Tables) یو + یو = دوه. دوه + دوه = څلور

پرخ: اوبه پرخل/ پرخه کول/ اوبه پاشل/ اوبه نوستل/ چړکاو/ پاشي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پرکاله: بې سبکه/ بېخوده/ له زوره لوېدلی/ له کاره لوېدلی
پره: ډله/ فرقه. جمع پرې؛ فرقې/ډلي. ۲: طرفداري
پرې پېژانده: پروپېګنده/ پروپاګند
پرېکړه: فیصله. جمع: پرېکړې
پرېن: وړاندیز/ تجویز
پړک: هجوم/ډله
پړ: ګرَم/ملامت. جمع: پړه. پړهـ: ملامتیا/ګرَمه
پسخېدل: هوسېدل/ارمان کول/ یو ډول د ناوسۍ څرګندونه هم ده
پسول: ګېنې/ زېور/ کالي. ځینې پښتانه ګېنې ته کالي وایي، خو دې سیمې خلک جامو ته کالي وایي
پشېرلی: د یوه کال مړیی څاروی/ پسه
پښه: اوس هم د توکم او تبر په مانا د جنوبي پښتونخوا په پښتنو کې کارېږي... د توبې اخګرې پر لاره په غره کې د یوځای نوم هم دی
پلا: وار/ځل/ نوبت. لومړی پلا؛ لومړی ځل. دویمه پلا؛ دویم ځل
پلټنه: د موندنې لپاره هڅه تر سره کول/ څېړنه او داسې نور
پلمه: بهانه/ سبب/ لاکاره او کومې چارې یا خبرې ځان کښل
پلنډه: پېټی/ غوټه/ پنډ/ بار
پلو: ضلع/ اولسوالی. ۲: د ښځینه پرونې اړخ/ د کوم توکر یوه برخه
پنګه: پونګۍ/ څه شتمني/ سرمایه/ ټولې شوې او زېرمه شوې پیسې
پانګه وال: سرمایه دار/ سرمایه لګوونکی
پونډۍ: د پښې د پل شاتنۍ خوا/ تر پوندې لوړه برخه
پونۍ: پوړۍ/ زینه/ ودانۍ ته د ختونکي لارې زینې/ پوړۍ/ د پولې یا پیسې په مانا هم کارېږي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پوول: پېول/ څرول/ پر څړ ځای باندي، څارویو څارنه، کتنه او...
متل دی، چي: څوک یې بیاي راولي یې؛ څوک یې پیایي راولي یې
پوهنځی: کالج/ د پوهني ځای
پوهنتون: یونیورسټي/ د پوهني دنیا/ د پوهني نړۍ
پوهیت: شاعر/ ناظم. پوهیتی: شعر
په مټي: پمټي/ په ګرانه/ په مشکل سره
پیاڅه: سوړسک/ د جوارو ډوډۍ/ جوارینه ډوډۍ/ سوکړک
پیتاوی: لمر ته د کښېنستلو ځای/ **خان شهید** د فوټو سټېټ په مانا هم اخستی دی
پیشاړه: ملنډه/ هنک/ پوزخند/ یو ډول سپکاوی/ استهزا
پیکه: شرمنده/ خنګېدل/ د کومي خبري یا ژمني نه پوره کولو له کبله د چا سره د مخامخېدلو توان نه لرل
پیلامه: سبب/ پیل د هر څه پیلولو یا شروع کولو په مانا هم ده
پینات: شر/ فساد/ پیناتي: فسادي
پېرړ: غونډ/ پیاوړی/ ټینګ/ مضبوط. ښځینه: پېرړه
پېچک: یو ډول بوټی دی، چي پر هر څه باندي د ځان پېچلو خوی لري او ګلان هم کوي، خو ژړ پېچک د آکاس بېل په مانا دی.
پېچومی: مخ پر لوړ/ چړهایي
پېزار: څپلۍ/ موچڼي/ ګلوشي
پېښې: نقل کول/ ډرامه کول
پېغلتوب: ښځینه ځواني/ بکارت/ بې واده نجلۍ
تازي: عربي ژبه. ۲: تازي یو ډول ښکاري سپی هم دی
تالنده: تنا/ برېښنا
تپاس: پوښتنه/ ګروېږنه/ ګربېږنه/ ګروېژنه/ لټون/ پلټنه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تپلی: ترپلی/ تپل شوی/ په زور تحمیل شوی
تپه: خپل/ ډله/ طایفه/ توکم
تراټه: د توکر توټه/ چیرې/ ربنکی
تر اند د پاسه: تر وس وتلی/ تر اندازه لوړ/ اند اوس د فکر په مانا اخستل کېږي
ترپړی: په زندان کې تر ځان د لاندې هوارولو لپاره توکر/ ګودر
ترړي: سراب/ په ځینو ځایونو کې د دوبي غوټه غوټه وریځ ته هم وایي
ترنګ: د ګړیال په مانا اخستل شوی/ هغه ګړیال چې رنګ وهي
تَړه: ولکه/ د سیمې څنډه/ سیمه/ څنډه
تکل: هوډ/ نیت/ عزم/ اراده/ یو ادبي ژانر
تلولی: وارخطا. تلولی تلولی کېدل: وارخطا وارخطا کېدل
تَله: تول/ معیار/ د تول کولو اندازه
تلین: برسې. تلین لمانځل/ د مرګ وریځ لمانځل
تول: جایداد/ شتمنې
تووري: کورنۍ شیان/ کورنی سامان/ د کور لوښي او کالي
تول: جایداد
تولایي: نیالي/ د ناستې لپاره پوست کالی/ توشک
تېزندی: د زیندی پړی/ د غرغړې پړی/ د پانسی رسۍ
تورېزونه: تعزیرات/ مادې
تاک: پوله/ سرحد/ تاکلی برید/ تاکلې پوله/ وېش
تاکلی: مخصوص/ ځانګړی
تبر: کورنۍ/ خاندان/ خپلخانه
تپال: داګ. تپالي: داګي. تپال: د وار/ ځل په مانا هم دی، چې یو تپال/ دوه تپاله، مانا یو ځل دوه ځله

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تپراند: گرځېدونکی. تپرېدل: د کوم شي په لټون یا مرام لپاره ورو ورو گرځېدل/ اندېښمن او یا اندېښنو اخستي ته هم ویل کېږي.

تکتکه: سکوټر/ موټر سایکل/ سماعي غوندي وږغ ته ورته نوم دی

توخک: یو ډول ناروغي/ انفلوینزا

توک: توټه/ پرخه/ حصه

تولی: ډله/ طبقه

تولواک: ډکټېټر

تېک: ارام/ دمه/ ډډه اچول

جار: ډنډوره/ اعلان

جارکړونی: د غنمو په وډکي پاته شوي وړي چې د کوم مزدور له خوا را جارو او یوځای کړل شي؛ جارکړونی ورته ویل کېږي، چې د جاروکښ حق وي. ۲: جارکړونی: **خان شهید** په کفاره او بدیل هم مانا کړی او اخستی دی.

جت: ډم

جرګه: د مانا په توګه ډېر پراخ او تاریخ لرونکی دی، چې د کوم کور/ تبر/ اولس/ قام او نورو شخړو یا ستونزو هوارولو لپاره خلک سره یو ځای شي او خپل فکر سره ګډ او شریک کړي؛ جرګه بلل کېږي

جغ: په یوې/ کولبه کې د جوړه غوایانو په څټ کې وایښوول شوي لرګي ته ویل کېږي، چې له یو بل سره تړلي په ساتل کېږي، خو په ګړنیزه یا اصطلاحي توګه د خلکو د ښکېل ساتلو لپاره هم کارېږي. جوغ/ جوخت

جلګ: ګړندی/ چټک

جندر: قلف/ کولپ

جوال: د دوو ګونیو (بوریو) په اندازه غټم ځایوي/ لویه ګونی

جوخت واکي: کنفېډرېشن

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جوړاون: پښویه/ ګرایمر یا صرف او نحو
جوړه: راضي نامه/ ست کېدل/ د چا په ضد د سازش په مانا هم کارېږي، چې د چا په ضد کار کولو ته څوک سره ست او مله شي.
جولان: زولنې/ بېړۍ/ په پښو کې لوېدونکي او سپنیزي کړۍ
چاره: تدبیر/ کار/ د کومې پېښې یا ستونزې د هوارولو غم خوړل
چاریاک: د کچه کولو (ناپولو) اندازه/ د لاس له خچې ګوتې څخه تر بټې ګوتې پورې په غځولو کچه
چاک: چوون/ دراړ/ بېلوالی/ بېلتون
چالي: د غاړې په برخه کې ناروغي/ د غاړې مرغړي
چپاو: ناڅاپي برید/ یرغل
چپلاخه: څاپېړه/ د پرانستي لاس په ورغوي څوک وهل
چر: نالهٔ/ په مځکه کې د اوبو جوړه شوې لاره ته چروایي.
چره: کره/ **خان شهید** د فوټو په مانا کارولې ده، لکه چهره
چړ: خیرات ټولول/ ګدایي. چړبه: فقیر/ خیرات غوښتونکی
چړچوبی: د غسل خانې په مانا کارول شوی
چغدي: د کاغذ په مانا کارول شوی/ څېرۍ: د کاغذ او مضمون یا لیکنې په مانا هم کار شوی دی
چنچنی: چوغکه/ یو ډول مرغۍ ده، چې د کورنیو او بڼ په ونو کې ځالي جوړوي او چونهار یې جوړ کړی وي.
چوپړ: خدمت/ خسمانه. چوپړي: خدمتګار/ خسمانه کوونکی
چورت وهل: فکر کول/ سوچ کول/ اندېښنه کول/ ری وهل
چوچ: په کور کې د خوړو د معیار او خرڅ په اړه کارېږي
چونډۍ: سوغ/ لږ کوټي خاوره/ لږ کوټي نسوار
چوڼ: انتخاب/ ټاکنه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چیرې: تراټه/ د کالیو یا کپړې کومه ټوټه
چینه: له مځکې څخه پر خپل سر د اوبو راوتلو ځای/ لوی شمېر یې په غرونو کې وي، په پشکال پر غریزو هوارو مځکو هم راوتلای شي.
خامتا: کرباس/ یو ډول ټوکر دی، په ځانګړې ډول پښتون سیاسي مشر تابه کالي ځنې جوړول او د دوی د فکر استازیتوب یې کاوه
خبراوو: رپورټر/ خبریال/ د نامه نګار په مانا کارول شوی دی
خبر څیری: پمفلټ/ هینډ بل/ پاڼه کوتی
خپل چاری: خپل چاروکی/ خود غرض/ ځان لیدونکی
خپلسری: مطلق العنان/ ټولواک/ ډکټېټر
خپلواکي: آزادي/ په خپله خوښه د کار کولو توان لرل
خت: قمیص/ جامه
خټه: خمیر/ په خټه اخښلی مانا په سرښت کې ځای شوی
خرپامي: ناپوهي/ تېروتل/ بېځایه باور
خرکی: اخطار/ چیلنج. ۲: خرهار/ په پرانستې خوله د خوبولي د ساه اخستلو څخه یو ډول ږغ/ خراټې
خرګټه: یو ډول مارغه دی، چې ښکار یې کېږي.
خسمانه: خدمت/ چوپړ/ د وجداني ډاډمنتیا لپاره چاره تر سره کول
خواخوږی: همدرد/ خپل. خواخوږي: همدردي
خوار: غریب/ څه نه لرونکی. خواري: مزدورې/ کارکول/ بدبختي
خواست: غوښتنه/ ګدایي/ فقر/ سوال/ اپیل
خواشیني: خوابدي/ مرورتیا/ احتجاج
خوړ: شپله/ لګډ/ مانده/ د بارانې اوبو تګلار/ دلته د وړو وړو کانو یا شګو جم ته هم خوړ یا خوړه ویل کېږي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خدای پاري: رضاکارانه/ په خپله خوښه کومه چاره تر سره کول، مانا د خدای لپاره کومه چاره تر سره کول

خورجین: اس پنډوکی/ دمبېله/ د مزله لپاره د شیانو ایښوولو څیز چي پر اس یا خره ایښوول کېږي، اوس پر موټرسایکل ایښوول کېږي.

خوشي: بېځایه/ چټي/ عبث

خوښی: د واده لپاره ډوډی/ په واده کي د دواړو کورنیو تر منځ د ډوډۍ په اړه یو ډول ژمنه/ د واده د ورا/ جنج د ډوډۍ لپاره ټاکل شوي پیسې

خوني: قاتل/ وژونکی، له خون/ ویني څخه ماخوذ، وینه بهوونکی

خوی: عادت. ښه خوی: سړیتوب. بد خوی: نه سړیتوب

څاروی: هر هغه څلور پښی حیوان چي څړ کوي. جمع: څاروي

څاړي: یو ډول مارغان دي، چي ښکار یې کېږي.

څانګه: ښاخ/ ډیپارټمنټ. ۲: درد/ برېښ/ څړیکه

څاه: کوهی/ چاه. جمع څاهان، څهان

څپر: موقتي خونه/ ځاله/ څپرۍ/ کوډۍ. ۲: د غنمو بېلولو لپاره جوړ شوی څپر، چي د لرګیو په منځ کي د بوټو په تړون جوړېږي.

څرو: د "ورو" په وزن، د سخت درد او خوږ په مانا، چي له درد څخه یې ټول بدن و رېږدي. ۲: څړیکه/ برېښنایي لهر

څړی وړی: (یکادکا ـ اردو) پر ویرانه لار او دښت د یوه و نیم راتګ

څلی: نښاني/ د قبر څلی/ مینار/ کتبه

څلي: **خان شهید** د حرص او شومي هیلي په مانا کارولی دی.

څنډه: اړخ/ یوه برخه/ محله/ د کلي کوم ځانګړی اړخ/ تړه.

څنګنۍ: څنګۀ/ بېله/ جلا/ لېري لېري/ څنګنۍ

څوڅماتې: ژوره ستړیا/ هډ هډ کېدل/ څَورنګ/ بند پر بند له درده ماتېدل/ ټوک ټوک/ کهاله

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

څورنګ: د نورنګ په وزن، په څنګو مات/له کاره لوېدلی/ ناهیلی
څوری: د سفر د لاري خواړه/ ازوغه/ (ازوقه-عربي) د سفر توښه
څوړ: کوز/ کنبته/ لاندي/ ښکته/ ځړېدلی
څونې: اوړده وېښتان/ وېښتان
څوځماتي: ستوماني/ کهاله ورځ/ ستړیا/ سستي/ توکر توکر
څېر: غوندي/ رنګ/ ډول/ شان
څېړنه: پلټنه/ شننه/ د موندني هڅه/ د کوم کتاب او شي ژوره کتنه
څېړی: د فایل او مثل په ماناکارول شوی دی
څیریجن: د سرجن په ماناکارول شوی دی/ څیرونکی
څیراوی: د شننې/ تحلیل/ تجزیې په ماناکارول شوی (Analize)
ځان پوهه: اړواپوهنه/ روحیات/ علم النفس
ځانخوښه: د خود دار او ځان پېژندونکي په مانا/ خو په ټولنه کې ځان خوښه په ښه مانا نه دی او د زهتوب/ نرګسیت په ماناکارپرې
ځان ځاني: انډویدوالیزم (Individualism)
ځاني کومکي: پرسنل اسسټنټ/ مرسته کوونکی
ځایګی پوهه: جغرافیه/ د وطنونو په اړه پوهه لرل
ځای مېچی: جیومېټري
ځایي: لوکل/ مقامي
ځری: استازی
ځَور: ازار/ کړاو/ اذیت/ زاوال
ځوړ: کوز/ کنبته/ لاندي/ د لوړ ضد، لکه لوړ ځوړ. ۲: زوال
ځوز: اغزی/ اځغی/ خار
دامان: بیدیا/ صحرا/ هواره مځکه/ ارته ورشو/ میدان
دارو درمل: درملنه/ علاج

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

درک: احساس/ پته/ معلومات
درمانی: روغتیاپال/ طبیب/ ډاکټر/ درملنه تر سره کوونکی
درمانتون: روغتون/ هسپتال
درنگ: شېبه/ ساعت/ وقفه/ څه وخت
درود: نذر/ منښت/ وقف/ هغه څاروي چې کوم پیر او یا هم زیارت ته د منښتې لپاره بیول کېږي یا ورکول کېږي
دروه: دوکه/ فریب/ تېرایستنه/ دروهل: څوک تېرایستل
درها: د دعا په مانا کارول شوی دی او په دې سیمه کې کارول کېږي
دریا: دریه/ د موسیقي یو ډول آله چې ښځې یې په ودونو کې وهي او په بانډارونو کې نارینه هم وهي او بدلي/ سندري ورسره وایي
دریمګړی: دریم وګړی/ منځګړی/ ثالث. جمع: دریمان. د دوو وګړو/ ډلو تر منځ سوله کوونکی. چاره ته یې دریمت ویل کېږي
دړه: د تختې یوه توته/ چوون/ چاک/ وازۀ. د انساني قد په مانا هم کارېږي، چې **خان شهید** په همدې مانا کارولی دی.
دل کېدل: د غنمو اېل کېدل/ په اصطلاح تر پښو لاندې کېدل او خپل ارزښت له لاسه ورکول/ تر زور او زیاتوب لاندې کېدل
دلي دوري: شا او خوا/ آس پاس
د لو لور وخت: د غنمو او وربشو د رېبلو وخت/ د کښت کروندې رېبل
دوبی: ووړی/ اهار/ د ګرمۍ موسم
دوتی: ګته/ پند/ کاغذ چې دوه تا سره و نښلول شي؛ دوتی بلل کېږي
دوخت: دستور/ کړنلار/ آئین/ د ژوند ډول/ دود
دود: پلي شوی/ ج: دودونه، د یوې ټولنې او قام ژوندنۍ تګلاري او قوانین. د قانوني ایکټ یا مادې په مانا راوړل شوی دی. رسم و رواج/

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په ټولنه کې پلې کېدونکې ژوندنۍ چارې/ دودیزه چارې/ ژوندنی قانون. ۲: دود: ایکټ/ لکه د چاپ دود

دود پوهه: فقه/ **خان شهید** د فقهې په مانا هم کارولې ده.

دوه مخی: منافق/ بې وایې سړی/ دوه ژبی/ ژمنه او قول نه ساتونکی

ډاډ: اطمینان/ تسلا/ زړه پورې کېدل/ زړور کېدل

ډډه: اړخ/ څنګ. ډډه وهل: د هوسایني لپاره څنګ اچول

ډغره: ټکر/ مقابله/ نښته/ تصادم

ډنډ: جرمانه/ تاوان

ډوکال: وچکال/ د کاختی کال/ قحط. ډوکلي: وچکالي/ د باران نه کېدل/ د اوبو نښتي

ډَول: بڼه/ شکل/ رنګ/ کړه وړه/ سینګار

ډول: د تول په وزن، د موسیقۍ آله/ سولاغه/ د اوبو راوړلو یا اینبوولو یو ډول لوښی

ډپران: امبار/ کوټه/ خَړه/ د کورنیو سخا شیانو د اچولو کوټه یا ډېرۍ

راز راز: ډَول ډَول/ رنګ رنګ/ بېل بېل

رازلی: رغېدلی/ جوړ کړی/ جوړ کړل شوی

رټ: ناوړه/ ناخوښه کار/ بې ډوله

رټل: شړل/ ترخه خبره کول/ ړه خبره کول. رټ: کلکه او سخته خبره کول. کورټ: مطلق

رمبڼ: غبرګون (Repliction) عکس/ انځور په مانا هم اخستل شوی

رَو: تګلاره/ سنت/ کړنلار/ سلوک/ رایه/ طریقه

رود: لګډ/ مانده/ ووړ سیند یا خوړ چې اوبه پکښې بهېږي

روزنه: تربیت/ ښوونه

روغه جوړه: عدم تشدد (شانتي ـ هندي)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

رونه: د څرګندي او په ښه توګه ښکاره په مانا
روه: د پښتنو وطن/ په ځانګړي ډول د خیبر پښتونخوا غرنی وطن
رَی: سوچ/ فکر/ خیال
ریښې: جړې/ بنیاد
ړکېدل: ورزش/ کسرت. ړکېدل: ورزش کول
ړنګي: څنګۀ/ ببل ببل/ جلا جلا. دلته خلک ړنګي پراته وو.
ړینګی: دسترخوان/ کندری/ څونی/ د ډوډۍ اینبوولو توکر
زاوال: ځور/ اذیت/ خواري
زباتل: جوتول/ زباتنه **خان شهید** د منت باری یاد خپلو ښو د یادونې په مانا اخستې ده/ د خپلو ښو بیا یادونه
زړغی: زړه نازړه/ متردد/ اندېښمن
زغره: د جګړې پر مهال د ځانساتنې او ژغورنې لپاره یو ډول پوښ دی
زغم: برداشت/ صبر/ تحمل/ عدم تشدد
زلنده: زیاتوب کوونکی/ ظالم/ جابر/ مستبد/ ښکېلاکګر
زمکښور: ریږدله/ زلزله/ مځکریږد/ د مځکې ښورېدل
زور: طاقت/ پیاوړتیا/ کرامت
زن: **خان شهید** د خوی او عادت په مانا نیولی دی
زیاتوب: تېری/ ښکېلاک/ تر حد او تر حق اووښتل
زیار: هڅه/ کوشش/ کړاو/ خواري/ ربړ/ زحمت کښل
زېرمه زخمه: خوندي کول او غم خوړل/ پالنه تر سره کول
ژبتونی: لغت/ قاموس/ ډکشنري
ژرنده: د غنمو وړه کولو کار ځای/ جرنده
ژړاندي: د محرم میاشت/ د ویر، ماتم او ژړا ورځې
ژړی: یو ډول ناروغي لکه ژړی/ تور ژړی/ یرقان

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ژړی تبه: ملېریا
ژغورل: ساتل/ له کومې ستړیا څخه ځان ژغورل
ژمی: د کال سوړ موسم
ژواک: کلتور/ تهذیب/ ثقافت
ژوبلېدل: ټپي کېدل/ زخمي کېدل/ کمزوری کېدل
ژنګ: ټلی/ ګهنټي/ ږنګ
ږمنځ: منګځ/ شانه
ساهو: / مهذب/ متمدن
سپېنسی: هغه نری مزی چې کالي په رغول کېږي
سپېره: ناسي (نحس) خراب تراب/ ږنګ
سپین سترګي: بې شرمي/ ګستاخي
سپین پاړکی: قرآن مجید/ د خدای کتاب
سپیتانه: د مېړانې ضد/ کمزوري/ پستي/ له مېړاني پرته شاکېدل
ست: بلنه/ د پېرزویني لپاره چا ته بلنه ورکول/ د مېلمستیا بلنه
ستر: لوی/ غټ/ مشر
ستمی: ساه لنډه لنډه اخستل/ د ستړیا او کومې وېرې یا ناروغۍ نخښه
ستنېدل: ګرځېدل/ بیرته تګ
سخا: وروست/ وران شوی/ بد بویه
سخون: د س په ساکن؛ تکلیف/ زحمت/ ستونزمن/ خواري
سر اخستل: باغي کېدل
سرابن: لالچي/ حریص/ په هیڅ نه مړېدونکی
سرپخي: ویاړکول/ فېشن. د سرپخۍ په توګه (د فېشن په توګه)
سرپخی: مغرور/ ویاړ کوونکی/ مفتخر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سرپنج: صدر / مشر
سرپۀ: کومه چاره ته هیڅ اسره نه کول / سامخ کوم کار ته زړه نښه کول
سرشمېرنه: مردم شماري / د خلکو شمېرل
سرېښته: نظام / بندوبست / لام تړل
سریزه: مقدمه / سرلیکنه / سرخي / عنوان
سکاروی: یو ډول ناروغي / نمونیا چې سږي پکښې ورانېږي
سکاسه: ښکالو / کښکی / کښهار / داسي بڼ چې اوربدل کېږي، خو لیدل کېږي نه / **خان شهید** په څکاسه هم یاده کړې ده
سګنې: غنم رنګه / ګندم ګون / هغه مانبام چې نه تیاره وي او نه رونا
سنجول: پرتله کول / اندازه کول
سوبه: بری / بریا / کامیابي / فتحه
سوت: نقل / کاپي
سوچ: خالص / سپا
سوده: آرام / راحت / ګټه / ډاډ / تسلا / دمه / تسکین
سوریته / سوریتي: هغه مینځه چې د مالک اولاد ځنې وشي
سوړه: غار / چاک / چوون
سوګړ: زغم لرونکی / ظرف لرونکی / پخې خبرې کوونکی / هوښیار
سوَنې ورَنې: له کاره وتلي / پاشل شوی / نه را تولېدونکی
سووان: اسانتیا / هوسایي / سهولت / رعایت / پېکیج
سوهېل: جنوب
سیال: برابر / هم پله / په تول پوره سړی / مهذب / سړیتوب لرونکی
سیالي: ګوندي / یو تر بل ځان د مخه کول / مسابقه
سیب: د س په ساکن؛ یو ډول د سمځي غوندي د شپې تېر ځای / د ځاروو د شپې تېر ځای / د منډو یا خوني زړه بڼه / لوبه خونه یا منډو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سیسی: یو ډول مرغی ده، تر زرکه لږ کوشنی او په غرونو کې اوسي؛ خلک یې ښکار کوي

سیلګری: استازی/ ملاتړی/ غم خوړونکی، د چا سیله کول

سیله/ سیللە: خپلوي/ ملتیا/ ملاتړ

سیوری: سایه

سېځنې: سېنځلي/ د ماشومانو دوني تړلو لپاره مزی/ رسی

سېلمه: په سیمه خپلوان/ ګاونډي/ ټول

سېوا: پرته/ بې له دې/ پر دې سربېره. ۲: زیات/ ډېر/ پرېمانه

سېوان: آسیاوان/ ژرنده ګړی

شاپاله: د شا له خوا/ د مخ پاله ضد

شاګی: د شالید یا پس منظر په مانا کارول شوی دی او بل ځای د ملاتړ په مانا هم کارول شوی دی. ۲: شی/ څیز

شاګی: کوشنی غونډی/ د غونډی برخه/ د غره برخه

شالکوټ: د کوټې ښاري سیمې لرغونی نوم

شلاخي: په یو ډول آله باندې وهل/ د چپلاخو لپاره هم کارېږي

شلاوڼ: شلاوند/ وېش/ تقسیم. هغه پیسې چې د کوم ټولنیز کار لپاره پر خلکو کښېښوول شي او هر یو خپله برخه ورکړي او یا تر لاسه شوي پیسې سره شلاوند کړي/ وندی کول

شري او شراباتیان: تاو تریخوالی خوروونکي/ فسادیان/ پیناتیان

شړونی: پناه ګزین/ فراري/ کډوال، چې د بارېدلو یا کډه کولو څه لامل یې وي

شنخته: خازه/ سنخته دا توری اوس هم په پښتنو کې کارېږي.

شنده: ملنډه/ هنک/ مسخره

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شومیا: بهوک هړ تال/ د خپلي غوښتني تر منلو پوري له خوړو څخه نټه (انکار) کول

شَوه: له بدو یا کوم ګام اخستلو څخه د بېزاری څرګندونه/ عاجزي کول/ شَوه راوړل/ شېوه راوړل

شوکه: غلا/ ډاکه/ لوټ/ له لارویانو څخه په زوره څه اخستل

شهید: د دې ځای پښتانه یې د شرمنده په ماناکاروي/ عامه مانا یې د چا له لاسه وژل شوی/ په ځانګړي ډول د عقیدې لپاره وژل شوی

شین بر: کرونده/ فصل/ شین ګښتي

ښاند ه: خاوند/ څښتن. ۲: ښندل: قرباني

ښره: ښوره/ تروه مځکه/ ښرنه مځکه/ ښنګل/ مالګینه مځکه

ښکر: د کوم څاروي له ښکر څخه جوړه شوې آله وه، چې په وهلو به یې ملنګانو/ ګدایانو د خیر غوښتني لپاره کورونه خبرول او د خلکو پام به یې ځان ته اړاوه/ پخوانیو خلکو به په سر کي د ښکر پر ځای و کوشني ته وېښتان ور پرېښوول او ښکر به یې ورته ویل...

ښکومی: د مخبر/ جاسوس په ماناکار شوی دی، خو څه سیمي یې د دوست او خپل په مانا اخلي، لکه د زیارت سیمه (جنوبي پښتونخوا)

ښور: غورځنګ/ تحریک

ښوونځی: سکول/ د ښووني ځای

غاړه: خوا/ څنډه/ سیمه/ او د انساني وجود د سر او تن تر منځ برخه

غال کول: شر جوړول/ د خپلي ګټې لپاره تاوتریخوالی را منځته کول/ شخړه او اړغېلوه کول/ د کوم څه تر لاسه کولو لپاره ناوړه لار خپلول

غبرګون: برغون/ (Repliction)

غچ: کسات/ له چا څخه د بدو بدل (انتقام) اخستل/ عناد

غدی: داړه/ چپاو/ د شپې ناڅاپه یرغل او لوټ/ دښمن ته زیان اړول

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

غرسنی: غرځنی/ د غره اوسېدونکی/ غرځه: د غره مړ.
غرغړه: پانسی. غرغړه کول: پانسی کول
غرېږو: ارمان/ افسوس/ ناوسي/ حسرت
غړی: ممبر/ رکن/ تن/ وګړی/ فرد
غښتلی: پیاوړی. غښتلتیا: پیاوړتیا/ مضبوطتیا/ مېړنتیا
غمرازي: د چا په غم کي ګډون کول/ پاتا (فاتحه)/ لاس نیوی کول
غنمینه: غلمینه/ د غنمو ډوډی/ د غنمو تیکله
غوټ: قاطع/ پرېکنده/ پنډ/ تیار
غوټۀ: برید/ حمله/ لاس اچول. ۲: په اوبو کي غوټۀ وهل/ لامبل
غورس: پنډ/ پېړه/ پیاوړی
غوږین: د یو ډول توپک نوم دی/ غوږور سړي ته هم ویل کېږي.
غولی: آنګړ/ حویلي/ د کورنیو مندوانو (خونو/ کمرو) مخ ته ډګر
غونډ: ټول. غونډه: ناسته/ میټینګ. اولسي غونډه: عام جلسه
غوڅول: پرې کول/ قطع کول
غونج: پر خره، قچر یا اس باندي د بار وړلو لپاره یو ډول جوړ شوی کالی، چې په وودلو سره به جوړ شوی وو.
غندنه: مذمت، کوم کار او کارکوونکي ته په ډاګه بد ویل
کاسپره: بدلمنې/ بدکاره/ زناکاره
کاکي: یو ډول لوبه ده/ ګولي ډنډه.
کالي: جامې/ د ښځینه ناروغی (حیض) په مانا هم کارېږي
کاڼ: د غرونو د لړی (سلسلې) هغه مرکزه له کومه ځایه چې لاره دواړو خواوو ته کوزېږي.
کانی: ډبره/ تیږه/ سخر
کاوین: نکاح/ د نر او ښځي تر منځ ژوندنی ترون

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کاهښت: اندېښنه/ ګروم/ سودا/ وسواس/ تشویش
کالخوای: وکیل/ هغه څوک چې واک ور سپارل شوی وي.
کان: تونده هیله/ کاهښتمن انتظار/ کهانده
کتغ: پاخه خواړه/ اینګولی/ خو دلته د کروتو غوړیو د څانګړو خوړو لپاره هم کارېږي، چې زدوولي کرت او لاسي غوړي په ایښېدلو سره په وړه شوې ډوډۍ کې لوېږي او پر سر یې هم په وار وار غوړي ور اچوي.
کټ مټ: سم دم/ هو بهو/ عیناً
کټېدل: خوځېدل/ خوځند/ ګرځېدل. د کټېدل په لړ بدلون او اړولو سره ټکېدل هم څه پښتانه د ګرځلاو په مانا کاروي
کجاوه: د ناوي کښېنولو لپاره د اوښ پر کته باندې وجوړ شوی سایوان. لرونکي ځای ته ویل کېږي، چې پخوانیو به ناوې په کجاوه کې راوړله
کڅونه: کڅوړه/ د کورنۍ سودا وړلو لپاره لاسي لوتې/ له ځان سره د کوم څه ګرځولو کڅونه/ د پېکیج لپاره هم کارېږي/ لفافه
کډه: کورنۍ شیان/ ځینې پښتانه یې د مېرمن په مانا هم کاروي، خو کډه کول له یوه ځای څخه بل ځای ته د لېږدېدلو په مانا کارېږي.
کراسته: د ناستي لپاره له وړیو یو ډول لاسي جوړ شوی هوارېدونکی کالی/ لېمڅی، چې پښتنې ښځې یې له وړیو څخه جوړوي
کرباس: خمتا
کربنه: لکیر/ سطر/ لیکه/ ټک/ پوله
کرک: یو ډول مرغۍ/ مړز/ بټېر
کرکه: نفرت/ له چا کرکه کول: له چا بد کېدل
کرم تیل: کورنتاین/ کوارنتاین/ په یو ځای کې جبري او په خونبه ځان له کښېنستل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کرونده: کښت/ فصل
کړاو: خواري/ زحمت/ رَبړه/ ستونزه
کړکېچن: پېچلی/ ګران/ اړ
کړۀ: عمل/ قاعده/ ټاکلی چوکاټ
کړندی: لړ ناروغه/ کمزوری/ نحیف/ تبجن
کسل: کټل
کشاله: لانجه/ شخړه
کښل: لیکل/ ویستل/ کاږل
کښَی: بزګر. کښېووغ: بزګري
کنډو: د دوو غاښونو تر منځ چې کوم غاښ ووځي او په منځ کې ځای تش پاتې وي؛ کنډو ورته ویل کېږي/ ۲: غاښی، پر دېوال او یا غړه باندې د اووښتلو ځای هم کنډو بلل کېږي/ کنډاو
کوتار: د قصاب په مانا کارول شوی دی
کوټۀ: "**خان شهید** به کوټه لیکله" د لوټۀ په وزن، د پښتنو مېلمستون/ حجره/ بیټک.
کوی: د بوی په وزن/ اندېښنه/ غم/ مانا کوی نه خوږل؛ څه غم یې نه کول/ اندېښنه نه په کول
کودی: خاورین مات لوښی/ د خاورین لوښي ماته شوې برخه
کوډله: کوډۍ/ کوډل/ جونګړه/ / دځړه ناستي پاستي او لمر څخه د ځان ساتلو لپاره سایوان جوړول/ د پالېز او کروندې ځار نځای
کوډي: تاویزونه/ تعویزات
کوږ: یو ډول ځناور دی، چې خلک یې نیسي او جنګوي یې هم
کوسی: له وړیو یا کراستي څخه جوړېدونکی پوښ چې په ډېرو سړو (یخ) کې په کار ږي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کومکي: مرستیال/ اسسټنټ
کونۍ: د پښې لېنګي او ورون ته تړاو ورکوونکې لوتېدونکې برخه...
کوی: ری/ فکر/ اندېښنه
کَوی: د نوې په وزن، یو ډول ناروغي چي اوس نشته/ ننکۍ/ چیچک
کهانده: اندېښنه/ په کوم کار او کوم وګړي پسې اندېښمن کېدل
کهول: کورنۍ/ خاندان/ ټبر. د پېښور پښتانه یې کول وایي
کېڅۍ: کېسسه/ پټاکیدانه/ بټوه
ګالل: زغمل/ پر ځان وړل، لکه ستونزي او کړاوونه ګالل
ګاڼه: ګڼل/ ما داسي نه ګاڼۀ/ خو همدغه توری د ګېڼې یا زېور لپاره هم کارېږي، لکه ګاڼۀ (زېور) دي جوړ کړي، یا ګېڼه د زېور په مانا او په اصطلاح کي د کوم کتاب لپاره د چاپ په ګاڼه/ ګېڼه پسولل
ګاڼۍ: یوه مېچن یا مشین چي له موادو تېل باسي/ کوهلو/ رولر، خو ګانۍ یا ګاڼۍ ځیني پښتانه د سهار وختي په مانا هم کاروي.
ګاوټ: د نس باد اخستلو ناروغي
ګاونډ: همسایه/ څنګلوری
ګټه: فایده. ۲: ګټه: ډبره/ کاڼی
ګدۍ: د پیرانو د ناستي ځای/ تخت
ګډواکي: اشتراکیت/ سوشلزم
ګران: لوړ بیه/ قیمتي/ مشکل. ۲: محبوب/ زړه ته تېر څوک
ګرو: د پیسو په بدل کي څه شی یا مځکه چا ته په ګرَوي ورکول/ ایښوول، ماناګروي کول، چي د هغه شي په بیرته ورکولو پرانستل شي
ګروېږنه: ګربېږنه/ پلټنه/ څېړنه/ تحقیق. ګربېږني: تحقیقات
ګرد: ټول. د دې سیمي څه پښتانه یې "ر" په "ړ" اړوي او ګړد وایي
ګردنۍ: د خسر کره د زوم لومړی تګ/ پښه پرانستل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

گړه برې: جوړ په خیر / له ګړبدلو اخستل شوی او روغبړ ته ویل کېږي
ګنه ګونه: رش کش / پر یوه ځای د خلکو / موټرانو او نورو داسې شیانو زیاتوالی چې د خندې او ځنډ لامل وي
ګوابښ: اخطار / ډرکه / دهمکۍ / د دوو جګړه کوونکو کسانو / ډلو ځله ګوابښل او په ناوړه پایله یې پوهول / له ناوړه چارې او جګړې لرې کول
ګوټ: کونج / ګوښه / یو اړخ ته ویل کېږي
ګودړ: د زاړه توکر یوه توټه. جمع ګودړان / زاړه توکران
ګوښې: یوازې / تنها / بېل / ځانله / جلا
ګوند: ډله / پارټۍ. ګوندي: سیالي / تر یوه بل ځان د مخه کول
ګېښنل: ګېښل / کتل / را ګرځول / ګوابښل / توکل
لاروی: پر کومه لاره مزل کوونکی
لاس ارتی: سخي / لاس خلاصی
لاس غوندسکه: والي یال
لاسګری: ضمانت / باور ورکول
لاسلیک: امضا / دستخط
لاندیستونې: تر ځان د لاندې هوارولو توکر / کالی / فرش
لټ پر لټ: اړخ پر اړخ. لټ پر لټ اووښتل: اړخ پر اړخ اووښتل
لټون: تلاش / پلټنه
لج: کست / ضد / مخالفت / لانجه / شخړه / جېلسي
لردیدی: لرلیدی / لروین / دوربین
لړمون: دلبند / د انسان د ټول نس په مانا هم کارېږي، خو په ځانګړي ډول یې خلک د لوی نس لپاره کاروي
لغړ: بربنډ / لخ / لوڅ / غریب / بېوزله / نادار، خو لغړی په یوه پښتنه سیمه "چمن او شا او خوا" کې و ګرېزي کوونکي (سمګلر) ته هم وایي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لمانځنه: عبادت/ ستاینه

لمبه: د بل شوي اور لمبه/ په ګړنیزه توګه د جذبې په مانا کارېږي، زړه مي اور کوي/ زړه مي لمبه کوي/ یو ډول ناروغي هم ده

لمبور: ټنل/ باوړی (کوهي) ته په مځکه کي دننه د شوه کېدلو یا وَر کوزېدلو هواره لاره/ د کوم جګ او اوږده قد لرونکي سړي لپاره د هنک او پسخند یا سپکاوي په توګه هم کارېږي

لمر خاتهٔ: شرق/ ختیځ

لمسول: لمسون/ د بل په ضد پارول/ په کار اچول/ په شومه هیله تېرایستل. ۲: ترغیب/ رغبت. ۳: هڅول/ مایل کول

لمني او زیاتوني: شروح و حواشي

لنډهر: لنډغر/ غنډه/ لنډر/ بېکاره، په ټولنه کي د ځور او ستړیاوو لامل هغه کسان چې ځوک تړې د بنو هیله نه لري

لوته: لفافه/ پلاستیکي کڅونه

لوړه: سوګند/ قسم/ پخه اراده

لوړۀ: د بارانې اوبو ژوره لاره چې پانونه لري/ د منډونو/ نېزونو/ لګدونو اوبه چې کله د ګډ تګ لپاره یوې لویې لارې ته یو ځای شي: د اوبو هغه لویه لاره لوړۀ بلل کېږي/ لوی مانده

لووړی: مړ شوی رسېدلی بزرګ/ د تصوف او مذهبي برخې لرونکی

لوز/ لوزنامه: د لفظ مفغن/ ژمنه کول/ ژبه کول/ وعده کول

لومه: دام/ جغ

لویمړجن: متکبر/ مغروره

لوېدیځ: مغرب/ د لمر لوېدلو لوری

لویه ورځ: قیامت/ د حساب کتاب ورځ

لهېدلی: اموخته/ عادت شوی. لهېدل: اموخت نیول

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لهزمي: عجز/ خاکساري/ چاته شهوه راوړل/ ځان کمزوری ښوول
لهو: ګل/ لهو کول: ګل کول/ اخېرل
لهګۀ: په یوه ټاکلې اندازه پیسو یا برخه خپله مځکه و بزګر (کښَی) ته د کروندې لپاره ورکول
مالوچ: پمبه/ پومبه
متیزه: تښتول شوې ښځه/ له چا سره تللې ښځه
مختوری: بې آبه/ سپک شوی/ چا چې ناوړه کار تر سره کړی وي
مخور: مخکښ/ راهنما/ لارښود/ خوله ور
مرغړي: یو ډول ناروغي/ په غوښه کې دننه غروړي را پورته کېدل/ **خان شهید** ورته خنازیر مانا لیکلې ده
مَرکه: د دوو یا څو کسانو ډله/ چې د یوې ستونزې او شخړې د هوارولو لپاره سره کښېنې/ د دوو یا څو کسانو پر یوه سکالو (موضوع) خبرې/ وراشې تر سره کول/ د نجلۍ د هوکړې لپاره تګ او داسې نور
مرکباني: په مرکه تلونکي/ د مرکې غړي/ په وراشه (مباحثو) کې اویا هم د روغې جوړې په لاره کې تش په تګ برخه اخستونکي غړي
مریی: غلام. ۲: د بدن پر کومه برخه پوست باندې تور ټکي/ تِل ته هم څه برخه پښتانه مریی وایي.
مړانه: ننګ کول/ د ناوړه کار مخنیوی کول/ ټاکلی سړیتوب تر سره کول/ پښتونواله کول/ بلوغ
مړز: کرک/ بټهر
مړوښه: د مړه ښځه/ هغه ښځه چې مړه لري.
مړوښي: جنسي اړیکي/ سکس/
مړه خوړ: نری رنځ/ سلِ/ دق

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

منځه: د ګنده په وزن؛ د غرونو په لړۍ کې د دوو څوکو تر منځ هغه ځای چې لار وربانديې اوړي...

مَندکي: مندتي / زنې / تخم / د ژړدالو او نورو مېوو مندکي / هغه تخم چې په یو ډول پوښ پوښلی وي

موتي: پټ موک / پټ رشوت / پټي بډې

مورینه: مونډ / بنسټ / بنیاد / له موره څخه اخستل شوی

موک: بډې / رشوت

مونډ: بنیاد / بنسټ. مونډیځ: بنیادي

میانځ: ۱: انصاف / نیاو. میانځګري: نیاومنتیا / عدالت / دریمت / ثالثي. ۲: منځ / میان / مابین. میانځګري: عدالت / نیاو ځای

میانځي ښوونځی: مډل سکول

مېچ: کچه / ناپ. مېچل: ناپول / اټکلول / اندازه کول / په کچ او مېچ ځان ته څرګندول

مېچن: د غنمو وَړه کولو یا وَړولو تر ټولو لرغونی ماشین / په ژرنده کې هغه دوه کانې چې غنم یې تر منځ دل (انډل) کېږي / په اصطلاح یا ګرنیزه توګه انډې خبره مانا د خلکو د ذهنونو تر مېچن وتلې کره خبره

میراو: د کار ېز د اوبو وېشونکی

مېرلی: ټاکلی. د وخت مېرل: د وخت ټاکل

مېرۀ: دښت / بیابان / صحرا / پراخ او ویړ ډګار

ناپېښه: عجیبه / ناڅاپي / نادره / معجزه

ناټک: ډرامه بازي / د چا پېښې کول / د چا نقل کول

ناخواله: ناوړه / سپکه چاره / بېځایه کار

نارې: لاړې / په خوله کې جوړېدونکي اوبجن مواد

نالښت: دعوه / شکایت / مقدمه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ناګاره: نټه کوونکی / منکر / بېزاره / نه منونکی
ناوۀ: دره / د دوو غرونو په منځ کې اوږدول لرونکې دره چې اوبه یې په منځنۍ سیمه کې بهېږي. ۲: لوږه، چې بې خوړو ځوک پاتې شي او شپه تېره کړي، نوولیي: په ناوۀ مي شپه تېره کړه.
ناورین: ناوړه زیاتوب / ظلم / داسي زیاتوب چې د اوربدلو وړ نه وي / داسي ناپېښه چې د سهلو او زغملو نه وي
ناوېسیا: نه راغلی / غیر حاضر / ځان کښونکی / بې باوره
نتلی: مظلوم / بېچاره / له پامه وتلی
نربنځی: نېنځک / نانځکه / هغه ځوک چې نه نر وي او نه ښځه
نری رنځ: مړه خوږ / سلِ / دق
نغاندي: د پښو بغلونه / د لاس بغل ته تخرګ وای، جمع: تخرګونه
نغوته: اشاره / لمسون / پارونه
نګولي: کتغ / خواړه
ننګ: **خان شهید** ځای ځای د شرم په مانا اخستی دی
نوز: نېز / سیلاب
نومکی: تخلص
نه ګاندي: داسي نه وي / د کوم کار پایلي ته د زړه نازړه ځرګندونه
نهیر: تمیز / د ښو او بدو توپیر کول / په هوښ کې اوسېدا
نیکت: میراث / شجره نسب ته هم ویل شوي دي
نیوکه: اعتراض
نېکه: خون بهاء / د مړي په بدل کې څه اخستل
واټ: روډ / څرک / سړک
وانبکی: پړی / یو ډول پیاوړې رسۍ
وبا: وژونکې ناروغي / خورېدونکې ناروغي / وېرووونکې ناروغي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وچوبه: للمه/ خشکابه

ودانې: کور/ عمارت/ خونه/ کمره/ د ورانۍ ضد

وده: پرمختګ/ لویېدل

ور: دروازه

ورا: د واده راوړلو لپاره د تلونکو خلکو ډله/ د خلکو ګڼ شمېر

ورایه: څرګنده/ ښکاره/ واضح/ له ورایه ښکاري

ورځپانه: اخبار/ د هرې ورځې د خبرونو خورولو پاڼه/ خبر پاڼه

ورچین: بهرنې/ د باندینې. ورچینې خلک: بهرنې خلک

ورشو: څړځای/ د څاروو د څرېدلو یا خوړو موندلو سیمه او ځای

ورو-ورو: سوکه سوکه/ کرار کرار

ورون: د "و" په ساکن، پتون/ په پښه کې تر کونۍ لوړه برخه

ورېشبر: ورځنې پکار ېدونکې کورنۍ شیان/ سامان

وریت: پر اور پخ شوی/ پر اور پخول/ وریتول

وزګار: بې کاره/ فارغ/ کار نه لرونکی

وژغونې: د وزې (بزې) وېښتان

وړ: لایق/ وړتیا لرونکی

وړۍ: پشم/ پر مړیې پسونو او نورو څاروو باندې ولاړ وېښتان چې په سکول/ خریلو تر لاسه کېږي او په وودلو تړې وړین توکي جوړېږي.

وشتې: توکې ټکالي/ ګپ شپ/ ګپې/ د خندا خبرې/ مسخرې

ولات: ولایت/ صوبه/ وطن

ونه: درخته/ دلته د شنو دونې لپاره کارېږي. شنې یو ډول مېوه ده، چې په غرونو کې یې ونې ولاړې او وَنو ته یې خنجک هم ویل کېږي.

ونکۍ: کلاس/ درجه/ ګرېډ

وودل: اوبدل/ واودل

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ووړی: دوبی / د ګرمۍ موسم. اهار: سخته ګرمي / تودښت
وهلې مځکه: یوې شوې مځکه / د کروندې اړول شوې مځکه / سادین
ویان ـ ویاند: ویناکوونکی / مقرر
ویر: ارت / پراخ
ویسیا: باور / اعتبار / حاضر... ناویسیا: غیرحاضر / بې باوره
وړیا ـ وړیا: ارزانه / لږ بیه لرونکی، خو له پښتو لیک لوست سره اړه لرونکي څه کسان یې اوس د مفت په مانا هم کاروي
هار: تقوی / لېریوالی ساتل / ځانساتل / پرهېز
هرکلی: ښه راغلی / استقبال / د مېلمه په راتګ ورین تندی ساتل
هرومرو: ارومرو / خامخا / خواه مخواه / ضرور
هښمه: یو ډول څرنګوالی / کیفیت / له ځانه ورکېدل
هک پک: هېښ / حیران / ګوته په غاښ پاتېدل
هله: د ګړندیتوب او تلوار لپاره پر چارغ کول / یو ډول کیفیت
هله ګوله: شر و شور / غوبل / کړکېچن چاپېریال / ګنه ګونه جوړېدل
چې د ښه او بد توپیر پکښې نه کېږي
هنک: پسخند / پوزخند / ټوکه / مذاق
هوډ ـ هوډه: پخه اراده / د زړه خبره تر سره کول / پر خپله خبره درېدل
هَول: ډېره / وهم
هولکه: سیمه / علاقه / ولکه
هېنډه / یېنډه: یو ډول لوبه ده / کبډي
هېواد: وطن / ملک / مملکت
یاغي: باغي / فراري / (Seldition)
یرغل: برید / حمله
یو مخیز: همه ګیر / له یوه مخه / ټول

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یون: تګ/ سفر/ مزل
یَوې: د کروندې لپاره د مځکې سمون/ په غوایه، اوښ یا ټریکټر د مځکې اړول
ییر: د ژمي ازوغه/ د ژمي بندوبست. ۲: یو ډول لوبه هم ده، چې په بډیو، بجلو باندې کېږي.

پامونړ ده، چې د **خان شهید** په ژوند لیک "زما ژوند او ژوندون" کې زما په خیال دا هغه توري (الفاظ) دي، چې څه برخه پښتانه به نه پرې پوهېږي او یا به لږ او ډېر ورته درېږي، کېدای شي، څه شمېر توري یې له ما څخه پاته شوي هم وي او یا ما ته اسانه ایسېدلي وي...
په دې راوړل شوو تورو کې یو شمېر داسې توري دي، چې زما په خیال د پښتو نور ګردودونه (لهجې) به یې نه لري او یا به یې په خپل ګردود کې کوم بل بدیل لري او یا به هم د نورو ژبو تر اغېز لاندې د هغوی توري کاروي؛ بلکې په دې راوړل شوو تورو کې هم داسې توري شته، چې کارول شوي ګردود د نورو ژبو تر اغېز په لاندې راتللو سره خپل کړي او دلته هم کارول شوي دي، خو یو شمېر داسې توري دي، چې سوچه د پښتو توري خو پرېښوول شوي دي، بل دا چې **خان شهید** د خپل ګردود او پښتو سوچه تورو کارول په شعوري توګه ځکه تر سره کړي دي، چې نومورې نظر درلود، چې په سیاسي واک تر لاسه کولو سره به پښتانه ژبپوهان/ ا: ژبان سره یو ځای کېږي او د پښتو د ټولو ګردودونو په راټولولو او څېړلو سره به د لیکدود لپاره یوه کره او پخه علمي لاره خوښوي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په دې کتاب کې د خان شهید
د لاهور د عدالت بیان راوړلو په اړه سپیناوی

پر **خان شهید** (عبدالصمد خان) باندې تر سره شوې څېړنیزه هڅه که څه هم مادیو شمېر سرچینو په کتنه/ مطالعه او له هغوی څخه په لاسوندونو/ حوالو اخستلو تر سره کړې ده، خو د لیکنو بنسټیز ماخذ یا سرچینه د **خان شهید** ژوند لیک "زما ژوند او ژوندون" دی، چې د لیکنو ډېره درنه برخه د همدې سرچینې په باور او رونا کې تر سره شوې او د لوستونکو په مخ کې وړاندې شوې ده.

څرګنده دي وي، چې د **خان شهید** ژوند او د هغه کردار دومره ویړ او پراخ دی، چې ربنتیا هم پوره څېړنه یې په ببلا ببلو لیکنو کې د یوه کتاب په بڼه نه شي وړاندې کېدلای، خو ما بیا هم هڅه کړې ده، چې په پورتنیو لیکنو کې یې د ژوند او کردار په اړه دومره څېړنه وړاندې کړای شم، چې لږ تر لږه یې لوستونکی په هر اړخ باندې څه ناڅه خبرتیا تر لاسه کړي او د بشپړې خبرتیا او پوهاوي لپاره د **خان شهید** پر ژوند لیک سربېره د نورو سرچینو لوست ته هم زړه ښه کړي.

هېره دي نه وي، چې د لاهور په عدالت کې د **خان شهید** د بیان په لوست مو ته ښه وایسېدله، چې دغه بیان دلته په ژباړلو له دې څېړنیزې هڅې سره ځکه مل او چاپ کړم، چې د **خان شهید** د ژوند او سیاسي مبارزې په اړه ډېر په زړه پورې لنډون/ خلاصه لري او په لوست یې لوستونکي کولای شي، چې د نوموړي د سیاسي مبارزې په اړه پر خبرتیا سربېره د پورتنیو وړاندې کړل شوو لیکنو پخلی او باور هم څنې تر لاسه کړي، مانه شوای کولای، چې په دومره لنډه توګه او اختصار یې ژوند او کردار وړاندې کړای شم... آزاد

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خان شهید (عبدالصمد خان) محاکمه

او د لاهور عدالت ته د هغه بیان

د **باچا خان** (عبدالغفار خان) او **خان شهید** (عبدالصمد خان) د نیولو تر منځ دوې ورځې وې، **خان شهید** تر **باچا خان** دوې ورځې مخکې و نیول شو. خو د محاکمې په چارو کښې یې بیا د **باچا خان** وار تر **خان شهید** لومړی کړ...

د پاکستان د واکمنو له خوا د هغوی پر هره چاره باندې د تور / الزام لګولو خوی خپل کړل شوی وو او هره چاره یې د دوی د ځور او کړاو لپاره یوه پلمه او بهانه ګرځوله، ځومره ورځې شپې چې د **خان شهید** په عدالتونو کښې تېرې شوې، نو هغه ټولې تش د پریکړې / فیصلې د تاریخ او اوربدنې / سماعت د ځنډولو په کار کښې تېرې شوې.

په عدالت کښې د **خان شهید** د مقدمې چلولو لپاره د بنو د سیمې ټولو قانونپوهانو بنه په نره او لوی زړه ځیګر و تکاوه، خو ولې د نوموړې په مقدمه کښې د دلیل اوربدلو لپاره په غوږونو کښې پمبه اینښوول شوې وو، چې د وکیل لپاره زړه ماتوونکې چاره وه او دا هم وه، چې څوک یې دلیل ویلو ته هم نه پرېښودل، نو بیا به څه کېدل...؟

د مقدمې او محاکمې پر مهال **خان شهید** د خپل تاریخي چاپېریال په اړه یو اوږد بیان د لاهور هایي کورټ جج ته وړاندې کړ، چې موږ یې دلته د لوستونکو په مخکې وړاندې کوو، د بیان په اړه پوهاند لیکي:

"په لاهور کښې د جسټس شبیر احمد عثماني په عدالت کښې د **خان شهید** په ضد د ۱۵۳/۱۲۴/۱۲۳ د آئیني مادو په رونا کښې مقدمات روان وو، دغه بیان **خان شهید** د ۱۹۵۶ز د اکتوبر پر ۲۶ مه نېټه عدالت ته په لیکلي ډول وړاندې کړ." (۱)

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په عدالت کې د خان شهید (عبدالصمد خان اچکزي) بیان:

سَاغلي جج! دا به ښه وي، چې د پاکستان په دې لوړ عدالت کښې زما وینا د قرآن پاک په دې آیت باندې پیل شي، چې د مسلمانانو قومي او انفرادي ژوندنۍ اړیکي یې اداره کړي دي، دا سپېڅلی آیت پر حاکم او محکوم/ ماتحت او حکم چلوونکي باندې یو شان او په یوه ډول چلېږي. د اسلام د یوه وړوکي پیروکار په ارزښت ما تل دا هڅه کړې ده، چې زه د قرآن پاک دا آیت شریف د خپلې لارې مشال (څراغ) کړم او زما باور دی، که چېرې ټول انسانان یا ټول عالمِ بشریت د بنیادي اصولو په توګه دا آیت و منې، نو د ژوندانه ټول کړکېچونه او کشالې به هواري کړل شي او د ستونزو غوټې به پرانستل شي، هغه آیت دا دی:

وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ...

ژباړه: "د نېکۍ او ښېګړو په چارو کې له یو بل سره کومک کوی او مه کوئ مرسته او کومک د زور او استبداد په کارونو کښې."

اجازه غواړم، چې زه د پاکستان جوړېدو نه مخکې او تر هغه وروسته خپلې تجربې ستاسو په مخ کښې وړاندې کړم. زه فکر کوم چې د دغو تجربو که څه هم له دې محاکمې سره مخامخ کومه اړه نشته، ولې بالواسطه ورسره هرومرو څه اړه لري.

د خلافت غورځنګ (تحریک) زه په ۱۹۰۷ز کال د مسلمانانو د ډېرښت لرونکي ولایت (صوبې) بلوچستان په یوه مذهبي او علمي کورنۍ کې زېږېدلی یم، یوازې دا نه چې زما روزنه په یوه مذهبي ماحول کې تر سره شوه؛ بلکې پر مذهبي لارو چارو باندې ماته تعلیم هم راکړل شو. تر اتو کلونو پورې په کور کې ما له خپل پلار او خصوصي ښوونکو څخه پر فارسي، پښتو او عربي ژبو سربېره د فقهي شریفي، حدیث، تفسیر او نورو اسلامي مضامینو زدکړه کوله او تر دغه وروسته د رسمي تعلیم

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د پاره زه سرکاري مکتب ته واستول شوم او دا قدرتي خبره وه. چې زه له خلافت تحریک څخه دومره متاثره شوم، چې د تعلیم په لومړیو پړاوونو کې مادانګړېزد ملازمت نه کولو فیصله کړې وه.

کنې نو په دغو وختونو کې د تعلیم مرام/ مقصد یوازې او یوازې د سرکار نوکري کول وو، زه د لوی رب شکر ادا کوم، چې وروسته هم پر ډېرو شومو هیلو او ترغیب سربېره د برتانوي حکومت تر ختمېدلو پورې ما خپل بول/ قول او ژمنه په بنه توګه و پاللای شوه.

بلوچستان: هر کله چې موږ د بلوچستان نوم اخلو، نو د "سابق" کلیمه که یې ملګرې وي او که نه؛ خو ډېر کم خلک به وي، چې د ننني بلوچستان صحیح نقشه یې ذهن ته راشي، دا خو یې لا پرېږده، چې سړی به د پخوانې بلوچستان نقشه هم په خپل ذهن کې راوړي.

بلوچستان د بلوڅو د مځکې په نوم باندې یادېږي، لېکن د بلوڅې ریاستونو نه پرته د بلوچستان د نورو ابادیو لوی شمېر پښتانه دي، چې د دغو سیمو د اوسېدونکو پښتو ژبه، ثقافت او نسل د صوبه سرحد (اوس خیبر پښتونخوا) د پښتنو سره ورته/ مماثل او ګډ دی.

د بلوچستان د پښتون ابادۍ برخې "چې د چیف کمشنر ولایت ورته وایي" د صوبه سرحد سره لګېدلي دي او د دې سیمې ټوله ابادي د پاکستان تر اکثرو نښارونو لږ یعني ټول ټال پنځو لکو ته رسېږي، خو د مځکې د پراختیا/ ډېروالي په توګه دا د ډېرو ولایاتو (صوبو) څخه لویه سیمه ده او هم دا سبب دی، چې د دې سیمې ابادي پر ویره/ پراخه مځکه باندې تر ټولو لږ نفوس پرته ده. په قانوني توګه د دې له شلو تحصیلونو نه صرف درې تحصیلونه د برتانوي هند په حکومت کې شامل وو او نورې قبایلي سیمې "چې اوس ورته خاص سیمې ویل کېږي"

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هم دا لامل دی. چې انتظامیه دلته تر قانون زیاته مطلق العنانه وه او د برتانوي دور غوندي اوس هم پر دې سیمو باندې د سرحدي جرمونو قانون، جرګو، سردارانو او تعلقدارانو لاس بر دی، هایې کورټ نه بلکې تر سپریم کورټه پورې پر دغو سیمو باندې اختیار نه لري. که څه هم دا برخې یو وخت د پخواني هندوستان سره وې او اوس د پاکستان په لاس کې دي، نه هغه وخت او نه اوس حکومت "که ولایتي دی او که مرکزي" د دې برخو د امن او امان او بودیجې سره کومه اړه لرلې ده، البته د متحده هند په وخت کښې د دې علاقو انتظام او معاملات د ګورنر جنرال سره وو او اوس د مملکت د صدر په اختیار کښې دي، په مخنیو وختونو کښې له هندوستانه راتلونکي دې ولایت ته په اسانۍ سره نه شوای راتللای، دې ولایت ته د راتلونکو نه یوازې درک لیکل کېدی؛ بلکې د راتلو وجه یې هم لیکل کېدله، د استوګنې موده او د اوسېدلو ځای پوره پوره معلومات به یې هم لیکل کېدل، چې وروسته به یې بیا پوره پوره څارنه او پلټنه هم کېدله او د هر کسان به پر مازې خبرو باندې په یوه او بله پلمه بیرته لېږل کېدل.

هیڅ یو داسې سړي ته "چې خامتا به یې اغوستې وه" بلوچستان ته د تګ اجازت نه وو او نه چا خامتا یا د کوم سیاسي تحریک نخښه ننباله اغوستلای او یا هم ګرځولای شوه، د هر وخت به درانه او بناغلي مسافر د ریل ګاډي له سټېشن څخه یوازې په دې بیرته واستول شول، چې خامتا به یې اغوستې وه. بلوچستان ته د **باچا خان** پر راتګ بندیز وو او د هغوی بندي کېدل خو د پرون ورځې خبره ده.

په دغو وختونو کښې نه کومې مطبعې وې او نه کوم اخبارونه وو او پریس ایکټ (قانون مطبوعات) په ۱۹۳۶ز په بلوچستان کښې پلي یا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نافذ شو. بلوچستان د هېواد تر نورو برخو شاته پاته دی، خو د نن بلوچستان له پخواني بلوچستان سره هیڅ سمون نه خوري.

لومړی څل بند: له پورتنیو خبرو څخه به تاسو اندازه لګولای شی، چې هغه څه رنګه بلوچستان وو، نو ماد هم هغه رنګه بلوچستان لپاره د یو څو ملګرو په ملتیا خدمت ته ملا تړلې وه. مور غوښتل؛ یوه داسې ډله جوړه کړو، چې مذهبي او مجلسي ډول ولري، چې په حقیقت کې د یوې داسې ډلې ارتیا هم وه او کله چې زما مشر ورور (چې یو غیر سیاسي خو ښه چاری سړی دی) زمور یو بل خپل محمد ایوب خان او زه مخکې تر دې چې دغه ډله جوړه کړو؛ ونیول شو. نو دغه کار زه له هیڅ ډول اندېښنې او حیرانتیا سره مخامخ نه کړم. خو په دې باندې نه پوهېدو، چې اوس به نو زمور په ضد د څه ډول الزامونه لګېږي؟

خو بهانې پیدا کولو دومره ډېر وخت وانخیست او زمور تر نیولو څو ورځې وروسته زمور د قبیلې ځینو کسانو د کوټې او چمن تر منځ له څرک څخه دوه سړي او یوه ښځه (برتانویان) "وتښتول. دا یوازې انتقامي کارواېي وه، چې د خپلو بې ګناه خانانو د نیولو په ضد یې کړې وه او اعلان یې وکړ، چې مور به دا برتانوي کسان هغه وخت پرېږدو. چې زمور خانان پرېښودل شي.

همدا خبره وه، چې حکومت مور ته سمدلاسه پر دې جرم سزا راکړه، چې ګوندې د دې ډول کارواېي منصوبه مور جوړه کړې وه، سره له دې چې حکومت په دې هم پوهېدی، چې دا الزام پر مور باندې سل په سله بېځایه دی، په دې لړ کې چې زمور پر کورنۍ باندې د جرمانو او وهلو، ټکولو کوم تکلیفونه او سختۍ تېرې شوې او د تشدد او ځوابې تشدد په ښه کومې ستونزې و سهل شوې، له هغوی څخه زه په دې نتیجه ورسېدم، چې د سیاست په ډګر کې په اراده او غیر ارادي توګه د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تشدد لاره قطعاً بیکاره ده، همدا وو، چې ما له خان سره پرېکړه وکړه، چې زه به تل د تشدد او د تشدد له ملاتړ څخه خان ژغورم، چې بیا تر نن ورځې پورې د دې هوډ او ارادې د پاللو ړه پوره هڅه کوم، د ژوند په لار کې چې د تګ کومه طریقه ما خپله کړې ده، هغه زما د کم عمر د تجربو او داخلي رونا نتیجه ده او په دې کښې د کوم بهروني عنصر، فرد یا تنظیم هیڅ لاس نه وو او نه ما تر دغه وخته پورې د کوم باندینې عنصر سره تماس پیدا کړی وو، که د مطبوعاتو د عدم موجودګۍ په سبب زموږ د نیولو/ سزا موندلو او د هغې په شالید باندې د بهر خلک هیڅ هم خبر نه وو او پخپله په بلوچستان کښې دننه هم د بهر خلک زموږ له دې واقعاتو نه هیڅ نه وو خبر... کېده/ کېده، چې د (ګاندي اېرون) تر لوزنامې وروسته یو پنجابي تاجر په داسې صورت کې چې په سینه کښې یې د زمري زړه کښېښوو او پر ټولو اند ښښنو/ خطرونو یې سترګې پټې کړې او پټ په پټه یې د لاهور د زمیندار اخبار مدیر ته زموږ په اړه معلومات و رسول او همدا وه، چې حکومت پخپل خلاف و نوري پروپېګنډې ته د هوا نه ورکولو له کبله تر ټاکلي وخت مخکې موږ له جېل څخه را پرېښوولو.

د هندوستان د مشرانو سره لیدل کتل:

د ۱۹۳۱ز کال د جولایي میاشتې په وروستۍ اوونۍ کې یو څو ملګرو زه بمبۍ ته و لېږلم، چې هلته په وروستۍ ګول مېز کانفرنس کې د شاملېدونکو هندوستانیو غړو سره وویینم او هغوی د بلوچستان په حالاتو باندې خبر کړم، ښاغلی ګاندي د کانګریس استازی ټاکل شوی وو، خو هغه لا تر اوسه پورې د تګ پرېکړه نه وه کړې، ځکه ما بمبۍ ته د تګ په لاره کې له نوموړي سره په احمد اباد کښې و لیدل. نوموړی په دغه وختونو کې په احمد اباد کې اوسېدی، له ما سره د نوموړي

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

رویه تر ډېره حده پوري همدردانه وه، ما ته یې وویل، چې ته له ما سره بمبۍ ته ولاړ شه او هیله یې څرګنده کړه له، چې هلته به له ما سره په او سېدلو د ګول مېز کانفرنس له غړو سره "ګوم چې به یقیناً مهاتما ګاندي له راځي" په اسانۍ سره وویني، همدا وو، چې زه تر پنځلسو ورځو پوري هلته و اوسېدم او په دغه وخت کې مې له ډېرو هندوستانیو مشرانو سره و لیدل او کوم کسان چې د ګاندي جي سره د کتلو د پاره را نغلل؛ له هغوی سره ما په ځانې توګه اړیکې و نیولې او په دغسې کسانو کې اروانښاد محمد علي جناح په ځانګړي ډول د یادونې وړ دی. په دغه وخت کې چې ما د کومو کسانو سره اړیکې نیولې وې؛ په راتلونکو وختونو کښې دغه اړیکې د پخې او کلکې ملګرتیا او ژورو اړیکو په بڼه واوښتې، چې له هغوی څخه نن هم د **باچا خان** سره زما کلک او ژور تړون دی، ما له **باچا خان** سره هم د اول ځل لپاره په بمبۍ کښې لیدلي وو او هم هلته ما د خامتا اغوستلو هوډ او ژمنه وکړه او خامتا مې ډېره خوښه شوه، ځکه چې خامتا د برتانوي راج/ واک په ضد د جنګېدونکو ممیزه/ نخښه وه.

مسلم پریس او بلوچستان: په ۳۲/ ۱۹۳۱ز کلونو کې د بلوچستان ځینو قوم پرستو ځوانانو د میر یوسف علي مګسي په ذریعه د نورو ولایتونو په مطبوعاتو کې خپلې لیکنې/ مضامین خپرول او په دې ډول یې بلوچستان نوري دنیا ته ور و پېژاندی، نوابزاده میر یوسف علي مګسي د لاهور په مساوات اخبار کې د بلوچستان پر موضوع یوې لیکنه خپره کړه، چې د هغې لیکنې په تور/ الزام د قلات جرګې و نوابزاده ته د اتلسو میاشتو پر قید سربېره د لسو زرو روپیو د جرمانې ادا کولو سزا هم ورکړه. په دې هڅو کې د پنجاب مسلم پریس او مسلمانانو صحافیانو له موږ سره ډېر ښه کومک وکړ، د زمیندار اخبار او د دې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اخبار مالک مولانا ظفر علي خان، د انقلاب اخبار او د هغه مالک مولانا عبدالمجید سالک او بناغلي مولانا غلام رسول مهر د دې مرستو په لړ کي ډېر په مخ مخ کي وو.

په سیند کښي د بلوچستان غورځنګ (تحریک)

په بلوچستان کي حکومت په هیڅ ډول هم کوم سیاسي حزب (ډله/ ګوند) ساه اخستلو ته نه پرېښودی او زما تګ/ راتګ او ناسته ولاړه به په ژوره توګه څارل کېده، تر دې پورې چې چیرته به زه تللم او د چاکره به مېلمه کېدلم، نو د شپې به پولیس زما هغه دوست "چې زه به هلته مېلمه وم" له خوبه پورته کاوه او زما په اړه به یې پوښتنې څنې کولې او سبا له به یې دغه کور به ځایي تانې ته غوښت او له هغه څخه به یې ډول ډول پوښتنې کولې او هغه کور به به یې په وار وار ځوراوه، چې دغه تګلاره اوس هم پالل کېږي، خو اوس د پخوا غوندې په ډېره سختي باندې نه پالل کېږي...

په داسي چاپېریال کي د بلوچستان قوم پرستو ځوانانو له بلوچستان څخه د باندې د یوه تحریک چلولو پرېکړه وکړه، دا قوم پرست کسان د خپرونو/ مطبوعاتو له لارې د یو بل سره آشنا شوي وو.

په موږ کښي ځینې داسي هم وو، چې د کانګریس د مشرانو سره یې ژوري دوستانه اړیکي هم وې او په ځانګړي ډول ما د **باچا خان**، مولانا ظفر علي خان او نورو مخورو سره ډېرې نږدې اړیکي لرلې، که څه هم زموږ مرام/ مقاصد سره ګډ وو، خو پر دې سربېره موږ پوهېدلو، چې له کومو حالاتو سره "چې نن بلوچستان مخامخ دی" د هغو له کبله به د بلوچستان اولس و نکړای شي، چې د یوه انتها پسند او منظم حزب سره د ملګرتیا په بنه خپلې چارې تر سره کړي، نو هم دا وه، چې د دغو منظمو تحریکونو سره د یو ځای کېدلو پر ځای موږ د ۱۹۳۲ کال د

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دسامبر په میاشت کښې د بلوچستان د اوسېدونکو بلوڅو او نورو بلوڅو یو کانفرنس د سیند په جېکب اباد کې را وغوښت، چې د دغه کانفرنس مشري/ صدارت ما وکړه او د دیوه نوي تحریک بنیاد مې کښېښوو، چې د دې تحریک مرامونه/ مقاصد په بلوچستان کې د نوو سمونچارو/ اصلاحاتو راوستل او د نورو سیمو د بلوڅو تنظیم وو.

د ټول هند مسلم کانفرنس: په ۱۹۳۳ز کال ما د بهار د مولانا محمد شفیع داودي او د مدراس د سید مرتضی بهادر په وینا او بلنه په آل انډیا مسلم کانفرنس کې ګډون وکړ او د دې ګوند د کارنده جرګې غړی و ټاکل شوم، دغه کانفرنس به د علامه اقبال تر ریاست لاندې کار کاوه او ډېر هغه مسلمانان مشران "چا چې وروستو مسلم لیګ جوړ کړ" د دغه کانفرنس غړي وو، په پنجاب کښې د پرنګیانو پر خطاب یافته کسانو سربېره ښاغلی مولانا غلام رسول مهر د میانځنۍ طبقې د پوهانو د استازي په توګه په کانفرنس کې شامل وو او د ځلمو د هغې ډلې په ملګرتیا یې کار کاوه، چې انتها خوښوونکي یادېدل.

تومتونه لګول: د ۱۹۳۳ز کال په دسامبر کې د بلوچستان کانفرنس دویمه کالنۍ غونډه د سیند ولایت په حیدرا باد کې جوړه شوه، د سیند بلوڅو په دې کانفرنس کې په ډېره ګرمجوشي سره برخه واخسته، میر بندې علي خان د سیند پخواني صدر اعظم د دغه غونډې مشري وکړه، په دغه غونډه کې دا و منل شول، چې د بلوچستان کانفرنس دې د آل انډیا مسلم کانفرنس سره شامل شي او په ټولو سیمو کې دې د دې کانفرنس څانګې پرانستل شي، زه په دې ځای کې داسې معلومات ځکه وړاندې کوم، چې له هغې پروپېګنډې څخه پرده پورته کړم. کومه چې په وروستیو کلونو کې مسلم لیګي مشر د ښځایه شهرت تر لاسه کولو لپاره زما په ضد کړې ده او په ځانګړي ډول د پاکستان تر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جوړبدلو وروسته یې نور زور هم ور کړی وو، چې ګوا عبدالصمد هندو دی، د هندوانو ایجنټ دی او غدار دی، دا خلک چې د پاکستان د آزادۍ په مهوه خوړلو خو پوهېږي، ولې په ستونزو یې هیڅ خبر هم نه دي. د کوم سیاستمدار د چا چې د سیاستمداری ټول دارومدار پر نورو باندې تور لګول/ الزام لګول او پر ډول ډول تومتونو اړولو لري، نن هم پر ما باندې د دې ډول الزامونه لګوي، دا خلک خو کله ما ته د افغانستان ایجنټ وایي او کله بیا د هندوستان، دا یوازې د دې لپاره چې زه هندوستان او افغانستان ته د بدو نتایجو راوړونکي تحریک یعني بنکنځلو/ کنځلو او سپکو سپورو ویلو نه ځان ژغورلی ساتم، د مسلم لیګ د دې تومتونو او بېځایه الزامونو نتیجه دا ده، چې زه یوازې یو کال او اته میاشتې د پاکستان د جوړېدو په نهه کلن ژوند کې له زندان څخه د باندې پاته شوی یم او دغه نجات هم ما ته په څلورو پړاوونو/ قسطونو کې په نصیب شوی دی، چې په دې کې تر ټولو لوی پړاو د شپږو میاشتو وو، چې د دې زور زیاتوب د جواز جوتولو/ ثابتولو لپاره زه د هیڅ یو عدالت په وړاندې نه یم درول شوی او نه زما د پرله پسې غوښتنو په غبرګون زما د جرم ډول و ماته بنسوول شوی دی. دوه واره ما لوړ عدالت ته مخ واړاوه او یو ځل زه هغه وخت پرېښودل شوم، چې زما درخواست د عدالت په مخکې د اوړېدلو/ سماعت لپاره پروت وو او دویم وار زه عدالت خوشې کړم، له دې رویداد څخه د دې سپیناوی/ وضاحت کېږي، چې کوم وخت په لومړي پړاو کې ما او زما ملګرو د خپلو ستونزو بوج پورته کړی او د ځان د پاره مود هڅو لاره و تاکله، نو د اړتیا په صورت کې ټولنیز میلان او لومړیتوب دا وو، چې د کوم یوه کل هند تحریک سره د شمولیت په لړ کې دي د هېواد د کوم یوه مسلم تحریک سره ملتیا او ملګرتیا وشي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د حیدرآباد کانفرنس نه وروسته په دې خبره باندې د بلوچستان حکومت تر ډېره حده پرېشانه شو، چې د یوه کل هند تنظیم په توګه د بلوچستان کانفرنس څانګه په بلوچستان کې پرانستېدونکې ده، چې له همدې کبله یوازې دا نه چې بلوچستان ته د راستنېدلو پر وخت زه ونیول شوم؛ بلکې د ټولو کارکنانو په ضد د کاروایي پرېکړه وشوه او نوابزاده میر یوسف علي خان مګسي د خپلې قبیلې له سرداري څخه لېرې کړل شو، ځینې کارکنان ونیول شول او ځینې نور کارکنان د دې د پاره چې کار جاري وساتي، له بلوچستان څخه ولاړل، پر ما باندې د سرحدي قوانینو د جرایمو تر څلوېښتمه ماده لاندې د حیدرآباد او کراچي د تقریرونو په لړ کې مقدمه وچلول شوه او د سماعت په دوران کې د پلټونکي آئی آئ سي په سفارش باندې د الزامونو په لړ لیک/ فهرست کې ۱۲۴ ماده هم شامله کړل شوه او ضلع مجسټریټ د جرګې په سفارش باندې وماته د درې کالو قید سزا راکړه او دا د هغه انصاف نمونه ده، چې نن هم د بلوچستان خلک ورسره مخامخ دي، په داسې وخت کې چې زمونږ په ولایت کې "چې د خالص مسلم اکثریت ولایت دی" د یوه خالص اسلامي تحریک په ضد انګرېزي چارواکي/ حکام لاس په کار وو او په ځانګړې ډول په داسې وخت کې چې د تحریک الحاق د آل انډیا مسلم کانفرنس سره کېدونکی وو.

د هندوستان د مسلمانانو مخورو او د مسلم کانفرنس د غړو/ اعضاوو څخه د کومک هیله/ توقع طبعي چاره وه، خو زمونږ په خطاب یافته رهنمایانو کې یوه هم هغه تش د همدردۍ اظهار هم ونکړو، پاته لا کلک ګام اخستل، که څه هم زمونږ له ملګرو څخه نژدې هر یو دوی ته ورغلی او د دوی دروازې یې وتکولې، خو پر دې سربېره دوی له موږ سره هیڅ کومک ونکړ، نو همدا وه، چې له دوی څخه زمونږ ټولې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هیلي او امبدونه وشلېدل، خو پر دې سربېره هم پر ځای د دې چې د بل کوم حزب تر لمن لاندې شو؛ پر خپلو موټو او قربانیو مو باور وکړ.
موږ لا په جبلونو کې وو، چې د ۱۹۳۵ز کال زلزله وشوه او د بلوچستان مرکزي ښار کوټه "چې د قدرت او حکومت له لاسه دغه وخت له کومو بربادیو او تباهیو سره مخامخ شو" هغه کومه پټه پناه خبره نه ده.
د زلزلې په دویمه ورځ ماد امدادي کارونو او مرستو وړاندیز وکړ، خو بیا هم حکومت زه تر وړاندیز څوارلس میاشتې وروسته پرېښودلم، هغه هم په دې چې ماد پښتني رواج په رونا کې د روژې نیولو اراده کړې وه (د روژې نیولو طریقه نن هم په پښتنو کې رواج لري) چېرې چې د امن او امان راوستلو او پر ځای ساتلو په لړ کې د سرکار تر برم او وېره زیات د ټاکلو مخورو کسانو په موټ د ټولنیز سرپېتوب دودیزې چارې ګټمنې او ښې پایلې (نتیجې) لرونکې وې.

پریس ایکټ: (د مطبوعاتو قانون)

دا زموږ د اوو کلونو د هڅو پایله وه، چې حکومت په ۱۹۳۶ز کې د هند د مطبوعاتو قانون په بلوچستان کې هم پلي/ نافذ کړ او ما له خپل خلاصون سره سم یوه چاپه خانه او د استقلال اخبار جاري کړ، دا اخبار په ۱۹۵۰ز کال کې مسلم لیګي حکومت داسې بند کړ، چې د دې اخبار ایډیټر یې د سرحدي قوانینو تر څلوېښتمه ماده لاندې و نیوی او د دغه اخبار د ډیکلرېشن د دوباره داخلې اجازه یې ورنکړله.
په ۱۹۳۸ز کال کې د انجمن وطن په نوم لومړنی سیاسي تنظیم جوړ کړل شو، د دې ډلې د جوړېدلو مرامونه/ مقاصد په بلوچستان کې د آئیني سمونچارو/ اصلاحاتو پلي کول/نفوذ، عدم تشدد او آئیني لارې چارې د دغه ګوند تګلار او زه (عبدالصمد) یې مشر و تاکل شوم.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مسلم لیګ: تر دغه وخته پوري خو موږ له برتانوي حکومت سره مخامخ/ پنجه په پنجه وو، د دې لپاره چې د قومي رغښت لاري هواري کړو، خو کوم وخت چې سم د کار وخت را و رسېدی، نو زموږ مقابله له ریاستي حکمرانانو، جاګیردارانو، جرګه غړو، نوابانو او د داسي نورو کسانو سره شوه، چې په بلوچستان کې يې هر څه درلودل، دا خلک د حکومت د زور زياتوب/ مستبدانه اقداماتو په لړ کښې يوازې د ګوندونو په بنه استعمالېدل؛ بلکې دا خلک د خالص برتانوي حکومت د پياوړ تيا لپاره د افيسرانو په وينا باندې د نهايتو ذليلو کارونو د پاره هم تيار او آماده وو.

د حکومت د خطاب موندلو په وجه دې خلکو د آفيسرانو په اشارو ډول ډول غم/ محصولات عايد کړي وو او د عوامو په ضد يې د تشدد قوت په کار اچاوه، چې د دې ټولو خبرو نظرانداز کول د يو قامي تحريک لپاره ناشونی/ ناممکن کار وو، نو همدا وه، چې موږ له دغو سردارانو څخه د ځينو سردارانو سره جګړې کولو ته اړ او مجبور شو.

د دې ډول هڅو په لړ کې کانګريس د خپلې کارينده جرګې د يوه غړي "د سيند د جي رام داس دولت رام" له لاري زموږ مرسته وکړه او دا مرسته يې د دې لپاره وکړه، چې د سردارانو له زور زياتوب څخه ځپل شوې يوه ټولنې خلک په سيند کې اوسېدل.

موږ و ليدل، چې د بلوچستان برتانوي آفيسرانو او د هغوی تر لاس لاندې مسلمانانو چارواکو و سردارانو ته دا لار ښوونه کوله، چې په مسلم ليګ کې ګډون وکړي، نو همدا وو، چې مسلم ليګ د هز هاى نس خان آف قلات او نورو سردارانو تر اعلى سرپرستۍ لاندې جوړ شو، چې له همدې کبله تر ډېره وخته پورې دا ډله د سردار ليګ په نوم يادېدله او دا نوم ورسره بلکل وړ هم وو، د خان قلات د مالي مرستو په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

برکت مسلم پریس او د هیند د مسلمانانو د لیډرانو یوه طبقه زمونږ مخالفت ته و درېدله، دغو خلکو د زور زیاتوب او مطلق العنانیت هغه وخت مرستې پیل کړې، څه وخت چې پنډت جواهر لال نهرو د ستېټس پیپل کانفرنس قیادت شروع کړی وو او د جودهپور، اودېپور او کشمیر د هندو مهاراجاګانو خصوصاً او عموماً د ټولو ریاستونو د ختمولو د پاره یې ملا تړلې وه.

په بلوچستان کښې د اولسي جذباتو اټکل له دې حقیقت څخه بنه څرګنده بدلای شي، چې د بلوچستان د مسلم لیګ لومړنی جنرل سیکرټري میر عطا محمد خان "چې یو ترقي پسند تعلیم یافته زمیندار او جرګه ممبر وو" خو کوم وخت چې د کارکوونکي ډلې/ عامله مجلس غړي و ټاکل شول، نو هغه سمدلاسه استعفا ورکړه، دا ځکه چې نومورې په کارکوونکې ډله کې د ځینو سردارانو اخستل بې ځایه او شرمناک عمل او د ګوند لپاره تاوانې کار ګانه.

بلوچستان ته د باچا خان (عبدالغفار خان) راتګ:

د خپلو کارکنانو د بې شمېره قربانیو او بې لوټه کار په برکت زمونږ ګوند تر لېرې لېرې پورې خپلې څانګې و غځولې او خلکو د خپلو سیاسي ستونزو په وړاندې دا ګوند د ځان لپاره یوه خوندي مورچه و ګڼله او په جوپو جوپو په دې ډله کې شاملېدل... په ۱۹۳۹ز کال کې **باچا خان** زمونږ د مېلمه په توګه راغی او د بلوچستان دوره یې وکړه، د **باچا خان** د کامیابي دوړې په دوران کې حکومت بار بار د فساد کولو او د خلکو تر منځ د نښتو هڅه وکړه او د دوړې په وروستۍ ورځ د حکومت یو هندو آفیسر د **باچا خان** پر جلسه باندې د مسلح حملې سایق وو، نومورې دا کار د یوه بلوڅ زمیندار په ذریعه باندې وکړی، چې دغه بلوڅ زمیندار د مسلم لیګ یو مهم غړی وو.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

انډین نیشنل کانګریس: که څه هم په بلوچستان کې او له بلوچستان څخه دباندې زما مسلم لیګي مخالفینو زما په ضد دا پروپیګنډه کوله، چې دی د هندو ایجنټ، هندو او داسې نور چې څه او څه دی، خو پر دې سربېره د دې دومره خبرو حقیقت پر خپل ځای ښکاره وو، نه خو زه کوم وخت د کانګریس عضو/ غړی شوی یم او نه د ۱۹۳۶ز کال تر نیمایي پورې په بلوچستان کې د کانګریس په نوم کوم ګوند موجود وو، تر دې پورې چې زمونږ ګوند (انجمن وطن) هم په آئیني توګه د کانګریس سره کوم پیوند نه لاره، له کانګریس سره زمونږ نقطه اشتراک یوازې دا وو، چې څه رنګه مونږ د برتانوي حکومت له تسلط څخه تنګ وو او زمونږ دا عقیده وه، چې له دې نظام څخه ځان ژغورل به نه یوازې زمونږ ژغورل وي؛ بلکې دا به د ټول عالم اسلام د ژغورلاره وي، نو همدا وه، چې په دویم لوی جنګ کې انجمن وطن په ذاتي توګه له انګرېزانو سره د کومک نه کولو پرېکړه وکړه او څه وخت چې مهاتما ګاندي د خپلې ځانله "ستیاګره" مانا د حکومت په ضد د نافرمانۍ پرېکړه وکړه، نو انجمن وطن پر دې سربېره هم چې له کانګریس سره یې کوم آئیني پیوند نه درلود، خو بیا یې هم په دغه نافرمانۍ کې د برخې اخستلو د پاره خپل پنځوس کسه غړي/ اعضا وړاندې کړل او کټ مټ هم دا رنګه مونږ د کانګریس د ۱۹۴۲ز کال د "هندوستان پرېږدئ" په تحریک کې برخه واخسته.

پاکستان د یوې نظریې په توګه: ما مخکې هم دا خبره څرګنده کړې ده، چې په بلوچستان کې مسلم لیګ څنګه او د چا په برکت قدم کښېښوو او دا مو هم څرګنده کړه، چې د هندوستان د مسلم لیګي مشرانو د نقطه نظر په رونا کې او مونږ د خپلو تجربو په نتیجه کې د مسلم لیګ په اړه د څه ډول رایې قایمې کړې وې، نو په داسې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چاپېریال کې د پاکستان د تخیل په اړه شبهه نه کول او دا چې په کوم دول دې عناصرو دوی زمونږ په وړاندې پېش کړه، د پرنګیانو یوه فرېبي حربه نه ګڼل ښېي غیر قدرتي اوغیر طبعي خبره ده. پرته له دې په بلوچستان کې چیرته چې نسبت د ټول هندوستان و ټولو ولایتونو ته د هندوانو ابادي د مسلمانانو په مقابل کې ډېره لږ وه، نو ځکه په بلوچستان کښې د هندو غلبې هیڅ امکان نه درلودی.

په بلوچستان کې د نورو ولایتونو مسلمانانو او غیر مسلمانانو په یوه دول د بلوچستان د مسلمانانو پر تعلیم، تجارت او نورو لارو چارو باندې ډاکې اچولې او د تالا ترغه کولو بازار یې تود ساتلی وو، د نورو صوبو مسلمانانو په بلوچستان کې د خپلې صوبې یا ضلعې د غیر مسلمانانو "په داسې وخت کې چې د بلوچستان له مسلمانانو سره به یې مقابله کېدله" د مذهبي امتیاز اتو په ضد به یې د غیر مسلمانانو مرسته کوله، سېوا له دې ځخه "ځنګه چې تر دې مخکې ما وویل" مونږ پر مسلمانانو اولسونو باندې پوره پوره باور لاره او د خپلو کشالو د هوارولو په لړ کې د دوی په هڅو پوره پوره ډاډه وو، کانګریس د کراچي په غونډه کښې د ژبې پر بنیادونو باندې چې و خپلواکو وحدتونو ته کوم ډاډ ورکړی وو او پر کوم باندې چې دا اوس اوس هم په هندوستان کې عمل پېل شوی دی، نو د دې په لړ کې زمونږ په ستر ګو کې د هندوستانیو مسلمانانو مستقبل روښانه او تسلي بخښ معلومېده، په ځانګړې دول د کشمیر په ملتیاد مسلمانانو په لوی شمېر لرونکو ولایتونو کې د اړتیا پر وخت له ننني پاکستان نه زیات او لوی پاکستان جوړېدلای شو او ننني پاکستان ته په یو وخت کې پخپله قاید اعظم هم شل او ګود پاکستان ویلي وو او دغه پاکستان "چې ... عرض کړ" یقیناً به د خپلو اوسنیو کمزورېو ځخه پاک وای، د کرمو کمزورېو له

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کبله چې نن په لکونو مسلمانان در په در خوار ي په سر دي، د پنجاب او بنګال تقسیم، په کشمیر کښې د استصواب رایې ضرورت او د ابادیو د تبادلې د تباه کوونکو پېښو ضرور مخنیوی کېدلای شو او همدا لامل وو، چې موږ دا نظریه نه غوره کوله او موږ د خپل ګوند ترون ډېر وروسته یعنې په ۱۹۴۶ز کال کې یوازې د ډې لپاره د کانګریس سره وکړ، چې د پاکستان د نظریې مخالفت وکړي او له هندوستان څخه د پرنګیانو د ایستلو په لړ کې د پرنګیانو بهانه شنډه کړي.

نن هم که تر نهه کاله وروسته پر بلوچستان باندې یو غیر جانبدارانه نظر واچول شي، نو نن هم داسې کوم خاص بدلون نه دی راغلی، نن هم په بلوچستان کې د سرحدي قوانینو نفاذ پر عروج باندې دی، نن هم په بلوچستان کښې د عوامو حقوق د آفیسرانو تر پښو لاندې په ډېر شدت او بې رحمۍ سره دل/ لاندې کېږي، نن هم زموږ د صوبایې او مرکزي اسمبلۍ غړي هغه سرداران او د سردارانو جرګې او نوابان دي او د ډې غړو انتخاب د هغه سردارانو او جرګو په لاس کې دی، څوک چې پرنګیانو د غدارانه خدمتونو په عوض پر دغو عهدو او ځایونو باندې تاکلي وو، اوس هم په بلوچستان کې تش په نوم تاکلی جمهوري قانون تر هغو پورې نه شي پلي کېدلای، تر څو چې ګورنر د خپلو مطلق العنانه اختیاراتو له برکته داسې کول غوره نه کړي، اوس هم په بلوچستان کې کومه چوپ شوې اداره نه ده موجوده، بې د کوټې د ښاروالۍ نه چې د یوه سرکاري رئیس او څو نورو نامنهاد غړو څخه پرته لس نور د ډې ډول غړي لري، چې هغوی ته د رایې ورکولو تر لړ او محدود حق ورکړل شوی دی او هم له دې کبله اوس هم په هغه ډول دا چوپ کېږي، څه رنګه چې د پرنګیانو په وخت کې رایج وو.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نبه! نو اوس دا ټول شیان به تاسو ته دا ثابته کړي، چې د سردار لیک په اړه "چې زمونږ کومې وېرې وې" هغه تر څه حده سمې او پر ځای وې؟ د مسلم لیګ په اشارو باندې د پاکستان تر جوړېدو مخکې خان قلات او نورو قبایلي سردارانو د دې ډول منصوبه جوړوله، چې د بلوچستان پښتنې سیمې دې هم د یوه ریاست په بڼه کې راوستل شي، چې د هغې رئیس دې نواب محمد خان جوګیزی د خان آف قلات د تقریباً ماتحت رئیس په ډول وي او د دې غرض د پاره نومورو په مطبوعاتو کې باقاعده په ډانګ پېیلې پروپیګنډه هم کوله. د اقتدار دا ناممکنه نظریه په بلوچستان کې ځکه ناممکنه وه، چې د پاکستان تر جوړېدلو وروسته مسلم لیګ واقعي د حکمرانانو یو داسې آزاد ریاست قایم کړ، چې د برتانوي حکومت په وخت کې هم نه وو قایم شوی.

مسلم لیګي مشران د پاکستان په اړه د خپلو نظریاتو او دریځ له سپیناوي او وضاحت څخه تل تښتېدل، د مسلم لیګ یوې کمېټې د نواب اسماعیل خان په مشرۍ کې د بلوچستان دوره کوله، چې په یوه ځانګړې مېلمستیا کې د هغې کمېټې غړو له ما و غوښتل، چې په مسلم لیګ کې ګډون وکړم، ما خپل پوزیشن هغوی ته واضح کړ او تر ډېرو خبرو اترو وروسته د دې ډول یو ګډ بیان ترتیب کړل شو، چې که چېرې د مسلمانانو و لوی شمېر ولایتونو ته د خپل مستقبل په اړه پخپله د پرېکړې کولو حق ورکول کېږي، نو مسلم لیګ دې د هند د آزادۍ په لړ کې د کانګریس سره و ملاتړ کولو ته آماده شي او که چېرې کانګریس د دې شرط د منلو نه انکار وکړي، نو زمونږ ګوند به په مسلم لیګ کنبې شامل شي، خو وروسته نواب اسماعیل خان پر دې بیان باندې له امضا کولو نټه وکړه او وې ویل، چې تاسو د دې ډول پرېکړه د بلوچستان له مسلم لیګ سره وکړی او د ټول هیند مسلم لیګ د دې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د ۱۹۴۹ز کال په اګست کې حکومت زه د صوبه سرحد د هرې پور جېل ته واستولم او په ۱۹۵۲ز کال کې زه دوباره بلوچستان ته راوستل شوم او بیاد ۱۹۵۴ز کال په جنوري کې په داسې حال کې پرېښوول شوم، چې زما د بېځایه نیولو (صبر بے جا) درخواست د بلوچستان د جوډیشل کمشنر په عدالت کې تر اورېدنه/ سماعت لاندې وو.

زما تر نیولو وروسته د ګوند څو کسانو او نورو ډېرو خلکو دا اعلان وکړ، چې که چېرې د عبدالصمد خان په ضد حکومت خپل لګولي تورونه د عوامو په وړاندې ثابت کړای شي، نو مور د عبدالصمد په ضد د تادیبي کارواېي کولو لپاره تیار یو، خو پولیس او مسلم لیګیان د هیڅ یو دلیل د اورېدلو د پاره تیار نه وو او زمور د ډلې کسانو ته یې ډول ډول ځورېدنې ورکول پیل کړې، په ځانګړې ډول یې محمد ایوب خان اڅکزي ته ډول ډول ځورول ورکول پیل کړل، کېدای شي، چې زما پرله پسې نظربندي او زما له خپلوانو سره ناوړه سلوک خان محمد ایوب خان د مسلم لیګي حکومت د متشددانه رویې نه انګېرلې وي او همدا وه، چې نومورې پای تنګ شو او د یو څو نورو ذمه وارو کسانو سره په ۱۹۵۰ز کال کې و ملک پرېښودلو ته اړ شو او د ملک د سرحد نه افغانستان ته واووښتل او په دې لړ کې په سوونو نورو خلکو د هغو لاره خپله کړه او هغوی هم پر پوله افغانستان ته واووښتل، دا چې مسلم لیګیانو او نورو لویو وړو ذمه وارو آفیسرانو په څه څه ډول بېلا بېل خلک تنګ کړي دي، د هغوی پوره معلومات له ما سره موجود نه دي او نه هغه ټول دلته ویل کېدلای شي، خو دا لاندینۍ ځینې پېښې چې زه په خبر شوی یم، ستاسو په وړاندې بیانوم.

الف: د ځایي مسلم لیګیانو له خوا په بنار کې د راشن کارډونو د چاپ او کتنې په پلمه یوه کمېټۍ و تاکل شوه، دغه کمېټۍ د نورو چارو پر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

راپور ورکړي کولو سربېره دا خبره هم په نوټس کې را وستله، چې محمد ایوب خان او نور ملګري یې "چې شمېر یې دېرشو کسانو ته رسېږي، د خپلو خوړو تولې اړتیاوې له هوټل څخه تر لاسه کوي، نو د دوی د خوراکي موادو کوپون/ کوپن دي ضبط کړل شي.

ب: محمد ایوب خان ته ترافیک پولیس حکم ورکړ، چې د یوې لارۍ د مالک په حیثیت د داسي جرم په لړ کې "چې د هغه ډرائیور کړی وو" ترافیک دفتر ته راشي او حال دا وو، چې مجرم ډرائیور وو، نو په کار دا وو، چې پخپله د موټر چلوونکی راغوښتل شوی وای، خو محمد ایوب خان به هره ورځ را غوښتل کېدی او تر مانښامه تر انتظار کولو وروسته به ورته ویل کېدل، چې سبا راشه او په دې ترتیب تر یوې هفتې پورې وچ په وچه محمد ایوب خان د ترافیک پولیس له خوا و ځورول شو.

ج: زما یو خپل د پبلک سروس کمیشن له خوا په امریکه کې په وظیفه باندي د تعلیم تر لاسه کولو په لړ کې د لېږلو د پاره و تاکل شو، خو څه وخت چې د هغه د پاسپورټ کاغذونه د کوټې ډسټرکټ مجسټریټ ته ورسېدل، نو نوموړي آفیسر حکومت ته ویلکل، چې دا سړی د عبدالصمد خان ډېر نژدې خپل دی، نو ده ته وظیفه ورکول او امریکې ته لېږل د حکومت ډېره لویه غلطي ده او لاسپارش یې هم وکړ، چې د دې تېروتنې ازاله یوازې په دې ترتیب کېدلای شي، چې د دې هلک پاسپورټ معطل کړل شي.

د: د بلوچستان د صوبایي مسلم لیګ د پریذیډنټ (رئیس) تر مشري لاندي یوه ډله د دې لپاره د پاکستان صدر اعظم لیاقت علي خان ته واستاوه، چې هغه ته د ځایي چارواکو په ضد شکایت وکړي، نو ځکه د ډلې نایب صدر د شکایتونو په لړ کې د دې خبرې شکایت هم وکړ، چې ولې د عبدالصمد خان خپل د امریکې د لېږلو لپاره تاکل شوی وو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او دویم شکایت دا وو، چې زما مشر ورور به د خپلې مېوې د ساتنې لپاره د شکري/ بورې د یوځه معمولي برخې اخستلو مراعات تر لاسه کول، د هغې په باره کې هم حکومت ته شکایت وکړل شو، خو زما ورور مخکې تر دې چې حکومت کوم اقدام وکړي، څه وخت چې له دې نه خبر شو، نو پخپله یې دغه کاروبار پرېښوو، زما د خاندان، قبیلې او ډلې ډېرو کسانو د حکومت بې شمېره سختۍ ځغملې دي او ځینو خو خیر په دې کې ولیدی، چې ملک پرېږدي، په وطن پرېښودونکو کې ځینې بیرته هم راغلي دي او ځینې کسان زما تر خوشې کېدلو وروسته بیرته راغلل او ټولو ته تر سرحدي قوانینو درنې سزاګاني ورکړل شوې او نن هم دغه خلک په جېلونو کې پراته دي.

د ۱۹۵۴ز کال د جولایې په میاشت کې حکومت په داسې وخت کې نیولم، چې زما د شپږ کلنې نظربندۍ د خلاصېدلو یوازې شپږ میاشتې شوې وې او چارواکو په خپل کلي کې بیا نظربند کړم. ممکنه ده، چې زما دا نظربندي د هغې پالیسۍ په رونا کې وه، چې د دولتانه) د خفیه دستاویز په ترڅ کښې واضح شوې وه.

ورور پښتون: په ۱۹۵۴ز کال کې د شپږو کالو د پرله پسې بند څخه د خوشې کېدلو په وخت کې زه سخت ناروغه وم، د تریخې (ټې) او پښتورګې د ناروغۍ په ستړې اخته وم، د سرکاري ډاکټرانو بورډ د د تریخې د لوی اپرېشن کولو مشوره راکړه، خو بیا هم زما پخوانې ملګرې او نوې ځوانان زما په خوا او شاکې راغونډ شول او د ناروغۍ پر بستره باندې یې زما سره د بلوچستان پر حالاتو خبرې اترې وکړې، چې څه وخت وروسته یو ګوند د "ورور پښتون" په نوم باندې جوړ کړل شو، د دې ډلې مرام دا وو، چې د پښتونستان یو داسې وحدت قایم کړل شي، کوم چې د پښتنو پر ابادي باندې جوړ وي او دا وحدت

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د عدم تشدد او آئیني طریقو له لاري تر سره کړل شي، زه د دغه ډلي مشر و ټاکل شوم. په ډېر لږ وخت کې د دې ډلي ښاخونه د بلوچستان په ټوله پښتون ابادي کې خواره شول او کوم وخت چې ما د دغو سیمو دوره وکړه، نو اولس د روایتي جم او جوش په رونا کې د دې ګوند او د ګوند د مرامونو ښه تود هر کلی وکړ، په دې وختونو کې زمونږ نفاق دوسته چارواکو د اتحاد منصوبه د یو یونټ په بڼه کې وړاندې کړه، دغه منصوبه د پښتنو له خوا څخه **باچا خان** "چې په کراچي کې وو" مسترد کړه او ډاکټر خان صاحب همداسې ډول مشوره حکومت ته ورکړه او د سیند د پیرزاده عبدالستار کابینې هم د دې منصوبې سخت مخالفت وکړ.

ښاغلی ګورماني: داسې څرګند ښدله، چې نفاق خوښوونکو کسانو د پخواني تجویز تر ژوره څارنه وروسته د بلوچستان د کم از کم پښتنو د اتحاد د پاره یوه بله منصوبه تیاره کړې وه، د دې منصوبې په سر کاري توګه باندې د پاکستان د داخله چارو وزیر مسټر ګورماني هغه وخت په کوټه کښې اعلان وکړ، تجویز دا وو، چې انګرېزي بلوچستان دي د بلوچستان په ریاستي یونین کښې مدغم شي، ما د مسټر ګورماني سره ولیدل او د هغه پام مي د بلوچستان د پښتنو د اړتیاوو، سباوون او د هغو حقایقو لور ته را واړاوه، چې د ژبې او نسلي قومیت په ننني دور کښې پښتنو او بلوڅو په ځانګړي ډول له پښتنو سره د خپل تهذیب، ژبې او د روایاتو له منځه تللو وېره ورسره ده، نومورې دا خبره راسره و منله، چې د دې سیمې د پښتنو د حقوقو د ساتنې لپاره دا اړینه ده، چې د دوی د بچانو لپاره د بنیادي تعلیم بندوبست د دوی په خپله مورنۍ ژبه کې وشي، نومورې دا هم و منله، چې په پښتو کې ځینې دفتري کارونه هم سودمند ثابتېدلای شي، نومورې دې حقیقت ته

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هم د منلو سر و بنوراوه، چې هر کله د بلوچستان و سیمې / علاقې ته پراختیاورکړای شي، نو طبعاً به نور خلک دلته ابادول وي، په هغه بڼه به هرو مرو د اوسني اولس ابادي د اقلیت په بڼه کې پاتېږي او ماته پخپله د ګورماني له خولې معلومه شوه، چې د پنجاب د مغربي ضلعو خلک د مشرقي ضلعو نه و راغلو نو واردو پنجابیانو ته "جانګلی" وایي او حال دا دی، چې هغوی پخپله هم پنجابیان دي او مستر ګورماني پخپله هم د پنجاب د مغربي برخې اوسېدونکی دی، نوموړي د دې شیانو د علاج لپاره تجاویز هم وړاندې کړل، مثلاً بنیادي تعلیم دي په پښتو کې وي او د ځینو دفترونو کار او د سرکاري ریکارډ ساتلو لپاره دي پښتو و کارول شي، خو د دې ټولو نتیجه یو دوه ژبي ولایت کېده، چې د موجوده کمي ابادۍ او کمي ودانۍ له مخې ما ته دا کار بالکل غیر موثره او ناممکن معلومېده، بناغلی ګورماني نه خو د دې لپاره آماده معلومېدی، چې په مجوزه بل کښې به دا ټولې اندېښنې / تحفظات و ساتل شي او نه د دې خبرې لپاره تیار وو، چې له دې نه د غوره اتحاد او یووالي لپاره کومه فطري لاره و مني او هغه دا وه، چې د پښتون ابادۍ سیمې یې د خپل ګاونډي ولایت صوبه سرحد سره یو ځای کړي وای، چیرته چې ټول پښتانه دي او پښتو وایي.

ږ جرایدو باندې بندیز (پابندي)

د ۱۹۵۴ز کال په جولایي کې چې زه په خپل کور کې نظربند کړل شوم، نو زما پر وینا، لیکنه او له کلي څخه د دباندې سیمو له خلکو سره پر خبرو اترو بندیز و لګول شو او پر دې سربېره د ورور پښتون دوې جریدې (میاشتنۍ پښتو هفته وار پیغام جدید) هم د یوه یوه کال لپاره بندي کړل شوې، وروسته د دې جریدو اجازت نامې هم ضلعي حاکم منسوخې کړلې، دا ځکه چې هغه د بندیز له کبله خپرېدلای نه

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شوې، دا اجازت نامې تر اوسه پورې هم بیرته نه دي ورکړل شوي او موږ تر ننه پورې هم د دې بندیزونو د وجوهاتو معلومولو څخه بې برخي پاته یو، خو دومره ماته معلومه ده، چې ځایي چارواکي د دغه جرایدو مخالف وو او دا خیال هم کېږي، چې په ټوله زمانه کې د بدنام شوي خفیه دستاویز له مخې دا لومړنی اقدام وو، چې د یونټ په غرض تر وخت له مخه د میدان سپاکولو لپاره شوی وو.

حکومت ته د ډاکټر خانصاحب راتګ:

په کومو ورځو کې چې زه نظربند وم، د یوه وحدت/ یونټ برکتونه او لوړپینې پر ډاکټر خانصاحب باندې وشوې، نومورې مرکزي وزیر او تر دغه وخته پورې د نارغبدلي وحدت/ یونټ نومولی/ نامزد وزیراعلی و ټاکل شو، په دغه وخت کې به نومورې پخپله راتلونکې انتخابي حلقه بلوچستان کې وخت په وخت دورې کولې او د خپلو دورو په وختونو کې به یې ډېر وخت زه هم کوټې ته راغوښتلم، خو ماد نومورې او د هغه وخت د بلوچستان د (اې، جي جي) سردار بهادر خان له دې څرګندونو او خیالاتو سره ملتیا و نکړای شوه، چې ویل به یې: په دې ترتیب به پښتانه د یوې وړې ټوکړې پر ځای پر ټول پاکستان باندې حکومت وکړای شي.

د ۱۹۵۵ز کال د جولایي په میاشت کې زما له خپل تګ راتګ څخه بندیز لېرې کړل شو، خو د ډېر لږ وخت لپاره او هغه هم د مطلق العنانیت او غیر ذمه داری د دې اوږدې او ستړې کوونکې ډرامې په ترڅ کښې د یو مکارانه چال چلولو په غرض...

خپلواکه او بې پرې چونې (آزاد او غیر جانبدار انتخابات)

د ۱۹۵۵ز کال د اکتوبر په وروستیو اوونۍ کې څه وخت چې د یو یونټ د اسمبلۍ لپاره ژر تر ژره د چونې اعلان وشو او دا خبره ښکاره شوه،

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې د بدبخته بلوچستان د قسمت پربکړه به د هم هغه جرګې غړي کوي، کومه جرګه چې انګرېزانو جوړه کړې وه، همدا وه، چې زه د چون د چارو لړ کې لورالايي ته ولاړم او هلته مې د چون لپاره يوه وينا وکړه، زما تر وينا څو ساعته وروسته د لورالايي ضلعې مجسټريټ زه د بلوچستان تر پبلک سيفټي ايکټ لاندې ونيولم او تر يوې مياشتې پورې يې د لورالايي په جېل کې وساتلم، تر يوه مياشت وروسته يې د ۱۹۵۵ز کال د اکتوبر پر څلورمه نېټه باندې د مغربي پاکستان حکومت د شپږو مياشتو د نظربندۍ د ميعاد زياتولو نوي احکام جاري کړل او پښتون وزيراعظم ډاکټر خانصاحب په کراچي کې دا بيان ورکړ، چې عبدالصمد د يوه بهرني او دښمن هېواد بېرغ پورته کړی او هغه ته يې سلامي هم کړې ده، نو دا سړی غدار دی او همدا چې د نوموړي په خيال زه (عبدالصمد) په ګولۍ/ مرمۍ د ويشتلو وړ يم، ډاکټر خانصاحب دا هم وويل، چې زه پخپله د نوموړي د کاغذونو مطالعه کوم او ملزم ته به په يوه خلاص عدالت کې د خپلې صفايي پېښولو وخت ورکول کېږي او داسې نور نو، دا غير معمولي اعلان او هغه هم د کوم معمولي سړی له خولې نه: بلکې د ډاکټر خانصاحب له خولې چې زما په باره کې واورېدل شو، نو ځينو خلکو د ډاکټر خانصاحب ستاينه وکړه، خو پوه خلک شاهد پوهېدل، چې د وزارت د کرسۍ خوندي ساتلو او د پښتنو په سيمو کې د غير جانبدارانه چون د مخنيوي لپاره د بغاوت، د وزير د ذات په ضد د سازشونو، غداری او داسې نور نور تومتونه او پلمې په عامه توګه په کار اچول کېږي.

موږ تر څه وخته پورې د دې لاره وځارله، چې د ډاکټر خانصاحب حکومت به دا اوس خبره عدالت ته رسوي او ملک به د يوه غدار نه پاکوي، خو د ډاکټر خانصاحب حکومت پټه خوله پاته شو، بيا زما

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خپلوانو د کراچي په هایي کورټ کي زما د بېځایه نیولو (حبس بېجا) درخواست وړاندي کړ او حکومت د خپلو الزامونو ثابتولو لپاره میدان ته نه راووت او پای زه د درې میاشتو تر نظربندۍ وروسته پرېښوول شوم. دا هغه وخت وو، چې د مغربي پاکستان د اسمبلۍ د پاره د دوی په قول آزادانه او غیر جانبدارانه چوپړ پای ته رسېدلی وو، یوازي دا نه چې زه و نیول شوم؛ بلکې له ووټرانو مانا رایو ورکوونکو څخه د لېرې ساتلو د پاره د غدار په نوم باندي یاد کړل شوم، بلکې هغه د جرګې دوه غړي مانا د حلقې د ټولو رایو ورکوونکو لس فیصده برخه زما له یادي دوړې څخه وروسته د رایي ورکولو تر ورځ څو ورځي مخکې د رایي ورکولو له لړلیک/ فهرست څخه ایستل شوي وو او دا کار یوازي له دې کبله و شو، چې نوموړي زما دوستان وو او زما سره د لیدلو او کتلو جرآت او زړه یې درلود، دا د هغه آزاد او غیر جانبدارانه چوپړ/ انتخاباتو یوه نمونه ده، چې د یوه وحدت د تش په نوم استازي/ نماینده پارلمان لپاره د پښتنو په سیمه کي تر سره شو، د ووټرانو له لړلیک څخه د ناخوښو "چې د دوی لپاره د منلو وړ نه وو" ووټرانو د نښې پوره برخې ایستل لاسبري دلي یوه په زړه پوري چاړه و بلله او تر سره یې کړه.

دا لومړی وار نه وو، چې د سرکار په ضد تګ کوونکي خلک دي د جرګې له لړلیک/ فهرست څخه ایستل شوي وي. ځینې نورې بېلګې یې هم شته، څه به یې وړاندي کړم..

۱: ملک عبدالعلي خان د کوټي/ پښین ضلعې د جرګې غړی وو، د جرګې له غړیتوب څخه ځکه لېرې کړل شو، چې هغه د ورور پښتون غړی جوړ شوی وو.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۲: سلطان محمد خان درانی زمور له ډلې سره د اړیکو پر بنسټ له لړلیک څخه ایستل شوی وو، کله چې هغه په ډاګیزه توګه د غه اړیکې وشلولې، نو بیا یې د جرګې په غړیتوب او لړلیک کې ځای ورکړ.

۳: میر جعفر خان جمالي د بلوچستان د شاهي جرګې غړی وو، چې د ریفرنډم پر مهال یې د بلوچستان په اړه د پریکړې کولو پر وخت چاري تر سره کړې وې او قامي اسمبلۍ ته یې ډاکټر خانصاحب د بلوچستان استازی ټاکلی وو، خو میر جعفر خان جمالي په دې اند ښکنه د دې جرګې د غړیتوب څخه وایستل شو، چې نومورې د بلوچستان له یوې آئیني ډلې "ورور پښتون" سره څه ناڅه مرسته کړې وه.

۴: میر جعفر خان جمالي ته په جرګه کې بیرته ځکه ځای ورکړل شو، چې نومورې پر خپلو کړو باندې د پښېمانۍ څرګندونه کړې وه. کنې نو هغه د یو شمېر نورو سردارانو په ملتیا و مخنې ګورنر جنرل ته اود هېواد و نورو چارواکو ته د تار په استولو سره د یوه یونټ مخالفت هم کړی وو، نو دا هغه د خپلواکۍ ډول دی، چې و دې جرګه غړو ته ورکول شوی وو، چا ته چې د پاکستان د پنځه اویا سلنې / فیصدي د پښتانه قام ابادۍ د استازو ټاکلو لپاره د ووټ ورکولو وس او توان ورکول شوی دی، هغه پښتنه ابادي ته چې د نورو پاکستانیانو غوندې پر جمهوري وطن باندې برخه لرونکی او ورور ګڼل کېږي.

د ورور پښتون هغه بیرغ چې ما (عبدالصمد) د چمن پر دفتر باندې رپولی وو، چې له کبله یې زه غدار ګڼل شوی وم او دغه دفتر بیاد سرکار د ګوډاګیانو په لاس تالا ترغه کړل شو، خو دغه بیرغ په کوټه کې د ورور پښتون پر مرکزي دفتر باندې تر اوسه هم رپېږي او بده لا داده، چې تر اوسه پورې نه ډاکټر خانصاحب څه ویلي دي او نه بیاد هغه حکومت و اولس ته د داسې بېځایه خبرو په اړه د سپیناوي کوم ذهن او

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ملاتړ کې د پیسو په وس او توان د وړتیا/ قابلیت لرونکو ذهنونو له لارې زموږ په ضد خپله خبره په نښه ډول وړاندې کړای شي، ځکه د خپلې بریا خوبونه وینې.

پښتونستان: د خبرې پای ته تر رسولو مخکې په کار دئ؛ وایم، چې د هغو پښتنو "کوم چې په پاکستان کې له یو بل سره ګاونډیان دي" یو ځای او یو موتی کول زما د سیاسي ژوندانه برخه پاته شوې ده، چې په پاکستان کې سره پېیلي اوګډ پراته دي، خو انګرېزانو په ببلا ببلو نومونو د قانوني وېش له لارې ببل ساتلي دي، نو دغه د پښتنو د یووالي هڅه کله هم زما له ژوندې او پامه څخه وتلې ده او نه زما له ژوند او زړه څخه په دې هیله وتلای شي، چې زه به د دې هڅې په پرېښوولو د کومې سزا او ځور څخه و ژغورل شم او دا زما پخه اراده او عقیده ده، چې دا وړاندیز به د پاکستان د امن او سلامتیا لپاره همدومره اړین او ګټمن وي، لکه د اتیا لکهو او یا هم تر دې زیاتو پښتنو لپاره چې ګټمن دی، دا ځکه چې اوس خو د پرمختګ او ودې لپاره زدکړې یا تعلیم باوري او اړین پاموله کېږي او نړیوال پوهان پر دې باندې په یوه خوله دي، چې د زدکړو په لړ کې تر ټولو په زړه پورې او غوره لاره په مورنۍ ژبه د زدکړو لاره ده، ښې او اغېزمنې زدکړې د یوې داسې ژوندۍ ژبې له لارې تر سره کېدلای شي، چې په کور، کهول، دفتر او تجارتي لارو چارو کې په کارېږي او ادبي دود هم و لري، د ښوونځي تر حده پورې زدکړې "کومې چې د ټولنې لویه برخه تر لاسه کوي" په مورنۍ ژبه په کار دي، چې تر سره کړل شي. دا چاره تر هغه وخته پورې نه شي تر سره کېدلای، تر څو چې پښتونستان ولایت (صوبه) نه وي جوړ شوی او هلته زدکړې، د ولایت په دفترونو او یا څه برخه او تجارتي کاروبار کې یې ژبې مانا پښتو ځای نه وي نیولی...

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دویم: په دې وخت کې به د حکومت تر ټولو لویه چاره دا وي، چې د خپلې ابادۍ و لوی شمېر اولس ته زورکي او مفتي زدکړې ور کړای شي او کېدای شي، چې پاکستان هېواد په را روانو شلو پنځه ویشتو کلونو کې دغه زدکړې دود کړي، د نړۍ خلک دا خبره منې او مور ته هم څرګنده شوې ده، چې د لیکلو او لوست لپاره پیلیزې زدکړې کار کوي، خو په دې شرط چې په مورنۍ ژبه تر سره شي. د پښتونستان خبره چې زه کوم، هغه ځکه چې دغه مرام بې له پښتونستان جوړېدلو نه شي تر سره کېدلای او دا به داسې وي، چې بې له پښتونستان څخه به د دې هېواد ډېره لویه برخه د پرمختګ له ډېرې په زړه پورې لارې څخه بې برخې ماناد زدکړو له ګټو څخه به لېرې پاته شي.

دریم: دا چې پښتانه به تر هغو خلکو "چې زدکړې یې په مورنۍ ژبه او یا هم مورنۍ ژبې ته په ورته ژبه لکه په اردو یا پنجابي کې زدکړې ورکول شي" نو پښتانه به تر هغوی وروسته پاته شي او څرګنده ده، چې داسې چاپېریال به د کوم هوښیار او ځیرک پښتون لپاره په هیڅ ډول د منلو وړ نه وي.

څلورم: بله خبره له ژبې څخه پرته دا هم ده، چې پښتانه خپل ټولنیز دودونه څومره په ټینګار سره پالي، ولې چې د نړۍ بېلا بېلو نژادونو لکه یونانیانو، عربیانو، ایرانیانو، مغول او انګریز پر دوی باندې واکمن پاته شوي دي، خو په دوی یې خپل دودیز خویونه نه دي پرې ایښي.

پنځم: پر دې سربېره دا چې پښتانه له خپل وطن سره ډېره مینه لري، یوه بېلګه یې د ۱۹۴۷ز کال د کشمیر په جګړه کې لیدل شوې ده، چې هلته یې مرګ پر ځان منلی وو، خو د خپلوانو مړي یې هلته پرېښوول پېغور ګټل، ځکه یې د خپلوانو مړي د ښخولو لپاره وطن ته راوړل.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شپږم: بل دا چې پښتانه که څه هم په بل ځای کې مېشت پاته شي، خو د دوی پر ژوند باندې کوم اغېز نه ښکاري، برتانیې په پنجاب کې و پښتنو ته په مځکه ورکولو هلته د دوی د ابادولو هڅه وکړه، خو له ناکامۍ سره مخامخ شول، ځینو خلکو اوس بیا دا وړاندیز کړی دی، خو زمونږ حکومت ته په کار ده، چې له دې چارې ځان وساتي.

پښتون او افغانستان: ځینو کسانو داسې بېځایه فکر کوي، چې د دې هېواد پښتنو "چې د پښتونستان کوم غورځنګ/ تحریک پیل کړی دی" هغه د افغانستان سره اړه لرونکی غورځنګ دی او یا دا چې له دې لارې به د پښتنو وطن د افغانستان تر قلمرو لاندې راوستل وي او دا هم ویل کېږي، چې له پښتونستان څخه مراد د پاکستان څخه بېل یو خپلواک هېواد جوړول دي، خو زه پخپل باور او واک سره وایم، چې دا بېځایه خبرې دي، dهیڅ پښتون داسې نه وایي؛ بلکې پښتون په دې اوسنۍ چاپېریال کې هیڅ داډمنتیانه لرې او په کار هم ده، چې نه یې و لري.. ځکه

اندېښنې، شکایات: الف: د اسلامي جمهوریه پاکستان له اعلان سره سم د هېواد د پښتنې ابادۍ ۷۵ سلنه برخه "چې تش په نوم د ځانګړو سیمو اوسېدونکي دي" د رایو ورکولو له واک څخه بې برخې پاته دي، کومه چې د خپلواکۍ په پېرزوینو کې تر ټولو ښه پېرزوینه ده.

ب: پورتنۍ یاد شوي پښتانه پخپله د آئین په رونا کې د دې جمهوري هېواد د خپلواکې عدلیې له کتو څخه بې برخې پاته کړل شوي دي.

ج: د دې سیمې د پښتنو استازي/ نمایندګان هم هغه د جرګو غړي دي، چې انګرېزانو د ځان کړي او تاکلي وو؛ هم هغه کسان په مرکزي او ولایتي ادارو کې څکه ځای کړل شوي دي، چې رایې یې د سرکاري برخې په ملاتړ کې د تاکل شوو غړو په ضد وکارول شي او حال دا چې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د دغو ادارو هیڅ یوه پرېکړه به پر دوی باندې کوم داسې اغېز نه ولري، لکه د هېواد پر نور اولس باندې چې یې اغېز وي.

د: د پښتنو لوی شمېر به اوس هم د برتانوي حکومت د دورې غوندې تر زوره واکي لاندې وي، چې د فرنټیئرز د جرمونو د قانون او د جرګو تر لاس لاندې یوه وګړي/ فرد واحد او د هغوی ټولواکو ځایناستو ته په لاس ورکول شوي دي، چې دا پخپله د دې عدالتي نظام او پخپله د جمهوریت لویه بدنامي ده.

ه: د پښتنو هغه سیمې "چې پښتانه پکښې ډېر دي" که څه هم له یو بل سره جوخت/ نښتې سیمې دي، په هم هغسې په جلا جلا سیمه ایزو او انتظامي چوکاټونو کې بېل ساتل شوي دي. لکه انګرېز چې ساتلي وو.

و: دا چې د انګرېزي قانون په پلي کولو له پښتنو سره هم هغسې رویه خپله شوې ده، لکه په جنوبي افریقه کې چې زمور له هم نژادو سره تر سره کېږي، کوم ته چې زمور حکومت پر قومي او بین الاقوامي کچه باندې په ښه سترګه نه ګوري، چې ښه چاره ده، خو دلته بیا له پښتنو سره هم اپوټه/ متضاد رویه خپله شوې ده.

ز: د ون یونټ غوندې له پښتنو سره د ورور ګلوی ساتلو پر ځای هغوی ته د پردیو او کډوالو په سترګه کتل کېږي، لکه په برتانوي دور کې، نن هم پښتون یوې ناوړې لارې ته اړ ایستل کېږي او هغه داسې چې په پیسو او یا هم شومو هیلو باندې څه کسان د ځان کېږي او بیا هم هغه ګوډاګي کسان د پښتنو د استازو په نوم وړاندې کېږي.

ح: که چېرې په مالي څانګو کې پښتنو ته د ورور ګلوی په سترګه نه کتل کېږي، کوم چې په پاکستان کې پر نورو قامونو باندې ګاړې، نو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

څرګنده ده، چې په نورو ځانګو کې به بیا تر دې ډېر زور او زیاتوب ورسره تر سره کېږي.

ط: دا خبره اوس پټه نه ده، چې پښتانه او د نور کوشنیو قامونو خلک د پنجاب او بنګال تش په نامه لوی وروڼه د تجارتي شیانو او مریانو/ غلامانو په څېر یو پر بل باندې پلوري، چې یو یونټ او پخپله د آئین ټول ټال تاریخ هم د دې ناوړه او بېځایه پلورلو او پېرودلو کیسه ده، چې له دواړو خواوو څخه د تش په نوم مخورو تر مابین د قامي اسمبلۍ د ډهاکې تر اوسنۍ غونډې پورې تر سره کېدله، یو شمېر سوداباز یې بنکاره شوي دي او کېدای شي، نوري هم څرګندي او پلي کړل شي، نو آیا! داسې هیله انسان او یا کومه انساني ډله له کوم انسان څخه کولای شي، چې پر داسې چارو باندې ستر ګي پټې کړي او که یې پټې نه کړي، نو بیا به جبل ته استول کېږي او سزا به ورکول کېږي؟

ي: پښتانه په دې پوهېږو او وینو یې، چې زمونږ وروڼه پنجابیان او بنګالیان له تېرو نهو کلونو څخه یو له بل څخه د خپلو حقوقو د خوندي کولو لپاره څومره هلي ځلي تر سره کوي او دا د دې لپاره چې یو بل د شمېر او ژبې په توګه تر ځان کښته جوت کړي، داسې هڅو په ځینو وختونو کې تر ډېرو ناوړه پېغورونو پورې ځان رسولی دی او کله کله خو د جلا کېدلو/ بېلتانه تر خبرو پورې هم خبره رسېدلې ده، آیا! د ژبې او خپلو حقوقو خوندي ساتل داسې چاره ده، چې یوازې به یې لوی شمېر لرونکي تر سره کوي او که یې کوشني قامونه هم په کار اچولای شي، هغه هم د عدم تشدد او آئیني لارو چارو په پاللو سره... که چېرې دا وروستۍ لاره سمه بلل کېږي، نو بیا ولې زمونږ په زرګونو مشران او غړي له زندانونو، ځور او کړاو سره مخامخ کېږي او زمونږ د خپروونو پر غاړه باندې چاړه اېښوول کېږي او زمونږ پر ډلو باندې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پېځایه بندیزونه تر سره کېږي، مور خو دون یونټ په ضد ځکه چاري تر سره کوو، چې خپله مورنۍ ژبه او خپل حقوق د لوی شمېر لرونکو پنجابیانو له هر اړخیزو ځپو څخه خوندي و ساتلای شو.

داسي ټولي خبري او د هغوی پایلي او مرام یې مانا د پښتنو د ژوند له نوره پاکستانیانو سره توپیر اوس له ویښو پښتنو څخه پټ نه شي پاتېدلای او زه باوري یم، چې ژر یا په لږ ځنډ سره به په پای پښتونستان جوړېږي، کنې نو هر پوه پښتون به له دې اندېښنې سره مخ مخ پاته وي، چې ولي د پاکستان حکومت په خپلواکي او جمهوریت کې برخه ولري. پر ځای د دې چې د ټول پاکستان د ابادۍ او پرمختګ لپاره هڅې وکړي، پښتانه یوه خبره کوي، چې زه هغه پسرلی څه کوم، چې زما پسو/ څاروو ته وانښه نه لري. همدا انساني فطرت دی.

دا یوه ساده پوښتنه ده، چې د یوه هېواد پنځمه برخه ابادي ډاډه نه وي، نو هغه هېواد څنګه د امن او پرمختګ لاري چاري پاللای او پر ګټو یې خوند اخستلای شي؟ څرګنده دي وي، چې زه د خپل اولس د خادم په توګه هغوی ته تر هر چا نژدې او هغوی پېژنم، زما رایه ده، چې د خپل غرض لپاره داسي چاپېریال هر پرېږدی واک په کار اچولای شي، نو ځکه زه د پاکستانیانو او د خپل حکومت پاملرنه دې خوا ته را اړول غواړم، چې پښتنو ته دي د پاکستان په هره ګټه او ذمه داري کې خپله برخه ورکول شي او په پاکستان کې دي هغوی ته د پښتونستان په نوم یو خپلواک ولایت ورکول شي، پښتانه اولسواکي خوښوونکي خلک دي، کېدای شي؛ په داسي چارو هغوی له افغانستان سره پر یو شمېر خپلویو لرلو سربېره هم د خپل ارزښت او ګټو په پار پاکستان د ځان و بولي.. که تاسو غواړی، چې پښتانه دي له افغانستان سره پر ګڼ شمېر خپلویو سربېره پاکستان د ځان و بولي، نو پښتانه دي د یوه جمهوري

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دولت له کټو، خپل ارزښت او حقوقو څخه نه بې برخې کېږي، همدا دي، زما عقاید او د پښتونستان د غوښتنې لپاره د دلایلو څه څرک..

پښتونستان او بلوچستان: زه د بلوچستان په پښتنو کې زېږېدلی او هغه زما د خامپوځو وطن دی، نو قدرتي خبره ده، چې زما په سیاسي ژوند او مرامونو کې د هغوارتیاوي اوستونزې د لومړیتوب ځای لري. په پیل کې ماداسي وګڼله، چې زمونږ د شاته پاته ورځې او ناوسۍ لوی لامل د زدکړو ناوړه لاره ده، چې په مورنۍ ژبه نه ورکول کېږي او په همدې شالید کې د جېکب اباد په بلوچستان کانفرنس ۱۹۳۲ز کې "چې د دې سیمې په تاریخ کې لومړنۍ قامي/ سیاسي غونډه وه" دا قرارداد وړاندې کړل شو، چې پیلیزې زدکړې دي د لوستونکي په مورنۍ ژبه وي. په ګډ هندوستان کې له کانګریس سره زما د ترون تر ټولو لوی لامل هم د کراچي قرارداد وو، چې مایې په کلکه ملاتړ کړی وو، په قرارداد کې په هندوستان کې دننه د ژبو پر بنسټ د خپلواکو ولایتونو باور ورکول شوی وو. زه مخکې هم په دې پوهېدم او اوس هم داسي ګڼم، چې په بلوچستان کې "چېرې چې یو شمېر ژبې پښتو، بلوچي، سیندي، بروهي، فارسي او ملتاني ویل کېږي او ابادي یې یوازې شپږ لکهه ده" و پښتنو ته په مورنۍ ژبه زدکړې نه شي ورکول کېدلای، نو په بلوچستان کې د اوسېدونکو پښتنو د ستونزو د هوارولو یوازینۍ لاره پښتونستان دی.

د پاکستان حکومت چې کله په ۱۹۵۱.۵۲ز کې د ډاکټر محمود حسین په مشرۍ کې د بلوچستان د آئیني سمونچارو/ اصلاحاتو لپاره یوه کمېټۍ جوړه کړه، نو د دې کمېټۍ د پوښتنولړ لیک (سوالنامه) یې په سرکاري توګه سنټرل جېل هري پور ته راواستاوه، زه هغه وخت په جېل کې وم او ما هغه وخت هم د بلوچستان د وېشلو غوښتنه کړې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وه، چې پښتو ویونکي دي له سرحد (اوسنۍ خیبر پښتونخوا) ولایت سره ګډ کړل شي، چې همدا یوه فطري او سمه لاره ده او داسي به پښتنو ته پخپله مورنۍ ژبه باندي زدکړي او نوري ژوندنۍ اسانتیاوي ور په برخه شي. په ۱۹۴۳ز کال د بلوچستان ځینو مسلم لیګي مخورو "چې په هغوی کې محمد هاشم غلزی، میر جعفر خان او عبدالغفور خان درانی وو" له ما سره ولیدل او ویې پوښتلم، چې موږ په بلوچستان کې د سیاسي سمونچارو لپاره څه وړاندیزونه کولای شو؟ هغوی کراچي ته روان وو او پر دې ستونزه باندي یې د مسلم لیګ له صدر بناغلي محمد علي جناح سره په ملتیاد سمونچارو په اړه په مرکزي اسمبلۍ کې یو بل وړاندي کول غوښتل، نو ما هغوی ته ځواب ورکړ، چې په دې لږ ابادي لرونکې سیمه کې یوشمېر ژبي ویل کېږي، نو زما وړاندیز دا دی، چې لږ تر لږه د پښتنو لوی شمېر لرونکي سیمي دي د هغوی له خپلوانو او پوله لرونکي سرحد سره ګډې شي او دغه خلکو بیا وروسته ما ته وویل، چې بناغلي جناح هم دا خبره منلې وه. د بلوچستان پښتانه ځکه هم پښتونستان ته اړتیا لري، چې ابادي یې څلور لکهه ده او د داسي ابادۍ لپاره ځانله یو وحدت جوړول امکان نه لري، نو په کار ده، چې له سرحد ولایت سره ګډه کړل شي. که چېرې له بلې سیمې سره ګډه کړل شي او یا په هغه سیمه کې چې دوی ورسره ګډ پاته دي، نو هغه خو دومره ویره او پراخه سیمه ده، چې د پرمختګ لپاره به یې د نورو خلکو د ابادولو اړتیا لري او داسي به هغوی د کم شمېرو په لړ کې راشي، نو پر ځای د دې که له خپلوانو مانا سرحد (اوسنۍ خیبر پښتونخوا) سره ګډ کړل شي؛ ابادي به یې له اتیا لکهه څخه کروړ ته ورسېږي، نو بیا به یې نه د کم شمېرو پاتېدلو اندېښنه وي او نه به یې ژبه او کلتور ته کومه اندېښنه پاته وي.

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

څه موده کېږي، چې پاکستان په بلوچستان سیمه کې پر زدکړو باندې بنسټ ډېرې پیسې ګاروي، د دې څانګې په کار کوونکو، ښوونځیو او لېسو کې ورځ په ورځ زیاتوالی لیدل کېږي، خو د پروپیګنډې لپاره دا ټولې ګټمنې چارې دي، خو د دې پایله نسم له پایلو/ نتیجو څخه ښکاره کېږي، چې په پیلیزه ښوونځي کې څومره هلکوانو لوست کاوه او څومره په لسم کې بریالي شوي دي، همداسې د کوټې په پوهنځي (کالج) او امین الدین میډیکل ښوونځي کې د پښتنو لوستونکو له شمېر څخه څرګند ېږي، چې د هغوی ورټیا څومره او څنګه ده؟

د دې ستر زیان/ تاوان لوی لامل دا دی، چې پښتانه لوستونکي بنه پوره برخه وخت د داسې ژبې زدکړې ته اړ پاته وي، چې د دوی مورنۍ ژبه نه ده، نو له دې کبله هم د بلوچستان پښتانه د نورو سیمو په پرتله و پښتونستان ته ډېره اړتیا لري، که چېرې داسې نه وشي او په لس کاله نوره موده کې هم د نورو ولایاتو (صوبو) و سرمایه دارانو ته دلته د کارخانو او شرکتونو ته لاره پرانستل شوه، لکه پیل چې یې شوی دی، نو بیا به په خپل کور کې هم د یوه ژبنې او کلتوري کم شمېرې په توګه اوسېدل وي، نو داسې چاپېریال به ډېر زړه ماتوونکی وي، چې د ژغور لپاره یې هڅې په کار دي او دا به د ټول هېواد لپاره په زړه پورې وي.

قبایلي سیمې: دا خبره رښتیا ده، چې په قبایلي سیمو، ایجنسیانو او سرحدي ریاستونو کې و اوسېدونکو پښتنو "چې د پښتون ابادۍ پنځه اویا سلنه خلک دي" ته پرنګیانو یوازې توپک چلول او تر خپل میاشتنې/ درې میاشتنې اویا هم کالنې معاشه پورې لاس رسول ورزده کړي دي او نن هم په شعوري ډول دا خلک د اولسواکۍ له ګټو او سیاسي زدکړو څخه لېرې ساتل کېږي، دا خلک "چې د چرسو او وسلو ناوړه کاروبار کوي" د دوی په سیمه کې هر لنډهر او جرم

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کوونکی څوک په اسانه ژوند کولای شي، خو داسي سیاسي کارکوونکی "چې دوی ته د ژوند، وروری او عدم تشدد زدکړي ورکول غواړي" د واکمنو له خوا څکه را ګرځول کېږي، چې دا خلک د خپل غرض او شومو هیلو لپاره په کار واچوي او پاته اولسونه د پاکستان له خوا د معاش ورکوونکو جرګه غړو له لاري په بېځایه بیانونو او درواغو ډاډه ساتل کېږي، چې په ډېره سپین سترګي له پاکستان سره د وفاداری او د هېواد لپاره تر سر او مال د تېرېدلو خبري کوي او دا یوازي هغه وخت اورېدلای شي، چې اړتیا یې وي او یا یې کوم پولیټیکل آفیسر و ګوماري، که چېرې دا خبري رښتیا وي او د پښتنو پر پولو باندې هر څه سم وي، نو بیادا بریدونه او وارونه څوک کوي؟ دا څه رنګه کېږي، چې په چمن او پېښور غوندې بنارونو کې چاودنې کېږي. که چېرې د وزیرو او مسیدو مشران او قبایل رښتیا وایي، لکه څه ورځې مخکې چې یې د بناغلي سهروردي په مخ کې ویلي وو، نو بیا هغه څوک دي، چې څو اوونۍ مخکې یې بنو ته نژدې په یوه څارنځای کې په بم غورځولو سره یو شمېر پاکستانیان ټپیان کړي وو او بیا هغه ځای ته څنګه و رسېدل؟ په لوېدیځ پاکستان له اسمبلۍ څخه د دیر ریاست استازي ولي ورک دي او پاته قبایلي استازي په ځانګړي ډول مومند څرنګه و ټاکل شول؟ دا او داسي نوري ستونزي دي، چې موږ ورسره مخامخ یو او بل دا چې هغه خلک په غدار بللو سره زندانونو ته اچول کېږي، چې دا من، اولسواکۍ، برابرۍ او د پاکستان نېګړه غوښتونکي دي.

پښتونستان یوه تاریخي غوښتنه او د وخت اړتیا ده:

په داسي چارو سره د پښتنو تاریخي اړتیاوي او غوښتنې نه شي پوره کېدلای، په هېواد کې د پښتو او پښتونولۍ ساتنه او په ټولو برخو

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کې د اوسپدونکو پښتنو یووالی د وخت په زړه پورې اړتیاده، چې په خپلواک ولایت پښتونستان جوړولو سره پوره کېدلای شي او هم داسي پښتانه د اولسواکۍ په ارزښتونو او ګټو کې برخمن جوړېدلای شي، اولسواکي یوازینۍ لاره ده، چې اولسواکي خوښوونکي پښتانه د دې هېواد له پنجابیانو او لېرې پاته بنګالیانو سره تړاو لرونکي ساتلای شي او له هغو ټولو تړونونو او خپلویو څخه یې پام را اړولای شي، کوم چې دوی په افغانستان کې له اوسپدونکو خلکو سره لري، نو په کار ده، د اولسواکۍ/ جمهوریت له ګټو او خپل ارزښت څخه ټه لېرې ساتلو سره دي پښتانه نه پرېدي کېږي، اوس هم د هر وخت په ښځایه خبرو تېر شوی دی، نوره دي دا ستونزه په تشو خبرو باندې نه ځنډېږي، چې په یو یونټ او داسي نورو غیر فطري تګلارو باندې په ټینګار کولو سره اوس هم په بېلا بېلو قامونو کې د بېلتانه او کرکو زنې کرل شوي دي، که چېرې پر دې لارو چارو باندې ټینګار وشي او د پاکستان پر رښتینو خلکو باندې د درواغو لګول شوي تورونه په رښتیا کولو او د هغوی زندانونو ته د ټپل وهلو هڅې وکړل شي، نو بیا به دا اندېښنه پیاوړې وي، چې یوه ورځ به پښتون غورځنګ رښتیا هم د دښمنانو په لاس کنبهوځي، نو په کار ده، چې د پاکستان سلامتیا غوښتونکي د دې اندېښنو د لېرې کولو په اړه هڅې تر سره کړي. همدا هغه مرامونه دي، چې د تر سره کولو هڅې یې موږ کوو او هم د دې مقدمې ځانګړې ټکي دي. لنډه دا چې د واک تر لاسه کولو له وخته مسلم لیګ دا هڅې کوي، چې په پاکستان کې د یوه ګوند واکمني او لاسبرتیاوي، زه د واکمن ګوند د نامه و اوسني بدلون ته کوم ارزښت نه ورکوم، خو له دغه پورتنیو رښتیاوو څخه د هغوی ځانګړې خپل چارو کې ورځ/ خود غرضي او لنډوینې یا تنګ نظري له ورایه ښکاري، خو له دې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د اولس دښمنۍ په رنځ رنځېدلي پاته وو، ځکه مور هم د دوی په ضد د خپلو هڅو په لاره کې کوم داسې لامل و نه لیدی..

په بلوچستان کې چې د پاکستاني خیال استازیتوب کومو خلکو کاوی؛ هغوی ته په کتلو په کار ده؛ هیڅوک هم هېښ پاته نه شي، چې و دوی ته د بلوچستان اوسېدونکو تر پایه په شکمن نظر کتل او زمور لپاره هم دا خبره دومره رښتیا وه، لکه د انګرېزانو لپاره چې وه، چې پاکستان انګرېزانو د برتانویانو د وروستي ځار نځای یا چوکۍ په نیامت جوړ کړ او په همدې ځار نځای کې د خپل واک په پاللو سره د نوابادیاتي نظام پالنه تر سره کړای شي. کېمپل جانسن په (مشن ود ماونټ بېټن کې) د زیارت ورځ ۳ یم جولایي تر سر لیک لاندې داسې لیکي:

"په سیاسي توګه دا رښتونې خبره ده، چې د واک له سپارلو سره سم به پاکستان د برتانوي شاهنشاهۍ وروستی ځار نځای (چوکۍ) جوړ شي، د پاکستان تر جوړېدلو وروسته په بلوچستان کې تاکل شوي برتانوي آفیسران نه دا چې پر ځای پاته شول؛ بلکې د هغوی شمېر نور هم زیات کړل شو، له داسې کولو څخه زمور په اندېښنو کې د کمښوت پر ځای زیاتوالی وشو، د انتظامیې سر مشر چې ورته اې جي جي ویل کېږي؛ تر اوږدې مودې پورې انګرېز پاته شو، دا د انګرېزانو کړه دي، چې قلات ریاست تر څه مودې پورې له پاکستانه د باندې پاته شو.

د پاکستان له جوړېدلو سره سم مور په سپېځلي نیت له دې هېواد سره د خپلوۍ تړاو وکړ او د پسه او لېوه د نومورې کیسې په څېر مو د دې کیسې هیڅ پروا و نه ساتله، زمور د بې وفایي د تورونو تاریخ خو د هغې زمانې وو، چې په هغه وخت کې پاکستان د چا په خوب او خیال کې هم نه وو، خو مور ته له لومړۍ ورځې څخه د پاکستان دښمنان و ویل شول، دا خبره رښتیا ده، چې اوسنی پاکستان خو کانګریس په زوره پر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

قایداعظم وتراپه، کنې نو هغه خو تر وروستیو شېبو پورې د وزارتي مشن د سیمه ایزې خپلواکۍ (ګروپنګ) د منصوبې آزمویلو ته اېل پاته وو، مانادا چې د مسلم صوبو د نه وېشلو ملاتړ یې کاوه.

پاته شوه زما خبره، نو زه په یوه نه یوه بڼه د پاکستان منونکی پاته شوی یم، زما په فکر د ژبو پر بنسټ باندې د جوړېدونکو خپلواکو صوبو قرارداد دې لوري ته یو منطقي ګام وو او زما په خیال کې یو ډول لوی پاکستان وو، چې نن هم دا پاکستان غټېدلای شي، خو په داسې توګه چې اولسواکي یې بې له ځنډ او خنډه تر بریدونو پورې پرېښوول شي. پښتونستان، آزاد کشمیر مملکت او بلتستان هغه ځایونه دي، چې په کار ده؛ اولسواکي ور ورسېږي" نه دا چې د بل پېرزو شوی پاکستان.

زه د لوېدیځ پاکستان د بېلا بېلو برخو په جغرافیوي، تاریخي آب و هوا او تولنیز ورته والي پوهېږم، خو وینم او خپلو وطنوالو ته دا څرګندوم، چې په دې یونټ کې ځینې داسې بېلا بېل ارزښتونه هم شته، چې په کار دي؛ په پام کې و ساتل شي او هغوی ته لاره ورکول شي، کنې نو په کړکېچ سره به نور هم پېچلي او د نورو ارزښتونو د بېلتانه لامل به شي، چې پښتونستان هم له دغو ارزښتونو څخه یو ارزښت دی، هغه ته دې په ژورلید او د مینې په سترګه وکتل شي او ودې پالل شي، چې دا د دې هېواد ښکلا ییز اړخ را سربېره کړي، که داسې نه وشي، نو اغزې به یې د ټولو لپاره د ځور او ازار لامل شي، دې ته ژوره پاملرنه به زما په خیال د پاکستان خدمت او له پاکستان سره مینه وي، زه غواړم، چې د پښتونستان ګلاب د پاکستان په رنګ په رنګ ګلدسته کې ځای کړم.

زه باوري یم، چې د پاکستان دغه ښکلی انځور (تصویر) که څوک د وېن یونټ د ټولواکۍ په کرکجن او تور رنګ لړل غواړي، نو هغوی خپل چاروکي او غرضیان خلک دي، چې په زړونو کې یې د دې هېواد لپاره

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هیڅ دول ښېګړه ځای نه لري. و اروانباد لیاقت علي خان ته د هېواد غدار او ایجنټ نه شو ویلای، چې هغه هم د یووالي په نوم پر دې ښکلي انځور باندي د تور رنګ مړلو د ناوړه چاري په لړ کي مخکي هم خبرداری ورکړی وو...

زه پر هر ډول خښم پاروونکو چارو سربېره هم د دې مرام لپاره د عدم تشدد په اړه پر خپله ژمنه او تګلاره باندي په باوره توګه ولاړ یم، ما او زما ملګري د بابړي د قصاب غوندي د ناوړه چارو په یو ځل بیا غبرګولو سره هم مړ له خپلي لاري نه شي اړولای...

پوره نهه کال زه، زما کورنۍ او قام د زوړ پالو د غچ پالونکي فکر له کبله یوازي او یوازي له خپل وطن سره د مینې په تور له سترو ستومانیو سره مخامخ پاتې شوي یو او د هېواد له چوپړ / خدمت څخه زمونږ د لېرې ساتلو پر له پسې هڅې تر سره شوي دي، چې اوس هم تر سره کېږي، وخت پخپله هغه نیاومن او انصاف کوونکی دی، چې پر پرېکړه باندي یې د هري سیاسي ډلې، نظریې او مسلک لرونکو باور وي، چې همدغه نیاومن او انصاف کوونکي وخت اوس بیا د هغو خلکو په ضد د خپلي پرېکړي پیل کړی دی، چا چې په تېرو نهو کلونو کې پخپله ړنده واکمنې سره دغه وطن "چې د یو شمېر پښتنو په قربانیو او هڅو سره خپلواک شوی وو" په عملي توګه د برتانوي شاهنشاهیت په وروستۍ چوکۍ بدل کړی او د دې ځای اوسېدونکي یې له یو شمېر سترو او ستومانیو سره مخامخ کړل، هغه ورځ به رښتیا هم د دې خلکو لپاره د ویر او ماتم ورځ وي، چې وخت خپله پوره پرېکړه واوروي. ما د خپل ژوند په زړه پوري برخه په برتانوي او مسلم لیګي زندانونو کې تېره کړې ده، چې هیڅ انسان یې په خوشحالي نه شي ځغملای... که زما مرام ښه او د ښېګړي وي، نو د دې لپاره به زما هڅې هرومرو خپله په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زړه پوري پايله او مېوه وويني، که خدای کول، دوخت پرېکړه به په باوري توګه زمونږ په ملاتړ کې وي، د ښېګړې لپاره تر سره کېدونکي چاري له دې کبله ناکامه نه پاتېږي، چې ملاتړ کوونکي يې لږ وي، که زه په دنيا کې نه يم، نو هم به د ښېګړې د دغه لاري او توغ (بيرغ) د لوړاوي او ويار لپاره نور غړي وي، د ژوند لاره تل ودانه پاته وي.

عبدالصمد اخکزی

پستر کټ جېل لاهور، د اکتوبر ۲۵م ۱۹۵۶ز کال

دا وو؛ د **خان شهيد** و لاهور عدالت ته هغه بيان چې د نوموړي ژوند او قامي/ سياسي کردار په ډېر لنډون/ اختصار خو په ښه پوره او کره ډول په خپله غېږ کې را نغاړي، چې په لوست يې د قامي/ سياسي لاري پلويان د **خان شهيد** د ژوند او سياسي قامي کردار په اړه له پيل څخه تر ۱۹۵۴ز کال پوري په لنډه توګه ښه پوره خبر تيا تر لاسه کولای شي، خو د تاريخ د لوستونکو او څېړونکو لپاره په کار وي، چې د داسې سرلاري سياسي مخکښ، قامي/ سياسي کردار کتنه د ببلا ببلو سرچينو له لاري په ژور ليد تر سره کړي، د څېړنې ذهن او زړه لرونکی ذهنيت غوښتنه کوي، چې د ببلا ببلو سرچينو او ليکوالو د نظرونو په لوست د خپلې ډاډمنتيا لپاره په زمان او مکان کې د کردار تر ژورو پورې ځان و رسوي... دا ځکه چې په خپل زمان او مکان کې پر ټولنيز ژوند انه باندې د داسې غوړېدلو، اغېزمنو او پراخو کردارونو احاطه کول د ليکوال پر پوره علمي رسايي او ديانت سربېره ژوره کتنه يا مطالعه هم غواړي، دا چې د خان شهيد قامي/ سياسي کردار د خپل زمان او مکان په چاپېريال کې ښکېر او غوړېدلی سرلاری کردار دی، نو په پوره او کره توګه يې احاطه کول او وړاندې کول د يوه بيان، يوې ليکنې او يوه کتاب تر وس وتلې چاره ده، نو کېدای شي، د دې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وړاندي شوي اجمالي / سرسري څېړنيزي هڅي دغه لړۍ دويم ټوک هم ولري، خو دمګړۍ زمالاسرسی تر همدې باوري سرچينو او وړاندي شوو خبرو پوري شوی دی، چې په رونا کي يې يو شمېر ليکنې ستاسو په مخ کي وړاندي کړل شوې...

په پای کي يو ځل بيا په لوی زړه غوښتنه کوم، چې لوستونکي دي د دومره ستر مبارز شخصيت او کردار په اړه د تر سره شوو ليکنو په لوست کي زماد پوهنيزو س ناتواني او نارسايي هم په پام کي وساتي.

سرچينه:

پام: دغه بيان د نوموړي پوهاند له خوا د بابائے پشتون اور پشتو نخوا په نوم ليکل شوي کتاب لومړي ټوک کي له يو اويايم (۷۱) مخ څخه تر نهه نيوي (۹۹) مخه پوري خوندي شوی دی.

۱: عنوان، پروفیسر عبدالغنی، بابائے پشتون اور پشتو نخوا، پبلشر، نادر ٹریڈرز مستونگ، سال اشاعت ۱۹۹۰ء صفحہ ۷۱ تا ۹۹

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خان شهید د لیکدود ځینې بېلګې (نمونې)

ډوبه م ځل نیوه ل ـ جرګه اوٗ بند

د ـ جوکماباته چې روانېده م ـ د ـ کوړ د ـ خلګو می دا ګومان نه وو چې سرکار به مانیسی ـ خو زما ګومان وو چې په دې کال کی چې موږ څومری کار وکی په زیاته د ـ ایدارابات د ـ غونډې دا پرېکړه چې په بلوچیستان کی به د ـ غونډې څېه لواکه ښاخ جوړوو اوٗ د ـ کراچی غوه نډه به خوداے خبر چې د ـ بلوچیستان سرکار وزغمی اوَ ما به نور کار ته پرېږدی ځکه د ـ کوړ ټولو خلګو موږ ـ وړور دوے ته د ـ تګ پور وخت په ډېره مینه اوَ ارمان په مخه ښه وویه ل ـ مشره لور می چې اوس هه م ژوه ندی ده ته ر یوه کال د ـ لږ زیاتو شپو وه نوی نوی یه خبری زده کړی وے هغه می ډېره ارمان سوله اوٗ ښیا می په جېل کی ته ر هغه وخته ډېره یادېدله چې نیږدے دوه نیم کاله پس د ـ بنده ووروته م اوٗ دا می څېه لوانو مخی له ټیسه ن ته راوستله ـ خو روشتیا دا ده چې د ـ دغی لورکی اوٗ نورو څېه لوانو اوَ دوستانو مینی به په

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خان شهید د لیکدو د ځینې بېلګې (نمونې)

غولۍ وو په دے لوېه خونه کی څوبېړی وو ځینی د ـ
سپاهیانو په جامو کی او ځینی په څه بېل شانته لنډو
تنګو جامو کی دا بندیان وو ـ د ـ هر یوه په پښو کی
څه اوسپنی وے چی دوے به تله او پښے پے اخیستے نو
شرنګا پے ختله په نورو خو نه یم خبر چی وار ختاسوی
یا بېرېدلی به وی که نه زه خپله چی د ـ لینه را روان
سوم د ـ وړاندی ژوند په چورت کی څه ډوب شانته وم
ـ خو چورت می د ـ ژوند په ښه او روڼا خواکی وو چی
په دے بند به اولس وېښیږی بیا به ازادی راځی هېواد
به آزادوی انګرېز به نه وی او زموږ به خپل سرکار وی
په بېره یا خوابدی نه یم پوے سوی باور می دی چی
دغه وخت کے دار (پهانسی) له بیولاے اودغه زړه او
دغه چورت می واے هم به په هیڅ خوابدی او بېره نه
واے پوهه سوی ـ خو ګرده لاراو تر دغه وخته موږ ټول
چوپ وو څه ږغ ږوغ چا نه دی کړی ـ یوه بندی
مونشی په ولاړه ولاړه زموږ نمونه دوے وپوښتل او په
یو کیتاب کے ولیکل او یوه بل د ـ دننه نه څه جامے
راته راوړلے وے دا خپلی جامے وباسی او دا واغوندی
یو ډوهه نور پښتانه بندیان رانیژدے سو وے هیڅ پروا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خان شهید د لیکدو د ځینې بېلګې (نمونې)

خوله دے

پسی می د. پښتو سره دومری مینه پیدا سوله چی بیا می هیڅ پښتو لیکلی شے نه دی لیدلی چی په ډېره مینه می نه وی لوستی او نه می د. پښتو څه نوی توری متل یا پوهیته اروېدلے ده چی نه می دی وی زده کړے تر دے چی اوس خو د. ژوند مراد هم پښتو ده. او با ورلرم چی که پښتانه نور هیڅ هم ونه کی خالی پښتو خپله کی او خپل ټول سرکاری او ځانی کارونه په پښتو کوی .پښتو لولی لیکی او پښتو وایی نو به د. دوے په سل کی که نور نه اتیا برخی کاروسی. هم بے خپله وروری خوږه سی او هم به د. نورو خلګو د. هیلی او جنجاله. خپ[illegible]

د - دے یوه چاره خو هغه ده چی ښاغلی باچاخان نیولے ده تر اوسه یه راچلوی - او تر ډېره ځایه یه سرته هم رسولے ده چی نه د - چانه څه غواړی نه چاته څه وورکوی نه خپل په خرڅ تګ راتګ ځان خبروی او نه د - ملو یاډلی په دے که به چا څه بندوبست کړی وو نو په موټرکی به ته کنی پور پښو به روان وو که به څه وو وپے خوړل کنی په لوږه پے هم وخت اړاوه لا دا چی نور مل ګری پے هم ډېر خرڅ ته نه پرېښوو" دارو په روه کی په زیاته په مردان او پېښور کی ځکه ښه چلېداے سو - چی یو خو هلته د - سرکاری خلګو نه سېوا هم آزاد میانی لږ ډېر لوستی خلګ وو - او بل اولسپے ګڼ او نیژدے نیژدے لوے لوے کلی وو - د - بلوچیستان رنګه نه وو چی نه ازاد میانی خلګ لر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خان شهید د لیکدو د ځینې بېلګې (نمونې)

— د — خوړو — د — جامو — د — بیسترې — د — ځاے د — سپږو — اوْد — کاریوې خواته وې اوْد — بېړو یاجولان زاوال بلی خواته — سیواله بندښته (قید) اوْد — جیل د — اوْسرانوړ — سپکوسپوړو ویناوو اوْبد روښت نه بله یوه خواری هم د — بېړوپه سرنه وه زه دلته داټول ځکه لیکم چی اوس چی په جېلونوکی داشے اوْډېری نوری خواری نه دی پاته سوی نوکومو خلکوچی یاجېلونه نه دی لیدلی اوْیاکې لیدلی هم وی نوداوسنی جېلونه یه لیدلی دی — هغوے په دې پوے سی چی د — هیواد دااوسنی ازادی چی دوے یه ګټی خوری په هله اسانه د — انګرېزانوڅخه نه ده اخیسته سوې داد — زرګونواولکونوکام دوستو ځوانانو د — زړه په وینواوْد — بدن په غوښوګټله سوې ده — اوْنن چی کوم خلګ د - کال ۱۹۳۰م اوْ تر هغه وړاندی کامی پتنګانو ته ځاے پې ځایه اوْ وخت ناوخته - په ډېره اسانه د - هېواد د - ډروهی د - کام دوښمن اوْکام خرڅی وایی هغوے په دې پوے سی چی کومی خواری چی دوے وړی دی دا د - هېواد کام اوْ دین د - زوروی اوْ لیونی مینی په چپه د- بل هیڅ شی

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner



خان شهید (۱۹۰۷ــ ۱۹۷۳ز) ۱۸/۱۷ کلن وو، چې دلوستونکو دلاریون مشري یې وکړه. په ۲۰ کلنۍ کې د ټول ولایت په لوستونکو کې لومړی نومره شو، ۲۲ کلن وو، چې دهند په سیاسي غونډه لاهور کې یې ګډون وکړ، په ۲۳ کلنۍ کې د قامي ویښتابه لپاره د لومړۍ هڅې پر مهال د مشر ورور او تربره په ملتیا ونیول شو، تر ایله کېدلو وروسته یې د اخبار خیال د پریس ایکټ د نشتوالي له کبله نهیلی شو، ۲۵/۲۴ کلن وو، چې د هند د سفر پر مهال یې له سیاسي مخکښانو ګاندي جي، باچا خان، محمد علي جناح او نورو سره ولیدل، په ۲۵ کلنۍ کې یې د سیند، بلوچستان او پنجاب د اولسونو استازیتوب لرونکي "بلوڅ کانفرنس جیکب آباد" مشري وکړه، کال وروسته په حیدر آباد غونډه کې ګډون او بیا د کراچي تر دوره او تاریخي ویناوو وروسته له راستنېدا سره سم ونیول شو او درې کاله بندي شو. په ۱۹۳۶ز کې یې له ایله کېدا سره سم د انډین پریس ایکټ لپاره هلي ځلي پیل کړې، په ۱۹۳۸ز کې یې د چاپخانې په ملتیا "استقلال" اخبار پیل کړ او په همدې کال یې د سیاسي پېیون (تنظیم) "انجمنِ وطن" بنسټ کښېښود، تر بېلابېلو سیاسي هلو ځلو وروسته د پاکستان له جوړېدا سره سم ونیول شو او پر کور نظر بند وساتل شو. په ۱۹۴۸ز کې د انګرېز په حکم ونیول شو او د هیواد په بېلابېلو زندانونو کې د ٦ کالو تر زندان وروسته په ۱۹۵۴ز کې له زندانه راووتی، په ۱۹۵۲ز کې د "ورور پښتون" په نوم سیاسي پېیون جوړول او په همدې کال بیا نیول کېدل او نظر بند ساتل کېدل، په ۱۹۵۵ز کې ایله شو او بیرته ونیول شو، بیا د هایي کورټ په حکم پرېښوول شو، په ۱۹۵۷ز کې د نېشنل عوامي ګوند جوړېدل، په ۱۹۵۸ز کې له مارشل لا سره سم ونیول شو او ۱۴ کاله سزا شو. تر پوره سزا تېرولو وروسته په ۱۹٦۸ز کې له زندانه ووتی او څه موده وروسته بیا ونیول شو. پای د ۱۹۷۳ز کال د دسمبر پر ۲ مه نېټه په خپل کور کوټه کې د انسانیت او پښتانه قام د دښمنانو له خوا په بمي چاودنه په شهادت ورسېد او په ۳ مه نېټه په پلرني کلي عنایت الله کاریز ګلستان کې خاورو ته وسپارل شو.

په دې کتاب کې د نوموړي مبارز خان شهید ژوند او کردار په سپړلې توګه لوستلای شئ.

په درنښت : **محمد نعیم ازاد**

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner